د خپلواکۍ لمرځرک

یا

د نویو سندونو په رڼا کښې

پرافغانستان
باندې د ایرانیانو
د تیري، ماتې، د
ایران د تجزیې او د
هوتکیانو د
عروج، خپلمنځي
اختلاف او سقوط
تاریخ

لیکوال: امان الله خان «هوتک»

PROPERTY OF
ARIC
Established
1988

د خپلواکۍ لمرځرک

د هوتکو د افغاني دولت عروج او نزول

(۱۱۱۹-۱۱۵۱هـ ق)

PROPERTY OF
ACKU
7808

لیکوال
الحاج امان الله هوتک

سریزه
د حبیب الله رفیع

د چاپ ځای: دانش کتاب پلورنځی، قصه خوانی، پېښور

اند ا

دغازي سپه سالار سيدال خان ناصر په نوم

چې

دافغاني عظمت په لاره کې يې توره او قلم

په ميرانه او ايماندارۍ چلولي دي .

فهرست

سریزه	سرلیک	مخ لومړی
	حبیب الله رفیع	
	لومړی څیرکی	
	دمیرویس نیکه پاخون	۱
	په لویدیځ افغانستان کې د آزادۍ هلی ځلی	٦
	شجرة النسب	۷
	میرویس نیکه	۱۳
	میرویس نیکه څوک وُ او څه یې وکړل	۱۹
	د نازو انا خوب لیدل	۲۱
	د میرویس نیکه ازدواج	۲۲
	د میرویس نیکه کسب او کار	۲۳
	د میرویس نیکه شخصي صفتونه	۲۳
	د میرویس نیکه مقام د پښتنو په نزد	۲٤
	ګرګین څوک وُ او څنګه کندهار ته راغی	۲۵
	حج ته د میرویس نیکه تګ	۳۳

سرليک	مخ
د ميرويس نيکه خوب ليدل	۳۵
د حاجي ميرويس خان نيکه بېړته راګرځېدل له حج څخه	۳۷
له موقع څخه د ميرويس نيکه استفاده	۴۰
د ملي قايد راتګ قندهار ته	۴۳
د حاجي ميرخان نيکه رسېدل قندهار ته	۴۴
د وهمه ملي جرګه	۴۷
په کار پيل	۷۳
په اصفهان د دې اقدام تأثير	۷۵
د ملي قايد مراوده دهند له دربارسره	۷۷
د پارس ۳۱ زره عسکر د خسروخان ترقوماندې لاندې	۸۱
د خسروخان نفاق اچول	۸۲
د ميرويس نيکه آمادګي	۸۳
د پارسيانو د بل لښکر مياتي	۸۹
د ملي قايد وفات	۸۹
د ملي قايد وروستۍ خبرې	۹۰
د حاجي ميرويس خان نيکه ورور مير عبدالعزيز دوهم څېړکی	۹۲
د شاه محمود هوتک سوبې	۹۹
د اصفهان محاصره	۱۰۹
د محاصرې شدت	۱۲۷
د شاهي سرای سنګ باران	۱۲۸
د شاهي آشپزخانې چورکول	۱۲۸
په اصفهان قحطي	۱۲۹

سرلیک	مخ
نارجي سفيران	۱۳۰
دا صفهان دمړو شمېره	۱۳۰
دعاصرې په دوران کې جګړه	۱۳۱
دشاه حسين کوښنه کېدل	۱۳۳
د قحطۍ آثار له منځه وړل	۱۳۸
دافغانانو له خوا د اصفهان شا او خوا سيمونيول	۱۳۹
د شاه محمود سلطنت	۱۴۰
دشاه محمود د حکومت لومړۍ شپې	۱۴۲
د شيراز فتح	۱۴۹
دکل پايګان فتح	۱۵۱
د کاشان فتح	۱۵۱
دامان الله خان مرورکېدل	۱۵۲
د بادشاه د خپلوانو وژل	۱۵۵
پهايران کې روسي مداخله	۱۵۹
د ترکانو اوروسانو ترمنځ د تشنج زياتېدل	۱۶۲
د خطرناکې جنګ سيوری	۱۶۹
دايران په شمال کې د روسانو نوې اقدامات	۱۷۸
داعليحضرت شاه اشرف د سلطنت دوره	۱۸۲
اعليحضرت شاه اشرف هوتک	۱۸۴
له صفوی شاه حسين سره د شاه اشرف وضع	۱۸۷
طهماسپ ته د شاه اشرف خط ليکل	۱۸۸
بېرته افغانستان ته دامان الله خان تګ	۱۸۹
د شاه اشرف او طهماسپ جنګ	۱۹۱

سرلیک	مخ
له ترکانو او روسانو سره د شاه اشرف جنګونه	۱۹۲
د شاه اشرف او روسانو تر میان جنګ	۲۰۹
طهماسپ خان روسانو ته سپاري	۲۱۷
د نادر او طهماسپ اختلاف	۲۲۱
د ایدالیانو تعهد او د صفوي حکومت تجدید	۲۲۷
له نادر او طهماسپ سره د مقابلې ترتیبات	۲۳۱
دریم څپرکی	
د نادر یرغل	۲٤۵
اشرف خان توخی	۲٦٤
د اولس خلک اه خپلو کورو را ایستل	۲۸۵
د هوتکی دورې مشاهیر	۲۹۲

ضمیمه

له جمیل بیګ سره د میرویس نیکه ملاقات
د هوتکي دورې حیني منابع او ماخذ
داخلي قلمي آثار

ACKU

بسم الله الرحمن الرحيم

سریزه

بحراني او غیر عادي حالات که له یوې خوا ملتونو ته زیانونه اړوي او وراني وېجاړې ورپېښوي له بلې خوا همداسې حالات د ملي قهرمانانو او اتلانو د تبارز او ودې له پاره لاره هواروي او د ملي بهیر د مخکښۍ په لاره کې ملي مشران او نوابغ رامنځ ته کوي.

شپاړسمه او اوولسمه پېړۍ او دا تلسمې پېړۍ پیل د افغانستان په تاریخ کې د همداسې بحراني او غیر عادي حالاتو پېړۍ دی، په همدې پېړیو کې زموږ په هېواد د استبداد او استعمار لړې خورې وې، د افغانستان ځایي او ملي خپلواکي له منځه تللې وه، زموږ پر حاکمیت او ارضي تمامیت تېری شوی و، افغانستان د دریو ګاونډیو حکمرانانو له خوا ویشل شوی او د تجزیې په حالت کې و، د هېواد شمالي سیمې د ماوراء النهر شیبانیانو لاندې کړې وې، ختیځې برخې یې د هند د کورګانیانو په لاس کې وې او په لویدیځو برخوې د ایران صفویانو خېټه اچولې وه، په دې توګه افغانستان ویشل شوی و خو اشغال شوی ځکه نشو ورته ویلای چې د هېواد په ګوټ ګوټ کې ملي غور ځنګونه او د آزادۍ بهیرونه روان وو او

دفرانسې تر انقلاب ۸۲ کاله وړاندې جوړ کړې او عملي کړې وُ.

"زويه! دشيخ بيتنې نيکه قدس الله سره له قرله ستا په مخ کې دې لوی کارونه، نو چې لوی سې! د خدای عبادت او د خلکو خدمت کړه! ته خدای پيدا کړی يې د دې دپاره چې لوی کارونه ترسره کړې او خلق الله په خدمت ستا آرام وکا". دا هغه تلقين وُ چې تل به عالمې عارفې او مېرنې مور زامنو انا خپل زوی ته کاوه او دا حُکمه چې د. مير ويس خان له تولد سره سم دی شيخ بيتنی رحمت الله عليه په خوب ليدلی وُ او وصيت يې ورته کړی وُ چې: "دا زوی بنه تربيت که، چې لوی شي، لوی کارونه به وکا او په زيارت د بيت الله برخان مشرف کا او له نسله به يې پيدا سي پاچاهان چې دين به روښان کا". او همدا وُ چې مور يې داګوچنی ماشوم په ديانت او عبادت. سره لوی کا او د دين فرايض يې تول په اوم کار روښنو دل. نو دی له هماغه وخته دلوی کار د سرته رسولو په هڅه کې وُ او ويل به يې: "زما مور ما ته دلويو کارونو وصيت وکا، زه بايد هسې کارونه وکړم".

دې تلقين او دې روزنې د ده فکر پراخ کړی وُ، وسيع کړی يې وُ او لوی کړی يې وُ. ده په هر واړه کار کې هم خپل لوی هدف تعقيباوُ او هڅه به يې ولړه چې په هر څه کې خپل ورسيارل شوی لوی کار ترسره کړي.

حالات داسې روان وو چې ده ته يې دهغې لوی کار لپاره خپله وښود او د الوی ګار د پردو له واکه د خپلې خاورې آزادول او په خپله د خپل اولس خدمت ګڼل وو. د اتلسمې ميلادي پيړۍ له پيل سره د ايران د صفوي دربار له خوا کندهار ته د ګرګين په نامه ديو خونخور او ظالم حکمران په لاليږلو سره چې اصلاً عيسوی وَ او سياستاً مسلمان

شوی ؤ. دکندهار خلک نور هم د صفوی دولت په مقابل کې وپارول او همدا وخت میرویس نیکه د خپل تاریخي رسالت په درک کولو سره د مور له خوا ورسپارل شوي لوی کارته لاس وغزاوه.

لکه څنګه چې بایزید روښان د تجارت په جامه کې خپل سیاست پیل کړی ؤ او کله چې کندهار ته په تجارت پسې راغی او هلته یې د مغولو مظالم ولیدل نو دې مظالمو وهڅاوه چې خپل اولس د مغولو له ژغ څخه خلاص کړي، همدا راز میرویس نیکه هم هند ته د تجارتي سفرونو په کولو سره د پښتنو له هغو غور ځنګونو نه ځان خبر کړ چې روښانیانو مومندو، اپریدو او خټکو د مغولو په مقابل کې کړی وو او د دوی د ماتې په علتونو یې هم ځان خبر کړ. خصوصاً د فقیر جمیل بېګ مناقب چې شمس الدین کاکاخېل همهغه وخت نظم کړی څرګندوي چې میرویس نیکه په خپل یوه سفر کې دې رسېدلی فقیر ته چې د خوشال خان خټک سکه ورور ؤ هم ځان رسولی ؤ او د دې فقیر له خوا یې د بری زیری اورېدلی ؤ. (د مناقبو دا برخه د کتاب په ضمایمو کې راځي). ده په دې سفرونو کې دا جاج هم اخیستی ؤ چې د هند له مغولی دربار سره باید څه رویه ولري او د دې کار له پاره یې مهم کسان په نخښه کړي ؤ.

د میرویس نیکه مبارزه په تدبر، تعقل، آرامۍ، سنجش او تفکر ولاړه وه، دا حساسا تو په ځای یې د عقل او تدبیر لاره نیولی وه، له یوې خوا د قوم د مشر په توګه د ګرګین له اداري سره له نژدې څخه په تماس کې ؤ او د واکمنو ټولې خلاوي، نقاضتونه او نقایص ورته څرګندېدل، له بلې خوا یې د اصفهان دربار ته د ځان په رسولو سره د خپل اولس غږ پاچا ته ورساوه او د هغه غوږونه یې خلاص کړل او د عراقبو منلو ته یې چمتو کړ له بلې خوا یې د تجارت او سیاحت له لارې د انقلاب او پاڅون له پاره ذهني

شرایط چمتو کړل او د خپلې مبارزې د پاکو او بو د تېرولو په ویاله کې یې ټول ورخونه پاخه وتړل. ده تر هر څه وړاندې د دې کار تر سره کولو له پاره داسې ایماندار ملګری وموندل چې د ګرګین تر ږیره لاندې یې کارکا وه خو یو یې هم داسې بې ایمانه او سست عنصره نه وُ چې راز فاش او نهضت له منځه شنډ کړي. دوی دومره ایماندار وو چې پوره اته کاله دا راز سربمهر پاتې شو او له یوه غوږ نه بل غوږ ته ونه رسېد.

په همدې موده کې میرویس نیکه د عیني شرایطو د برابرولو له پاره د ذهني شرایطو د برابرولو اغزنه لاره په کلکه اراده او پاخه تدبیر ووهله، له دربارنه تر اولس پورې یې هېچا ته د اعتراض او ګوتنیونې ځای پرې نښود، صفوي دربارته یې څلور ځل خپل د اولس عرض ورساوه، په دربار کې یې د دربار له روحیې سره سم ځان ته پلویان پیدا کړل او له داسې تدبیرنه یې کار واخیست چې د ایران دربارته د بندي په توګه لېږل شوی وُ خو د سردار په توګه بېرته کندهارته راستون شو، ده په دې موده کې د حجاز د علماؤ یوه داسې فتوی چې له ظالم او رافضي حکمران سره د جهاد کولو جواز پکې وُ تر لاسه کړه، له رحمان بابا سره یې د خلکو د عقیدت له امله د هغه په دیوان فالونه واچول او د هغه رایه یې د ځان مله کړه.

د خپل هېواد او اولس د آزادۍ له پاره د میرویس نیکه طرح ډېره پخه او مدبرانه وه، ده د خپلواکۍ تر لاسه کولو له پاره یوه اوږده ستراتېژی وټاکله او دې هدف ته د رسېدو له پاره یې شمېرلی او کوټلی تاکتیکونه او تګلاره وضع کړل. د ده د مبارزې لومړی پړاو مسالمت آمیز وُ او په دې برخه کې یې هر اړخیز احتیاطونه وکړل او د بشپړو ذهني شرایطو له برابرولو سره یې د خپل مبارزې دوهم پړاو په قهرآمیز ډول او د عیني شرایطو په برابرېدلو سره په بریالیتوب عملي کړ

میرویس نیکه د مبارزې تر بریالیتوب وروسته بیا هم خپلو هغو عنعنوي جرګو ته چې د مبارزې په اوایلو کې یې رامنځ ته کړې وې، دوام ورکړ، ځان یې د خلکو پاچا نه بلکه د خلکو خدمتګار وباله او هغوی ته یې اعلان وکړ چې د خپل آزاد ریاست له پاره په خپله خوښه مشر وټاکي کله چې خلکو دی د دې کار له پاره غوره کړ نو بیا یې هم په وازکوی اعلان وکړ چې په دې آزاد ریاست کې هغه څوک ژوند کولای شي چې په آزادۍ عقیده او له هغه سره مینه ولري او که څوک د مستبدو پاچایانو طرفدار وي هغوی کولای شي چې په خپله خوښه د دې ریاست له ساحې څخه ووزي او همداسې کسانو ته پناه وروړي. ده له حکومت او حکومت دارۍ سره په اړه نوي خښته او نوی بنسټ کېښود او لکه څرنګه یې چې مبارزه نمونه وه همداسې یې حکومت هم نمونه ؤ. ده د اولس د حکومت بنسټ کېښود او د ملي مشورو له لارې یې د مملکت اداره شروع کړه. ملت هم ده ته د دې خدمت په مقابل کې د «نیکه» داسې د روند لقب ورکړ چې د پاچایانو مطنطن او اوږده القاب نشي پسې رسېدلای ځکه چې هغه یوازې په کاغذونو لیکل کېږي خو دا لقب په زړونو حک شوی ؤ.

د میرویس نیکه مبارزې د افغانستان د آسمان له افق نه د دوو نیمو پېړیو په اوږدو کې غایب شوی د آزادۍ لمریو ځل بیا د دې هېواد په یوه برخه کې وځلاوه او ملي، د عدل او داد او د اولس د خپلې خوښې حکومت پیل شو. د صفوي بې کفایته او حریصو واکمنو غچ اخیستونکې وسله والې هڅې یې هم وار په وار شنډې کړې او دی ملي او جمهوري حکومت د ودې او پرمختګ په لور ګامونه واخیستل. د ښمن چې د وسلې په

مبارزه کې مغلوب شوی وُ د دسیسې لاره یې ونیوه ، منځ ته یې لاس ننویست او په کورنۍ کې د ننه یې د عبدالعزیز په نامه یو ضعیف - النفس انسان پیدا کړ او په دې وسیله یې دانهضت له شانه په خنجر وواهه .

د میرویس نیکه تر وفات وروسته عبدالعزیز پاچا شو او د ایران له دولت سره یې پټ اړیکې وساتل خو کله چې د ایران له دولت سره د عزیزخان اړیکې افشاء شول او څرګنده شوه چې دی بېرته تر لاسه شوې آزادی صفویانو ته سپاري نو همهغې جرګې چې د وطن آزادی یې اخیستې وه د میرویس نیکه زوی شاه محمود هوتک ته سلا ورکړه چې عبدالعزیز ووژني او په دې وسیله د افغانانو آزادی له نوی خطر څخه وژغوري . ده همداسې وکړل د عبدالعزیز تر وژل کېدو وروسته نه یوازې دا چې لاس ته راغلې آزادي وساتله شوه بلکه شاه محمود د میرویس نیکه له وصیت سره سم وقایوی عملیات - وکړل او د صفویانو د رانسکو رولو له پاره یې لښکرکشي وکړه ، تر اوږدو او خونړیو جګړو وروسته دی د اصفهان د تخت په نیولو بریالی شو او د ایران بې کفایته پاچا شاه حسین صفوي مجبور شو چې خپل تاج دده په پښو کې کېږدي خو ده هغه وخت دا تاج ومانه چې شاه حسین تاج پخپله راووړاو دده پر سر یې ورکښېښود.

په دې توګه نه یوازې دا چې د افغانانو آزادي وساتله شوه د ایران واکمني هم د افغانانو لاس ته ولوېده خو شاه محمود آرام ونه کړای، شو ځکه د ایران په بېلا بېلو برخو د صفوي کورنۍ بقایاو د پردو په لمسه او له روس او ترکیې سره د قرار دادونو له لارې افغانانو ته ستونځې پیدا کولې او په جګړو یې بوخت ساتل .

شاه محمود هوتک داوږدو جګړو او قتل وقتال له امله داعصابو له ګډوډۍ سره مخامخ شو او داسې مرحلې ته ورسېد چې خپل او پردی یې ټول اذیت کړل.

دافغاني مشرانو یوې بلې شورى بیا هم اشرف هوتک ته چې دعبدالعزیز یو غښتلی او مدبر زوی ؤ او د شاه محمود هوتک یو ښه جنګي مرستیال او سالار ؤ، مشوره ورکړه چې شاه د ملي ګټو له پاره له منځه یوسي، دشاه محمود ترمړینې وروسته شاه اشرف واکمن شو خو دلته په کندهار کې دشاه محمود کشر ورور شاه حسین پاچا ؤ، ده دا حرکت دښمني وګڼله او فکر یې وکړ چې شاه اشرف شاه محمود دخپل پلار په غچ کې وژلی دی نو ځکه یې له شاه اشرف سره اړیکې وشلول او شاه اشرف چې په ایران کې له ستونځو سره مخامخ ؤ او خصوصاً کله چې ترکیې او روسیې دیوه تړون له مخې دایران خاوره سره وویشله شاه اشرف نشوای زغملای چې دده تر لاس لاندې خاوره دې نور ترې وویشي نو لکه دخپل هېواد غوندې یې دفاع ترې وکړه او ترکانو او روسانو ته یې سختې ماتې ورکړې. په دې جګړو کې دده افغاني عسکر زیات ووژل شول او لښکر یې ډېر کم شو کله یې چې له شاه حسین نه د نور لښکر دورلېږلو غوښتنه وکړه هغه نټه وکړه او هېڅ راز مرسته یې ورسره ونه کړه، شاه اشرف ډېرو جګړو وار خطا کړ او دنادر افشار د فشار له امله یې هېواد ته بېرته تلل غوښتل خو شاه حسین نه یوازې دا چې مرسته ورسره ونه کړه بلکه ګرمسېل ته یې ابراهیم بلوڅ ورواستاوه او شاه اشرف یې وواژه.

دې کورنیو دښمنیو نادر افشار ته دزړه نور قوت هم ورکړ دافغانانو له خوا نیول شوی افغاني خاورې یې لاندې کړې او د شاه حسین دواکمنۍ

پرسلحه یې برید وکړ څوچې یې کندهار د شاه حسین پلازمینی محاصره کړ او تریو کلنې محاصرې وروسته یې هغه لاندې او شاهي کورنۍ د شاه حسین په شمول بندیان مازندران ته واستول.

په دې توګه وینو چې په تدبر، تعقل او تشکل شروع شوی یو ملي غورځنګ، بریالی شوی یو پاڅون د کورنیو مخالفتونو شخړو او د دښمن د دسیسو ښکار شو او یو مخ په لوړه نهضت مخ په ځوړه شو، راولوېد او سقوط یې وکړ او د آزادۍ یو راختلی لمر بېرته پرېووت.

* * *

زموږ د تاریخ دا روښانه دوره ډېره تاریکه پاتې وه لکه د هرناکام شوی نهضت خاصه چې ده د هغه ډېرې کارنامې پټې شوې وې، په دې باب افغاني اسناد ډېر لږ وو او هغه هم زیاته برخه یې ورک وو چې ورو-ورو رابرسېره شول او لا د رابرسېره کېدو په حال کې دی، ایرانیانو چې په دې باب څه لیکلی وو مغرضانه او دښمنانه او حتی کله-کله لوچکانه او بې ادبانه وو، د خارجیانو آثار زموږ په لاس کې نه وو او اوس که په لاس کې شته هم د ایرانیانو ترغلبېل راتېر شوی یعنې د هغوی له خواله ناروا تصرف سره ژباړل شوی او خپاره شوي دي (چې په کتاب کې خبرې پرې کېږي).

په دې باب لومړی لاس پښتو آثار په دې ډول شمېرلای شو:

لومړی د رېدي خان مومند محمود نامه ده چې په ۱۱۳۶ کال یې په څلورو زرو بیتونو کې لیکلې خو متأسفانه چې ټول متن یې ورک

لسم

دی او یوازې یو څپرکی یې بېټې خزانې مونږ ته را رسولی. دوهم کتاب تاریخ مرصع دی چې فضل خان خټک تر ۱۱۳۶ کال پورې لیکلی او هلته یې د میرویس غلجي باب ورکړی دی، دریم اثر د نور محمد غلجی نافع المسلمین دی چې په ۱۱۳۵ کال لیکل شوی او اوس. اوس یې نسخه موندل شوی چې سریزه یې د هوتکي دورې په باب ښه معلومات لري. بل اثر پټه خزانه ده چې په ۱۱۴۲-۴۱ هـ ق کلونوکې محمد هوتک په کندهارکې کښلی او د هوتکي دورې ډېر سیاسي، اجتماعي او فرهنګي اړخونه را برسېره کوي چې دا هم ورک ؤ او پنځوس کاله پخوا روا ښاد علامه پوهاند عبدالحی حبیبي بیا موند او خپور یې کړ. په دې باب بل اثر «جګړه د محمود افغان او نیول د اصفهان» سومېږي چې محمد امین سرپرېکړی لیکلی نسخې یې ورکې دي خو یادونه یې د ده زوی حافظ نور محمد د برښنا یا خدۍ په کیسه کې کړې ده. «پلارویلی» هم د دې دورې یو اثر دی چې د نصرالدین خان اندړ له خولې کښل شوی د نسخې پټه یې شته خو د تحقیق صحنې ته لا نه دی راوتلی. یو بل اثر د عبدالغفار هوتک کلیات دی چې په هغې کې د هوتکو منظوم تاریخ هم شته، ده د تیمورشاه په وخت کې ژوند کاوه او دا اثر یې په همدې وختونوکې کښلی دی. د دې دورې بل مهم سند هغه تاریخي ناري دي چې همهغه وخت د پېښو په ترڅ کې ویلې شوې او ماته یې شل کاله وړاندې یو شمېر نمونې لاس ته راغلې او د «هوتکو ناري» په نوم مې په ځانګړې رساله او اریانا مجله او «د خلکو سندرې» کتاب کې خپرې کړې.

امکان شته چې د دې دورې نور مهم سندونه او آثار هم

رامنځ ته شي او د دی رېمې دورې په باب نوې برسېرونې وشي ،
يو وخت چې ارواساد ستاد حلنی په بغدادکې دافغانستان سفير
ؤ هغه په بغدادکې د مېرونس بکه او دده د زامنوسکې موندلې وې
چې په ژوندون مجله کې يې يوه مقاله پرې نشر کړه.

* * *

تر دې لنډ سرو روسته دالحاج امان الله هوتک دې اثر ته -
رارسېږو چې « د هپلواکۍ لمرڅرک » په نوم يې ليکلی دی. دی سربېره
پر دې چې د مېرونس نيکه د کورنۍ خلف الصدق دی. ښه عالم،
روڼ فکر او د زورې او اوږدې مطالعې تښتن دی، دی د پښتنو له
کلتور او فولکلور سره ژوره مينه لري او په دې برخه کې يې
ابتکاری کارونه کړي دي. د هوتکو په باب د ده مطالعه ډېره اوږده
او پخوانۍ ده، په دې برخه کې يې نوی مأخذونه موندلی او سره
راغونډ کړي دي او دا اثر د ده د اوږدو مطالعو ثمر دی.
په دې اثر کې له هغو پښتو مأخذونو څخه چې قلمي او نادر دی
هم استفاده شوی، د اروپا يې ليکوالو آثار يې هم کتلی او د ايرانيانو
د آثارو انتقادی مطالعه يې هم کړی ده او په دې توګه دا اثر
د هوتکو په دوره کې د افغاني و المنۍ په باب تر ټولو پخوانيو آثارو
بشپړ، جامع او هر اړخيز دی او دا لومړی حل دی چې د دې غور ځنګ
په باب داسې يو اثر د لوستونکو لاس ته لوېږي.
د خان صاحب د کتاب ژبه ساده او د اولس له اصطلاح سره سمه
ده، د ده کمال دا دی چې ژور تاريخي مطالب يې ساده ژبې ته -
رالېږدولی او سهل کړي دي.
ما په ۱۳۶۰ کال کې د هوتکو د دورې د يوه تاريخ د ليکلو له پاره

دوولسم

طرح کړې وه، نوم یې وو" هوتکي غورځنګ - دنویو اسنادو په رڼا کې" اونوره طرح یې داسې وه:

سریزه: دهوتکو سلسلة النسب.

لومړی څپرکی: دمبارزې پیل او بری - یا - دمیرویس نیکه دوره.

دوهم څپرکی: نوې سوبې، نوی پرمختګونه - یا - دشاه محمود هوتک دوره.

درېیم څپرکی، دکورنیو شخړو په اوجونو او موجونو کې دناکامۍ زړی - یا - دشاه اشرف دوره.

څلورم څپرکی: د اور اووینو په بهیر کې دوروستیو هیلو نهیلېدل - یا - دشاه حسین دوره.

نتیجه: د تاریخ په واټن کې ددې دورې سیاسي، اجتماعي علمي او ادبي پلونه.

زما دا طرحه زموږ په ګران هېواد کې د روسانو او دکورنیو کمونستانو د وحشیانه اعمالو او ناقراریو له امله او بیا د مهاجرت دستونځمن محیط په شرایطو کې عملي نه شوه او زه په دې ټوله موده کې په جهادي چارو بوخت پاتې شوم. تېرکال الحاج امان الله خان هوتک له کوټې نه پېښور ته راغی او ترلیدو وروسته یې راته وویل چې دهوتکي دورې تاریخ مې کښلی دی، بیا یې ددې تاریخ لیکلی نسخه راوښوده زه دومره ورته خوشاله شوم لکه ما مې چې خپله طرح عملي کړی او پخه کړې وي او کله مې چې ولوست رښتیا هم چې په دې باب ترټولو لیکل شویو تاریخونو بشپړ او جامع ؤ او هغه ټول مطالب چې ماغوښتل پکې ځای شوی او نوی مسایل او مباحث پکې راغلي وو.

اوس چې افغانانو دروس په سره بنکېلاک بری موندلی اوهغه يې په شرمناک دول مات کړی دی زمون خوان نسل اونوی نسل باید له خپل ویاړلی تاریخ سره ترهغه ولری يا له هغه نه خبروی اودخپل ویاړمن تاریخ دسوبو اوبریو د طلايي لړی کړی سره وصل کړي ، د هوتکي غورځنګ د بری کړنه د همدې طلايي لړی يوه برخه ده ، اودهجرت اوجهاد په محیط کې يې چاپېدل کتور بولم.

زه خان صاحب ته د دې درانه اثر په لیکلو مبارکي ورکوم، دافغانستان د تاریخ په يوه خاصه دوره کې يې يو بنسټیز اثر ګڼم او درانه علاقمندان يې لوستلو ته رابولم!

په درنښت

حبیب الله رفیع

پېښور- حیات آباد

۱۹۸۹ - ٤ - ۱۷

نه خدمت نمودم که شاهی کنم
به تخت شاهی کج کلاهی کنم
نزیبد مرا شاهی و سروری
سرفرازم از افسر چاکری
مرا بس که قومم گویید پدر
ندارم طمع گوهر و سیم وزر
همین افسرم به که خدمت کنم
شما را چو فرزند خود پروردم
نه دیهیم شاهی بود درخورم
شما را همی کمترک چاکرم

وبس نیکو طرز حکومت کشید
روح نوین ضد شاهی دمید
عدل و مساوات نخست او گزید
شخص خود و توده بیک دیده دید
حریت تازه خاور از اوست
روشنی فکر نکوتر از اوست

مرحوم استاد قاضی عبدالظاهر سامی



ددریو افغاني امپراطوریو تخمیني نقشه
(۱) دهرات تیموریان
(۲) د قندهار او اصفهان هوتکیان
(۳) لوی احمدشاه بابا (قندهار)
(۴) اوسنی افغانستان
خوارزم
بحیرهٔ ارل
بخارا
سمرقند
دوشنبه
بدخشان
بلخ
تخار
چترال
کشمیر
عشق آباد
مرو
سرخس
مشهد
نشاپور
ترشیز
طبس
تون
برجند
هرات
کابل
غزنه
قندهار
کرمان
سیستان
ملتان
سرهند
روهیل کهند
دهلی
آه گر
اجمیر
حیدرآباد
کلات
استرآباد
گرگان
دامغان
سمنان
تهران
ری
قزوین
گیلان
رشت
مراغه
همدان
کاشان
اصفهان
خلیج فارس

لومړۍ څپرکی

د میرویس نیکه پاڅون

دا چې زه اوس د دې کتاب په لیکلو پیل کوم په یوې داسې زمانې لوړې اړه لري چې زمونږ پر ټول افغانستان د پردو د تسلط تیارې راخپرې وې د افغانستان شرقي سیمې د هند د مغولي حکومت تر تسلط لاندې وې، غربي - جنوب غربي سیمې د ایران صفوي حکومت تر اداری لاندې وې او شمالي سیمې د ماوراء النهر تر اداري لاندې وې. په دې وخت کې د افغانستان د تجزیې او وېش تقریباً دوه نیمې پېړۍ تېرې شوې وې پدې دوره کې د افغانستان د علم، فرهنګ او زراعت ترقي خوڅه کوی چې د پردو لښکرکشیو جاه طلبیو، د تاخت و تاز میدان ګرزېدلی او مخصوصاً د قندهار سیمه به کله د هند د جګړنو د آسونو تر سوو لاندې وه، کله به بیا ایرانیانو د خپلو جاه طلبیو تنده پرې ماتوله ځکه نو عام اولس پر یوه ټاټوبی ټیک نسوای کولای، د اولس لویې برخې په کوچې توب کې ژوند تېراوه او هم یې له خپله اصلي ټاټوبي څخه نورو سیموته مهاجرت کاوه او که څه هم واړه واړه ریاستونه تشکیل شوی او هغه به هم د خپلو مربوطو امپراتوریو تابعدار او فرمانبردار او فقط د غاصب طاقت دګټو د پاره به یې ژوند کاوه. د سیمې عایدات به د نورو جیبوته لوېدل

زموږ اولس فقط په قوت لایموت ژوند کاوه زموږ د اولس کار او زحمت
خولې تویول د نورو د خوښۍ او آبادۍ او هوساینې د پاره وو فقط چې
پردو به ځینوته یوه توره ورتر ملاکړه او پر اوږه به یې ټک واهه چې ځه
ته یې حوالدار یې دغه نو د دوی سعادت ؤ او بس د پردو لښکر کشیو
په وخت کې به یې کوشش کاوه چې ځان او اولاد د پردو لنډغرو د آسوله
سوو څخه وباسي دا ؤ د افغانستان د هغه وخت ویرجن حالات . په دغه توره
دربله کې په بره پښتون خوا کې پیر روښان د آزادۍ بیرغ پورته او د اولس
د راویښولو د پاره یې سیاسي تحریک شروع کړ بازید انصاري چې مشهور
په پیر روښان ؤ د شیخ عبدالله انصاري زوی او د شیخ سراج الدین
له اولادې څخه ؤ دی د پنجاب په جلندر کې زوکړی ؤ پیر روښان په اصل کې
د وزیرستان د کاڼي ګورم او سیدونکی او په قام اورمړ و خوپلار یې
پنجاب ته مهاجرت کړی ؤ ، پیر روښان وروسته له تحصیل څخه په پښتونخوا
کې سفرونه وکړه چې په دې لړ کې د قندهار له سفر څخه ډیره ترخه خاطره
لري چې دی وایي په ټول ژوند کې یې نسم هیرولای قصه داسې وه
چې بیرم خان د هند د مغولي حکومت والی ؤ په کندهار کې یې یوه پښتنه
ښځه د سر په ویښتانو په ژرنده پورې تړلې وه او د ژرندې له چورلېدو سره
په چورلېدله . داسې او داسې نورو واقعو دی و دې ته اړکړ چې قوم
د پردو له غلامۍ څخه خلاص کړي هغه وچې د آزادۍ بیرغ یې پورته او د
خپلواکۍ اعلان یې وکړ اولس هم په ډیره لږ موده کې د ده پرشاوخوا
راټول او لښکرې برابرې کړې یو آزاد حکومت یې جوړ کړ اولس خپل
عشرونه او زکاتونه د بازید د کورنۍ خزانې ته وروړل شروع کړل د -
یوسف او بستري قبیلې هم خپل زکاتونه او عشرونه دې خزانې ته تحویل
کول . خوند درویزه په خپل کتاب مخزن الاسلام کې د ده په باب ولیکل

چې لښکر راټولوم چې هند ونیسم هر څوک چې آس لري رادې شي داکبر
او هند شتمنی زموږ ده اخند درویزه وایي چې بازید پداسې
احساسا تو د هند دبابري حکومت په ضد جهاد اعلان کړاوتر پېښوره
ورسېد دکابل بابري والي وکړای شوای چې بازید ونیسي اوبندي
یې کړي خود ځینو پښتنو په همکاری بازید له بنده خلاص اوبېرته
د شرق خواته ولاړ او په تیرا کې یې مرکز تاسیس کړ څوزره سپاره
پلې یې برابر کړه او پر جلال آباد یې حمله وکړه بایزید چې مخکې د هند د
بابري حکومت په ضد خلک راپاولی ؤ پخپله پدې ښه پوهیدی چې پر
جلال آباد حمله نشی کولای چې د هند حکومت ته سقوط ورکړی ولې
غوښتو یې چې د خلکو د سترګو په وړاندې عملاً د آزادی لارد پردو
له تسلط څخه اولس ته وښیي او د آزادی په لارکې د ځان د قربانولو درس
ورکړي همداسې هم وشول محسن خان دکابل والی بازید دشنوار یو د جنګ
په ډګر کې مړکړ اولس سخت وپارېدی شل زره پیاده او پنځه زره سپاره دبازید
پر زوی او جاګنشین جلال الدین باندې راټول شول او د پېښور حاکم حامد خان
بخاري یې وواژه پخپله جلال الدین په ۱۵۸۵ کې داکبر له فوځونو سره په
خیبر کې سختې جګړې وکړې مهمندو غوریه خیلو یوسف زی په دې جګړو
کې مخکښي ؤ دې جګړو دوه کاله دوام وکړ چې وروسته بیا د هند
لوی لښکر دکنورمان سنګه ، خواجه شمس الدین خافی او زین خان کوکه
تر قیادت لاندې و جلال الدین ته ماتی ورکړه او جلال الدین د سوات
خواته ولاړ هندي فوځونو له افریدو او اورکزو څخه یرغمل واخستو خو
یوسف زو خپلو مبارزو ته دوام ورکړ پدې وخت کې د آزادی د سرښندلو
مبارزینو د هند دولت ته کوم خاص تهدید نه وخو په اولس کې د آزادی خو
روح پوکړی ؤ چې د هند او کابل تر منځ به یې دارتباط لیاري قطعه کولی

وروسته له څلورو کلو بیا جلال الدین پیدا او د هند د حکومت په ضد یې
ګوریلایي جګړې پیل کړې په ۱۵۹۱ کال د هند لښکرې د جعفر بیګ او -
آصف خان او قاسم خان په مشرۍ وکولای شوای چې په یوه جګړه کې
د جلال الدین دوه ورونه واحد علی او کمال الدین بندیان ونیسی او هم د
پیسو په وسیله ځینې مشرن او روحانیون د جلال الدین او ملي مبارزینو په
ضد راوپاروي د دې ډلې مشران ملک حمزه اکوزایي او اخند درویزه ننګرهاري
و ملک حمزه او هندي لښکرو د مهمندو او د لازاکو په مرسته د جلال الدین
ورونه شیخ عمر، خیرالدین او نورالدین مړه کړو او جلال الدین ماتې وکړه
د ملي مبارزینو او د هند د حکومت ترمنځ ډېرلوی جنګ د باجوړ په سیمه
کې واقع شو چې د هند څلویښت زره عسکر د راجا بیربل په مشرۍ له منځه ولاړو
په ۱۵۹۲ کال د کابل او پېښور لارینده سوه . څو کاله نور هم د هند حکومت
کوشش وکړ چې د نظامي قوې په زور د کابل پېښور لار خلاصه کړي په ۱۵۹۸
کې جلال الدین له ملي مبارزینو سره په غزني یرغل وروړ په هغه سخته جګړه
کې چې د ملي مبارزینو او هندي لښکرو ترمیان وشوه جلال الدین زخمی
او د دښمن په لاس کښېوت څو وروسته یې دانامتو مېړه شهید او سر یې د
هند دربارته ولېږو.

احداد د جلال الدین وراره وروسته دا کا له مرګه د ملي مبارزینو مشرۍ
په غاړه واخیسته او په ۱۶۱۰ کال کې یې په کابل یرغل وروړ او له هندي قواو
سره یې سختې جګړې وکړې او د لوګر د څرخ په غرو کې یې مرکز جوړ کړ
په ۱۶۱٤ کې د بابري قواو له ستر یرغل سره مخامخ او درې زره تلفات یې
ورکړو او د کندهار خواته ولاړ په ۱۶۱۸ کال کې یې بیا لښکرې برابرې کړې
او له هندي قواؤ سره وجنګېدی او ماتې وکړه ختیزو غروته ولاړ په ۱۶۲۵ کې
احداد د هندي قواؤ له تهاجم سره په تیرا کې مخامخ شو چې پخپله احداد په همدغه

جګړه کې مړ او د ده جنګي مرکز «نواغر» هندي جګړنو ونیو او د احداد سر یې پرېکړ او هند ته یې ولېږو د کورنۍ غړی یې غروته ولاړو یوه لور یې په قلعه کې پاته وه خو هغه وخت چې هندي قواوې وررسېدې دې مېړنی پښتنې ټکری سترګو ته ونیوله کلا څخه یې کښته ځان راوغورزاوه د دښمن تر اسارت یې مرګ بهتره وباله ولې دښمن ته تسلیم نه شوه.

عبدالقادر د احداد زوی د پلار تر مرګ وروسته د ملي مبارزینو مشری په غاړه واخیسته په ۱۶۲۷ کال یې د شاه جهان قواو ته ماتې ورکړه - عبدالقادر په ۱۶۲۸ کې له یوې بلې مجاهدې قوې سره چې د کمال الدین په مشری وه یوځای شو ولې دواړو د شاه جهان له قواو څخه ماتې وخوړه او پېښور د شاه جهان جګړنو ته پلاس ورغی عبدالقادر په ۱۶۳٤ کال کې وسعید خان د پېښور حاکم ته تسلیم او هند ته ولېږل شو چې دوه کاله وروسته یې له جهانه سترګې پټې کړې کریم داد د عبدالقادر جای نشین تر ټولو د مخه غوښته چې د اورکزو او اپرېدو له مشرانو سره چې د شاه جهان د حکومت د پاره یې کار کاؤ حساب تصفیه کړی مګر هندي قواؤ وار پرېږومبی کړ د کریم داد مرکز یې اشغال او دې یې بندي کړ چې وروسته بیا په پېښور کې د شاه جهان په امر اعدام شو تر ده وروسته پدغه مجاهده او مبارزه کورنۍ کې د ملي مبارزینو د رهبری څوک پاته نشو ځکه په وارو وارو د دوی په جګړو کې مړه یا بندیان شو او کورنۍ یې هند ته تبعید شوه پدې توګه د دې مجاهدې کورنۍ شپېته کلنه مبارزه پای ته ورسېده د - روښانیانو د املي مبارزه د ېرش کاله خاموشه پاته شوه تر څو په ۱۶۶۹ کې دوه کسه نورو مبارزینو اخوند څالاک خټک او باکو خان یوسف زی بیا د خپلواکۍ بیرغ پورته کړ او د اورنګ زیب له لښکرو سره یې سختې جګړې وکړې خوله بده مرغه د املي مبارزین هم وځپل شول همدارنګه یو بل مشر

ایمل خان اپریدی دازادی خواهۍ په لاره کې سختې مبارزې وکړې د کابل والي محمدامین ته یې ماتې ورکړه خو په اخیر کې له ماتې سره مخامخ شو. همدارنګه د ملي مبارزینو آخری کوشش د تورې اوقلم د خاوند مشهور جنګي سردار خوشحال خان خټک ترمشری لاندې په ۱۶۶۸ کې په ملي مبارزه پیل وکړ چې پخپله وایي:

دافغان په ننګ مې وتړله توره ننګیالی د زمانې خوشحال خټک یم

دوه کاله یې داورنګ زیب له لښکرو سره سختې جګړې وکړې چې د تاتری په جګړه کې یې څلویښت زره هندی عسکر تارمار کړو او د دوآبې په جګړه کې یې د هندي قواوستر قوماندان له منځه یووړ همدارنګه یې د نوښار، ګنداب او خاپښ په جګړو کې مغولي عسکر یو په بل پسې وځپل خو له بده مرغه دده په قول به ووایو:

د بل چا توری ټوپک ویشتلی نه یم
که ویشتلی یم زه بیا په خپل ټوپک یم

د دې نومیالي سردار مبارزې د پښتنو د بې اتفاقۍ له کبله ناکامې شوې خو د ده اشعار به ترابده زموږ دلارې مشال وي. دې نومیالی سردار په ۱۶۹۱ کې په ډېر ارمان له ګورمه ډک زړه خاوروته یوړ چې آخري وصیت یې داؤ چې ماداسې ځای پټ کړی چې د مغل داسود سووګرد زما په قبرنسی را.

په لویدیځ افغانستان کې د آزادۍ هلې ځلې

د دې تحریک باني زموږ ملي قاید میرویس نیکه دی نولومړی لازمه ده چې میرویس نیکه وپېژنو چې څوک دی؟ غرزی چې اصلاً د غور د غرج د سیمې اوسېدونکی دی خو بیا له هغه ځایه رالېږ دېدلی دی یوه موده د کسی

په غره کې میشته شویدی دا چې له غرجه پرڅه رالیږ دیدلی دی ښه نده معلومه خودکسی له غره د اولس د تراکم له کبله بیرته راولیږ دیدل له خیبر، ننګرهاره بیا ترکندهاره په دغو سیمو کې میشته شول - ډیره ګوزاره یې په مالداری تیرو له بیا وروسته یې کرارکرار له زراعت سره هم علاقه پیدا شوه او د ننګرهار، لوګر، ګردیز، زرملې، ګوملې، شلګر، کټواز، مقر، د ترنګ ناوه، ارغنداب، لوناوه غونډان، غوړه مرغه تګاو د کابل شاوخوا دوی اشغال کړل خو یوزیات شمیر یې لا اوس هم پکوچي توب کې ژوند کوي لکه تره کی، ناصر، خروټی، احمدزی، اندړ، اکاخیل، مریا نهی او شنواري او داسې نور چې لنډه شجره یې داده:



یو پلورل شوی مورخ په خورشید جهان نومی تاریخ کې د بولرد اولاد هیڅ ذکرندی کړی د ناصر او خروټی په برخه کې یې چټیات ویلی دی په دې برخه کې یو د افغانستان د هغه وخت حکومت بل انګریزان و چې دغه دواړه له غرزو څخه ناخوښه وو نو شیر محمد چې د دوی دواړو د لاس ګوداګی وله بلی خوا مخصوصاً له ناصر و او خروټیو سره یې بدی درلوده چې قصه یې داسې ده: په ناصر پورې وایي چې ناصر ابن نامعلوم دا یو سړی وراغی له هوتک سره یې واړول او د هوتک ورورسو. د خروټی په برخه کې وایي چې دا یو هلک و په خره کې سپور یوې خواته داور بشواوړه وو چې پښتانه روټه ورته وایي بلې خواته هلک ؤ او له کوره ورک شوی و، حجیب او سهاک پیدا کړو د یوه خرسو د بل هلک. څنګه چې هلک کوچنی ؤ نوم یې نه و معلوم نو یې نوم خروټی پر کښېښود. داوود یو مورخ استدلال په هغه زمانه کې خو خلک هم لږ ؤ څنګه یو هلک داسې ورکېدی چې بیا یې چا پوښتنه هم ونکړه اوس چې خلک هم ډېر دی ښهرونه هم لوی شوی او جوړ شوی دی یو هلک داسې نه ورکېږي چې بیا یې هیچا ته پته نسی معلومه او نه یو بې پلاره بې وطنه سړی د چا ورورکېږي او د پلار میراث ځنې وړي قصه داسې ده چې شیر محمد ګنډاپور د ډېره اسمعیل خان د کلا چې د کلي اوسېدونکی ؤ د ده پلار نیکه، اکا د انګریزانو نوکران تېر سویدی ګنډاپور و له ناصر و او خروټیو سره بدی درلوده د بدی ... پېښه داسی وه چې عمر خان مئی خېل یوه پئ مخی لورد ساندو په نامه درلوده دا نجلی د ډېره اسمعیل خان نواب په زوره کورته ننه ایسته ناصر، خروټی مئی خېل چې د ژمي مېنه یې ډېره اسمعیل خان ده دې قومو دا خبره بسده و منله او پر نواب یې چیغې ورو ایستلی ډېره اسمعیل خان یې محاصره کړ. ګنډاپور چې اصلاً د افغانستان د کټواز جنوب ته د تروو د سیمې اوسېدونکی و او اوس هلته نقل شویدی

هوتک

- ملکیار
  - حسین
    - سهر
      - اسحق زی
        - قطب
          - جلال الدین
            - عمر
              - مندین ← اسماعیل ـ کرم ـ شاه عالم
                - میرویس نیکه
                - شاه محمود
                - شاه حسین
                - یحیی خان
                - عبدالعزیز
                - شاه اشرف
                - عبدالقادر
      - ملی زی
      - معروف زی
      - نورزی
  - دولت یار
    - تون زی
    - ساووت خیل
    - طاهر
      - حاجی نور محمد مشهور به حاجی انگو نیکه
        - نور الله خان
          - عبدالرحیم
            - میر علم
              - محمد افضل
                - محمد شاه خان
                - شمس الدین خان
                - فتح محمد خان
                - امان الله خان هوتک
    - ابنو خیل
    - هوت خیل
    - یولر
  - رب
    - عمرزی
    - مانزی
    - لغری
    - بره زی
    - اکازی
  - یوسف
    - ری زی
    - بابی
    - بیوزی

ACKU

دوی له غلجو سره ځان غمشریک بولي دوی هم چغه وروایسته په هغه وخت کې خورشید د شېر محمد نیکه د ګنډاپورو خان ؤ نواب خورشید ته بډی ورکړې چې په څه چل او فریب دا لښکرې سره ماتې کړه هغه و چې د جنګ په حال کې چې ډېره له هرې خوا محاصره وه ګنډاپورو د خیر ډولونه ووهل په پښتنو کې دا رواج دی چې د جنګ په حال کې د خیر ډولونه ووهل سی مطلب یې دادی چې جنګ بند کړی مطلب حاصل شو ګنډاپورو د خیر ډولونه ووهل خلکو له جنګه لاس وکښی ناصر خپلې خواته ولاړ مئی خېل خپلې خواته ولاړو خروټی لا پر ځای پراته وو دوی غوښتو چې په حال ځان خبر کړي پدې وخت کې نواب پر خروټیو حمله وکړه ډېر مرګ ژوبله یې ځینې وکړه د خروټیو یوه بدل ده چې وایي:

ناصر ولاړو او ګروته مئی خېل ولاړو شکنو ته
دا خوار خروټی پاته د نواب تورو توپو ته

صبا ته چې ناصر او مئی خېل خبر سو چې مونږ ته دوکه راکړه شوېده ناصر و دستی د خورشید دوه وریرونه ونیول او مړه یې کړو بیا نو ناصر و خروټیو او مئی خېلو په ګډه پر ګنډاپورو حمله وکړه ډېره مرګ ژوبله یې ځنې وکړه او زاړه وند نو مې علاقه یې ځنې ونیوه او مئی خېلو ته یې ورکړه د ګنډاپورو بدل ده چې وایي:

که خوار شوې د زړو کی ونده خوار شوې
هله د ګنډاپور اوس د مئی خېل د کډو لار شوې

وروسته له دې کالو خان چې د خورشید لمسی او د شېر محمد کاکا دی د انګرېزانو ډېر وفادار او اعتباری نوکرو او د لویز د رسالې رساله دارو انګرېزانو ته یې وویل چې شهزاد خان ناصر یاغي او باغي دی مونږ ته مالیه «ترنۍ»[1]

(۱) ترنۍ = محصول د مال مواشي .

اونور هېڅ غم نه راکوي انګرېزانو شهزادخان ناصر وروغوښت شهزادخان
چې یو فقیر مشربه مسلمان او یو متعصب پښتون وو انګرېزانو ته ورتګ
ګناه او بې عزتي ورته ښکاریده له ورتګه او هم یې دترنې له ورکړې نه انکار وکړ انګرېزانو ته یې
وویل چې زه یو افغان او دافغانستان تبعه یم دا ځای مې دژمی طبیعي مېنه
ده ژمی دلته یم پسرلی بېرته افغانستان ته ځم زه له تاسې سره هېڅ کار
نلرم نه درځم د کالوخان په لمسونه انګرېزانو په شهزادخان د شپې حمله
وکړه او ښې او مالونه یې ځنی بوتلو خو په هغه جګړه کې چې پدغه شپه
د انګرېزانو او ناصر وترمنځ وشوه کالوخان او څوکسه نور ټپیان
پاته سول او ناصر وبندیان کړو په سهار چې انګرېزانو ته معلومه شوه چې
موږ خو او ښې راوستی دی دوی سړی را څخه بندیان کړی دی بېرته یې
مرکې شروع کړې شهزادخان ناصر ته یې پېشنهاد وکړ چې که ته موږ ته راسې
او له موږ سره دوست شې تا اوستا قوم ته به تنخواوې او جایګیرونه درکړو -
شهزادخان ورته وویل چې زه نه درځم نه تنخواکوم جوړه دغه ده او ښې مې
راکړه کالو دې بوزه ! هغه ؤ چې انګرېزانو مالونه ورکړو خپل بندیان یې
بوتلو. له دې واقعې څخه امیر دوست محمد خان خبر سو او یو د تشکر فرمان
یې شهزادخان ته راولېږو. چې اوس یې هم له اولادې سره پروت دی شېر محمد
هم په خورشید جهان کې دا واقعه یاده کړې ده چې دا دوې پېښې ما د مثال په
توګه بیان کړی هم دغه عقدې وې چې ناصر یې دابن نامعلوم او خروټی
یې بې پلاره بللی دي - هغه قومي شجرهٔ نسب چې له پېړیو راسې زموږ په
کورنۍ کې پرته ده په هغې کې ناصر او هوتک د درخي زامن د بارو لمسیان د
توران کړوسیان دی، خروټی د بابو زوی د توران لمسی دی دا خو لاڅه کوې
د پښتنو ډېره غیرتمنه طایفه کرلانیان یې چې د پښتنو د توری مټی بلل کېږي
همداسې بې پلاره بللی دی. وایي د کم باچا د لښکر کوچ شوی ویو هلک چې نوی

زوکړی و ترکړایي لاندې پروت ځنې پاته و هغه عبدالله اورمړلوی کړ
اونوم یې کرلانی پرکښېښود ځکه چې ترکړایي لاندې یې پیداکړی و. کرېړ
کروړ دا په پښتوکې دکلک او مضبوط نومونه دی لکه چې پخوا د پښتنوستر
پادشاه امیرکروړ جهان پهلوان ؤنو همداسې چې دچا نوم کرېړوی اولاد به
یې له کرلانو ماسوا څنګه بلل کېږي بیا د کرېړ نیکه اولاده چې د ټولو
له نومو څخه ثابته ده چې دا نومونه تراسلام پخوا نومونه دی لکه اپرېدي،
زدران، منګل، وزیر، ځاځی، توری، وردګ، خوګاني، خټک او داسې
نور دا خو ټول تراسلام پخوا نومونه دی[1] نوکه دا خبره لکه څنګه چې ورته
تراشلې شوېده دا ورک شوی هلک وای او عبدالله اورمړ پیداکړی وای نو
خو نوم به یې هم اسلامي پرښود او بیا د هغه اولاد به هم اسلامي نومونه درلودو
عبدالله خو یوسو چه عربی او اسلامي نوم دی اورمړ چې یوه کوچنی طایفه
ده هم رېښې یې تراسلام پخوا دی یعنی پخپله د اورمړ نوم غیراسلامی دی بیا د
هغه زامنو نومونه غیراسلامي دي لکه سکتوی، منتوی، مشوی، کاڼی ګورم، کونیخ،
والچا آیا دا نومونه د اسلام د زمانې نومونه دی اورمړ چې یوه کوچنی طایفه او د

---

(۱) د مثال په توګه د پکتیکا د څلورو قبیلو چې زرګونه کاله پخوا مورخینو یا دې کړې دوه
نومونه اپاریتی او ستاګیدی ننني اپرېدی او خټک دی او هم په لرغونو آریایي
سرودونو کې د وردیکا (وردګو) او بریسایا (برېڅو) نومونه راغلی او پخپله د پښت
= پکت او پښتون نوم هم ډېر لرغونی او ځنډن دی او دا په خپله پوخ دلیل دی
چې پښتانه له زرګونو کلونو راهیسې د پښتونخوا په بیلا بېلو برخو کې مېشت وو او د
کلتوری ژوند زړې نخښی یې راپاتې دی (د تفصیل له پاره وګورئ دا روا ښاد
احمدعلی کهزاد، د افغانستان پخوانی تاریخ، په ۱۳۳٤ کال کې د افغانستان د تاریخ -
ټولنی چاپ).

کرلانو همسایه بلله کیږي له نومونځه یې ثابتیږي چې دا تراسلام پخوا نومونه دی پس نو کرلانی چې دتول پښتانه څلرمه برخه تشکیلوي ریښې یې تر اسلام راوروسته سولی دیو مسلمان سړي پکور کې لوی شوی هلک ببرتۍ کفر ته ورپورې وهل کیږي دې پلمورل شوی مورخ په دې ره بې شرمۍ هغه قومونه چې دوخت افغاني حکومت ځنې ناخوښه وُ اویا ده پخپله یوه عقده ورسره دلوده څوک نا ښې اولاد کړو څوک یې یومخ بې پلاره او بې نسبه کړوکه غرزی لودي، کرلانی ځنی ووزی نو په پښتنو کې به څه افتخار پاته شي دا چې دپښتنو دپیدایښت دپاره تراسلام وروسته زمانه پټاکی قیس عبدالرشید دپښتنو ستر نیکه بولی او دده ژوند داسلام په اوایلو کې نبی پلاسې حال کې چې پدغه وخت کې خو پښتنو پادشاهی درلوده پښتنویوه مکمله څربه درلوده امیرکرور په ۱۳۹ هجری کې دپښتنو پادشاه وُ ماهویر سوری دمروې مرزبان یا والي وُ یزدګردیې ونیو اومړیې کړ او دا شعربه زه فکرکوم چې هرلوستونکی پدې قانع کړي چې پښتانه داسلام تر رانګې دپرېښودو یوڅو ورځې آزاد خپل واک اود یومکمل اوغني څربې خاوند قوم وُ دامیرکرورچهان پهلوان ویارینه :

زه یم زمری پردې نړۍ له ما اتل نشته — په هندوسند پرتخاراوپرکابل نسته
بل په زابل نسته — له ما اتل نسته
غشی دمن مې ځي برښنا پرمیرځمنو باندې — په ژوبله یونم یرغالم پرتښتېدونو باندې
په ما تېدونو باندې — له ما اتل نسته
زما د برید پرخولې تاوېږي هسک په نمنځ اوپه وار — داس له سوو می ځمکه ربنديي غرنۍ کاندم لتار
کرم ابوادونه اوجار — له ما اتل نسته
زما د توری ترشپولې لاندې ډهرا وجروم — غرج وبامیان اوتخار بولي زما نوم په اودوم
زه پښتندوی یم په روم — له ما اتل نسته
پرمرو زما غشی لونې داری دښمن راځنې — د هریوالرود پرځنده وځم تښتي پلن راځنې

رپي زړن راڅخه — له ما اتل نسته
دزرنج سوبه مې دتوري په مخسوروکړه — په باداري مې لوړاوي دکول دسوروکړه
ستر مې تربوروکړه — له ما اتل نسته
خپلووګړولره لوراو پېرزوینه کوم — دوی په ډاډ ینه ښه بامم ښه یې روزنه کوم
تل یې ودنه کوم — له ما اتل نسته
په لویوغرومې وینا درومي نه په ځنډ وپټال — نړۍ زماده نوم مې بولي په دریځ ستا یوال
پورځوشپومیاشتوکال — له ما اتل نسته

که د دغه موجوده پښتنو لکه څنګه چې وایي پیدا یښت تر اسلام راوروسته وي نو دغه پخه اوغنی ژبه چې د اسلام د ظهور په وخت کې موجوده وه دکمو پښتنو ژبه وه هغه پښتانه څه شول چې ځان ته یې یو آزاد سلطنت درلود. په هرصورت دا بحث به پرېږدو وهغو څېړونکو ته چې پدې لارکې کافي معلومات راغونډ کړي او اصلي حقایق منځ ته راوړي اوس به راسو په لویدیځه پشتنو کې دخپلواکی اخستلو نهضت او د هغه دقهرمانانو پېژندلو ته.

میرویس نیکه

د دې غورځنګ اصلي قهرمان میرویس نیکه ؤ نولومړی باید میرویس نیکه وپېژنو میرویس نیکه د ښالم خان زوی دکرم خان لمسی د اسمعیل کړوسی، - اسمعیل د مندین زوی مندین دعمر د جلال الدین دقطب دایساک دسفر د حسین د ملکیار د هوتک د درخی دبارو د توران دغرزي یا غرځي دشاه حسین غوری. هغه وخت چې دکسی پېغره کې د خلقو شمېر زیات شو او مېنه پر تنګه شوه نو غرځي د اوسنی زابل، پکتیا، پکتیکا، غزني، کابل، ننګرهار، کنړ په سیمو راولېږ دېدو او دا سیمې یې اشغال کړې پدغه زمانه کې چې دغه سیمې اشغالېدې د هوتکو ستر مشر ملکیار نیکه ښودل شوی دی. هوتک په مرغه، اته غراوسیوري

کې مېشته شول د سیوری سیمه چې طبیعی ځنګلونه یې درلودل د زر . ت د
پاره ښه مساعده وبلله شوه او ملک یارنیکه اولس دکارېز وکیندلوته وګمار
د ملک یارنیکه د زمانې له کیندل شو وکارېزونو څخه تقریباً پنځه شپېته کارېزونه
اوس هم موجود دی ملکیارنیکه[1] له سیوري څخه یوه زراعتی سیمه جوړه کړه اولس
یې وکرهڼې ته تشویق کړل خو خلق له کوچې توبه راوګرزېدل او په کرهڼه
یې وګمارل مځکې یې پر طایفوو وېشلی د سوري سیمه د تن زو، عمرزو، شیخ زو،
ملی زو، معروف زو، خدرزو، لغړو بایي زو او ساګزو شوه غوړه مرغه چې په
لرغونی زمانه مځکې د مغولو تر راتګ دیوسفزو او مهمندو مېنه وه د ساګزو -
بایي زو او طاهرو او یوسف خېلو او ساوت خېلو په برخه کې راغلی د روغانی شاوخوا
د برځو د کام شوې دا ته غر علاقه د رمي زو بابیانو بایي زو طاهرو او هوت خېلو
شوې د سره ځنګل درخت یحی سیمې د بابوزو ساوت خېلو او پولړو شوې د
ملک یارنیکه ویشونه اوس هم محترم بلل کېږي خو یو شمېر خلق چې د کندهار له
اشغال څخه وروسته کندهار ته ولېږدېدل او هلته له پارسپانو څخه یې د کندهار
سیمې چې له ډېرو زمانو څخه یې اشغال کړې وې بېرته واخستی دا یوازې
ایرانیان نه بلکه د هند ملتانیان هم هلته مېشته او مځکې یې نیولې وی خو
چې قندهار پښتنو ونیونو پردي خلق ځنې ولېږدېدو او مځکې یې اکثره
هوتکو، توخیو ناصرو او نورو غرځو اشغال کړې د هوتکو هم ډېرې
کورنۍ کندهار ته ولاړې خو چې کندهار دا فشارنادر له خوا اشغال سو غرځي
مخصوصاً هوتک او توخي او ناصر په قطعی توګه له کندهاره وشړل سول او
ایران ته فراره کړل شول هغه خلق چې د فراریانو په جمله کې راغلل دلته په سوري
مرغه او اته غر کې یې هم د مځکو ویشونه نورو ته پاته سو چې تر اوسه لا هم دغسې

---

(۱) فکر نه کوم چې دا به هغه ملکیاروي چې د هوتک نیکه لمسی دی ځکه هلته نو خلق دنه له کم و

پاته دي

ملک یار نیکه علاوه پرنور وصفتو یو خوږژبی شاعر هم ؤ چې دا شعر یې پټې خزانې نومی ادبي تاریخ چې محمد هوتک لیکلی ثبت کړیدی :

ترنک بهیږي * ترنک بهیږي * غاړې تر غاړې * زما زړګی خو * خپل لالی غواړي
که روده روده * د ترنک روده * خاوندې وچ کړه * چې زړګی مومي * زما خپله سوده
که نیزدی نیزدی * نیز د بیلتون دی * د زړه نیزه وړي * په ویر ژړلي * په غم زبون دی
که اورده اورده * په زړه مې اورده * دا اور به وچ که * دویر نیزونه * ډیر بل په زور ده
نمځنه پوسته * سپینې سپوږمیه * ورته ووایه * چې ترنک ټال کړم * ستاله خولګیه
که خړو خړو اوبو * سوان کړی * بیل ملکیار دی * پاته له یار دی * سوب یې جانان کړی

د ملکیار نیکه په برخه کې ځینې خلقو لیکلی دی چې ملکیار نیکه د هوتک بابا مشر زوی ؤ خو دغه ملکیار بابا چې موږ یې د ژوند کارنامې ولیکلی دا ملکیار نیکه په راوروسته زمانو کې تیر شوی دی چون دلوی نیکه نوم پرښوده شویدی خلق د هغه پخوانی ستر نیکه خیال پر کوی دا سې خواوس هم خلک پر زامنو د نیکه ګانو نومه لکه سلیمانخیل، ناصر، تره کی، اندړ، هوتک، پوپل زی، بارکزایي، نورزایي ږدي نو دا خلک به څو پیړی وروسته دلویو نیکه ګانو پنامه پیژنی که دا ملک یار نیکه د هوتک بابا زوی وي نو هلته خو دوی څو نفره ؤ دا دونه کاریزونه یې په چا آبادول د چا د پاره یې آبادول له ملک یار نیکه راوروسته بل لوی مشر هوتک نیکه تیر شویدی هوتک نیکه هم د سمې ساتنې او آبادونی ته ډیره توجه کړیده د ده له اشعارو څخه معلومیږي چې دی د مغولي چنګیز خان د زامنو معاصر دی او د هغوی له قواؤ سره یې ډغرې وهلی دی چې د ده دا شعر چې پټې خزانې ثبت کړیدی د دې خبرې شاهدي وایي چې د پښتونخوا د سیمې په ساتنه کې یې ریار ایستلی دی :

په سره غربل راته نن اور دی — وګړیه جوړ راته پیغور دی
پر کلی کور باندې مغل راغی — هم پر غزني هم پر کابل راغی

غښتليو ننګ کړی دامو واردی — مغل راغی پـــوار دی
په پښتون خواکې يې نا تاردی — پرکلی کورباندې مغل راغی

آ د مرغی غښتليو راسئ — پرننګ ولاړ د پښتونخواسئ
توري تېرې غشي ترملاسئ — پرکلی کورباندې مغل راغی

ځلمو په غشو کړئ وارونه — د تېرو تورو ګوزارونه
ورو راندې کړئ خپل تېترونه — پرکلي کورباندې مغل راغی

زما د ځلمو وينې بهيږي — مځکه اوغرونه په سره کيږي
ميرڅی زغلي او ترهيږي — پرکلي کورباندې مغل راغی

پښتنو هلی پرغره جنګ دی — سورغر په وينو د دوی رنګ دی
محال د توری دی د ننګ دی — پرکلی کورباندې مغل راغلی

ځلمو پرننګ ځانونه مړه کړئ — د ښن په غشيو مو پييه کړئ
د پښتونخوا ځمکې ساته کړئ — پرکلی کورباندې مغل راغی

له دې شعر څخه ښه تره څرګندېږي چې دا يوه محلي جګړه نه ده يوه محلی - تا ټوبی ساتنه مقصد نه بلکه د واړې پښتونخوا ويرپکې کوي د مغولو نا تار چې پرغزني او کابل راغلی دی داد ټولو پښتنو پېغور بولی او خپل ځلمی و دې ته هڅوي چې له واړې پښتونخوا سره خپل پيوستون ښکاره او ننګه يې وکړي.
ترهوتک نيکه وروسته بل لوی مشر چې ټول قوم باندې راټول ؤ —



ملی مشر میروسیں نیکہ

مندین نیکه دی چې په غوړه مرغه اوسېدی په قامي خدمت لګیا ؤ په هغه زمانه کې اولس خپلو محلي مشرانو اداره کاؤ داوخت زموږ تاتوبی د صفویانو ترسلطې لاندې ؤ او سیاسي او اداري مرکز موکندهار ؤ مندین نیکه پداسې حال کې چې له کندهار څخه راتلی ښه لولان ته نزدی د سره غره په هغه بند کې چې اوس یې د مندین بند بولي د درخي نومي ملي زي هوتک له خوا ووژل شو او په مشرتوب یې قبضه وکړه وروسته له یوڅه مودې د مندین نیکه کشر زوی جنګي نیکه چې رالوی سو لښکر یې سره راټول کړ پر درخي باندې یې په غوړه مرغه کې په هغه غبرګه کې چې اوس یې د مړو غبرګه بولي یرغل وکړ او د ده ټول ټبر یې مرکړو د پلار له انتقامه وروسته جنګي خان د قام مشر سو ټولو هوتکو د احترام سرور ته ټیټ کړ تر جنګي خان وروسته د ده وراره د اسمعیل زوی کرم خان د قام مشر وټاکل شو کرم خان د سلطان ملخي معاصر ؤ.

سلطان ملخي چې یو غښتلی مشر و د لومړی ځل د پاره یې د غرځو یو ریاست تشکیل کړ له ګردیز غزني تر جلدکه د غرځو د ریاست مشر وټاکل شو سلطان ملخي ډیر توریالی مېړه ؤ چې د خپل قلمرو ساتنه یې په ښه توګه کوله د ده ریاست د هند د مغلو له خوا په رسمیت پېژندل شوی ؤ او صفویانو هم په رسمیت پېژاند سلطان ملخی په یوه جګړه کې د انځرګي په سیمه چې د اومکی شمال او ارغنداب جنوب ته واقع د هزاره و د یوې یرغلګرې ډلې سره په جګړه کې مړ شو د سلطان ملخي د حکومت تصدیق مغولی اورنګزیب د یو فرمان په وسیله کړی ؤ د سلطان ملخی له لویو کارنامو څخه یو داؤ چې ده د ابدالیانو او غرځو تر منځ د ځمکې ویش وکړ چې د جلدک لویدیځه خوا په اودلو او ختیځه خوا په غرځواړه پیدا کړه د سلطان ملخي هم عصر سلطان خدایداد خان چې په سلطان خودکی مشهور ؤ او په ابدالیانو کې د پوپل زو له ټبر ؤ او د ارغسان د ګواري د کلی اوسېدونکی ؤ دی سلطان خدایداد د ګواري د کلی ختیځې خواته په سره غره کې د ګواري پر تنګی یو بند تړلې دی چې په اوسنی

زمانه کې هم باید دا نجنیری یو شهکار ورته ووایو خو اوس تر ډېرې اندازې ختو
ډک کړیدی خو په هر صورت دې دواړو مشرانو په اتفاق سره داودلو او
غرځو په منځ کې د مځکو ویش وټاکو د ویش په برخه کې هم دوې خبرې دي
څوک وایي چې د کرم یا کرمام سیمه ویش ده څوک وایي چې د غشي مناره چې د کابل کندهار پر
لویه لاره واقع ده د ویش پر حد جوړه سویده په هر صورت دی دواړو مشرانو په اتفاق د قومي شخړو
په ډېره ښه توګه مخنیوی وکړ او په خپل وار یې خپله ذمه واري په ډېره ښه
توګه سرته ورسوله دا دواړه مستقل ریاستونه ؤ او خپله داخلي خپلواکي یې درلوده
سلطان خدایداد خان د ایرانیانو له خوا د ابدالیانو د مستقل رئیس په توګه
پېژندل شوی ؤ دا خپلواکی او استقلال تر هغه وخته ؤ چې د ایران له درباره
څخه د کرګین پنامه یو کرجی د بیګلربیګی په حیث قندهار ته رامقرر شو او له یو
خورا لوی لښکر سره چې له شل زره کرجي او ایرانی عسکرو څخه جوړ شوی و
قندهار ته راغی د ده له رارسېدو سره سم په پښتونخوا ناورین راپرېوت د دې
خونخوار په وسیله د پښتنو ډېرې مېنې ورانې شوې او ډېر ښاغلی پښتانه یې
تر خپلو شخصي اغراضو حار کړه چې وروسته به یې مفصل حال ولیکو مګر د ده
ګرګ والي ډېر پاته نسو او د پښتنو له سخت انتقام سره مخامخ سو ټول پښتانه د
خپل وخت پر ملي مشر میرویس نیکه راټول سوه، میرویس نیکه هم د ملي ننګ
پرځای کولو د پاره راولاړ سو او ملا یې وتړله او وخوځېدی د ده له خوځېدو
سره د اصفهان تخت هم په خوځېدو راغی په هر صورت زموږ بحث تر میرویس نیکه
د هوتکو د مشرانو پېژندنه وه کرم خان د خپل زوی ښالم خان د پاره د سلطان ملخي
لوروغو ښته چې نازونومېده ډېره زبردسته عالمه، شاعره او میلمه پالونکی مېرمن
وروسته له کرم خانه ښالم خان د قام مشر شو ښالم خان د خپل اولاد په روزنه
بوخت ؤ. د ښالم خان څلورزامن وو چې مشر یې حاجي میرویس خان نیکه دویم
یحیی خان دریم عبدالعزیز خان او څلورم عبدالقادر خان ؤ. د عبدالقادر اولاد

نسو پاته په ځوانۍ کې مړشو میرویس نیکه چې لوی شو دقام مشرتوب یې د ... غاړه ؤ او پلار یې علاوه پردې چې دقام ستر مشر ؤ ډېره بډایي یې د ... وده د تجارت کاروانونه به یې تر ډېلي او اصفهان پورې تلو او راتلو او ځلمی میرویس خان له خپلو قافلو سره اکثره هند او ایران ته سفرونه کول او هلته به یې د هغه ځای له لویو خلکو سره شناخت او ناستې ولاړې درلودې وروسته له هغه چې یې پلار وفات سو نو د قوم مشرتوب او تجارتي چارې دواړې د ده په غاړه سوې د تجارت په دوران کې یې هند او ایران په سیاسي مرکزؤ ډیلی او اصفهان کې ډېره پېژندګلوي پیدا کړې وه د ملي نهضت د مخه څه نه څه د کندهار وضیعت هم څرګند شو یعنی دا ځنې ښکاره شوه چې کندهار که څه هم د دوو طماعو ګاونډیانو په منځ کې واقع ؤ خو بیا یې هم نسبتاً استقلال او خپلواکی درلوده.

میرویس نیکه څوک ؤ او څه یې وکړو ؟

د میرویس نیکه په برخه کې مورخینو هر چا له خپلو معلوماتو سره سم هر څه لیکلی دی خو له بده مرغه چا دا کوشش ندی کړی چې د ده له اصلي ټاټوبی له خلکو او یا د ده له اولادې څخه څه معلومات لاس ته راوړي حاجي میرخان نیکه په یوولسمه پېړۍ هوتک بابا او په ۱۵ پنځلسمه پېړۍ غرځي بابا ته رسېږي. دا چې اکثره مورخینو هوتک او توخي وروڼه بللی دي علت یې دا دی چې بابا هوتک او بابا ناصر ډېر کوچنی ؤ چې پلار یې بابا درخي مړشو دوی دا کا توخی بابا تر سرپرستی لاندې لوی شول او چې ځوانان شول د پلار نوم یې خلکو نه آخست دوی هر یو د خپل مستقل نامه خاوند شو او خلقو د توخی نیکه وروڼه تصور کول حال دا چې دوی د توخی نیکه وریږونه وو.

د حاجي میرخان نیکه مور نازو انا د سلطان ملخي توخي لوروه سلطان ملخي لکه مخکی چې مو وویل د غرځو مستقل حکمران و او د مغولی اورنګزیب او ایراني صفویانو

له خوا په رسمیت پېژندل شوی ؤ له جلد که ترغزني ټولو قومونو احترام ورته کاؤ او مستقله حکمراني يې درلوده نازوانا د سلطان ملخي لوروه پلار يې د دې په علمي روزنه کې ډېر زيار وايسته دوخت له سپين ږيرو علماو څخه يې ليک لوست او مروجه علوم ولوستل که څه هم په هغه وخت کې پښتنو د خپلو اولادو په علمي روزنه کې دونه دقت نه کاو خو سلطان ملخي چې د علم په ښېګڼه پوه حکمران و د خپلې لورله روزنې څخه غافله نسو پاته په هر صورت په هغه وخت کې څوک څه پوهېدو چې دازمري پښتنه به د قام په سرنوشت کې څه رول ولوبوی مېرمن نازو د خپل پلار ترمرګ وروسته له خپل ورور حاجي عادل سره ملاوتړله توره يې ترملاکړه دپټې خزانې په قول له څو ښاغليو تر برؤ سره يې د کور او سيمې ساتنه کوله نازوانا هم د نورو پښتنو مېرمنو په څېر مېلمه پالونکی وه مېلمنو ته به يې ډوډۍ ورکولی او له مسافرو سره به يې مرستې کولې د مسافرو او مسکينانو په ساتلو ډېره مشهوروه تل به د ژمي په موسم کې ډلې ډلې مسافران راتله او ډېرې د پردېسيانو قافلې به د دوی د کلامخ ته پنډې وې ډوډۍ به يې ورکولی او بې وزله خلقو ته به يې جامې ورکولی څو چې د دې مېرمنې نوم له خيبره ترکوسانه خپورسو پدې وخت کې نود ښالم خان هوتک په نکاح شوه او پاک خدای (ج) څلور زامن ورکړل چې ترټولو مشر يې د پښتنو ملي مشر حاجي مېرويس خان نيکه ؤ چې د دې پښتنې زمرۍ مېرمنې په غېږ کې وروزل شو او پښتانه ملت ته يې تقديم کړ علاوه پردې نازوانا يوه عابده، صالحه، نېک عمله ښځه وه چې خپل اولاد ته يې هېڅکله بې اودسه شېدې نه ورکولی کوم وخت چې عمر يې پوخوالی ته ورسېدې او پخه ښځه شوه نو علاوه پرپورته ښېګڼو يې له علم او ادب سره ټينګه علاقه پيدا شوه او په لږه موده کې يوه خوږژبی شاعره شوه چې دا يوه رباعي يې پټې خزانې ثبت کړېده چې وايي

سحرګه ؤ د نرګس لـــيمه لانـــده ‌ ‌ ‌ څاڅکی څاڅکی يې له سترګو څڅېده

ماویل څه دي ښکلی کله ولې ژاړې ده ویل ژوندمې ده یوه خوله خندېده

همدا فکر د اوسنی عصر ستر فیلسوف شاعر علامه محمد اقبال لاهوري پخپلو خوږو الفاظو کې داسې ادا کړیدی :

شبی زار نالید ابر بهار که این زندگی گریهٔ پیهم است
درخشید برق سبک سیر گفت خطا کرده ئی خندهٔ یکدم است
ندانم به گلشن کی برد این خبر سخن ها میان گل و شبنم است

د نازوانا خوب لیدل

چې میرویس نیکه وزیږیدی نازوانا په همغه شپه خوب ولیدی چې حضرت بېټ نیکه ورته وایي زما لوری دا زوی ښه روزه کوم وخت چې ستا دغه زوی لوی شي لوی کارونه به انجام کړي حج ته به ولاړسی زما لوری دده په روزنه کې غفلت ونکړې دده له نسله به ښکۀ شاهان پیدا شي چې دین ته به رڼایي ورکړي دده په تربیه کې زیار باسه او دقت کوه دده پر اوږو دلویو کارو انجام پروت دی ! نازوانا ددې خوب په اثر برسېره پر مورنۍ عطوفت یوه بله مخصوصه علاقه هم له دې خپل زوی سره په ځان کې حس کوله د میرویس نیکه په روزنه کې به یې دقت کاوه چې میرویس نیکه د دې زمری روزونکی له غېږې څخه پاڅېدی زلمی توب ته ورسېدې څنګه چې یې مور پخپله عالمه او پوهه مېرمن وه د زوی د شپږ کلنی څخه یې په روزنه او تعلیم پیل وکړ په یوه کال کې یې د دین ټول فرایض په زده کړو او تل به یې ورته ویل : زویه ! د بیټ نیکه له خولې تا ته ډیر لوی کارونه کوری چې باید انجام یې کړې چې لوی شې د لوی خدای (ج) عبادت او د خلکو خدمت به کوې زویکه ته لوی خدای (ج) د دې د پاره پیدا کړی یې چې لوی لوی کارونه سرته ورسوې او ستا خپل قوم ستا ترسیوری لاندې ستا د خدمت او زحمت په اثر آرام واوسي !

میرویس نیکه چې لوی شو تل به یې په هر مجلس کې د مور وصیت یاداؤ او

ویل به یې زما مورماته دلویو کارو دانجام وصیت کړیدی زه باید زیار وباسم چې د مور وصیت پرځای کړم اوله خدای (ج) څخه توفیق غواړم.

د میرویس نیکه ازدواج

میرویس نیکه چې پلار یې له مقتدرو خانانو څخه ؤ یو بډای زلمی ؤ - جعفرخان سدوزی چې پدغو وختو کې وفات شوی نو کونډې یې غوښته خپله لور داسې یو چاته ورکړي چې د دې یتیمان د هغه ترسیوری لاندې د میراث خورو له تعرضه په امان شي میرویس نیکه چې به همیشه دخپلو کارو د اجرا د پاره کندهار ته تلی نو له ښهر صفا چې د سدوزو ټاټوبی و تېرېدی راتېرېدی، د جعفرخان کونډې په دې تمه چې دا یو مقتدرخان دی بل زیاته بډایي لري زما د اولاد شتمنی ته تمه نلري نو همدا سړی کېدای شي زما د اولاد د ټیکېد و سبب وګرځي نو یې د یو استازی په ذریعه زوم کلوی ته راوباله میرویس نیکه لکه په پخوا پښتنو کې چې رواج ؤ دا خبره د کور او قام مصلحت ته پېش کړ کور او کام ټول پدې صلاح شوه په څو دلیله یو د قومو د مشرانو د کورنیو په منځ کې دوستي د دواړو خواوو دا ولسونو په منځ کې دوستي راولي بل نو د ښالم خان له اولاده سره هم داسې ځای دوستي مناسب وه له بلې خوا د جعفرخان دلور د ښایست او نجابت آوازه تر هره ځایه خپره شوې وه نو په اتفاق دا دوستي خوښه شوه مرکه ولاړه او د جعفرخان سدوزی لور یې چې خانزادی نومېده میرویس خان ته وغوښته دې دوستي دغرځو او ابدالیانو په منځ کې اړیکی صمیمي کړې چې په وروسته واقعاتو کې ښه ترا ثابتې شوې چې ابدالیانو هم لکه دغرځو په شان میرویس نیکه د ځان خیرخوا او کالخوا یه بالو.

PROPERTY OF ACKU 7808

د میرویس نیکه کسب او کار

د مخه تر دې چې د خپلواکۍ غوښتنې لوړ افکار د میرویس په سر کې ځای ونیسي میرویس د پلار تر سیوري لاندې په تجارت لګیا ؤ لوی لوی کاروانونه به یې هند او ایران ته تلو او راتلو. میلسون انګریز مؤرخ د میرویس نیکه په لیکي: لکه چې له وروستیو واقعاتو څخه څرګندېږي چې د اصفهان د دربار یانو خپلې یې د هندي قیمت بها تحفو او سوغاتو په زور وګنډلې او بیا یې د حجاز علماء او ملایان د ځان ملګري کړو د میرویس نیکه بډایي او ثروت ښه تاثیر وښاندو او معلومېږي چې حقیقتاً دی ډېر بډای ؤ او هم یې تجارت کاو څو د پلار تر مرګ وروسته اول د خپل قوم بیا وروسته د ټولو افغانانو ښاغلی مشر وټاکل شو.

د میرویس نیکه شخصي صفتونه

میرویس نیکه د نرمې او ملایمې طبعې خاوند ؤ د ده متین فکر او زرینه رایه رسا ذهن او لوړ اخلاق او د ده د سخاوت شهرت مؤرخین ډېر ستایي علاوه پر دې تر ټولو مهم او بهتر صفت چې د میرویس سره په مشرتوب او ملي مقاصدو او سیاسي میدانو کې ښه مرسته کوله د ده فصیحه ژبه خوږه وینا جذاب نطق وچې د اصفهان د دربار قانع کول او د کرکین په خلاف د هغو رایه ګرځول او د حجاز د علماو و خپلول او له هغو څخه د خپل مرام سره سمه فتوا اخیستل څه داسې آسانه کار هم نه ؤ چې یوازې په سوغاتونو او تحفو سره سرته رسېدلی وای بلآخره د افغان ملت له لویه ترکو چنیه وفدا کارۍ او ځان نثارۍ ته حاضرول څومره قوت او همت غواړي دا ټول میرویس نیکه د خپلې غوره وینا په مرسته سرته رسولي دي هو لږ وروسته چې د ده لنډې لنډې وینا وې د واقعاتو په ترڅ کې ولولئ هغه وخت به د ده دا ښکلی ښېګنه درته وځلېږي.

دمیرویس نیکه مقام دپښتنو په نزد

ترهغه وروسته چې میرویس نیکه له سدوزو سره دوستي وکړه دده مقام دپښتنو په نزد دوه چنده لوړسو دغرځو مشرتوب خوده ته له پلار او نیکه په میراث ورپاته ؤ غرځودی دلوی کالخوا یه مشر پچیث مانو له بلې خوا ابدالیانو او سدوزو یو دخپلوي بل دده دغوره شخصیت په لحاظ دده ډېر احترام کاوڅو په آخرکې د ابدالیانو مشرتوب او ریاست هم ده ته ورسېد خصوصاً له هغه وخت څخه چې ابدالي دولت خان له خپل زوی نظر محمد خان او فقیر نامی مریي سره دګرګین په لاس په شهادت ورسېدل د پښتانه ملت سترګې دمیرویس نیکه خواته کږې سوې که څه هم دولت خان دوه زامن نور هم درلودل چې یو یې رستم خان بل یې زمان خان د احمد شاه بابا پلار ؤ او رستم خان وروسته ترهغه چې زمان خان بندي ګرګین کرمان ته واستاوه دابدالیانو مشرتوب په غاړه واخیست مګر سره له دې هم دمیرویس نیکه نفوذ ورځ په ورځ زیاتېدو او ورو ورو ورځ په ورځ اولس پرده راغونډېدو بنایي چې د نفوذ یو علت دا هم ؤ چې میرویس دخپل عقل او ذکا په زور د هغه وخت په تقاضا ګرګین خان ته جلب کړی ؤ او له خپله ځانه یې راضي کړی ؤ حتی ترلږ مودې وروسته ګرګین دی په ټولو امورو کې دځان مشاور ګاڼه په تېره بیا هغه وخت چې د دولت خان سدوزی زوی رستم خان هم دګرګین له لاسه په شهادت ورسېد په پښتنو کې له میرویس نیکه ماسوا بل خان او مشر پاته نسو چې دپښتنو سترګې ورواوړي دابدالیانو او غلجیانو دواړو مشرتوب میرویس نیکه ته وسپارل شو له همدې وخت څخه دمیرویس فوق العاده اهمیت او امتیاز په پښتنو کې شروع کېږي څو چې دخپلواکی ترګټلو وروسته ده ته دنیکه خطاب ورکړسو چې اوس یې اولس حاجي میرخان نیکه بولي او دده مزار ته دپښتنو نرښځې دحاجت غوښتلو د پاره ورځي او تر هر څه دمخه دده دمزار د ډبرلیک دالنډۍ یې سترګو ته درېږي:

دننګ ټوټه به مې هر هډوي   که پس له مرګه په مزار راشي مینه

د ده په هکله په بره پښتونخوا کې د شمس الدین کاکاخیل هغه منقبت دی چې له جمیل بیګ د خوشحال خټک له ورور سره چې یو فقیر او صاحب الحاله سړی دی د ده ملاقات ښیي د دې کتاب قلمي نسخه محترم حبیب الله رفیع پیدا او په ادبي ستوری نومی کتاب کې یې نشر کړیده (۱)

ګرګین څوک ؤ او څنګه قندهار ته راغی

د دې سړی نوم اصلاً وختنګ ؤ په خټه ګرجي ؤ او د ګرجستان او سیدونکی ؤ په ګرجستان کې د فارس له بادشاه څخه یاغي شو څو په پای کې ونیول شو او د اسلام دین یې ومانه او سلطان حسین یې هم تر ګناه ورتیر سو، ویې باخښه، د شهنواز لقب یې ورکړ او د کندهار په حکمرانۍ یې وټاکه.

ګرګین یو عصبي مزاجه تند خویه بې رحمه سړی ؤ چې د پارس له ملت سره یې هیڅ علاقه نه درلوده ډیر خونخوار انسان ؤ چې د همدې خونخوارۍ په اثر د اصفهان دربار هغه وخت چه میر سمندر خان بلوڅ په کندهار حمله وکړه او کندهار یې اشغال کړ نو ایرانیانو غوښته چې یو مقتدر او خون خوار سړی کندهار ته ولیږي هغه ؤ چې ګرګین یې مقرر کړ د ګرګین تر راتګ مخکې میر سمندر خان قندهار خوشی کړی بیرته بلوچستان ته ولاړ ګرګین یې له شل زره لښکر سره چې نور ډیر ګرجستانیان هم پکې ؤ د کندهار د بیګلر بیګی په نامه کندهار ته راواستاوه او هم بل غرض یې د ده په راستولو کې دا ؤ چې هند د حکومت په مقابل کې یو ټینګ سنګر ولري مګر ګرګین یوازې د کندهار په حکمرانۍ اکتفا ونکړه بلکه د سرجان مالکم په قول چې وایي «کمینه کشی پیشنهاد خود ساخته قوام ریاست در دوام سیاست شناخت» خپلو لښکرو ته یې امر وکړ چې د خدای (ج) د مخلوق مالونه چور کړی وینې یې وبهوی ناموسونه یې بې پردې کړی نو هغه ؤ چې سرجان مالکم وایي «ومصداق الملوک اذا د خلو قریة بظهور

(۱) دا متن د دې کتاب په ضمایمو کې ولولئ.

پیوست ، اوګرګین پدې ګومان چې پداسې شدت اوسرزنش به افغانان خوار اوذایل کړي له خورا سختی څخه یې کار واخیست نوله همدې ځایه څخه پښتانه دګرګین له ظلمونو اوستمونو څخه په تنګ شول خپل ملي مشر میرویس نیکه ته یې استغاثه وکړه ځکه د مخه مو وویل چې په داوخت کې بې له میرویس نیکه بل مشر نه ؤ چې پښتانه یې د ظلم له اور څخه ژغورلی وای میرویس نیکه هم ددوی په داد ورسېد اودقوم د - آزادولو او ملي خدمت ته یې پرخپل شخصي تجارت چې په اخته ؤ ترجیح ورکړه نو د اولس د آزادی په فکر مشغول شو اودګرګین سره یې رابطه پیدا کړه . میرویس نیکه وار دواره ګرګین ته د نرمۍ او دوستی له لارې راغی پخپل تدبیر او ذکا یې هغه ځان ته راجلب کړ ګرګین داسې وګڼله چې میرویس د ده له صمیمي همکارانو څخه دی څو چې لږ وروسته دګرګین په مشوره میرویس نیکه اصفهان ته ولاړ اوله هغه ځایه یې د پښتنو د مشرتوب خط راوړ چې ګویا دګرګین په مصلحت د پارس د حکومت له خوا د پښتنو په مشرتوب مقرر شو چې کندهار ته راوګرځېدې دلته یې له یوې خوا قومي او ملي مشرتوب دخپل متین فکر او زرینې رائې په زور پداسې ښه توګه اجرا کاو چې سلطان محمد په تاریخ سلطاني کې وایي « محسود اقران وسرآمد آبنای عصر شد » اوله بلې خوا یې له ګرګین سره داسې چلاؤ کاؤ چې ګرګین دی یوله رښتینی دولتخواهانو څخه وباله لکه سلطان محمد چې لیکي « بی مشورهٔ او بکاری نپرداختی بغیر اجازه اقدام صلح وجنګ نساختی اکثر مالیات دوردست رابموافقت ومراقبت او بدست می آوردی ولشکر را بسرکردگی میرویس میفرستادی ومالیات راحصول نمودی » برسېره پردې یې د ښکار دکلانتری منصب چې په هغه وخت کې د ډېر جلیل القدره منصب باله کېده هم درلود چې که یې د دې وخت سره مقایسه کړو نو ښاروال به یې وبولو مګر دا ټول کارونه تنها او تنها د دې د پاره ؤ چې میرویس خان نیکه دخپل ملی مقصد اولوړ مرام دحاصلولو د پاره وړ او مناسب فرصت پلاس راوړی چې په خپله اصطلاح بلا په خوب کې مړه کړو.

څنګه چې دګرګین ظلمونه ترحد تېرسول میرویس نیکه مجبور شو چې له قام څخه د ملي وکیلانو یو هیئت سره له یوې عریضې د ایران دربارته ولېږي په دې - عریضه کې دګرګین ظلمونه لیکلی شوی ؤ او د ایران دربارته ولېږل شو چې ګوندې د پښتنو دادرسي به وشي لومړی سړی چې په هغه عریضه کې یې امضا کړی وه - میرویس نیکه ؤ دا هیئت چې اصفهان ته ورسېدې هرڅونه چې یې کوشش وکړ خپل عرض یې د بادشاه حضورته نسوای رسولای تر ډېرې مودې پورې یې دقابچیانو او دروازه وانانو د ډېرښت له کبله پخپله بادشاه ته نسوای ځان رسولای څو په پای کې یې د بادشاه حضورته خپله عریضه ورسوله مګر خو چا یې پر عرض غوږ ونه نیو دګرګین دوستان چې د بادشاه په دربار کې ؤ پادشاه ته یې وویل که «این عریضهٔ باغیانه است قابل اعتنا نیست» او هم یې علاوه کړه چې «سرکشان میخواهد به عریضهٔ وشکایات ساختگی وبهتان و دروغ از ضبط وربط بیگلربیگی برآمده باز عصیان نمایند» هغه ؤ چې د بادشاه له حضوره یې سخت ځوابونه او عتابونه واورېدل په ډېره مایوسی او ناامیدی بېرته وطن ته راوګرزېدل او ټول حال یې پښتنو ته ووایو او پښتانه یې د ایران د دربار په نفرت او خیالاتو پوه کړل پدې وخت کې میرویس نیکه هم په کندهار کې خپل کار پرېښود د مرور په توګه خپلې سیمې سیوری ته ولاړ ګرګین چې له یوې خوا د ملت ناراضیتوب ولیده او لدې عریضې هم خبر سو له بله پلوه ورته معلومه سوه چې د میرویس نفوذ تر دولت خان هم ډېر شویدی نو یې له ګرجي مشرانو سره مشوره وکړه او چاره یې ځنې وغوښته هغو ورته وویل چې «اگر فرقهٔ غرجائی نیز مانند گروه ابدالی قوی گردد حاکم وقت از دست شان بجز بد حالی چیزی نخواهد دید» هغه ؤ چې ګرګین او نور ټول ګرجي مشران د میرویس دکښې ایستلو په فکر کې شول چې کومه پلمه ورته جوړه کړي او ته دې له اقتداره واچوي او محکوم یې کړي د همدې اختلاف په اثر یې څه موده وروسته میرویس د پادشاه په - دښمنی تورن کړ او له خپلو معتبرو ملګریو سره یې تحت الحفظ اصفهان ته ولېږو.

مګر د افغان او پارس د جنګ د کتاب لیکونکی لیکي چې ګرګین د میرویس له اهمیته خبرؤ او د ده له اقتداره بېرېدی په ښکاره یې ده ته د بندي ګرت نوم نه واخیست او نه یې بندي کړ بلکه د تلبیس له لارې یې میرویس ځان ته وغوښت او په ډېرو نرمو او خوږو الفاظو یې له ده سره مذاکره وکړه او دی یې په قسم اولوړه د ځان د سلامتی له خوا مطمئن کړیوازې دا یې ورته وویل چې دی د اصفهان دربار غوښتې دی بیا یې نو دی اصفهان ته واستاوه مګر پټ یې خپلو سړو ته وویل چې په لاره کې د ده مراقبت کوئ د ده افعال او احوال تر نظارت لاندې ونیسی په هر حال میرویس نیکه په داسې حال کې کندهار پرېښود چې ګرګین د ده په برخه کې یو مکتوب له ده سره یو ځای بادشاه ته واستاوه او په هغه مکتوب کې یې د ده اهمیت او د مقام لوړوالی ولیکه او دا یې هم زیاته کړه چې: «خوب است این مرد در اصفهان باشد آرامی قندهار مربوط به حبس این مرد است ورنه باعث اختلال قوم وحکومت شاه در قندهار میگردد و باید به او هیچ اجازهٔ عودت به قندهار داده نشود»

دا دی د پښتنو ملي قاید د اصفهان دربار ته د یو سیاسي قیدي په حیث ځي چې پدې برخه کې پښتنو په یوه ناره کې خپل تاثر داسې ښکاره کړیدی؛

که تیری ګرجی بیا کړي تیری ناړی یو میرخان وځنې پاتې میرخان هم اوس کندهار ته ګرګین غواړي

وګورو چې دا پښتون بندي به د یوې کابینې په مقابل کې څه وکړي؟

په مجرد د دې چې میرویس نیکه اصفهان ته ورسېدی یو قوي او غښتلی ګارډ ته وسپارل شو چې دی ښه وساتي څو ورځې پر له پسې په بند کې ؤ او له دې پیش آمد څخه په اندېښنه کې شو په تېره بیا هغه وخت چې وایې ورېدل چې د بادشاه کابینه ده ته په ښه نظر نګوري مګر سره له دې هم باید ګران لوستونکی انتظار وباسي چې د یوه پښتون مېړه فکر چې هغه هم د یو سیاسي بندي په نوم یاد شوی

وي څنګه به د يوې کابينې افکار مغلوبه کړي ملي قايد له محبس څخه اعتماد الدوله
او نوروز عماؤته پيغامونه واستول او اجازه يې وغوښتله چې د باندې ورووزي
اوله دوی سره يو څوکړۍ ملاقات وکړي اجازه ورکړه شوه ملي قايد له بنديخاني
څخه راووت اول يې اعتماد الدوله وليد او خورا قيمتي تحفې او سوغاتونه يې ورته
پيش کړو دا هندي قيمت بها تحفې ملي قايد له ځانه سره راوړې وې بيا يې
د دربار نورا راکين وليدو او هر يوه ته يې د ده له مقام سره سم هندي قيمت بها
سوغاتونه ورکړو په همدې ورځوکې يې د يوان بيګي هم وليد او د ده سر يې
هم په قيمت بها سوغاتو ځان ته ټيټ کړ او غاړه يې ملي قايد ته کږه شوه
ميرويس نيکه د شرق ؤ دی پوهېدی چې د شرق په دربارو کې د تحفو په
نامه رشوتونه څومره مهم رول لوبوي او همدا ځای دی چې ميرويس د خپل
تمول او بډايي څخه د قوم د آزادی د پاره کار واخيست او د اصفهان د دربار د اراکينو
خولې يې وتړلې او دوی يې د ځان پر خوا کړو بله ورځ يې واورېدل چې د داخلي
چارو او قضايا ؤ د حل د پاره يو لوی مجلس جوړېږي نو يې زيار و ياستو چې
دې مجلس ته لاره ومومي او لاره يې هم پيدا کړه کوم وخت چې مجلس جوړ شو
دې يې هم وروباله د مجلس رئيس د استفسار په توګه د ګرګين په باره کې له -
ميرويس نيکه څخه پوښتنه وکړه ميرويس نيکه د دې له پاره چې د مجلس نظريه
ځان ته معلومه کړي د پورته پوښتنې په ځواب کې د ګرګين خورا ډېر صفت وکړ
او ويې ويل چې ګرګين د ورور په حيث ګڼي او د زړورتوب او عدل او مساوات
په باب کې يې د صفوي حکومت په باره کې د هغه د فرمانبرداری ښه نظريه ورکړه
او زيانه يې کړه چې دا رښتيا وه کوم وخت چې مغل د نايب الحکومه په حيث د ده
له مقرر يدو خبر شول تر هر چا د مخه ما د ده له قوته کار واخيست او د ګرګين بې
استشاری مې د قندهار په ساتنه کې ور څخه کار واخيست پدې وخت کې د يوان بيګي
چې د ګرګين طرف دار ؤ وخت غنيمت وګاڼه او د ګرګين په بد ويلو يې شروع وکړه

وې ویل ګرګین ډېر فضول سړی دی دی تراوسه ونه پوهېدی چې میرویس دی د ځان ورور بولي د ده سره یې ډېر ظالمانه رفتار وکړ او نه پوهېږي چې میرویس د ده معاون او ملګری دی د دی ورځې مجلس تېرشو وایي چې د میرویس نیکه فصاحت او بلاغت مجلس په حیرت کې واچا و بله ورځ دېوان بېګي وګرګین ته ولیکل چې « تو جمع آوری یکصد هزار تومان رانداري، داسل زره تومانه معلوم نه دی چې آیا داسل زره تومانه د کندهار مالیه وه که څنګه ؟ په هر صورت څو ورځې وروسته بیا میرویس نیکه خبر شو چې د اعتماد الدوله په کور کې یو مجلس جوړېږي خپل ځان یې هلته ورورساوه او د سیل کوونکو په ډله کې کښېناست او د مجلس له ټولو اعضاؤ سره یې د لاس روغبړ وکړله دې څخه معلومېږي چې د اعتماد الدوله په اجازې هر ځای ته تلای شوای تر یوې لحظې وروسته صدراعظم میرویس نیکه ته داسې وویل ستا په باره کې له کندهاره یو مکتوب راغلی دی او څنګه چې تا پخپله د دې قابل بولم نو خواهش کوم چې پخپله تاسې د حقیقت له رویه اعتراف وکړې څه چې مولید لي هغه بیان کړئ که څه هم میرویس نیکه داسې سړی نه ؤ چې د مخه یې د اصفهان د دربار رجال نه پېژاندل او د دوی د خپل میانځي برخلافي څخه خبر نه ؤ مګر له دې دوو مجلسو څخه ښه ورته څرګنده شوه چې په کابینه کې پارټی بازی او برخلافی شته ده غوښتو چې څه ووایي مګر اعتماد الدوله د میرویس نیکه په طرفداری مداخله وکړه او وې ویل ته نباید د تعصب څخه او هغو مظالمو له رویه کار واخلې چې له تا سره یې کړی دي بلکه د حقیقت له رویه توضیحات ورکړې او زه یقین لرم چې ته داسې سړی نه یې چې برخلاف له حقیقته به څه ووایې میرویس نیکه چې په پټه خوله د دوی د پارټی بازیو تماشا کوله نو یې فایده په دې کې ولیده چې نور نو له حقیقته پرده پورته کړي او د زړه څخه رښتینی رښتینی خبرې وکړي او دا ډول یې په خبرو شروع وکړه ، تاسې له ما څخه د حقیقت پوښتنه وکړه او زه هم باب حقیقت ووایم حقیقت دا دی چې که څه موده نور هم ګرګین په کندهار کې پاته

شي د کندهار وضعیت به ډېر وران شي او د کندهار د حکومت هډونه او جوارح
به داسې سره بېل شي چې نور به یې یو ځای کېدل امکان ونلري ځکه ګرګین تر
اوسه پر دې ندی قادر شوی چې خپل عسکر هم اداره کړي او د حیا او عفت تر
قانون لاندې یې راولی هغو کسانو چې څه سر یې هم نه وښورولی ګرګین د
د هغو مالونه او ثروت غصب کړو او د هغو اولادونه یې د خپلو عسکرو سره
ګرجستان ته ولېږل او پدې کې یې زیار وایستو چې خلق باغي کړي او یاغیان
شي مګر مانه پرېښودل، نوښه چې کوم وخت ډېرې روپۍ او تمول پیدا کړي
او ډېر عسکر هم برابر کړي نو آیا دا خطره نشته چې د هند له حکومت سره موافقه
وکړي کوم شی به وي چې ګرګین له دې موافقی څخه راوګرځوي ولې بادشاه د
خپلې کابینې څخه یو لایق او تجربه کاره وزیر چې له خپله دینه او مذهبه او ملته
څخه یې وي د سلطنتي چارو د اجرا د پاره انتخاب او مقرر نکړی ترلمر سپینه ده چې
یو وخت به دا سرې دا موقع پیدا کړي چې د سلطنت دورانی او خرابی اسباب
او علل راغونډ کړي. پر دې ځای د میرویس نیکه وینا پای ته ورسېده او مجلس
ډېره په دقت واورېد له طبیعي ده چې د دیوانبیګی ډله به له دې وینا څخه زړه تنګي
شوې او خواشینی شوې وی مګر بالمقابل د اعتماد الدوله پارټی ډېره خوښه
او خوشحاله شوه او له میرویس سره یې قول وکړ چې د مقابلې پارټۍ په مقابله
کې به یې تقویه او محافظه کړي او میرویس نیکه هم دا خبره له خدایه (ج) څخه غوښتنه
تر هغه وروسته میرویس نیکه هر ځای مقبول واقع کېده خصوصاً د اعتماد الدوله
پارټی د ده ډېر احترام کاؤ دې پارټۍ نه یوازې د ده شفاعت بادشاه ته وکړ
بلکه د ګرګین ظلمونه او ناحقي یې ټولې بادشاه ته بیان کړې او د پارس بادشاه
یې له میرویس نیکه څخه خوښ او راضي کړ او بادشاه د میرویس نیکه قید معاف
کړ پدې وخت کې که ملي قاید غوښتلای چې قندهار ته ولاړشي بېخي تلای
سوای مګر د پارس د دولت درهم او برهم وضعیت د ده په سر کې نور خیالونه پیدا

کړو چې په هغو کې نه یوازې د قوم د آزادی راز پټ ؤ بلکه د افغاني خاورې وسعت او ارت والی هم په نظر کې نیول شوی ؤ.

میرویس نیکه دوې مهمې قوې درلودې لومړی قوه یې ثروت او بډایي وه دوهمه قوه یې قابلیت او سیاست مداری وه له بلې خوا د اصفهان د دربار وضعیت دده د کاروایۍ د پاره ښه زمینه برابره کړې وه خوسره له دې ټولو بیا هم میرویس نیکه له تعجیل او تلوار څخه کار وانه خیست او پدې لاره کې یې سنجیده سنجیده قدمونه واخیستل او داهم باید وویل سي چې د میرویس نیکه ډلومړی سفر نه ؤ چې دی اصفهان ته تللی ؤ بلکه دا څلورم وار ؤ چې د قوم د خپلواکی په لار کې یې اصفهان ته سفرونه کړی لکه رېدي خان مهمند چې په محمودنامه نومی کتاب کې د میرویس نیکه له خولې وایي:

دا څلورم وار دی راځم سلطانه — عرض د ظالم له لاسه کړم سلطانه
که پادشاه نکړي دادخواهی د مظلوم — ظالم حاکم که ظلم ډېر په مظلوم
جور چې ډېر سي سلطنت سي برباد — د ظلم قصر پوپنا بې بنیاد
ګرګ دې ایله کړ پر رمه سو شبان — جور او ستم کاندي بې حد ګرګین خان
موږ له طاقت نسته چې کړو به زیاتي — صبر پر ظلم د ظالم ارمني
کافر کولای سلطنت سي مدام — که وکړی دادنه وي جابر پر انام
مګر ظالم خو نسي کړای سلطنت — خالق رحیم نه ورکوي خلافت
چاته چې زړه یې وی پر مهرودان — د خدای عیال ګڼي پر محکه انسان
واوره سلطانه په ښي غوږ داوینا — مکړه ستم د خلق الله په هر چا
د ستمګارو پای ورانی ده خراب — د ظلم اوریې که پخپله تراب
د مظلوم آه داسې کاري وي ګوره — چې اوریې نه ځي د ظالم له کوره
سلطانه ګوره پر ځان رحم کوه — خپل کور او کلي په جور مه ورانوه

د سلطان حسین صفوي د خولې بیا داسې وایي:

پ٘ادشاه وين٘ه نسم کولای چاره — د کرکين خان د ظلم اوستم لد پاره
که پې معروف کرم کندهارنه پرېږدي — جور وستم اوخپل شعارنه پرېږدي
کرکين خو کرک دی کرک خو ظلم کوي — وينې تويوينه هم پسونه خيري
نو هم خايف يم چې به څه کرم کرکين — نامسلمان دی ارمني دی ببدين
نه په اسلام کې ځان پابند کښينه — نه نصراني نه له عيسیٰ ببدينه

حج ته د مير ويس نيکه تګ

هغه وخت چې د پارس بادشاه د مير ويس نيکه بې کناهی په لوړ آواز اعلان کړه په دربار کې د ده رسوخ يو په دوه زيات سونږ يې ترڅه مودې وروسته له بادشاه څخه د حج د تلو اجازه وغوښته او دا دليلونه يې وراندې کړل وې ويل د دنيا له مشقتو او تکاليفو څخه ستړی سوی يم بل نا روغه يم د ريم خوړا د پر شوق لرم چې د مقدسو ښارونو زيارت وکړم او خوښ يې هلته تېر کړم او د خداى پاک د دربار وويم اود مکې مکرمې او مدينې منورې په زيارت مشرف سم او ترهغه وروسته نو په دُعا او رياضت بوخت سم که اعليحضرت اجازه راکړي ترڅ او زيارت وروسته به بېرته دلته راسم او خپله کډه لوکورنۍ به له کندهاره دلته راوغواړم او دلته به د اعليحضرت ترسيوري لاندې هوساؤ ونده تېر کړم هوکه ستاسې خوښه وي خپله ټوله قبيله او خپلوان به دلته راوبولم امر صادر کړي چې راسی. ځُرنګه چې سلطان حسين د مذهبي مراسمو سره پابند وُ حُکه يې نو د نشواى کولای چې د مير ويس نيکه داعزم فسخ کړي علاوتاً د مير ويس نيکه له خبرو څخه د پر خوښ هم سو نو امر يې وکړ چې هيڅوک دې په مير ويس غرض نه لرى او نه يې دې څوک له دې لوى عزم څخه راکړ ى وي مير ويس نيکه له خپلو ملګرو سره روان سو او مکې مکرمې ته ورسېد د حجاز له بانفوذه علماؤ سره يې ولېدل هغه قيمتی هندي تحايف او سوغاتونه چې يې له ځانه سره راوړي وُ هرچا ته يې د هغه د نفوذ په اندازه وکړو بيا نو مدينې منورې

ته ولاړ هلته يې مقدس زيارتونه وکړو دهغه ځای له معتبرو علماؤ او روحانيونو سره يې ملاقاتونه وکړو تحفې او سوغاتونه يې ورته پيش کړو.

دميرويس نيکه مناجات په مدينه منوره کې چې ريدي خان مهمند په محمودنامه کې ليکلی دی:

ولاړې د شپې يې په يثرب که فرياد — رسول ﷺ د خدای ج ته چې سو قوم برباد
ستا پر امت راغی د ظلم دوران — واوره رسوله ﷺ د دې قوم فغان
پښتون خو ستا پر نامه ځان کړی فدا — ای خير الناسه واوره ته يې ندا
وژغوره ته دوی د ظالم له لاسه — ګرګين له منځه د پښتون وباسه
ستا په نامه دی کليمه ګويه پښتون — نه به سي هيڅکله له تا نه راستون
مرګ اوژوندون مودا سلام د پاره — ستا د دربار ستا د سلام د پاره
مه موکړه هير خير الوری رسوله ﷺ — فخر کونين نور الهدی رسوله ﷺ
اوښکې مې څاڅي پر درباريم ولاړ — قوم سو په اور د ظلم ټوله لتاړ
يو وار نظر وکړه پر موږ چې سو وړ — وظالمانو ته ترڅو به يو پړ
ستا لطف او مهر دی شامل پر جهان — هر خراب زړه دی ستا پر مهر ودان
که ستا نظر نه وي خراب سو پښتون — په اور د ظلم تور کباب سو پښتون
راغلم له لرې ستا دربار ته نبي ﷺ — ته مې شفيع سه خدای ج غفار ته نبي ﷺ
چې پر پښتون قوم نازل که رحمت — کړې يې خوندي ناموس پخپل مرحمت
لاس د ظالم يې له ګريوانه که لنډ — وچ سی د ظلم دګند و خير و ډنډ
ستا شريعت سي ټينګ په منځ د پښتون — ورک سي بيداد او کم سي رنځ د پښتون
دا مې دی سوال ولاړ و در ته يمه — محتاج دې تش ولږ نظر ته يمه
د قوم حال در ته کړم عرض په ادب — ته يې بادار د کل عجم او عرب
بې له تا نلري پښتون خواله ګر — ته يې ملهم د خوږ و زړو د پر هر
وژغوره زموږ نام و ناموس له بيداد — کړو بې ناموسه ظالمانو برباد

سرکه راپورته زموږ حال وګوره — د ظالم ظلم بد احوال وګوره
نه یې له تا شرم حیا ستا نبی — نه شرم کاندي له عیسیٰ، ارمني
عرض مې د حال وکه وتا ته پیشوا — بل څوک مونسته خواله ګر پر دنیا

د میرویس نیکه خوب لیدل

همداشان ریدي خان مومند پخپله محمود نامه کې راوړی دی چې حاجي میرخان نیکه له پورته مناجاتو وروسته په هغه شپه خوب ولید چې حضرت صدیق رضی الله عنه او حضرت عمر رضی الله عنه حاجي میرخان نیکه ته داسې وایي:

وی ای سپین ږیری نور څه غم مکوه — قوم دې سو خلاص کورټ ماتم مکوه
ولاړ سه خپل قوم ته دا زیری که ژر — چې د ظالم سوکم نقصان او ضرر
پښتون به خدای که له ظالمه آزاد — نه به سي ننګ او ناموس یې برباد
خدای ج به دا قوم که په رحم ودان — نوم به یې وینه مجاهد پر جهان
تل به د خدای ج په بندګی کې وي لوړ — څوک به یې نه که سر په ټیټه ورځوړ
کلمه د خدای ج به وي جاري په افواه — ورکوي دوی به په دې لاره کې ساه
څو یې طره وي دا سلام په بګرۍ — نه به سي ورک نوم د دې قوم له نړۍ

ګران لوستونکی پوهېږي چې په وروستیو واقعاتو کې چې میرویس نیکه کندهار ته ولاړ سي خلقو ته د دې خوب نقل کول په هغه عصر کې د براغیز من وو، ځکه داسې روایات دیو داسې مسلمان ملت په روح کې لکه د افغان ملت چې دی، سر بېره پر ملي احساساتو یو مذهبي او روحاني شور او تحریک هم پیدا کوی نو هر کله چې ملي او مذهبي احساسات سره یو ځای شول نور نو د داسې ملت د خوځولو او په شور راوستلو په مخکې هیڅ بل مانع نشي درېدلای او د هر زړور اقدام له پاره چمتو کېږي او عقیده پیدا کوي:

په جهان د ننګیالي دي دا دوه کاره
یا به وخوري ککرۍ یا به کامران شي

هغه سوالونه چې حاجي میرویس خان نیکه د حجاز علماؤ ته وړاندې کړل وروسته له هغه چې یې د مدینې منورې وعلماوته هم تحفې اوسوعاتونه ورکړل نو مکې شریفې ته راغی لکه د پارس او افغان د جګړې لیکونکی چې وایي میرویس د هغه ځای علماؤ او روحانیونو ته دعوت ورکړ او هغوته یې پټ د زړه راز ووایه او له دوی څخه یې تحریري ځوابونه وغوښتل او ورته وې ویل موږ د دوو مملکتو ترمنځ واقع شوی یو چې یو د هند امپراتوري ده بل د پارس مملکت موږ د محمد (ص) پر دین یو او پر څو قبیلو سره ویشل شوي یو لیکن څه موده مخکې زموږ مملکت ته رافضی شیعه ګان راغلی دی او د دوی له لاسه ډېر غیر قابل تحمل او نه زغمېدونکی ظلمونه وینو اوس یې ذکرګین په نامه یو ارمني بیګلربیګي چې ډېر ظالم دی زموږ پر سر درولی دی چې خلاف د محمدی شرع او عدالت پر موږ ظلمونه کوي نو په داسې حال کې ای بزرګوارو اولویو علماؤ آیا موږ حق نه لرو چې د خپل دین او ناموس د ساتلو د پاره توری له تیکیو راوباسو؟ که موږ د خدای ج د رضا د پاره د دوی بر خلافه د جنګ اعلان وکړو او دوی مات کړو آیا د دوی مالونه به موږ ته څنګه وي؟

د هر سوال په ځواب کې یې مثبت ځواب وموند مګر میلسون دا سوالونه بل ډول وایي: ۱- آیا د هغو مسلمانانو د پاره چې په دیني چارو کې آزاد نه وي د توري په زور آزادول روا دی؟ ۲- که دیو ملت مشران ناچاره شي دیو بېدین بادشاه سره بیعت وکړي او هغه بادشاه د بیعت د لومړیو شرطو مراعات ونکړي آیا هغه ملت کولای شي خپل بیعت فسخ کړي د دواړو پوښتنو په ځواب کې د «بلاشک» کلمه وموندله خو سرجان مالکم فقط دومره لیکي: که در مکه فتاوی از علمای اهل سنت گرفت که محاربه با شیعیه وقلع قمع این طایفه موافق قانون شرع شریف است، په هر صورت کوم وخت چې حاجي میرخان نیکه ببرته اصفهان ته راوګرزېدی د پارس د حکومت پر خلاف یې ډېرې

مهمې فتواوې د حجاز له علماؤ او روحانسي طبقې څخه په لاس کې درلودې.

د حاجي میرویس خان نیکه بیرته راګرزیدل له حج څخه

حاجي میرویس خان نیکه اصفهان ته راوګرزیدې د مکې مکرمې څخه یې ډېر خوشبویه شیان او عنبر له ځان سره راوړي ؤ او هغو کسانو ته یې وړاندې کړل چې د نفوذ او اعتبار خاوندان وو او د هغو سره یې ملاقاتونه هم وکړل او د هغو په زړو کې یې کامل نفوذ وموند ټولو دی پادشاه ته وستایه د ده دوراندیشی او عقل یې وستایه او په سلطنتي چارو کې یې لاره ورکړه مګر میلسون لیکي چې میرویس که څه هم له وزیرانو سره تګ راتګ درلود خو په ښکاره یې په ملکي چارو کې مداخله نکوله شاید داد دې دپاره چې د اصفهان دربار پرده بدګومانه نسي پدې وخت کې که څه هم میرویس ته داشوق پیدا شوی ؤ چې قندهار ته ولاړ سي او هغه نقشه چې له ځانه سره یې درلوده عملي کړي مګر په دې ملي مرام کې یې تلوار روانه باله او له ځانه سره یې فیصله وکړه چې څه موده لانور هم په اصفهان کې پاته سي پدې وخت کې یو داسې عجیب تصادف پېښ شو چې د حاجي میرویس خان نیکه د پلان دپاره یې زمینه خوراښه مساعده کړه او حاجي میرخان نیکه ته یې خوراښه فرصت په لاس ورکړ چې خپل کارونه پاخه او خپلې نظر یې عملي کړي واقعه داوه چې په دې وختو کې ـ شماخي ته یو سفیر راورسېدی چې د روس امپراتور پیټر کبیر د اصفهان دربار ته د سفیر په توګه را استولی ؤ د اسرې اسرائیل اري نومېدی په اصل کې ارمني ؤ او د پارس د قاپانلوی او سېدونکی ؤ د اسرې وروسته ترهغه چې په فرانسه، المان او ایټالیا کې د قهوه خرڅوونکی په نامه سیاحت مشغول ؤ د لومړي لیوپولډ د المان د امپراتور په عسکرو کې داخل شو او ورو ورو یې په همغه عسکري کې یو جزوي منصب پیدا کړ او څنګه چې یو د سیسه کار سړی ؤ د اتریش د وزیرانو دربار ته یې هم پښه خلاصه شوه او ځکه چې د شرق ؤ د شرق اکثره ژبې یې زده وې نو ماموریت

ورکړشو چې اسلام بول ته ولاړشي او هلته څار وکړي چې عثماني دولت دهغې
روغې دپاره اماده دی چې اتریش او دهغه متحدینو المان لهستان او ونیزیې
پیشنهاد کاوه وروسته ترهغه اسرائیل اري دروس دامپراتور خدمت ته
راغی او دهغه په عسکروکې یې یو منصب وموند خوبیا یې چې دروس دولت
ته په عثماني دولت کې ښه خدمتونه وکړه نو یې دهغو خدمتو په عوض کې د
روس له امپراتور څخه خواهش وکړ چې دی دسفیر په توګه دپارس دربار
ته واستوي امپراتور برسیره پردې چې دده خواهش یې ومانه امر یې وکړ
چې هرڅونه مال التجاره برسیره پردې چې دی او دده ملګري یې دځانه
سره وړي دګمرکي محصول څخه دې معاف وي دا امر د دې باعث شو چې
خورا ډیر ارمنیان دخپلو ګټو دپاره پر ده باندې سره راټول سي هغه وُ چې
اسرائیل اري دروس ددربار له خوا دپارس دربار ته دسفیر په توګه معرفي سو
اسرائیل اري له مخه ترهغه چې داصفهان دربار ته ولاړسي ویانا ته ولاړ او د
تیرو خدمتو له امله یې داستریا له امپراتور څخه دایران دپادشاه په نامه یو
سپارښت لیک واخیست او له هغه ځایه بیاروم ته دپاپ دربار ته ولاړ او پاپ
هم دایران دپاچا په نامه یو خط ورکړ تر دې سپارښت لیکونو وروسته له ډیرو
ارمنیانو او روسیانو سره شماخي ته راورسیدی او دپارس په سرحد کې وارد شو
دایران دربار چې د دې سفیر دراتګ خبر واوریدنو یې یو سړی ورواستاوه
چې د دې سفیر هویت او احوال ځان ته معلوم کړي چې پوه سي دا سفیر
څوک دی او ملیت یې څه دی ؟ د دوی سړی چې بیرته راغی دوی ته یې
وویل چې داسړی ارمني دی کوم وخت چې دوی داخبره واوریده ډیر مشوش
سول خصوصاً چې دې سفیر ویلی وُ چې دی دارمنیانو شهزاده دی ځکه دوی
نه غوښتل چې یو ارمني سړی دسفیر په لقب هغه هم دسفیر په نامه داصفهان
دربار ته راشي له دې کبله یې دفرانسې سفیر ته مراجعه وکړه او له هغه څخه یې

د ده دهویت پوښتنه وکړه او مشوره یې ځنې وغوښته میشل د پرانس دڅورلسم
لویې له خوا د تجارتي چارو د پاره په اصفهان کې مقرر ؤ نو ایرانیانو ځنې وغوښتل چې
د دې سفیر هویت ښه ورته څرګند کړي او دوی ته دا معلومه کړي چې د روس دولت
ته په څه نسبت معرفي شویدی او څه قرابت ورسره لري د فرانسې سفیر هم
د دې سفیر په راتګ خوښ نه ؤ ځکه دې سفیر د لیور پولډ اعتماد نامه هم په
لاس کې درلوده چې د فرانسویانو سره په جنګ کې اخته ؤ او هم یې اروېدلی
ؤ چې اسرائیل اري خیال لري چې داسې اسباب راغونډ کړي چې کاتولیکي
کشیشان له پارس څخه اخراج کړي نو یې وویل چې حقیقتاً دا سړې ارمني دی چې
ترمخه یې په فرانسوي عسکرو کې کار کاوه او د فرانسوي عسکرو د پاره یې کافي
درستوله بیا د یو عسکر په نامه په عسکري کې داخل شو د یو څو وظیفو وروسته یو
ټیټ رتبه منصب ورکړ شو څو واره جرمني ته ولاړ او د لیو پولډ خصوصي ترجمان
ؤ بیا په روسي خدمت کې داخل شو او د سروانی په عهده مقرر سو او د جرمني
شهزاده دی د روس تزار ته معرفي کړ دا دی اوس د اصفهان دربار ته د یو سفیر په
حیث را استول شوی دی د فرانسې سفیر د څپلو خبرو په پای کې دا هم وویل چې د
اسرائیل اري طالع هم د ده په نامه کې پټه ده که د ده د نامه توری وړوسته وړاندې
شي داسې جمله ځنې جوړېږي چې په فرانسوي کې داسې معنی ورکوي چې دی
بادشاه کېږي کوم بل شی چې د دربار د اراکینو وحشت ډېر اوه د قره باغ د علاقې د
سړی پیشګویي وه چې خلقو ته یې داسې ویل دا سفیر د ارمني بادشاهانو څخه دی
چې زموږ په کتابو کې یې د مخه هم ذکر راغلی دی چې یو وخت به پارس ته راشي او دا
ځای به د ده تر تصرف لاندې شي او دا سړې څو د ارمنیانو حکومت پخوانی عظمت ته
ونه رسوي پر ځای به نه کښېني هغه وخت چې دی شماخي ته راو رسېدې درې سوه کسان
ورسره ؤ چې دلته سل کسه ارمنیان نور هم ورسره سول او ویل
به یې چې زه د ارمني شاهانو خلف یم دا پروپاګنډ ډېر ژر خپور شو لکه څنګه چې د دوی په

پخوانیو کتابونکې لیدل شوی وُ دوی به ویل پریږدی چې زمونږ بادشاه ټي دی خپل مملکت ته راغلی دی باید چې حتماً زمونږ له خوا تقویه شي.

دفرانسې سفیر چې دا پروپاګنده واوریده بادشاه ته یې وویل د دنیا ارمنیان دا سړی هغه سړی بولي چې د هغه په باره کې د دوی کتابونو پیشګویي کړیده او په خپلو خبرونکې یې نوره هم دیره مبالغه وکړه او وی ویل هرڅومره چې کیږي باید د دې بلاخوله پته شي بادشاه دیر په چرت کې ولوېد او دستي یې اعتماد الدوله راوغوښت او مشوره یې ځني وغوښته چې د دې سفیر په راتګ کې څه وایي اعتماد الدوله وویل پریږدئ چې راشي.

له موقع څخه د میرویس نیکه استفاده

مونږ تر اوسه چې د میرویس نیکه حالات لوستی دی حاجي میرخان نیکه مو دیر یو دیپلومات او د سیاسي پوهې خاوند موندلی دی نو ځکه دې تصادف - میرویس نیکه ته ښه موقع پلاس ورکړه چې دارامنه وُ او کورجیانو په باب او د دوی د سر کرکین د مناسباتو په شاوخوا کې هرڅه چې وغواړي هغه ووایي.

ځکه چې ده وینا داسې رنګ درلود چې که کرجیان او ارمنیان وغواړي چې آزاد واوسي او کرکین خان د دې کار لومړی محرک دی شاید حقیقت به هم باله کیده - خصوصاً هغه وخت چې دکابینې داعضاوو په نظریه داغوښته نه خلاصیدونکی بنکاره شوه او میرویس نیکه یې د مشورې دپاره مجلس ته وروغوښت چې ښه زمینه مساعده شوه چې باید میرویس نیکه له خپلې وینا او تلقیاتو څخه کوم کار چې زړه یې غوښته واخیست میرویس نیکه چې مجلس ته حاضر شو د واړو پارټیوده ته مراجعه وکړه او ورته وې ویل کومه نظریه ښه ده د سفیر پریښودل او که یې کرفتارول ځکه چې یوه پارټي د دې نظریې پرخواوه چې سفیر دې کرفتار شي بله د دې نظریې مخالفه وه. څوک لا هم بېطرفه ناست وُ بیایې نو د حاجي میرخان نیکه څخه مشوره وغوښته داسې خواهش

بریالی سپہسالار سیدال خان ناصر

يې ځني وکړ مونږ ستا خدای ج، دکرې رائې اوستاسلیم عقل ته ضرورت لرو ته څه وایې ؟ میرویس نیکه واړه د دوی دلوړوستایلو او احترام څخه شکریه او خپله خاکساری په څوکلمو کې خلاصه کړه اوبیا یې داسې وویل: زما په عقیده د دې سړې واټنګ سیاسي رنګ لرې چې دې خاورې ته را داخل شي ستاسې د قوې ټ شعاع لا ندې کښې نور به د دې قدرت او واک پیدا نکړای شي چې کومه فتنه اوشخړه جوړه کړای شي که تاسې له ده څخه دکومې شخړې او فتنې انتظار لرئ نو پرې یې بډئ چې اقدام وکړي بیا تاسې کولای سی چې حبس ته یې وسپارئ اوپه یوه جام یې کار وتمام کړئ اوکه ده کوم داسې اقدام ونکړ نو ترڅه مودې وروسته چې وخت یې پوره شي بېرته یې زانته وروا ستوی پدې صورت کې به د ده په حق کې لوی توهین شوی وي اوخوا به سپک شي ځکه چې دی یې دیاغیانو د پاڅولو اود اوربلولو دپاره — را استولی دی اونا کامه به ولاړ سی اوله ده څخه هم باید وببرېږي وچې که داسفیر په دربار کې قبول نسي احتمال لرې چې دګرګین ډډ پېښه څېره به ځان روسي سفارت ته ورسوی او دارمنیانو د سرکشی اوطغیان سبب به شي هغه وخت به نوحتماً دګرګین دهنکامې پشان بله هنکامه توده شي اود هرو خلکو وینې به توی شي اوترحده زیاتې پیسې به ولګولی شي په هرصورت کوم شی چې په دې وخت کې د هر ضروري سنکارې دادی چې تر هرڅه دمخه باید خپلو سرحدا تو ته توجه وشي وګورئ له یوې خوا کرچې شهزادګانو د روس له بادشاه څخه د مرستې او سلاحې غوښتنه کړېده اونظرعلي خان دګرجستان والي دګرګین دکاکانوی پې روسی دربار ته استولی دی اوله بلې خوا هم پوهېږی چې ګرګین له ارمني تبر څخه دی څه لرې نه ده چې له روسیانو سره علاقه پیدا کړي هو ګرګین فرصت اووخت لټوي چې سرکشي وکړي لکه دمخه چې یې هم اقدام په ناکامی تمام سو هغوی به د خپلې مرستې دپاره را وغواړي اوله خپلو کاوندیانو څخه به استفاده وکړي ویا به چې حکومت دهند بادشاه ته تسلیم کړي د هغه سره به قول اوترون وکړي چې دده سره مرسته وکړی اود اهم څه لرې نه سنکارې چې څېله

له پښتنو څخه استفاده وکړي هغوی به پخپله دله کې شامل کړي ځکه زه چې هلته وم د ده کارونه مې لیدل ، ګرګین له ما څخه کوم مخالفت ونه لید او نه ما کوم ظلم کړی و فقط زما وجود یې هلته نه غوښت او زه یې له هغه ځایه لرې کړم څو دی پخپل مقصد ښه کامیابه شي که زه هلته وای خدای (ج) مکړه که کومه واقعه د پښتنو په منځ کې پېښه شوی وای په خورا آسانه سره ما کولای شوای چې هغه اور مرکړم په هر صورت که سفیر ومنل شي نو د راتلونکی وخت د پاره لږ تر لږه باید دور اندیشه واوسو د ده په کار او عمل اوکړو وړو پسې څارو واوسو ! میرویس نیکه په آخر کې دا هم وویل چې: حقیقتا ډېر نازک وخت دی که پټر کبیر د روغې او دوستی له لیارې غوښتلای چې یو سفیر راولېږي دا اوسنی سړی به یې نه - راستولای په تېره بیا داسې سړی چې دارمنیانو د شهزادګی دعوه هم کوي ځکه نو د پارس حکومت ته لازم دی چې ټول ارمنیان او ګرجیان تر نظارت لاندې ونیسی ځکه چې ډېره موده لا نه ده شوی چې ګرجیانو د ګرګین تر قیادت لاندې بغاوت کړی واوس چې د ګرګین د کاکا زوی د زار په دربار کې لوړ مقام هم لري آیا د دې سفیر راتګ به د ګرجیانو او ارمنیانو په روحیاتو کې مخصوصاً د ګرګین په روح کې څه تاثیر پیدا کړي ؟

د میرویس نیکه دا وینا دافغان او پارس د جګړې لیکونکی یوه له هغو جامع وینا ؤ څخه بولي چې د یو عالی سیاست مدار او لوړ مفکر څخه انتظار کېده اووی کولای شوای چې د بادشاه په مغزو کې د ګرګین په نسبت راز راز افکار پیدا کړي خو بادشاه فکر وکړ چې که ګرګین معزول کړي احتمال لري چې د ده حکم به ونه مني او د هند بادشاه ته به ځان تسلیم کړي او که یې معزوله نکړي هغه تشویش چې د ده له وجود څخه ورته پیدا سوی دی د ده زړه یې پر آرامه نه پرېښود او تحمل یې نسوای کولای بنو څه یې وکړه وروسته

تر هغه چې اسرائیل اري یې په ډېر مجلل ډول پذیرایي وکړه او اصفهان ته راغی دګرګین د پاره یې داسې چاره وسنجوله چې هم معزوله نشي او هم له اقتداره ولوېږي چاره داوه چې میرویس نیکه یې بېرته د کندهار د کلانتري (ریاست بلدیې) په منصب مقرر کړ چې هلته دګرګین د حالاتو مراقبت وکړي او که یې موقع پیدا کړه د ده ځای هم ونیسي نو دا ؤ هغه میرویس چې تحت الحفظ اصفهان ته لېږل شوی ؤ او س بېرته د حکمران پحیث کندهار ته راځي شاید چې ګرانو لوسونکو ته به د هغې پوښتنې ځواب چې څومخه د مخه موکړی ؤ چې د یو پښتانه مېړه فکر به د یوه دولت د کابینې په مقابل کې څه وکړي ځواب خود په خوده پیدا کړی وی.

خیر په راتلونکی پېښو کې به څو نوری نکتې هم ولولئ چې د ملي قاید ډیپلوماسي افکار لا ښه ځنې څرګندېږي.

د ملي قاید راتګ قندهار ته

په دې ترتیب ملي زعیم د ملي آرزوګانو د تحقق د پاره په خورا شوق خپل وطن ته را رهي سو د را رهي کېدو په وخت کې یې څو مکتوبونه دګرګین په نامه له ځانه سره را اخیستي ؤ چې په هغو کې پرګرګین باندې تاکید او سفارش سوی او چې د میرویس بې مشورې به هېڅ کار نه کوي او هم به ده ته بېرته هغه پخواني منصب ورسپاري او ډېر احترام به یې کوي د ده عزت او شرافت به محترم ګڼي حتیٰ اعتمادالدوله ده ته ویلي ؤ چې دګرګین په کړو وړو پسې څارو او سه او یو مهر شوی سندیې هم ورکړی ؤ چې که ضرورت پېښ سو کار به ځنې واخلي، دیوان بېګي هم یو مکتوب ورکړی ؤ او ګرګین ته یې لیکلي ؤ چې میرویس یو له هغو سترو پوهانو او هوښیارانو څخه دی چې له بادشاه سره یې ډېرې فکري همکاري کړی دی او بادشاه ده ته په ډېره درنه

سترګه ګوري حاجي میرخان نیکه چې دا مکتوبونه راواخیستل نو یې زیات-
ځنډ روا ونه باله او دستي د کندهار خواته راوخوځېدی او په لاره کې په
کاروان سرایو او نظامي قلعه ګانو کې په ډېر مجلل ډول د تشریفاتي ټولګیو
له خوا او د موزیک د ډلو له خوا هر کلی کېده هر پښتانه د ده په راتګ خوښی
ښکاره کوله د ده د کار و آرزومند وُ څو چې کندهار ته راورسېدی.

د حاجي میرخان نیکه رسېدل قندهار ته

حاجي میرویس خان نیکه ته په کندهار کې په ډېره ګرم جوشی او
حرارت هر کلی وویل سو ټول اولس په ورین تندی او خوشحاله زړه وده ته
ستړی مشی وویله ګرګین که څه هم په ښکاره له اولس سره سم د حاجي
میرویس خان نیکه په استقبال کې ګډون وکړ او حاجي میرخان نیکه ته یې
احترام پر ځای کړ خو پټ په زړه کې له قهر او کینې څخه خوړل کېدی او د انتقام
لاره یې پلټله خصوصا هغه وخت چې د اصفهان د دربار سفارش نامې یې
ولوستلی پدې وخت کې حاجي میرخان نیکه له ګرګین څخه اجازه واخیسته،
د قلات په سیوری کې خپل کور ته ولاړ هلته د قوم و مشران او د ده ملګری ډلې
ډلې د ده ستړی مشی او د حج مبارکی ته راتلل ټول افغانان منتظر وو چې دی څه
کوي او څه وایي غوښته یې چې پوه سي چې میرویس نیکه د قوم د نجات او
آزادولو په باب دوی ته څه زیری راوړیدی، ګرګین له دې تګ راتګ او ملاقاتو
څخه بې خبره نه وُ مګر د انتقام د اخیستلو د پاره یې غوښته چې یوه پلمه پیدا کړي او
داسې کار وکړي چې میرویس نیکه د کام او اولس په نظر کې سپک ښکاره کړي نو
یې یوه پلمه پیدا کړه هغه دا وه چې حاجي میرخان نیکه یوه لور درلوده چې ډېره
ښکلی وه د سرجان مالکم په اصطلاح د حسن او جمال آوازه یې پر وطن خپره وه
ګرګین میرویس نیکه ته حال راواستاوه چې دغه لور دې د ده له زوی سره د ازواج

د پاره دده کورتراولیږی څنګه چې دا پیغام د تحکم په توګه وُ نو حاجي میرخان
نیکه ته اندیښنه پیدا سوه له یوې خوا دلور استول دده د پښتنی غیرت سره
مخالف وُ برسیره پر هغه یې دده قدر داولس په نظر کې سپکاوُ له بلې خوا په
داسې وخت کې چې میرویس نیکه لا پښتانه تراوسه له خپل پلان او ارادې
څخه نه وُ خبر کړی د دې حاکمانه امر ردول دده طرح کړی نقشه ټوله کډوډوله
نو څه یې وکړل ؟ د قوم مشران او غټان یې سره راټول کړل او ملي جرګه یې
جوړه کړه چې دا خبره ورته وکړي چې د ملي قانون په قرار تر مشورې -
وروسته یوه فیصله وکړي ځکه چې په پښتنو کې دا دستور دی چې د
ملي کارو د پاره د مشورې مجلس جوړ وی که څه هم معامله ډېره وړه
وي بې مشورې یې نه فیصله کوي او نه د دوی په عقیده فیصله کېدای
سي ځکه هغه خبره چې په مشوره فیصله سي د هغې فیصلې ټول قوم ذمه واردی
د داسې جرګو فیصلې عملي کول هر پښتون د ځان ملي فریضه بولي او لازم
یې ګڼي ؛ ملي قاید هم له دې دستور سره سم ملي جرګه راوبلله او د قوم
ټول مشران سره راټول شول دالومړی ملي جرګه د بینوا صاحب په قول
په کوکران کې جوړه سوه جرګې ته میرویس نیکه د ګرګین امر یا پیغام واوراوه
وروسته د پیغام له اورېدو جرګې د هغه په شاوخوا کې په خبرو اترو پیل وکړ
پښتانه چې پر ننګ او ناموس مین خلق دی د دوی دا مقوله ده چې وایي « دنیا
تر سر جار کړه سر تر ناموس » . نو طبیعی ده چې د دې خبرې په اورېدو به څونه
متأثر سوی وي د غیرت وینې په جوش راغلی او ملي قاید یې دلور له استولو څخه
سخت منع کړ او مقاومت ته یې تشویق او ترغیب کړ او په پښتنی قسم یعنی
طلاق یې سره وکړ چې دده په مرسته تر سر او مال تېر دي ، میرویس نیکه چې
دوی د ځان په څېر متأثر ولیدل په زړه کې ډېر خوښ شو مګر په ظاهره یې
دوی ته د صبر توصیه وکړه او وې ویل بهتره ده چې بلا څوب کې مړه کړو مګر

تاسې ته لازمه ده چې پرخپلو خبرو تینګ سی او خپل رازپټ وساتئ او پر ما اعتماد ولرئ یقین ولرئ چې له دښمنانو څخه به سخت انتقام واخلم په دې وخت کې ملي قاید د رحمن بابا دیوان راوا خیست او دفال په توګه یې خلاص کړ، اووې ویل راسئ چې له رحمن بابا قدس سره هم ویې ښتو، دیوان یې خلاص کړ هسې شعرونه یې ولوستل:

زه مکتوب غوندې په پټه خوله کویا یم
خاموشي زما تیری کا ترغوغا زما
کښت د عشق په توده مځکه امان چېرې
سمندر بویږ چې زیست کا په صحرا زما

چې دغه بیتونه یې ولوستل هغه مغفور حاجي وویل چې د ظالمانو کار تمام دی اما اوس دستي خاموشي بهتره ده ټوله به پټه خوله داکوشش وکړو چې ظالمان ورک سي چې مناسب وخت راسي نوبه نو پرتاسې بډغ وکړم هغه وخت باید ټول تیار یږ او ظالمان له وطنه وباسو د جرګې خبرې اترې ترما بنسامه جاري وې خو په آخر کې داسې فیصله وسوه چې حاجي میرویس خان دې قطعاً خپله لورنه ورکوي مګر د دې دپاره چې کرکین غافله وساتراوو په حال خبر نسي بله نجلی دې د میرویس د لورپه عوض واستوله سي خو چې د کرکین دهلاک کولو دپاره فرصت پیدا سي تردې فیصلې وروسته ټولوپه قرآن، ټوپ، دودی قسم وکړ او خپل ټول ټوان پر وفایې قسم وکړ او ټینګ ژمنې یې سره وکړاو ویې ویل چې هرڅوک چې له خپلې خبرې واوړي بنځه دې پرې طلاقه وي د پښتنو په عقیده دا قسم اشد ترین د قسمو دی چې میرویس نیکه ته یې د هغه په یاد ولوړاد ورکړ ترهغه وروسته یې یوه بله نجلی چې دده په کورکې لږ سړې وه د خپلې لورپه نامه د کورکین کورته واستوله او هغې نجلی وویل چې زه د حاجي میرخان لوریم په دې توګه د کرکین هغه پلمه چې د انتقام اخیستلو دپاره

یې جوړوله بې اثره پاته شوه او هم ګرګین وغولېده چې نور نو میرویس په زړه کې څه نه لري او روغه غواړي اوس نو د ده دغو ښتنو د پاره زمینه مساعده ده ځکه یې نو تر خپله وسه د میرویس نیکه زړه ساته او په هر کار کې به یې د ده د رائې مراعات کاوه ملي قاید هم زیار ایستو چې داسې ښکاره کړي چې هغه ټولې صدمې او مظالم یې چې د ده قوم ته ګرګین رسولي هېر کړي دي او د خپلوۍ اظهار یې داسې حد ته ورساوه چې ګرګین پر ده باندې کامل اعتبار پیدا کړ څو چې یوه میاشت وروسته یې د ګرګین دورکولو د پاره دوهمه ملي جرګه جوړه کړه.

دوهمه ملي جرګه

یوه میاشت وروسته چې د ګرګین د ظلم او ربیا په زور کې سو او لمبې یې هرې خواته خپرې سوې د پښتنو مشران په ننګ سول بیا پر میرویس نیکه سره راغونډ سول او د ګرګین د ظلم څخه یې استغاثه وکړه میرویس نیکه دویمه ملي جرګه راوبلله مګر دا پلا د کندهار شرق خواته د مانجی په مقام چې له قندهار څخه د برش کیلومتره فاصله او دا سیمه د پوپل زواستوګن ځای ده او د کابل کندهار پر لویه لار واقع ده غالباً دلته د جعفر خان سدوزي کورو چې د ملي قاید خسرو دا جرګه هغه وروستی جرګه وه چې د قوم د آزادی وثیقه یې مهر کړه څنګه چې رېدي خان مومند په محمود نامه کې راوړی دی په دې جرګه کې لاندې مشران او خوانین راغونډ شوي و:

۱- سیدال خان ناصر د هوتکو د دورې د ډېر مهم او معروف سپه سالار.

۲- بابو جان بابي چې په ډېرو مهمو جګړو کې د لښکرو سرداري ورپه غاړه وه.

۳- بهادر خان اندړ چې دا میرالامرا خطاب ورکړ سو د شال بروب دیره جاتو د سیمو فاتح و.

٤- ملا پیر محمد میاجی ستر علمي او روحاني شخصیت .

٥- عزیز خان نورزایي چې د دل آرام په پهلوان مشهور ؤ .

٦- یوسف خان هوتک چې د هوتکو د سیوري د سیمې له خانانو څخه ؤ .

٧- ګل خان بابړ .

٨- نور خان بړیڅی چې د ښوراوک له خانانو څخه ؤ .

٩- نصرو خان الکوزایي چې د جلدک له خانانو څخه ؤ .

١٠- یحییٰ خان د ملي قاید ورور .

١١- حاجي نور محمد خان د یحیی خان زوی چې په وروستیو واقعاتو کې د حاجي انګو په نامه شهرت درلود .

١٢- یونس خان ګاکړ چې د ژوب له خانانو څخه ؤ پدې جرګه کې د میر عبدالله خان بلوڅ حال نه دی معلوم چې په جرګه کې دده نماینده څوک ؤ او هم د پښین د ترینانو او د شال کوټ د کاسیانو د مشرانو نومونه تر اوسه ندی معلوم او هم د هزاره ؤ مشران لکه سید علي خان او زبردست خان په جرګه کې نه معلومېږي شاید وروسته به د جرګې له جریان څخه خبر کړای سوی وي دې جرګې بیا په قرآن ګوتې پورې کړې او د وفاداری لوړه یې وکړه بیا نو میرویس نیکه د اعتماد الدوله کاغذ دوی ته وښود او ورته وې ویل چې د پارس حکومت له ده څخه خوښ ندی او ماته اجازه راکړه سوېده چې ګرګین له منځه ورک کړم او افغانان دده له ظلم څخه وژغورم دا په هغه صورت کې امکان لري چې تاسې په یوه زړه یوه خوله او ټینګه اراده له ما سره ملګري سئ ټولو دده دامر دا طاعت وعده وکړه او ده ته یې د خپلې ملګري پوره اطمنان ورکړ تر دې وروسته نو حاجي میرخان نیکه خپل هغه پلان چې په ډېر دقت سنجول شوی ؤ د جرګې ټولو غړو ته تشریح کړ هغو ټولو پر هره برخه دقیق غور وکړ په پای کې ټولو دده عاقلانه او مدبرانه پلان خوښ او ویې مانه د جرګې له خوا بلوڅو کاکړو او ترینانو خانانو ته وظیفه ورکړه سوه چې د مالیې له

ورکړې څخه انکار وکړي نورو خانانو ته هرچا ته وظیفه وټاکله سوه جرګې ترمابنامه دوام وکړ چې په پای کې ملي قاید بیا د رحمن بابا دیوان راواخیست او دفال په توګه یې خلاص کړ چې دا بیتونه یې ولوستل :

چې آسمان یې مخ پټ کړی په سحاب وُ — خدای ج وماته ښکاره کړ هغه لمر بیا
چې رقیب راته تړلی په زنځیر وُ — خپل حبیب راباندې پرانست هغه ور بیا
په وصال یې منت بار او سه رحمانه — په صدف کې دخل نشته دګوهر بیا

نقل کا چې د خدای تعالیٰ په قدرت په دغه ورځ پر آسمان وریځ وه حاجي میرخان نیکه چې دا بیتونه ولوستل په هغه ګړی لمر ښکاره سو وریځ یې له مخه ایسته شوه خلکو دغه هم یو الهی مدد وګاڼه بیا نو جنت مکان حاجي میرخان جرګې ته وویل دا دی د خدای تعالیٰ لطف او مهر هم زموږ ملګری دی اوس نو وخت دی چې توري له تیکیو وکاږو او ځانونه له دښمن څخه وژغورو جرګه پای ته ورسیده هر څوک خپلو خواوته رهی سول د بلو څوکا کړو او ترینانو مشران هم خپلو علاقو ته ولاړه او د جرګې له هدایت سره سم یې قومونه سره راټول او د مالیې له ورکړې څخه یې انکار وکړ، د دې ښکاره بغاوت خبر چې کندهار ته راورسید دا لومړی ځل وُ چې ګرګین له داسې ښکاره بغاوت او سرغړونی سره مخامخ سوی وُ ډیر په قهر سو او د خپلو مشاورینو جرګه یې راوبلله چې ملي قاید هم پکې و حاجي میرویس نیکه پر دې ښکاره بغاوت او سرغړونه ډیر تاسف وکړ بیا یې ګرګین او د جرګې شاملینو ته داسې وویل داسې پېښېږي مګر موږ او تاسې ته په کار دی چې په ډیره مړانه او ثبات د داسې پېښو مقابله وکړو زه پخپله وهر ډول فداکاری او قربانی ته حاضریم چې ځان او قوم پدې لاره کې قربان کړم د حاجي میرخان نیکه دې وینا ګرګین ته ډیر د زړه ډاډ ورکړ نو یې داسې نقشه او پروګرام ترتیب

کړ چې هغه ګرجي جګړن چې د داسې پېښو د پاره ساتل سوي او روزل سوی وُ فوراً
تیار او د بلوچستان پرخوا یې حرکت ورکړ حاجي میرخان نیکه خپل وراره یار محمد خان
د یحیی خان زوی له یو شمېر هوتکو سره هم له ګرجي لښکرو سره ملګری کړو
یار محمد خان ته د ګرګین او حاجي میرخان نیکه له خوا وظیفه ورکړه شوی
وه چې په لومړی سرکې ته باید یاغیان وجوړې روغې ته راوبولې څو له بغاوت څخه
لاس واخلي او که نه وي نو هم کوشش وکوی چې زموږ تر رسېدو له قطعي
اقدام څخه ډډه کوی تر څو چې موږ درورسېږو او هم میرویس نیکه د میر عبدالله
خان بلوڅ د پاره خصوصي پیغام ورکړی وُ او هم یې هدایت ورته کړی وُ چې
میر عبدالله خان بلوڅ له هر ډول جریان څخه باخبر ساته یار محمد خان له ګرجي
لښکرو سره روان سو خو لښکرې چې تر کوږک واوښتې په دوو برخو وېشلې
سوې یوه ډله په پښین کې د ږوب او بوری خواته روانه سوه بله ډله د شال کوټ
او مستنګ خواته ولاړه یار محمد خان هم له هغې ډلې سره ولاړ چې د بلوڅو خواته
ولاړه دا ښه نه ده معلومه چې هغه ډله عسکر چې د ګاکړو د سرکوبی د پاره ولاړل
له پښتنو څخه څوک ورسره وُ که نه. یار محمد خان چې مستنګ ته ورسېدی له بلوڅو
سره یې جرګې او مرکې شروع کړې او میر عبدالله خان ته یې د میرویس نیکه خصوصي
پیغام وسپاره او هم یې د کندهار له جریانه خبر کړ.

د ملي قاید پیغام میر عبدالله خان ته دا وُ چې په هر قیمت چې کېږي
ګرجي عسکر هلته تر ډېرو ټال کړی دا ګرجي او ایراني عسکر چې د میرزا سندل
تر مشري لاندې وُ بلوڅو دا میدا و نا امیدی په حال کې وساتل خو بله ډله
عسکر چې د ګاکړو د تر تنې د پاره کاکړستان ته تللی وُ د کاکړو له خوا سخت
و تر ټل شول یونس خان ګاکړ ډېره سخته حمله پر وکړه ډېر مرګ ژوبله
یې ځنې وکړه نور بېرته د شال کوټ لورته وتښتېدل او له هغه بلې ډلې سره
یو ځای شول ایراني عسکرو ته ګرګین هدایت کړی وُ چې زما تر راتګه له قطعي

اقدام ځنډ وده کړی لهذا د دې شکست انتقام يې د کرکين ترراتګه تال کړ په
يونس خان پسې نور عسکر وانه ستول سول د کرجيانو د سخته ماتې او د يونس خان
بېرې د پښتنو لومړی بری وُ چې د خپلواکۍ په لاره کې يې تر لاسه کړی وُ لکه ريدې خان
مومند چې په خپله محمود نامه کې وايي:

يونس ځاکړو کړ پيرغل په کرکين
پښتنو جوړکړ پرکو جيانو نا وړين

ملي قايد کرکين ته ويلی وُ چې زه به د هوتکو اوناصرو لښکرې را تولې
کړم بيا به نو تاته جال درکړم چې کوم ځای تاسې وتاکه هلته به سره يو
ځای شو ملي قايد پخوا لا تولو مشرانو ته د جرګې له فيصلې سره سم وظيفې
د کړې وې چا په علاقيه تو که لښکرې تولې ځوکۍ د احتياط په توګه تيارې ساتلی
سوې وُ بابوجان بابې ته د اتغر د سيمې د لښکرو د تولولو وظيفه ورکړه شوې
وه يوسف خان ته د سيورۍ د علاقې د لښکرو د راتولولو مامورېت ورکړ شوی وُ
يحيیٰ خان د ملي قايد د وروړمرغۍ لښکر سره را تولاوه سيدال خان ته د
ناصرو د لښکرو را تولولو وظيفه ورکړه سوې وه خو سيدال خان حاجي مير خان
نيکه ته ويلی وُ چې د ناصرو په ځينو طايفو زما نبه اعتبار نسته ته پخپله ناصرو
ته راسه ستا له خبرې هيڅ ناصر سرغړوی هغه چې حاجي مير خان نيکه پخوا کړکين
ته ويلی وُ چې ناصرو څې پرمهنه پراته دی زه پخپله د ناصرو لښکر په راوستو
پسې وانه ټاکم انشاءالله د پرتلاو په بيړه به ځان راورسوم د ناصرو او هوتکو د هرډول
مرستې او وفاداری اطمينان ورکولای سم ځکه چې دا دوې زما سکنی طايفې
دي دوی زما له هيڅ ډول خبرې سرنه غړوي نو ر پښتانه په دونه بيړه نسم قانع
کولای او دوی د ونه آسانه له مونږ او تاسې سره همکارۍ ته نه حاضرېږي هغه وُ
چې ملي قايد له ځوکسو مختصرو ملګرېوسره وانه ته روان سو ناصر پرسپين وانه
او زاوه چې په موجوده وخت و زيرستان بلل کېږي د ځمي پرمهنه پراته وُ حاجي مير خان

نیکه چې هلته ورسېدی فوراً یې د ناصرو مشران د سیدال خان پرکور چې
په زاوه کې وُسره راټول او جرګه یې جوړه کړه چې دا څلورمه ملي جرګه وه او
جرګې ته یې خپل پلان تشریح کړله یو لړ خبرواترو وروسته د لښکر
ټولولو فیصله وسوه د دې د پاره چې دا قصه د افغانستان په مروجه تاریخو کې
نوې اوله پخوانیو قیصو څخه بېخي مختلفه ده له بده مرغه پخوانیو لیکوالو هېچا دا
کوشش نه دی کړی چې موږ به یو واری د دغو خلکو ټاټوبی ته ورسو د دوی
له سپین ږیرو سره وژغېږو دوی ته په میراث ورپاته یا څه یا داشتونه یا داسې
قیصې چې سینه په سینه په میراث پاتې وي هم لري که نه؟ نو د دې د پاره چې
ګرانو لوستونکو ته مې د دوی د باور د پاره څه سند پېش کړی وي دا شعر چې له
یوه زاړه قلمي کتاب څخه چې آخند نور محمد سرپرېکړی (سرپرېکړی یوه طایفه ده
چې اصلاً کاکړان دی خو په ناصرو کی استوګنه لري) لیکلی را اخلو، آخند نور محمد
صاحب وایي چې زما پلار دا صفهان د فتح او دایران د جګړو یو تاریخ لیکلی وُ
ما ته هم دا شوق پیدا سو چې زه هم څه ولیکم خو زما په زمانه کې داسې پېښه بله
نه وه یوه د خدای د جنګ پېښه چې د سلیمان خېلو او ناصرو په منځ کې واقع سوه
نو ما دا قیصه ولیکله! د آخند نور محمد صاحب کتاب ماله محمد ایوب خان ناصر
جلال خېل سره ولید بیا هغه قلمي کتاب مرحوم نېک محمد پکتیانی د هېوادیو پېژندل
شوی لیکوال له محمد ایوب خان څخه یوړ چې اوس هم د ده په کتاب خانه کې موجود
دی قلمي نقل یې د محمد ایوب خان ناصر له زامنو سره دی دا شعر په داسې وخت کې
ویل شوی دی چې په یوه بد مرغه ښځه چې بر ډ نا نومېده په قوم ناصره او په
سلیمان خېلو واده وه وروسته له واده بیده بره خان ناصر ځنې وګرزوله پر دې
خبره د سلیمان خېلو څلور زره کسه لښکر راټول او د ژوبی په سیمه له ناصرو سره
مخامخ سو سدو خان کاکړ او نورو کاکړانو د دوی په منځ کې مرکه کوله خو د
سلیمان خېلو دروغې شرایط ډېر سخت وُ شل مړو ښی ښځې یې غوښتې ناصرو شل

پېغلې ورکولې زرمزان يې دلښکر خرڅ ورکاوه سليمانخيلونه منل دجنګ ترشروع کېدو يو څوګړۍ مخکې دناصرو له لښکر څخه يو سړي چې عبدالله ملي زائي ناصرو - راووتي او د دواړو لښکرو په منځ کې يې داشعر ووايه :

سدوخان کاکړو مې وزه له ميانه — دلبرخان راباندې وووت له ايمانه

سې[1] ميرخان سوله ګرجيانو په ماڼه کې — ماته راغی ننواتی په واڼه کې
ټول ناصر سو سره جمعه په زاوه کې — په سره زمي ورغلمه تر ميدانه

ناصرو يل ماخپل ملک لاس ته راوستی — سی ميرخان وله ګرګين سره اوښتی
دګرګين سر يې په خاورو کې پرې ايستی — دی دماله توری سو باچا ميرخانه

دهوتک توخي نزاع له ملخی وه — پېښه سوی دا بدی پرامکی وه
توخي مړه و پاته سوی دا بدي وه — ناصر قباد ايستلی وه دغه بدی له ميانه

دناصرو په ملاتړ ولاړ محمود کرمان ته — ماتی ورکړه لوی پاچا داصفهان ته
بری مندراغلو اطراف دخراسان ته — محمود پاته تخت وتاج داصفهان ته

چې نادر سو په اشرف باندې ښاغلی — بيا وښهر دی کندهار لره راغلی
ناصران وُ پدې جنګ کې دريدلی — دولس مياشتې نه يم تللی له ميدانه

که هر څو جنګونه وسوله نادره — پرشا نه يم حُنی تللی بې مرګيه

---

(۱) سی = چی . دناصرو لهجوی خصوصيت ساتي.

چې ناصر پر کندهار توری وهلی — او سرې وینې په دښمنو بهولې
د سیدال سترګې چې وکښې شاه نادره — ده یه ځان ورکاوله خپله ځانه د ناصره[1]

لوی لښکر زه د شمعیه وُجل وبل کړم — نیم را لوګومل ته نیم یې کوچ خوا ته د کابل کړم
له وزیر سره بدی اوس په ګومل کړم — وزیر تل را څخه تښتی له میدانه

یو ماپت د پښتونوالی دی ساتلی — مغل دی مدت ناصر پر شا بیولی
اصفهان په توره زما محمود نیولی — اوس به څرنګه دا ریږم له سلیمانه

دا بد مرغه بدي چې د تیمور شاه د بادشاهی په دوهم کال پیل سوه دوې پیړۍ یې دوام وکړ په هغه ړومبی ورځ د جنګ ۹۲۵ نه سو پنځوشت کسه ناصر مړه سو او ۸٦٥ اته سوه پنځه شپیته کسه سلیمانخیل مړه سو دا په یوه ورځ جنګ کې پدې ورځ د سلیمانخیلو د لښکر مشر د لبر خان و د ناصر و مشر یوسف خان و دې بدۍ له ۱۷۷٤ عیسوي څخه تر ۱۹۵۱ پورې دوام وکړ څو په پای کې د محمد ایوب خان ناصر په کوششونو د کابل د نقیب صاحب د مشر زوی شیر آغا په دُعا د پاکستان په ډېره اسماعیل خان کې د ناصرو او سلیمانخیلو مشرانو پای ته ورسوله.

ملي قاید مخکې ګرګین ته ویلی و چې په دونه بیړه زه د ټولو افغانانو ملاتړ ستاسو په مرسته نسم راجلب کولای صرف هوتک او ناصر چې زما سکنی طایفې دي او هغوی زما خبره بې چون وچرا مني زه به له دوی څخه لښکر راټول کړم ګرګین د ده له صداقته ډېر خوښ سو پدې اساس نو په هوتکو او ناصرو کې ښکاره لښکرې ټولېدې دوی داسې ښکاره کوله چې موږ د حکومت ملاتړ یو دا چې ملي قاید له نورو قومونو څخه په لومړی سر کې لښکر نکړ

---

(۱) دا مسرۍ ښه نه ویله کېده.

راټول دی له دوو خبرو بېرېدی یو دا چې که له ټولو افغانانو څخه لښکر راټول سي کېدای سي چې ګرګین ډار وکړی او احتیاط به راسره کوي دویم دا ایرانیانو ملاتړ ته څوک نه حاضر یږي که اصل پلان ورته وایو کېدای سي چې راز فاش سي نو یې نور مشران د تیار سی په حال کې وساتل اوس حاجی میرخان نیکه ځان دونه ګرګین ته ورخپل کړی وُ چې هغه د بدګومانی هېڅ خیال نه کاوه بل د هوتکو او ناصرو لښکر دونه دا همیت وړهم نه ورته ښکارېدو چې کوم خطر به ځنې وي.

په ناصرو او هوتکو کې هم عام خلق پدې نه وُ خبر چې موږ به د خپلواکی جنګیالي یو فقط د حاجي میرخان نیکه په احترام حاضر سوی وُ چې پدې لښکر کشي کې ګډون وکړي د ناصرو لښکر په ډېره بیړه راټول او د سیدال خان، سدو خان او میرعلم خان په مشری د کندهار پرخوا راروان سو دا یوه ناره ده چې وایي:

که له تا نه د سدو پرتوګ له تا نه

چې له کښی په ګومل راغی سدو بله لنګه نه وینی بې ځانه

د ناصرو لښکر سوری ته راورسېدی ملي قاید ګرګین ته حال ولېږه چې زموږ لښکر تیار دی ستا امر څه دی موږ او ته به چېرې سره یو ځای کېږو ګرګین ورته ولیکل د ذیقعدة الحرام پر ۲۹ ځان دارغسان و ده شیخ ته راورسوه! دلته د سیوری د سره غره په شنه کوتل کې دا یغر په غبرګه کې یوه لویه درخته ولاړه وه تر دې درخته لاندې د هوتکو او ناصرو مشرانو د ملي قاید تر مشری پنځمه جرګه جوړه کړه دا درخته د پنځو په ونه مشهوره سوه او برخلافه د نورو ځایو له دې ځای څخه خلقو زیارت ګاه جوړه کړه چې اوس لا هم خلق عقیده ورته لري هر څوک له تعامل سره سم د خاورو کوټې جوړې کړی او هم هلته د ډبرو یو لوی تاک دی چې د بکری په تاک مشهور دی وایي چې حاجي میرخان نیکه ګفت ورکړی دی چې پر قبله ځي لګېږي دې چې پر لمر خاته ځي ندې لګېږي دا عقیده د دې سیمې

لـزاړه واړه ســره مـوجـوده ده دا درخـتـه د پښـتـو پـه ونـه مشهوره وه حتی پولـرکی چانه
ځـنې اخیست بیا وچه سـوه هم دغسې لـرکی پرله پـرانـه ځ چانه ښـورول دالـتـه پـه
یـوه کلی کې چې لـوی ښـورنـو مـیـرۍ د طالبانـو ویـې درس ځ طالبانـو دالـرکی راوړې
اوسـوځـلی یې ځ د خالـق تعالیٰ پـه قـدرت پـه طالبانـو تبـه ولګـیـده یـوهم نسـو
پاتـه پـه هـر صورت د پښـتـو ترونـه لاندې جـرګـه جـوړه اوداسې فیصلـه وسـوه چې
درې زره کسـه لښکر به د ترنک له لارې ځان کندهـارتـه رسـوي وایي چې مـون د
حاجي مـیـرخان لښکر یـو د حکومت ملاتـړ تـه ځـوبلـه بـنـوالی چې عبارت له اووه سـوه
کسـو وتلیـو پهلوانانـو څخـه وه د حاجي مـیـرخان نیکه مړ قـومانـدې لاندې به پـه
ارغسان کې د ده شـپـږ وکلي تـه ځـان رسـوي چې ګړګـین هم داځای تـه کلی ځ جـرګې
فیصلـه وکـړه دلتـه نـوپـه یـوعالم احساسـاتو کې د پښـتـون خوا ځلمو د سـر ټـپـرۍ لـوړې
وکـړې د پښـتـو ټـولـنـې غـوښـتـنـه وکـړه چې بـیـځي تـر وطن جارولـو دګـډتـه وړاندې کړل د
خپلـواکی بیرغـونـه پـورتـه سـول علماؤ اوروحانیـونـو دعاوې وکـړې. د افغانسـتان د
بـیـرتـه اعمار خبـنـتـه کـښـوده سـوه او د آزادی پـروسـیـقـه آخـــرې مهر ثبت سـو
د ملي قاید پـه قـومانـده لښکر خپلو تـه کلیـو هدفـونـتـه روان سـو پښـتـنـو ځلمـو
سـتـړې لـه تـپـکـیـو وکـښـې نـږدې تـه نـږدې شـک اوتـردیـدځای پاتـه نسـو. یـوه نـاره ده
وایي چې :

کـه بخـتـه د بنـالم ذکـور لـه بخـتـه مـیـرخـان باسـي ګړګـین خان لـه خپل پای تـخـتـه

د کندهـار خـواتـه لښکرې د بـابـو جان بابي، مـیـرعالم خان ناصر، سـدوخان
ناصر او یـوسـف خان هـوتک تـرمشـرۍ لاندې روانې سـوې د ارغسـان
خـواتـه لښکر د ملي قاید اوسـیدال خان تـرمشـرۍ لاندې روان سـو د جـرګـې
ځای تـه تـقـریباً اتـه لس کیلومـتـرې باندې د ګـډ جي عسکرو یـوه چوپـنـې وه
چې اوس پـرهغـه ځای یـوکلی ودان سـوی دی او د ګـډ جي پـه نامه یاد ښـږي
ملي قاید لـومړی حمله پـرد غـو عسکرو وکـړه چې پـه دې برلـبـن وخـت کې یې تاروماړ

کړل له دې وروسته نو خپل هدف ته روان سو چې دا قصه به د عبدالغفار هوتک له هغه قلمي ديوان څخه درته وکړم چې د تيمورشاه د باد شاهي په دوره کې ليکل سوی دی او اوس له ما سره پروت دی، عبدالغفار وايي:

نور يې ټول کړو ښه ځوانان — همه واړه عزيزان
دوی ټول په مصلحت سو — وکفارته په غيرت سو
له کفارو به موږ جنګ کړو — چې خپل ځان په وينو رنګ کړو
يا به موږه شهيدان سو — يا به پاته په امان سو
همه واړه دا جواب که — دا جواب يې په ثواب که
موږ به سر کړو ستا دوړاندې — دا سلام په سيرت باندې
همه واړه ښه ځوانان ؤ — دوی اکثر پهلوانان ؤ
ؤ شماره اووه سوه کسه — داسې څوک دی له دې پسه
وده شيخ وته روان سو — برابر پر کافران سو
ترسبا پوری دوی جنګ کړو — پر کافرو يې ځای تنګ کړو
د ټوپکو ټکهار سو — دوی له خوبه څخه بيدار سو
غرژی وکاو هوتکو — مه بېرېږئ له مردکو
دوی ول راکه خدای، کافر — پمدد د پاک سرور
نور د تورو شرنګا شرنګ سو — د هوتک د ګرجی جنګ سو
هر هوتک لکه زمری — پر کافرو يې شو بری
ترسبا يې کړو ګذارونه — د کافرو پر ځانونه
درسته شپه دوی دا جنګ که — د همه افغان يې ننګ که
حاجی انګو لکه زمری — پر کافرو يې غرژی
ډېر کفار يې کړ مردار — باندې وې نشو مدار
حاجی انګو ؤ د لاور — دوه مردک پر برابر

حاجي میرخان ویل هوتکو — حاجي انګو واخلئ له مردکو
نورده وویل اکا ته — ولاړ به نسم وهیڅ خواته
چې زه ولاړ سم له میدانه — جنګ به څوک کړي زما جانه
جنګ یې وکړ په غیرت — باندی مات یې کړ عمارت
شاه نواز یې نور حیران کړ — نور هوتکو بند یوان کړ
نور مرادی کی دی مردار — چې پری وی کاوه ګزار
حق تعالیٰ شو مهربان — پر غازي حاجي میرخان

د پښتنو لښکر د شپې ده شیخ ته ورسیدی له سیوری ترارغسانه یو ښه منزل لار ده داسې وایي حاجی میرخان نیکه شپه پر لار تیره کړه او دورځې یې هم ځان ټال کړ ده شیخ ته په شپه ورسیدې له رسیدو سره سم یې مهم ځایونه ونیول او سم دلاسه پر دښمن لکه تندر را پریوتل په ډیرلږ وخت کې دګرګین زرکسیز فوج تس نس سو څوک ژوندی ګرفتاره سو څوک مړه سو ګرګین ژوندی ګرفتاره سو ډیرې خړې پړې یې وکړې خو د پښتنو قاید داسې څوک نه وُ چې د چا په داسې زاریو، چټی وعدو غولیدلی وای او یا یې د پښتنو وینې هیرې کړی وای چې د دې خونخوار له لاسه تویې سوې وې له لنډې محاکمې وروسته یې مرادخان ته امر وکړ چې وهه یې مرادخان هم په یوه ګزار د ده مردار وجود سره جلا کړ ګرګین مړ کړای سو د ده زرکسیزه رساله هم یو یو پښتنو حلال کړل پښتنو کوشش کاوُ چې له دوی څخه جامې ثابتې اوله وینو پاکې وکاږي څو د استعمال په وخت کې په وینو لړلی نه وي له ګرګین څخه هم کار آمدی جامې دوژلو په وخت کې لرې کړای سوې پښتانه چې دګرجیانو له وژلو خلاص سول نو په ډیره آرامۍ او نظم سره یې د دوی ساز وسامان او وسلی سره راټولې کړې هغه کار آمده او بهترې وسلې پر لښکرو ویشلی سوی د دوی هغه

شاهي باربينه سره وتړله سوه پښتانه ټول پرآسو سپاره هريوه ته ټوپک
اوتوره ورورسېده نورنو هريوله خوشحالي په جاموکې نه ځائېدي که څه
هم ګرګين مړسوخو دشل زره ايراني پوځ له جملې څخه صرف يو زرکسه له منځه
تللي دکندهار مستحکمه کلا لاهم دغسې مستحکمه ولاړه وه دوولس نيم زره ايراني
پوځ په هر ډول وسله سمبال اودکندهار کلا يې په لاس کې لرله چې د
دوی طاقت يې يو په څوکاوه دپښتنو درې زره اووه سوه ايلجاري لښکر چې
يو څه ګوډی ړندې وسلې درلودې په داسې حال کې چې دګرګين له رعب
اودبدبې څخه په دې سيمه کې مرغی هم پرنسوای وهلای خوبيا ددې
يوموټی مجاهدو لښکرو حوصلی ذونه لوړې وې چې دوی فکرکاؤ چې
زموږ قايد زموږ ترمخ وي د دنيا هيڅ طاقت زموږ مخ ته نسي درېدای
د دوی ارادې ته هيڅ ډول شک اوتردید لار نه درلوده فقط توکل يې پر
خدای (ج) اودخپل قايد په لارښوونه کامل باور درلود همدغه ټينګ ايمان
کلکه اراده مضبوط يوموټی والی د دوی دکاميابی ضامن ؤ . په داسې
حال کې يې کندهارته حرکت وکړ لکه يوجشن ته چې روان وي خان کاکا
يو ډير سپين ږيری ناصر دی له خپل نيکه ګل خان څخه روايت کاؤ ويل
يې هغه لښکر چې دمخه قندهارته استول سوی ؤ کوچنی کوچنی ټولګی سپاره
يې پر لارو تعيين کړی ؤ اودکندهار ښارته يې هيڅوک نه پرېښودل چې
مبادا يو خبرورسوي حاجي ميرخان نيکه دخپل بريالی ماموريت خبر خپل
لښکر ته ورکړ اودماښام په ترغونی کې يې دپيرپايمال دغره له خوا وښارته
دنزدې کېدو امر ورته وکړ پخپله يې هم ځان وځنډاو چې ترغونی شوځان
يې دښار دروازې ته هغه دګورګين په دبدبه راورساوه هغه دګرګين -
جامې پخپله اغوستې وې اودګرګين دسپاهيانو جامې يې نور لښکر ته
وراغوستی وی پرهغو آسو سپاره ؤ چې دښار دروازې ته راغلو دښار دروازه وانانو

ښکر وکړچې کرکيټن راغی فوراً يې دروازه خلاصه اود احترام په ډول ودرېدل
ملي قاید خپل لښکر ته اوامر لا پخوا صادر کړی وُ فوراً هر سړی له خپلې
ټاکلې وظيفې سره سم د دروازې مهم ځايونه اشغال اود دروازې
محافظين يې بې برغه ښ وغه فيصله کړل اوخپل لښکر يې راوباله هغه بلې
ډلې لښکرو چې د بابوجان بابيې ترمشرۍ لاندې وې ځان دکلا دروازې ته
له مخکينۍ قوماندې سره سم رانزدې کړی وُ چې دوهمه قوماندې وروسېده
چټک يې ځان راورساوه او په قلا ننوتل ملي قاید چې د قلا د نيولو نقشه
پخوالا په ډېر دقت سنجولې اوترتيب کړې وه نو يې په ښار کې دننه عمليات
په پټه خوله په بې سارې چټکتيا شروع کړه د ښار د دروازې برجان يې
قبضه کړل په ښار کې دننه ايراني منصبدار يې هر يو پخپل کور کې ونيو ځينې
ايرانې عسکر چې قابو کېدل يې سخت وُ دخپلو بندي اونيول سويو منصبدارو
په امر تسليم ، مجبوره کړل د ښار ټولې څلور لارۍ پښتنو قبضه کړې د
خلکو تګ اوراتګ يې ترخپل کنټرول لاندې راوستی وُ هر څوک چې به له
کوره راوتی فوراً به ګرفتاره کېدو نرمون د ملي قاید ما هرانه نقشې
هېڅ ايراني عسکر يا افسر ته د تجمع فرصت په لاس ورنکړ که څوک په يو
کونج منج کې پاته هم وُ داسې مقاومت يې ونکړای سوای د ښار د ټولې دروازې
د پښتنې لښکرو په قبضه کې شوې څوک نه له ښاره وتای سوای نه راننه وتای
سوای د ښار دباندې اکثر کلي او اولس ايرانيان وُ ځکه د پېړيو پېړيو پردې
نسلط نتيجه داوه چې دکندهار شاوخوا ابادۍ ټوله د پردو وه پښتانه يې پسې
اخيستې وُ پښتانه که يو نيم پاته هم وُ د ځمکې مالک نه وو ديو همسايه په توګه به يې
د نورو مزدورۍ ښ ګرۍ کوله يعنې دکندهار پر زراعت او تجارت ډېرکامله و
کنټرول وُ .

د ښار ټول کنټرول ورو سته د ملي قاید په امر جاروهل سو: هرچېرې

چې پارسي یاګرجي عسکروي ځانونه دې ملي قواؤته تسلیم کړي او که د هر چا په کورکې یې پناه اخستی وی فوراً یې دې دافغانستان ملي قواؤته تسلیم کړي او که چا د دې امر څخه سرغړونه وکړه سراومال به یې نه وی په امان. که څه هم په کندهارکې کافي ایراني عسکرؤ او اولسي آبادی هم ایرانیان وُ د شل زره ایراني عسکرو له جملې څخه شپږ نیم زره بلوچستان ته تللی وُ - یو زر له ګرګین سره تباه سو متباقي دولس نیم زره عسکر د کندهار په قلا کې په هر ډول حربی وسایلو سمبال موجود وُ سبه توپخانه یې هم درلوده د پښتنو له خوا څخه خطره خود دوی پخیال کې هم نه وه دوی کندهار د هند د امپراتوری په مقابل کې تقویه کړی وُ خو زموږ د ملي قاید ماهرانه نقشې داسې تندرو رباندې پرې ایست چې دوی د تجمع خو څه کوې د هیڅ ډول فکر کولو فرصت هم نکړ پیدا. سهار دلومړی ځل د پاره لمر پداسې حال کې پر کندهار راوخوت چې د پیړیو، پیړیو د غلامي تیاره یې شاته پرې ایښی وه افغانانو د څو پیړیو اسارت وروسته لومړی ځل د لمر څرک ننداره د آزادی له لمر څرک سره سمه وکړه د پښتونخوا زمرو بچیانو په داسې حال کې چې سترګې یې لکه د مستو زمرو سرې وې د دښمن په وینو سرې لړلی توری یې په لاس کې وې د لمر له څرک سره یې یو بل ته د ملي اختر مبارکي ویله دا ملي اختر، دا مقدسه ورځ داله افتخاره ډک تاریخ د ۱۱۱۹ هـ ق کال د ذالحجې لومړی وُ او د موجوده افغانستان د بنسټ تاریخ وُ چې دافغانستان غیرملي واکمنیو تر هر ډول خاورو او ایرو لاندې کړی وُ حتی پدا دوو پیړیو کې یو وار یو ساعت هم تجلیل شوی نه وُ خو لکه خلک چې وایي غمی په ایرو کې نه ورکیږي داسې دا مقدس تاریخ په انساني ماغزو او سینو کې محفوظ پاته دی او یو بل ته د ملي امانت په توګه سپارل کیږي.

لکه په دې لنډۍ کې چې پښتانه وايي:

توتي به خدای په ګلو موړ کړي
باغوانه ستا نيمګړی نيت مې ژړوينه

اوس چې زه دا توری ليکم د يو زر درې سوه اووه شپيته دوری درو ده زړه په سينه کې ودې خوښۍ ته ټوپونه وهي چې هغه ګړی نزدې ده چې خدای پاک به دافغانستان اولس دخپلې اسلامي او اولسي واکمنۍ خاوند کړي او پر ټولو مصنوعي او بې اهميته افتخاراتو به د بطلان خط کش کړي او يو ځل بيا به زموږ د آزادۍ لمر لکه د پخوا په شان ځلاند سی او زموږ د ملي وياړونو په طلايي لړۍ به يوه نوی کړی ورزياته سي.

اوس به راسو اصل مطلب ته د پردو د تېري کوونکو او غاصبو قواؤ له وهلو او ترټلو چې پښتانه وزګار سول نو يې ټولې حربي ذخيرې او خزانې چې له افغانانو څخه راټولې سوې وې په ډېر نظم او آرامۍ تر خپل کنترول لاندې راوستی او نور پښتانه د زياتو حربي وسلو او ذخيرو او بې شمېره شته منيو خاوندان سول نو يې خپلو منتظرو ملګريو ته حال واستاوه چې چټک ځان راورسوئ موږ لوی او مهربانه خدای په خپل مقصد کې کاميابه کړو، تاسې له خپلو لښکرو سره بې غمه زړه په ډېره بيړه ځانونه راورسوی له هرې خوا د سرتېرو مېړو لښکرې په رارسېدو د ډولو به غربي ؤ زلمي به په اتڼونو ښارته رادننه کېدو مېلمستونونه، ترتيب سوی ؤ له ايراني اسيرانو څخه د نفر خدمتانو، آشپزانو او د نور چوپړ کارونه اخستل کېدل د مشرانو او پښتنو سردارانو د پاره عليحده ځايونه ترتيب سوی وو.

پښتانه اوس د خپل ښار او ملک واکمن وو د ګرجيانو او ايرانيانو ټولې

شتمنی اوس د دوی وې په ښارکې ملي جشن برپا ؤ له لیرې لیرې ځایونو نه به مشران کشران د تبریک او مبارکۍ د پاره راتلل او له ځانه سره یې پسونه له پښتنی دود سره سم راوستل هغه به بېرته د دوی میلمستیا ته حلالېدل پښتانه زلمي به یو پر بل غوړېدل او مبارکی یې سره ورکوله ټوله ورځ به د ملي قاید دربار د ملک له ګوښی ګوښې راغلیو سپین ږیرونه ډک ؤ پر ټولو خزانو او حربي ذخیرو مسئول کسان درول، سوي ؤ جنګیالو زلمو د توپو د زده کړو تمرین کاوه، ایراني میراث سوی رسالې پښتنو سره ویشلی او ټولو زلمو به سانګې وهلې یعنی نېزه بازۍ به یې کولې.

کندهار چې له څو پېړیو راهیسې د دوو سترو امپراتوریو یعنی د هند امپراتوری او د پارس د امپراتوری په منځ کې دیوې منځې شکل غوره کړی ؤ کله به یوه پرې غوټه کړه وا بې خیسته کله بل. نن د لوی او مهربان خدای په فضل او د ملي قاید او نورو مشرانو په تدبیر او د پښتنو ځلمو د تورې په خرپ په داسې حال کې چې د خپلواکۍ لمر یې پر ګوښه ګوښه راویړ لید کېدی همدا حال ؤ چې پښتنانه له خوښی په جاموکې نه ځائېدل دلته نو چې د هېواد له ګوښې ګوښې د پلیو او سپرو بهیرونه راورسېدل نو ملي مشر شپږمه لویه جرګه جوړ کړه.

مخکې تر دې چې جرګه پرانستله سي ملي قاید لوی خدای (ج) ته د شکر سجده وکړه او وې ویل: لویه او مهربانه خدایه! دا یو له هغو لویو کارو څخه ؤ چې زما مرحومې مور یې ماته وصیت کړی ؤ او دا خدمت یې ماته سپارلی ؤ دا خو ستا د بندګانو خدمت ؤ چې ماته ستا په فضل او کرم دا نجامولو توفیق راکړه سو او تر سره مې کی نوابدي بریالي توب او استحکام یې ستا له حضوره غواړم.

کندهار د پردو له ناروا وجود څخه پاک سوی او خلاص سوی و نو ملي قاید د پښتنو ټول مشران او غټان راوبلل او په اوسنی اصطلاح لویه جرګه یې تشکیل کړه پدې وخت ملي زعیم ولاړ سو او داوینا یې په فصیحه او خوږه لهجه ایراد کړه:

ګرانو وطنوالو خوږو ورونو! یقین ولری چې زما مطلب یوازې او یوازې ستاسو آزادی او خپلواکي وه آزادي هغه بې بها نعمت دی چې دهغه دلاس ته راوړلو دپاره داټول چلونه او جنګونه روادی ګرګین له منځه وووت قندهار د پښتنو دپاره چې تل یې له طاقتور مغول سره اوږه ورکړې او مقابله یې کړیده دهغو عسکرو له تښتولو چې د اصفهان له هجرا ګانو څخه تشکیل سوی دی څه ګران کار نه ښکاري. عزیزانو! که له ما سره لاس یو کړی او متحد سی او زما ملاوتړی زه به انشا الله تعالیٰ ستاسې له غاړې د ذلت او مرئیتوب زنځیر لرې کړم د آزادی او عزت جنډه به مو د وطن په هر ګوټ او په ټول جهان کې ورپوله سي د پارس د شیعه ګانو د سلطې ژغ به موله او ږولرې سي پر خدای (ج) توکل وکړئ زړونه مو خوشحاله لرئ پداسې حال کې چې زموږ او ستاسې نیتونه پاک او خالص دی دلوی خدای (ج) په فضل او کومک کولای سو چې پر غښتلیو روافضو باندې بری ومومو د پارس دولت د نااهلانو په لاس کښېوتی دی له ډېرې مودی را هیسته د نړېدو خواته درومي زه چې په اصفهان کې وم په ټولو حالاتو یې خبروم د دولت مشران پر دوو لارو روان دي په تدبیر او رایو کې یو د بل ضد کار کوي او یو د بل د پښو خاورې سره کاږي او هر فرد یې د خپل ځان تابع او پیرو دی د ټولو مشغولا همیشه عیش او عشرت ده دولت او ملت یې هېر کړیدی هېڅ ستر ګور سړی په دوی کې نه وُ چې د مملکت د نظام دپاره یې خوله ښورولی وای د خدای (ج) له خوا هم بلاوې پر نازلېدي چې یوه بلا یې خارجي ایلچي او سفیر وُ چې د شېروان او آزربائیجان ارمنیان یې پاڅون ته هڅول چې په اخیر کې ګرجستان هم د روس تابع سو بادشاه یې د دښمنانو له هجومه ډېر متزلزل وُ نو آیا چې لازم تدارکات ونیول سي او موږ سره متحد یو د دوی په مقابل کې به حتماً انشاء الله تعالیٰ فتح او بری زموږ وي خو که موږ په قربانی او ځان نثاری سره زیار وباسو دا ملک او مال چې مو نیولی دی یا یې نیسو دا ټول زموږ دی نو

آیا لازمه ده چې ټولې شتمنی چې مولاس ته راوستی دی بېرته پخپل لاس له لاسه ورکړو. عزیزانو ! له پښتنی لوړ همت څخه کار واخلئ څلور طلاوې یوه قبه چې به هره ورځ پارس ته تله او هغه ثروت چې به زموږ له ملک څخه د پردو - جیب ته لوېدې راوسپموو او لانوره شتمنی لاس ته راوړو څو ځان بډای او ملک آباد لو خپل اولس پری خوشحاله کړو او خپلې اړتیاوې پرې پوره کړو ددې بې غیرتی او گمراهی ډلې ورکول د ټولو مسلمانانو وظیفه ده او له دوی سره جګړه یوه فی سبیل الله غزا ده .

ملي قاید خپله وینا پداسې الفاظو پای ته ورسوله چې د وطن دیو رښتینی مشر له خولې و آزادو زلمو ته وړ وي، ده داسې وویل : هغه څه چې د غیرت او شریعت مقتضاوه هغه مې تاسې ته وویل اوس که ستاسې په منځ کې داسې څوک وي چې بیا لاهم د مرئیتوب ذلت د آزادی پر عزت غوره گڼی او د آزادی دا نعمت یې چې پاک خدای پخپل فضل در په برخه کړی نه وي خوښ د پردو ظالمانو او گمراه خلکو غلامي یې د خپلو پښتنو ورونو تر متابعت خوښه وي په ډکه خوله دې ووایي هېڅوک به غرض نه پوکړی هو دومره خبر ده چې داسې څوک دی نور نو له موږ سره د هستوگنی - هیله نکوي او زموږ د آزادې خاورې او قومي ریاست تر پولی دی ها خواته ووزي او د کوم نوی ظالم باد شاه تر سیوری لاندې دې ژوند وکړي ! پښتنو مشرانو د ده وینا په ډېره مینه او دلگرمۍ سره واورېد له خصوصاً پدې وینا کی د دوی قومي او پښتنی احساسات راپارول سوی ؤ او له بلې خوا یې دا اقدام د محمدي (ص) شریعت سره سم باله او د حجاز د علماؤ فتواوې یې پخپلو سترګو ولیدې له بلې خوا چې دا دونه موده د پردو تر سخت فشار لاندې ؤ او س یې په هوسایي ساوایتله . او هم له بلې خواله ډېرې مودی راهیسې د خپل پښتنی طبیعت په مقتضا سره سم و آزادی ته لېواله ؤ نو د دې عواملو په اثر یې له ملي قاید سره پښتو وکړه او د ده پر اقدام یې آفرین ووایه او یاد لاروردی په قول پښتنو له میرویس سره قول

وکړ ترڅو چې یې دوینې وروستی څاڅکی پاته وي دده په مرسته به له آزادی او خپلواکي څخه دفاع وکړي او خپل همت به نه سپموي او دده له امره به سرنه غړوي ملي قاید چې له خدایه داسې وخت غوښت پخپلو اورلګوونکو ویناوو یې د پښتنو د غیرت وینې په جوش راوستی او په آخرکې یې ورته وویل: زما وروڼو! الهی انتقام نزدې دی پښتانه پهلوانان باید نورد پردود جور او ظلم تر بار لاندې رانسي.

په همدغه ورځ د افغانانو لویې جرګې حاجي میرویس خان نیکه د خپل ستر مشر په حیث وټاکه که څه هم حاجي میرویس خان نیکه د پادشاهی رتبه او حیثیت درلود مګر ده پر ځان د بادشاه نوم نه کښېښود د شاه او شاهی له نامه یې ځان وژغوره او یوازې د ملي مشر په نامه یې اکتفا وکړه او داهم زموږ د ملي قاید مخصوصه ممیزه ګڼل کېږي.

مرحوم قاضي عبدالظاهر سامي پغماني پخپل یوه شعر کې چې دده په ستاینه کې ویلی دی د ده له خولې وایي:

مرا همین بس که قومم گوید پدر

دا څرګنده ده چې ملي قاید دا ټول کارونه او دا ټولې هلې ځلې د کوم شخصي غرض د پاره نه وې کړې بلکه فقط او فقط د ملي لوړتیا او د ملت د خپلواکي د پاره یې دا ټولې قربانی اور برونه ګاللي وو.

هغه لښکرې چې د بلوڅو او کاکړو د ترټلو د پاره شال کوټ او مستنګ ته تلې وې هلته یې د ګرګین د راتګ ډېر انتظار وکړ خو ګرګین را نه غی نه یې کوم د راتګ او نه راتګ حال معلوم سو له بلې خوا یار محمد خان د ملي قاید وراره چې د دوی یعنی ګرجیانو په مرسته ورسره تللی وُ نا ببره له دوی څخه جلا او میر عبدالله خان بلوڅ ته ورغی قصه داسې وه: حاجي میرخان نیکه چې ګرګین مړکړ نو یې له جریانه میر عبدالله خان بلوڅ، یونس خان کاکړ

اویار محمد خان خبر کړل او یار محمد خان ته یې هدایت ورکړ چې ته له کوجیانو څخه جلا سه خان میر عبدالله خان ته مستنګ ته ورسوه کوچي عسکریه شالکوټ کې او یار محمد خان هم دخبرې اوریدو خان او ملګري له کوجیانو څخه جلا او - مستنګ ته یې خان میر عبدالله خان ته ورساو میرزا سندل دکوچي لښکرو مشر د کوټکین څنډ او یار محمد خان بې ځایه اوبې موجبه تنګ په شک کې واچاوه نو یې له میر عبدالله خان څخه وغوښتل چې یار محمد خان راولیږه میر عبدالله خان ځواب ورکړ چې یار محمد له تاسې سره نه دی خو بس ما ته راغلی دی زه یې په هیڅ صورت تاسې ته نه سم درکولای میرزا سندل په سر درکمی کې واقع سوله بلې خوا یې له بلوڅو څخه مالیه حصول کړې وه نو چې دکندهار خواته یې حرکت راوکړ عبدالغفار هوتک په خپل قلمي دیوان کې داقصه داسې بیان کوي:

یار محمد یې که خبر — له لښکره سوبدر
میرزا سندل چې یې خبر که — دی خبر پاره دده ځکر که
کوچي جیانو وکاوه غیرت — دجنګ یې وکه مصلحت
له یار محمد سره به جنګ کړو — دامیدان په وینو رنګ کړو
بلوڅان هلته بسیار وو — میر عبدالله دهوتک یار وُ
میر عبدالله ویل یار محمده — تا به باسم له - دا حده
وکوچي ته یې جواب که — دکوچي زره یې کباب که
له یار محمد څخه څه غواړئ — حاجي میرخان ورپسې غواړئ
یار محمد بنه دلاور وُ — دحاجي انګړدی برادر وُ
یار محمد راغی ترکوره — دکوچیانو مخ شه توره
کوچي سو را روان — په جنګونو دافغان
نزدې شو کندهار — وجنګونو ته تیار
د مغل دافغان جنګ سو — میدان بیا په وینو رنګ سو

دتورو شرنګا شرنګ سو — دګرجي د هوتک جنګ سو
هوتک جنګ وکړ بسیار — ډېر ګرجي يې کړه مرداره
نورو پرېښود دامیدان — په دو تله لکه سګان
په قمچین وهي آسان — ځي پرلور د اصفهان

عرض يې وکاوه ګرجیانو
شهنواز مړ کړ حاجیانو

کندهار چې ملي قاید فتح کړنو يې خپلو ملګرو ته د فتح زېری ولېږه او هم يې ملي قواوې کندهار ته راوغوښتی چې په هغه جمله کې مير عبدالله خان ته علاوه د فتح پر زېری د ملي لښکرو را استول هم ويل سوی وی ونو هغه وو چې مير عبدالله خان خپل يو شمېر عسکر له يار محمد خان سره کندهار ته راواستول يار محمد خان د بلوڅو له ملي قواؤ سره کندهار ته راغی ايراني عسکر لا نه ؤ رسېدلی چې يار محمد خان راغی ايراني عسکر په دوی پسې سم کندهار ته راورسېدل دلته د افغاني قواؤ سر اعلی قوماندان حاجي مير ويس خان نيکه چې د ملک په ملي مشرتوب رسماً ټاکل سوی ويو ښه شمېر عسکر برابر کړی وو او ايراني ميراسته توپخانه يې هم په واک کې وه نو يې د ايراني لښکر راتګ ته هر ډول تياري نيولی ؤ د دوی د راتګ د لارې دواړې خواوې پښتنو ورته نيولی وی حتی د دوی د احتمالي تېښتې پر لار وهم پلې او سپاره عسکر ورته پټ کړای سوی ؤ ايراني عسکر د ماشور د دروازې له خوا ښار ته رانزدې سول چې د کندهار جنوبي دروازه ده چې ښه د توپکو تر اور لاندې راغلل نو يې د توپو او توپکو په اوربل ښه راغلی وسو چې د توپو او توپکو د اور له ساحې ژوندی پاتی سوی عسکر وتل نو د پښتنو د سپرو قواوې پرې راتاو سوی او دوی يې لکه د فرعون په شان په منځ کې راګير کړل لکه ميلسون انګرېز چې ليکي چې ډېرو جنګونو له دوی څخه او سپنه جوړه کړې وه خو دی ليکي چې دا شپږ نيم سوه کسه ؤ حال دا دی چې

داسی نه بلکه شپږ نیم زره کسه ؤ ځکه په عادي حال کې له بلوچستان څخه چې یې خزانه
راوړای شپږ نیم سوه کسه به پسې تلل حال دا دی چې بلوچستان ټول یاغی ؤ د -
بلوچستان او کاکړستان دعلاقی پسور تر زرکیلومتره ډېر دی دقلات خان میر
عبدالله خان یوازې شپږ زره منظم عسکر درلودل هغه ایلجاری خولاڅه کوی
نو دا شپږ نیم زره عسکر د ملیسون په قول صحیح دی چې ډېر جنګیالی واو جنګونو
او سپنه ځنې جوړه کړی وه په دې جګړه کې دافغاني عسکرو شمېر پر دوی ډېر ؤ او د
توپخانې او زیاتو سپرو قواؤ څخه برخورداره وو خو بیا هم داد دوی مېړانه وه چې
دېرش پنځه دېرش کسه ژوندی ځنی ولاړل خو څوک لا داهم وایي چې دا شمېر
تښتېدلی عسکر ملی قاید قصداً پرېښودل چې د دوی د شل زره کسیز اردو او
بیګلربیګي د سرنوشت حال دایران دربارته وروړي دې څو تنو عسکرو په ډېره
چټکتیا ځان له حتمی مرګه خلاص کړ او خپل دارد و او مشرانو د تباهی حال یې
وایراني دربارته ورساوه پښتنو هم دیده یا نادیده د دوی له تعقیبه صرف نظر وکړ
خو ځنې خلق وایي چې دا عسکر د دې اړ دوړ په ترڅ کې چېرې غلی وتلی ؤ چې د
چانه ؤ ورپام سوی او دا خبره عقل هم مني ځکه چې اوس چې پښتنو د سپرو ښې
او ډېرې قواوې درلودې د دوی تعقیب او نیول بېخي آسانه کار وخو ښتیا
هم داده چې دافغاني قواؤ په بې خبری کې ځنې تللې دې. په هر صورت دایراني
قواؤ میراث پاته شوی اسان او وسلې یې سره راټولی کړې او هغه خزانه
چې له بلوچستان څخه راوړل سوې وه هم دغنیمت جزوه دا چې دغلیم آخري
قواوې هم له منځه ولاړی او اوس نو په فوري طور هر ډول خطر دفعه سر او
افغاني قواؤ ته اوس هر ډول وسلې او روپی په کافي اندازه پلاس ورغلی نو یې
یو بل ته مبارکي سره وویلې پدې وخت کې ملي قاید نور استازی هم د -
پښتونخوا لرې لرې سیمو ته واستول او د اولس مشران یې راوغوښتل له یو څه
مودې وروسته بیا ډلې ډلې افغانان له ډولو او سورنیو سره په ملي اتڼونو

کندهارته رارسېدل شروع سول چې له هرخوا څخه افغاني مشران سره راټول سول نو ملي قايد اوومه جرګه پرانسته لومړی ملي قايد پدې بريالیتوبو چې پاک خدای افغانانو ته ورپه نصيب کړی ؤ دلوی خدای شکر اداکړ بيا يې دهغو کسانو چې په دې ملي مبارزه کې بې ساری سرښندنی او توريالی توب ښکاره کړی و شکريه اداکړه او دلوی خدای له درباره يې دوی ته زيات بريالی توب وغوښت اووې ويل عزيزانو په دې څوشپو کې چې تاسې کوم لياقت، مړانه، فداکاری، سرښندنه او ترټولو زياته په درسپارل شويو وظيفو کې تام لياقت وښود په سړی کې دافکر پيداکوي چې دې خلقو په يوه ورځ هم اساسي روزنه نه ده ليدلی په دونه اعلی پيمانه خپله ورسپارل سوی وظيفه سل په سل کې سرته رسوی داخو د دنيا د يو ډېر روزل سوی فوځ په وس کې هم نسته خدای پاک پدې اولس کې څو نه طبيعي استعداد ايښی دی عزيزانو ستاسو دا اعلی کارکردګی دسړی تمه په يقين وربدلوي چې په دغه فداکاری په دغه سرښندنه په دغه خدای درکړی پوهه چې له تاسې څخه وليده سوه د ډېرې روښانه آيندې زيرې درکوم او همدا جذبه به ستاسې دستر و بريالیتوبو ضامنه وي او تردې ټولولوی صفت او دکاميابی اصلی ضامن ستاسې پرلوی خدای (ج)، توکل دی که نه وی انساني عقل دا ډېر کمه منلای شوای چې شل زره په هر ډول وسله سمبال دکلو کلو روزل سوی فوج چې دکندهار غوندې په مستحکمه کلا کې مستقر وی او له هر ډول مادي قوت څخه برخورداره وي د يو موټی تش لاسو بې تعليمه خلکو له خوا داسې تس نس سي لکه خرڅوړی.

عزيزانو داسې اتحاد او يو موټی والی او پرلوی او مهربانه خدای توکل همداسې معجزې په وجود راوړي اوس چې تاسې پخپلو سترګو درښتينی اتحاد او قوي ارادې او پر خدای (ج)، توکل نتيجه وينی نو که تاسې هم له موږ سره لاس يو کړئ او داسې محکمه اراده خپله کړئ او پر پاک خدای (ج) توکل وکړئ پداسې حال کې چې اوس هغسې خواری هم نه ده هر ډول وسلې، توپونه، ټوپک، توری، دآسو رسالې

دخوراک هر ډول هرڅونه مواد او د نغدو روپو خزانې، یو ودان ښار او مستحکمه کلا زموږ په واک کې دی موږ به دیو واړه مجلس دپاره یو مزل وکړ څو یو خوندی ټاټوبی به مو پیدا کړ او پټه به مو خپله جرګه پکې وکړه په داسی حال کې چې اوس په ډول په نغارو د اولس زاړه واړه د ملک له هرې خوا په بې غمه زړه سره راټولیږي چې د خپل سرنوشت په هکله فکر وکړي. عزیزانو حقیقتاً تاسو د اسلام د مبین دین په لاره کې لوی خدمت سرته رسولی دی د قیامت ورځې ته موښه او نیک عمل پرې ایښی دی انشاءالله تعالیٰ په هغه لویه ورځ به ستاسې په حسنه اعمالو کې وشمېرل سي او په تاریخ کې به ستاسې کړه په زرینو الفاظو ولیکل سي او د یادولو باعث به مو وګرزی د دې ستر کار له کبله دې ستاسې خواړه دا روشي او دا ستر ویاړ مو مبارک سه ستاسې د زیار او زحمت شکریه وایم مګر پدې هم پوه سئ هغه فرمان چې دګرګین د قتل په باره کې ما تاسې ته ښودلی وُ چې اعتماد الدوله راکړی دی هغه جعلی وُ او هغه د دې خبرې په اثر وُ چې دیني غیرت او پښتنی مینی له ما څخه د صبر او تحمل طاقت یو وړ نور می پخپل ځان کې د صبر طاقت نه درلود همدې بې صبری زه مجبوره کړم چې داسې وکړم ځکه د آزادی او آزادی خواهی په لاره کې داسې چلونه ضروري وي.

پاک خدای (ج)، راخبر دی چې ما د شخصي ګټې دپاره دا څه نه دی کړی فقط او فقط د ملک او ملت د آزادۍ دپاره مې کړی دی پاک خدای (ج) دې عفوه راته وکړي.

عزیزانو تاسو چې په دا څو جرګو کې پر ما اعتماد ښکاره کړی دی ستاسې له اعتماد څخه مننه کوم عزیزانو اوس وخت د دې دی چې په دې آزاده فضا کې د عزیز ګلوی په دې غونډه کې سپینې خبرې وکړو. عزیزانو موږ چې تر اوسه هرڅه مجادلې کړی دي د دې شلو زرو پارسي اوګرجي عسکرو له منځه وړل د دې دپاره نسی کېدای چې موږ به بیا هم خدای (ج)، مه کړه د پر دو-

هجړاګانو د غلامۍ ژغ پر غاړه وړو اوس چې آزاده فضا او د سپینې عزیز ګلوی جرګه پرانستې ده نو په ډاګه دا اعلان تاسې او ټول جهان ته کوم چې سر له اوس څخه افغانان آزاد دی او آزاد به وي انشاء الله تعالی زیاته د هیڅ چل ول ضرورت نسته موږ به یا مرو یا به آزاد او سر لوړی او سر اوس د ملي قاید له دې اعلان سره پښتنو له خوښۍ څخه د توپو او ټوپکو تور دندوکار جوړ کړ د کلا له سرو څخه د ډولو او نغارو ځوږ پورته سو چې د خوشحال بابا د دې شعر تعبیر یې کاوه :

بله هیڅ لیدلی نشی په دامنځ کې
یا پر دی له منځه ورک یا پښتون خوار

چې د توپو، ټوپکو، ډولونو او نغارو ځوږ کرار سو ملي قاید خپلې وینا ته ادامه ورکړه او وې ویل : عزیزانو اوس چې د آزادی له ویاړه لوړ بیرغ مو پر سر رپېږي نورنو توری له تیکیو وکاږی یا به په آزادی کې له ویاړه ډک ژوند کوو یا به خدای (ج) مه کړه د نړۍ له مخه ورکېږو.

ګرانو وطنوالو دا کار چې موږ کړیدی د پارس د پادشاه په نزد مو عصیان کړی دی او د پارسیانو په نزد موږ یاغیان یو او د دوی په فکر کې به ضرور داوي او د دوی له انتقام څخه موږ نسو پاته کېدای. عزیزانو تاسې له یوه ډېر اوږده او طولانی خوبه را پاڅېدلی یاست دی غفلت یا په بل عبارت اوږده خوب تاسې او ستاسې ټول پخواني افتخارات دا بدي نابودی کندې غاړې ته رسولی وو. الحمدلله چې اوس له دې اوږده خوبه راویښ سو است پلی او مټی موقوی کړی ټول سره یو موټی یو لاس یوه خوله سئ او پرلوی او مهربانه خدای (ج)، توکل وکړئ او د محمدی (ص) دین په لاره کې خپل سر او مال قربان کړئ امید دی چې پاک خدای (ج) به مو په دواړه جهانه کې سر لوړی کړی ورونو ایرانیان عسکر رالېږي —

العیاذ بالله که یې لاس برسی او بری ومومي د پښتنو نارینه به ټول ترتیغ وباسي ښځې او کوچنیان به مود مرئیانو په توګه ایران ته بندیان بوزی. په دې وخت کې یو مشر ولاړ سو او وې ویل: د پارس دولت ډېر قوی دی او ډېر غښتلی عسکرلري د پښتنو دالږ ځلمی به څنګه د دوی مقابله وکړای سی؟ حاجي میرخان نیکه فوراً په جواب کې دا ایت کریمه ولوست:

کم من فئة قلیلة غلبة فئة کثیرة

د دې آیهٔ کریمه له مضمون سره سم یې د زړه د ډاډ ویناوې وکړی څو چې د جرګې له هرې خوا څخه د آزادی ساتلو د پاره بزغونه پورته سول او حاجي میرخان نیکه یې د ځان کالخوایه مشر وټاکه. ټول واک یې ده ته وسپاره او جرګه هم تمامه شوه.

په کارپیل

ملي قاید فوراً په کارپیل وکړ ټوله وسله چې ورسره وه او له ګرجي او پارسي عسکرو څخه یې لاس ته راوستی وه د خپل اولس په زلمو یې وویشله او د ملیسون په قول ټول وسله جوړوونکی کاریګران یې د وسلې په جوړولو وګومارل او امر یې ورته وکړ چې ډېرې وسلې جوړې کړی او ځینی یې د بارو توجوړولو ته وګومارل بیا یې د کلا د دېوالونو مرمت کاری شروع کړه توپخانه یې منظمه او باقاعده کړه او ټول زلمي یې تر عسکری نظام لاندې راوستل کوم وخت چې په دغو تدابیرو اخته و نو یې وغوښتل چې څه موده نور هم د اصفهان د ربار غافله وساتی چې د دفاع د پاره ښه لازم ترتیبات او تدارکات ونیسی نو یې د حربي خدعې له رویه دستی د پارس د پادشاه په نوم مکتوب ولیکه، په دې مضمون:

(تر القابو وروسته) په دې تقریب چې تاسې ما ته اجازه راکړه او د مخه مې جسارت کړی و تاسې ته مې خپل عرض وړاندې کړی و چې باید د ګرګین اوضاع او احوال تر څارنې او مراقبت لاندې ونیول شي ځکه چې ما ویل د ده حرکتونه

به په مملکت کې دفتنې سبب شي اوس زما هغه پښتو کوي ربستیا سره کوم وخت
چې زه کندهار ته راورسېدم څه موده لاتېره نسوه د پښتنو قبیلې سره یو
ځای سوی له دې کبله چې دکرکین ظلم او جبر پې نور نسوای زغملای نو پې تر
سناردباندې په یوه هجوم کې له منځه یووړ بیا پې دښار کلا ونیوله زه پخپله
محکمه کې مشغول وم زه پې د خپلې محکمې څخه راوستم اود خپلو ځانو مشر اودرئیس
پې ویتا کلم اوس پې د هرې لورې دپې او جمعیت نه سره مټول کړې نه بنایي
چې زما غوندې د دولت خیراندېښ په حق کې اشتباه وسي بلکه دالاهم دشکر
ځای دی چې په داسې نازک او د اختلال په حال کې کوم ناپوه اوحق ناشناس
سړی پې د ځان مشرندی تاکلی او زه پې ویتا کلم چې داهم ستاسې د دولت
نیک مرغۍ ده ځکه تر څو چې زه دافغانانو مشریم د دې اختلال په رفع کولو کې به
د زړه څخه زیار ویاسم انشاء الله تعالیٰ د فکر اوتدبیر په واسطه هر مشکل آسانه
کیږي او دا اوربه وړو ورومرۍ اوداهېواد به د چې راپه شان نظام ماهو المرام
پیدا کړي په دې خصوص کې که تاسې ته وویل سي باید اهمیت ورنکړئ او د
دې خواتره اوضاع او احوال ماته وسپارئ اوتر یوې مودې باید داغماض العین
معامله وسي اونه بنایي چې تهوروکړئ اود خودبینانو په خوله ودې فتنې
ته عسکر راولیږئ ځکه چې که عسکر راولیږل سي ټول پښتانه له لویه تر
کوچنۍ دمقابلې .پاره پرد و پښنو ولاړ دی یا به شاهی عسکر دمرګ اوژوبلې
سره مخامخ کیږي او یاکه ببخي د پر عسکر راولیږئ د خپل ژوند دساتلو
د پاره به خپل مملکت د هندوستان پادشاه ته تسلیم کړي او داخبره داکثرو
له خولې اوربدلی کیږي لنډه دا چې په دې وخت کې لازم دی چې د دې
غونډې په خلاصولو کې د تدریج اوتانی او احتیاط څخه کار واخستل شي اودانکته
د پره مهمه ده د دې سیمې نظام دې بنده ته تفویض وسي که څه هم دا جسارت
دی مګر سره له دې هم که دا همال لوا عمال په صورت د تانی او تدریج د قواعدو

او اصولو څخه مراعات وسي دلوی خدای په فضل او مرسته به په کاروکي ډیر سهولت او آسانی پیښه سي.

په اصفهان ددې اقدام تأثیر

شاحین اودده درباریان چې په دې واقعه خبر سول په هغه اندازه چې انتظار یې کیده دونه متاثر سول اونه یې دا تصور کاوه چې افغانان دآزادی لیوال دي دوی به ویل چې تاریخي پیښې تکرار کیږي څنګه چې نخواهم کندهار د فارس څخه ځان جلا کړی و او د هند مغل یې رابللی و او س به هم هغسې سی مګر کوم وخت چې موږ حمله پرې وکړو بیرته زموږ دی نو د اصفهان دربار پر ځای د دې چې کندهار ته عسکر راولیږی یوازې یې محمد جامی خان دافغانانو د بیرولو او د ملی قاید د تهدید د پاره کندهار ته دایلچي په توګه راولیږه چې افغانان تهدید او د شاه اطاعت ته یې راوبولي دا ایلچي چې کندهار ته ورسیدی دستی یې د پارس د دولت د قوت او عظمت او واک لوړې لوړې خبرې شروع کړې او ددې اقدام د بدانجام او افغانانو د خوارېدو او ذلیل کیدلو د ماما یې ووهلې چې افغانان وبیروي مګر دده دا خبرې پر ملی قاید بدې ولګیدی او دده خبرې یې پریکړې او ورته وې ویل:

ته چې وایې عقل او حکمت یوازې په ناز او نعمت کې متصور دی او یوازې د هوسا یې د خاوندانو په ماغزو کې ځای لري که ستا شاه نور څه کار کولای سوای ستا بې معنی او لاطایلو خبرو ته ضرورت نه و زموږ غرونه او رغونه هم پوهان او هوښیاران لري.

امر یې وکړ چې دا ایلچي بندي کړئ د ملیسون په قول میرویس نیکه په دې اقدام کې دوه مقصدونه درلودل اول دا چې د پارس آمادګی وځنډ وي ځکه

ځواب ته به ځنډ ورکړسي بل دا چې پارسیانو ته به معلومه سي چې دوی په
رضا اطاعت نه مني او دافغانانو د آزادی لو به شروع سویده کومه د آزادی
جنډه چې میرویس خان جګه کړیده بېرته به ټیټه نسي او د اصفهان د دربار
ظمیع به د دې افغان نابغه په روح څه اغیزه ونکړي مګر د میرویس نیکه دا
حرکت هم د اصفهان په دربار کې بد تلقی نسو. سرجان مالکم وایي دوی
یې د غفلت له خوبه ویښ نکړای سول سربېره پردې چې وایي ورېدل چې د
دوی ایلچی بندی کړای سویدی بیا یې هم د دوهم ځل د پاره د هرات حاکم
محمد خان چې د میرویس نیکه زوړ آشنا ؤ او د حج د سفر ملګری یې ؤ د نماینده
په حیث میرویس ته راولېږو او دا یې یقین ؤ چې د ده ملګری او خپلوی به د -
افغانانو ملي زعیم د خپلو ملي اولوړو مقصدو څخه راوګرزوي خو کوم وخت چې دا
ایلچي کندهار ته راورسېدې او ملي قاید یې د اطاعت او انقیاد خواته راوباله
ملي زعیم ورته وویل لوی خدای ته شکر کوه چې د زړې آشنایی او ملګری حق دې
راباندې سته او زما سترګو ته درېږي که نه وی نو تا به هم د هغه په شان سزا
لیدلی وای مګر پوه شه چې افغانان به بیا د مرئیتوب په قید کې ونه لوېږي زمرو
زنځیرونه وشلول او توری له تیکیو ووتی تر هغو به په تیکیو کې ونه لوېږي تر څو
چې پاچا منکوب او ستاسې مملکت مسلوب نه وي شوی الهی انتقام نزدې دی
افغاني پهلوانان د جبار منتقم دلاس آلات دی چې د پارس د ګمراهانو د سزا د
پاره یې انتخاب کړی دی که څه هم له محمد خان سره ښه وضیعت وسو خو بیا
هم حکم وسو چې دیوه معزز میلمه په څېر یې په محبس کې وساتی هغه وخت
چې دا خبر د اصفهان دربار ته ورسېدنو هغوی پوه سول چې بې له جنګه بله
لار نسته نو د هرات حاکم ته یې چې د محمد خان پر ځای مقرر سوی ؤ په ۱۱۲۲
هجری ۱۷۱۰ع کال کې امر ورکړ چې خپل عسکر په کندهار باندې د حملې
د پاره چمتو کړه او پر کندهار یرغل وکړه د هغه عسـ . هم تیار سول او د کندهار خواته

راوخوځېدل مګر حاجي میرخان نیکه هم د پارس له دې حکم څخه بې خبره نه وډېر افغاني زلمیان یې د مقابلې دپاره تیار کړي وو او د پنځو زرو عسکرو سره د پارسیانو مخ ته ورووتل او ترلږ جګړې وروسته یې د پارس قواؤ ته سخته ماتې ورکړه تر دې ماتې وروسته پارسیانو په اتلسو میاشتو کې څلورلو یې حملې وکړې چې په څلورو سره وارو کې یې سختې ماتې وخوړې او ناکامه وتښتېدل او په آخري حمله کې خو د پارسیانو پنځو زرو عسکرو چې د محمد خان د تبریز د حاکم تر قوماندې لاندې وې د پنځو سوو افغاني زلمیانو د مقابلې طاقت را نه وړاو وتښتېدل او په دې حمله کې یې تر زرو تنو زیات تلفات تر شا پرې ښودل او پخپله حاکم او د قواؤ قوماندان نه دوو تنو زامنو سره افغاني جنګیالو ته ژوندي په لاس ورغلل د محمد مهدي د لیکنې په قرار افغانانو د فراه تر دلخک او دل آرام پورې ځکې د ځان کړې او د ده په عبارت: «او با دل آرام مرام هم آغوش شد واز منحل کامرانی جرعه نوش شد» دې پرله پسې ماتیو د اصفهان د دربار غصه یو په سله کړه او پوه شول چې د افغانانو سره مقابله دونه هم آسانه کار نه ده لکه هغوی چې یې تصور کاو. وپوهېدل چې د افغانانو د آزادۍ پیاله تشول او نسکورول څه د عراقي شرابو ساغر نه دی چې د شاه د سر په سلامتۍ یې پر سر پورته کړي نو لازمه یې وبلله چې د افغانانو د پایمالولو دپاره یو لوی او منظم لښکر تیار کړي څه موده نوره یې هم غوښته ځکه نو د پارس دولت په ستر و حربي تدارکاتو لاس پورې کړله بلې خوا حاجي میرخان نیکه هم د مقابلې دپاره وسایل او تدارکات سنجول چې د دې وسایلو له جملې څخه یو هم د هند له دربار سره د ملي قاید مراوده وه چې بېرته یې له سره تاره او ټینګه کړی.

د ملي قاید مراوده د هند له دربار سره

باید وویل شي چې میرویس نیکه د استقلال او خپلواکۍ تر اعلان وروسته

له ډېرو سیاسي مشکلاتو او سختیو سره مخامخ شو ځکه چې له یوې خوا د هند مغولي دربار
ودې وضعیت ته په ښه سترګه نه کتل او د افغانانو خپلواکۍ یې ځانته لوی خطر
باله لکه صمصام الدوله او خافي خان هندي مورخ چې لیکي هغه وخت چې د
افغانانو د آزادۍ د اعلان خبر د هند دربار ته راورسیدی د هند دربار ظاهراً د مجبوریت
له کبله د افغانانو استقلال په رسمیت وپېژاند او خپله خوښي یې ښکاره کړه
او له بله پلوه یې د ایران له دربار سره مفاهمې او مراودې شروع کړې چې دې پېښې
د خافي خان په تصریح د دواړو هېوادو یعنې هند او ایران د پاره د صائبې رأیې څخه
مخالف کار بلل کېده ځکه چې دواړو غاصبو هېوادو د افغانانو په خپلواکۍ خېټه
اچولی وه چې په دفع کې یې ژر کوشش وکړی. که څه هم افغاني ملي قاید ته دا
وضعیت ښه معلوم ؤ مګر د خپل سیاست له رویه یې نه غوښتل چې د هند له دربار سره
اړیکې ونه لري او یا مخکې یې مراوده قطع کړی ځکه چې میرویس نیکه له پخوا څخه د هند له
دربار سره مراوده درلوده یعنې هغه وخت چې زموږ قاید لا تجارت کاوه د خپلې شتمنۍ
او بډایي په وجه یې د هند په دربار کې ښه شهرت موندلی ؤ او خپل هغه تجارت یې چې له هند سره
درلود ورځ په ورځ زیاتاوه او د هند له حکمرانانو او وزیرانو سره یې خپلوی اچولی
وه تل به یې له هغو سره مکاتبه درلوده او د صمیمي او اعتمادي دوستانو په واسطه
به یې د هغو د مراتبو په قرار هغوی ته تحفې او سوغاتونه لېږل د خپل وضعیت څخه به
یې هغه خبرول او ځان ته به یې جلبول نو همدا سبب ؤ چې په دې وخت کې یې هم
وغوښتل چې د هند دربار ځان ته متوجه کړي که کوم وخت اړتیا حس کړي یو ملاتړ
ولري او هم یې غوښته چې په دې وسیله د هند او پارس د دولتو په منځ کې د
اختلاف نظر ټکی پیدا کړی د دې مفکورې په اثر یې د هند دربار ته یو مکتوب ولېږه.
چې د پارسیانو فوري خطر دفعه سونو ملي قاید خپل وراره حاجي نور محمد خان چې
مشهور په حاجي انګو ؤ د سفیر په توګه د هند دربار ته ولېږو حاجي انګو نیکه د تجارت
له وخته په هند کې مخصوصاً په ډیلي او د هند په دربار کې ډېر شناخت درلود نو هغه ؤ چې د

لومړی سفیر په توګه د هند دربار ته روان سو او ډیلی ته ورسېدی او د ملي قاید هغه مکتوب یې چې د هند امپراتور ته یې لیکلی ؤ له ځانه سره یووړ او پادشاه ته یې پیش کړ چې د مکتوب مضمون داؤ :

(تر القابو وروسته) موږ افغانان نسبت وټولو ګاونډیانو ته د هند د پاچا په ګاونډیتوب ډېر افتخار کوو ځکه چې زموږ په دین او مذهب را شریک دی له همدې نقطه نظر ټینګ امید او اعتماد لرو چې د ضرورت په وخت کې به زموږ ملګری او مرستندوی وي افغانانو تصمیم نیولی دی چې په هر قیمت چې وي د پارس له سلطې ځان آزاد کړي ځکه چې هغه همیشه زموږ د مذهب سخت مخالف دی او همیشه زموږ د مذهب په ورکه پسې دی او په دې لارکې له هیڅ ډول ناروا عمل څخه دریغ نکوي بلکه په ډاګه وایي چې له تاسې سره ظلم یو د ثواب کار دی په داسې حال کې نورنو زموږ د پاره ژوند کول امکان نه لري موږ د خپل مذهب د ساتلو د پاره وهر ډول قربانی ته حاضر سوی یو نور د خپل پاک مذهب ورکه او توهین نسوز غملای فلهذا اوس چې د لوی خدای (ج) په مرحمت په هند کې کامل امنیت حکم فرما دی نو که یوه دسته عسکر را ولیږئ زموږ لوی کومک به سی او د لوی خدای په مرسته او مرحمت به د خپل مذهب پر دښمنانو بری ومومو او پردوی به غالب سو.

پښتانه زړور دی بنایي چې ځینی به له موږ سره مرسته وکړی چې د دوو قوتونو د هند او افغان سره د یو ځای کېدلو په صورت کې وکولای سو چې د پارس ځنی توابع د پارس د حکومت پر خلاف راوپاڅوو کوم وخت چې دا مکتوب د هند پادشاه ته وړاندې سو هغه ظاهراً ډېر خوښ او خوشحاله سو او د میرویس نیکه استازی ته یې ډېر د حرمت او عزت په سترګه وکتل او له یو ښه اطمینان بخشه ځواب سره یې رخصت کړ حاجي نور محمد خان هلته د دایمی سفیر په توګه پاته سو او د هیئت نور ملګری یې بېرته کندهار ته راوړی سول دا موضوع عبدالغفار هوتک په خپل قلمي دیوان کې داسې یادوی :

حاجي انګو یې نور روان که ایلچي د هندوستان که

حاجي انګو تئ لکه شېر ورغی تر پرخ شېر
د بادشاه سلام يې وکی په سلام يې زړګی ښه کی
بادشاه پر مهربان سو وبشرې ته يې حيران سو
حاجي انګو ته يې پيل ورکه د حاجي زړه يې خوشتر که
بيا بادشاه په ښکار روان سو يو شېر ورته عيان سو
شېر د حاجي پر لور ګزار سو د حاجی د توري پرې ګزار سو
زمری سو دو پاره بادشاه يې وکړه ننداره
شپېته زره روپی سوی مواجب درست لښکر سو عجائب

دوه لکه روپی ډېره ملتان
بادشاه ورکړې وحاجي وته انعام

هغه وُچې حاجي انګو دهند دامپراتور له خوا ډېر نازول کېدی په هر مجلس او هر ځای کې به يې له ځانه سره ګرځاوه او په خورا درنه سترګه يې ورته کتل دهند بادشاه حاجی انګو نيکه ته ډېرې او ملتان يعنی ډېره اسمٰعيل خان (ډېر غازيخان) او ملتان د جايګير په توګه ورکړل چې بيا وروسته داحمد شاه ابدالی په دوره کې داورګون د ګمرک او کندهار د ګمرک نيم محصول پرې علاوه سو او د انګريزانو د راتګ تر وخته دده اولادې ته ورکول کېده.

په هر صورت دهند امپراتور ملي قايد ته ښه ډاډګير نه ورکړه ميرويس نيکه په دې مکتوب ډېر خوشحاله سو او دهند له خوا څخه د کوم فوری خطر څخه مطمئن سو شايد چې د مکتوب په لېږلو کې مهم غرض هم داوُ چې د کندهار او افغانانو په نسبت د هند د دربار نظريه ځانته معلومه کړی چې په هغه باريکُ وخت کې د دوی په نسبت څه نظرلري اوس چې له هند نه مطمئن او بېغمه سو نو يې د ملکي او نظامي چارو برابرولو ته ملا وتړله ډېر پارسي مفسدين او فتنه غوښتونکی خلق لا په قندهار کې وو چې له منځه وايستل سي.

دپارس ۳۱ زره عسکر دخسروخان ترقوماندې لاندې

دمخه مورویل چې دهرات حاکم محمدخان گرفتار شو او لښکر یې ماتی وکړه او دا موهم ذکر کړ چې دپارسیانو ټولی حملې ناکامه سوې او پرله پسې شکستونه یې وخوړل نو ځکه دپارس حکومت تصمیم ونیو چې یولوی پوځ تیار او کندهار ته یې راواستوی او وې غوښتل چې په دې پوځ کې دملک تر ټولو غښتلی عسکر دافغانانو دسرکوبی دپاره راغونډ کړي بیانو پر افغانانو یرغل وکړي خصوصاً هغه وخت چې دروسی سفیر اسرائیل اری له خوا مطمئن سول یعنی وروسته تر هغه چې دا سفیر بېرته روسیې ته رخصت سو او د استراخان په ښار کې مړ سو چې دهغه له خوا دپارسیانو زړونه بېغمه سونو یې دکندهار دنیولو دپاره په سترو اقداماتو پیل وکړ. دا موضوع دا صفهان په دربار کې ترمذاکرې لاندې ونیوله سوه مگر نظریات مختلف وُ څو په آخر کې په اکثریت فیصله وسوه چې خسروخان دوژل - سوی گرگین وراره چې هغه وخت دگرجستان حاکم وُ او ډېر دماغ داره سړی وُ دلښکر په قوماندانی مقرر سي څو دخپل اکا او نورو گرجیانو دانتقام اخستلو دپاره دکندهار په نیولو کې ښه زیار وباسي او هم له دې جهته چې په هغه وخت کې گرجیان په توره او جنگ کې ډېر مشهور وُ ځینو درباریانو دا مشوره ورکړه چې باید ټول عسکر دگرجستان له هغو علاقو څخه چې دپارس دحکومت په لاس کې دی راغونډ کړي شي مگر مخالفې ډلې له دې نظر سره مخالفت وکړ او وې ویل چې که ټول عسکر گرجي واستول - سي او بریالی سي شاید چې دپارس دحکومت له متابعته څخه سروغړوي ځکه نو شپږ زره پارسي عسکر یې دعباس قلی بېگ تر مشرۍ لاندې وربېره کړل او دا چې خسروخان دوه سوه زره تومانه دلارې دمصرف دپاره غوښتی دی څوس زره تومنه دې ورکړ سي ملیسون لیکي چې دا پوځ ۳۱۲۰۰ یو دېرش زره دوه سوه کسه وُ پدې

کې یوزر دوه سوه تنه ګرجیان متباقي ګډو ډ خلق ؤ په دې ترتیب خسروخان دیو -
دېرش زره پوځ په سرداری وټاکل سو چې قندهار ته ولاړ سی او دخپل اکا انتقام
واخلي خسروخان دا امر په ډېره خوښی ومانه په ۱۱۲۲ هجری د قندهار خواته راروان
سو بیله کومې پېښې وفراه ته راورسېدی په فراه کې مېشته سو جاسوسان او مخبران
یې هرې خواته ولېږل چې د میرویس نیکه د لښکرو حال راوړی هغه زر بېرته
راوګرځېدل ځکه افغانانو د ګرشک او فراه تر منځ درې خوشې کړې وې .

د خسروخان نفاق اچول

کوم شی چې ډېر د تأسف وړ دی او پر دو د ښمنانو همېشه کار ځنې اخستی
دی او ښه کامیابه شوی هم دی همدغه د نفاق مرض دی چې ځینې ضعیف-
النفسه پښتانه یې همېشه د خپلو په مقابل کې درولی دی او ښه کار یې هم ځنې
اخستی دی ده هم هغه د پښتنو په منځ کې فتنه اچول غوره وبلل ځکه په دې
وسیله چې د غلیمانو د لاسه سوی دي د دې فتنې په ویښولو کې یې زیار ایستلی
دی او کامیابه سوی هم دی نو خسروخان هم دا فکر وکړ چې د نورو حربي
چالو او آلاتو په ترڅ کې د پښتنو تباه کوونکی وسله هم آماده له ځانه سره ولرم
که ضرورت سي کار به ځنې واخلم نو هغه وخت چې له اصفهانه لانه ؤرار هي
سوی د هرات حاکم ته یې حال راولېږه چې ابدالي مشران هر چېرې چې دي زما
تر راتګ مخکی سره راټول کړه ایراني حاکم هم ابدالیان وهڅول چې عبدالله خان
د حیات سلطان زوی چې په ملتان کې اوسېدی او د هند د بادشاه له خوا پنځه سوه
کسیزه [illegible] او تنخوا ورکېده هرات ته راوباله عبدالله خان بې له ځنډه هرات
ته راورسېدی لږ موده وروسته د خسروخان لښکری هم راورسېدې او خسروخان
عبدالله خان ځان ته وروغوښت او دی یې د ابدالیانو د قبیلې د مشر او رئیس په
توګه ومانه او زمانخان یې چې په کرمان کې یې [illegible] ژوند کاوه له ځانه سره

راوست او هغه یې د عبدالله خان د نائب په حیث مقرر کړ و روسته د غلجو بر خلافه یې کومک ځنې وغوښت عبدالله خان او زمان خان په ډېره خوښی د دوی مرستې ته غاړه کښېښوده او په قام کې د لښکرو په ټولونه پسې سو خسرو راتېر سو او فرا ته راورسېدې .

د میرویس نیکه آمادګی

ملي قاید چې د ایرانی لښکرو له راتګ څخه خبر سونو یې افغانان سره راټول او د ایران د سر لښکر له راتګه یې خبر کړل اولس هم د مقابلې د پاره خپله امادګی ښکاره کړه ملي قاید امر وکړ چې ټول کښتونه په بیړه وریبئ او قلاته یې ورسوئ په دې لاره کې ډېر زیار وباسئ چې کروندې تشې توری پاته سي ټولې غلې او دانې ښارته ورسوئ فقط اولس د خپلې اړتیا وړ غلې دانې په کوروکې په څراګانو کې وساتلې چې هغه څراګانې هم په ډېر خوندی ځایو کې جوړې سوی وې چې هر چا ته یې ځای نه معلومېده (څرا په مځکه کې ژور غارته وایي چې لکه د څاغوندې کیندل کېږي بیا خلق شا وخوا پرو ړو رسره اچوي او په منځ کې غنم اچوي چې بیا د غلې خوند هم ورسره نه خرابېږي او هېڅ ډول تاوان هم نه ورسېږي د پردود تاړاکونو په وخت کې اولس خپل قیمتی سامانونه او غلې دانی په دغو څراګانو کې ساتي او نښان یې هم ورک کړی د ښمن ته هېڅ معلومات نه کېږي دا څراګانې تر دوو درو کلو پورې غلې خوندي ساتي) په دې ترتیب ملي قاید د خوړلو کافي ذخیرې په څراګانو کې برابرې کړې چې د پارس او افغان د جګړې د لیکونکی په قول د درو کلو ذخیرې یې برابرې کړې یعنی د درو کالو د محاصرې ترتیبات یې ونیول او د ښار اکثره کمزوری خلک زاړه، واړه، سپین ږیری سپین سری او هلکان یې له ښاره وایستل اولرې سیمو ته یې بوتلل هلته یې په خوندي ځایو کې وساتل له دې کارو څخه چې فارغ سونو له خپل لښکر سره د ګرشک له لیارې د فرا خواته روان سو په لاره کې حال ورته راورسېدی چې ابدالیانو هم له خسرو خان سره د مرستی لوظ وکړ

ملي قايد ته دايراني لښکرتر راتګ داخبره ډېره بده وايسېده چې فراه ته لانه ورسېدلی
داودخان يې دلښکرو په قوماندانی وټاکوټولې دسپرورسالې يې وده ته پرېښودې
ده ته يې دخسروخان سره دمقابلې امروکړ پخپله له يوشمېر پياده لښکرسره دابداليانو
سره د خبرواترو دپاره ورمخ ته سو په فراه اوګلستان کې يې له ابداليانو سره
مرکې وکړې هرڅونه هر ډول پيشنهادونه يې چې ابداليانو ته وکړل د دوی دقبلېدو
وړ ونه ګرزېدل دالومړی ځل وُچې ملي قايد له ناکامی سره مخامخ کېدو داچې
دلته ملي قايد له ابداليانو سره په مرکو بوخت وُخسروخان دګرشک
خواته ورمخکی سوکه څه هم دميلسون په قول دافغاني لښکروشمېرکم وُخودپخوانيو
فتوحاتو په نيشه دومره مست ووچې دا يوموټی پوج ددونه سترپوج په -
يودېرش زره دوه سووته رسېدو مقابلې ته چمتو ولاړ وو ملي قايد لاله ابداليانو
سره په جرګو مرکو اخته وُچې دخسروخان او داوُدخان ترمنځ جګړه ونښته که څه هم
د دې جګړې تفصيل نه دی معلوم خودونه يې ليکلی دی چې دخسروخان لښکرو
په ډېرزور حمله پرې وکړه افغانان چې د دوی لسمه برخه هم نه وُنو ځکه يې
په تدريج پرشاکړل اوخسروخان ترهلمند پورې وت اوقندهارته ورسېدی
قندهار يې محاصره کړ ملي قايد لانه ورارسېدلی ځکه هغه له ابداليانو سره په مرکو
اخته وُ له ابداليانو سره هېڅ جوړه ونه سوه اګرچې په انقراض دوره صفويه کې په
١٠٤ صفحه دګرجستان دتاريخ ليکنه ده وايي چې ميرويس نيکه دابداليانو دکارد
يک سره کولو دپاره خپل لښکر په دوې برخې کړيوه برخه يې دخسروخان مقابلې
ته د هيرمند په غاړه پرېښود له بلې برخې سره پخپله دهغو ابداليانو مقابلې ته
ورورانديې سو چې دخسروخان ملاتړ ته راروان وُ په هرصورت ميرويس نيکه
ابداليان دخسروخان له ملاتړ څخه منصرف نکړای سول اوقندهارته راروان سو
خو داته دقندهار ښارته دده لار نه وه نو دزمينداور په لاره هزاره جات ته ولاړ
له هزاره وُسره يې جرګې وکړې ډېرملاتړ يې ځينې ترلاسه کړ پرخسروباندې

د شمال له خوا محاصره د هزاره ؤ وه او له هغه ځایه د غلجو خواته ورتېر سو او غلجو
ته یې وظیفه ورکړه چې دلویدیځ له خوا څخه ایراني فوځونه له محاصرې سره
مخامخ کړي له هغه ځایه کاکړستان، ژوب، بوري او پښین ته ولاړ او له خلکو
سره یې مرکې وکړې بیا کلات او مستنګ ته ولاړ بلوڅانو د هر ډول مرستو او
سرتېرېدنو لوظ ورکړ هغه ؤ چې له هرې خوا پر خسروخان محاصره راوګرځېد.
له خسروخان څخه د هر ډول غلو دانو او نورو ما یحتاجو ورسېدل بند سول چې
د ده عسکر به هرې خواته ووتل هلته به د ملي لښکرو له خوا وځپل سول په دې
لړکې ډېر ستر رول بلوڅو سرتېرو ولوباؤ ډاکتر لارنس لیکارټ د انقراض صفویه
په ۱۰۵ مخ کې لیکي چې میرویس خان چې له بلوڅانو څخه مرسته وغوښته
ډېر مثبت ځواب یې ورکړ بلوڅانو د کندهار جنوب اولویدیځ سیمې ټولې تر خپلو
تاړاکو لاندې ونیوې پر ایرانیانو او د دوی پر پلویانو یې محکه سره کړه پدې
ترتیب محاصره کوونکی تر محاصرې لاندې راغلل او له کړاوونو سره مخامخ سول
ضمناً ملي قاید د ښار خلکو ته له خپلو فعالیتونو څخه اطلاع ورکوله او هم به یې
دوی ته د صبر او مېړانې توصیه کوله سره له دې چې ایرانیانو داسې ښکاره
کوله چې دوی ته کوم تکلیف نسته خو ملي قاید د دوی پر مشکلاتو پوه ؤ
ذلته په ښار کې د ملیسون په قول څو کمزوریو کسانو د میرویس نیکه بې مشورې
غوښته چې له خسروخان سره خبرې وکړي او ښار ایرانیانو ته تر یو څو شرایطو
لاندې تسلیم کړي دا کسان هم د خسروخان پښتنو ملګریو غولولی او قسم قسم
تحفې یې ورکړی وې ضمناً یې په ښار کې دا پروپاګندې خپرولې چې د خلقو زړونه
وکاږي ملیسون وایي کندهاریانو هغه څه کول که پاریس چې له ناپلیون
سره وکړه یعنی چې د میرویس نیکه بې مشورې له خسرو سره خبرې اترې
شروع او تر څو شرطونو لاندې روغه جوړه ورسره وکړي او ښار ورته تسلیم
کړي چې د دوی دې غوښتنو د خسروخان امید [illegible] پاڅاوه او ښار یې د ځان

وګاڼه نوي د تسليم بلا شرط ماسوا بله خبر نه اورېده د ښار خلک چې د خسرو
په تصميم پوه سول له يوې خوا يې د ميرويس او خلقونا رضايي وليده له بلې
خوا بلا شرطه تسليم کېدل غوښتل کېده نو پخپلو کړو پښېمانه سول تر بلا شرطه
تسليم کېدو يې مرګ غوره وباله نو يې د نورو پښتنو په شان مقابلې ته ملا
وتړله او د همت پښې يې ټينګې کړې محاصرينو د خسرو د لښکرو هره حمله په شا
تمبوله د ښار محاصره اوږده سوه د محاصرې له اوږدوالی ابدالي لښکرې تر ټولو ډېرې
په تنګې شوې ځکه ديو څو ورځو اشرد پاره راغلی ؤ دلته کال ته نژدې شو
عبدالله خان ته يې وويل چې موږ زياته پاته کېدای نسو مالونه او کورونه
مو پر ډاګ پاته دی که هر څو به عبدالله خان مشرانو ته ډاډ ورکاوه. دوی
زياته د چا خبرې ته غوږ نه ايښو د پدې کې زياته برخه ابدالي لښکرې خپلو
کورو ته ولاړې همداؤ چې د ملي قايد لښکرې هم راورسېدې چې په دې
کې خاص طور کاکړ، ترينان، بلوڅان او غلجي شامل و وقندهار ته تر راورسېدو
مخکې يې د ښار ساتونکو ته داسې پيغام راولېږه چې موږ بې تنګه شو او دښمن
بريالی شو له موږ څخه دښمن يو هم ژوندی نه پرېږدي بهتره داده چې ټول
په مېړانه زيار وباسو چې يا په نيکنامی مړه سو يا پر غليمانو بری ومومو د ښار
اوسېدونکو چې دا پيغام واورېده او د ملي قايد له راتګه خبر سونو يې د غيرت
وينې په ځوښ راغلې او دې سترې مقابلې ته يې ځانونه چمتو کړل په دې
وخت محاصره هم تقريباً په نامه پاته وه ځکه خسرو خان په دې دونه جګړو
کې د خپل اردو يوه زياته برخه له لاسه ورکړې وه. او ابداليان هم ډېر ځنې
تللی و لارنس ليکارت د خپل کتاب په ١٠٥ مخ کې وايي چې د سپتامبر پر ١٧ مه
سنه ١٧١١ الکساندر د خسرو د کاکا زوی او د ده يو شمېر سپاره له پښتنو سره
په يوه نښته کې ووژل سول او هم په ايراني پوج کې د پېچش مرض خپور سوی
ؤ په دې وخت کې د ميرويس نيکه لښکرې راورسېدې او د ښار د جنوب له خوا

يې حمله راوړه د ښار جنوبي دروازه خلاصه او د ښار لښکرې وروووتې په يوه
مختصره جگړه کې ايرانيان پرشا سول او لښکرو يې د بابا ولي صاحب دغره په جنوبي
لمن کې تدافعي وضعيت غوره کړ ملي قايد ښار ته ننووت ښار يې په کلي توگه له
محاصرې خلاص سو پښتنو شاوخوا خپل دولونه ورته غزېول . دلته خسروخان له
خپل موفقيته څخه نا اميد او د ښېښتي دلارې په لټون کې سو غوښتل يې چې بېرته پارس
ته ولاړ سي خو دوى په لښکرو کې يې اتفاقي پيښه شوه ايرانيانو غوښتل چې له يوې
لارې ولاړ سي او گرجيان هم پر دوو لارو وُ په دې وخت کې عباس قلي خان د ايراني
لښکرو سردار له خپل اردو څخه راو تښتېدى او د کندهار ښار ته راغى او د ايراني اردو ټول
حال يې ملي قايد ته ووايه او هم يې هغه خلک ور په گوته کړل چې د ده په غياب کې
يې له ښار څخه له خسروخان سره رابطې قايمې کړې وې ملي قايد چې د اټول حال
واورېد او د دښمن په وارخطايي خبر سو نو يې امر وکړ چې اته سوه اوښ په حربي
لوازمو بار کړي چې ټول تهيه سول نو له خپلو شپاړس زره سپرو سره يې په
خسرو يرغل وړ ووړ او په ډېر زړه ورتوب پرې ورغى په دې خونړۍ جگړه کې دښمن
په وړو مبيو شپو کې له ماتې سره مخامخ سو لارنس ليکارټ (د انقراض صفوي) په
۱۰۵ مخ کې ليکي چې خسروخان چې متوجه سو چې گړنې په گړې يې وضع خرابېږي
فرصت يې له لاسه تللى دى د ۱۷۱۱ کال د اکتوبر پر ۲۶ يې د عقب نشيني امر
صادر کړ هغه وُ چې د ده سپرو په پرشا تگ پيل وکړ افغانانو د ميرويس نيکه تر
قوماندې لاندې د کندهار له ښاره راووتل او د خپل رسم مطابق يې پر تښتېدلي ماتې
خوړلي دښمن يرغل وکړ او د ايراني فوځ پر عقب دارانو چې چپله د کيخسرو تر
قوماندې لاندې وُ ډېره سخته حمله وکړه گرجيان د خپل همېشگي عادت له کبله ښه
جنگېدل او ابداليانو هم د عبدالله خان په قوماندانۍ دلاورانه پايداري کوله ليکن
د دوى ايراني ملگري بې تدبه سول او وتښتېدل نو د کيخسرو [illegible] هڅو
کسانو له جملې [illegible] پېښ سو د شايد کيخسرو به جنگ کړى واى چې

ځان او خپل یاران له دې معرکې څخه خلاص کړي خوله بده بخته چې له یوې
ویالې څخه د ټوپ وهلو په وخت کې یې د آس پښه وښویده او پر ځمکه ولوېدی
غلجیانو مخکې تر دې چې دی بېرته په زین کې سپورسي پرې یې نښود او پخپلو
نېزو یې سوړی بړی کړ او مړ یې کړ بازیل چې د سن شارل د مذهب پیروؤ هم
د لته ووژل سو لیکن فرسکو تاری و رونژ ایټالیا یې جراح په تېښته کې
بریالی سو د دې وقایعو شرح لارنس لیکارټ د چخایدز د گرجستان له تاریخ څخه
نقل کړې ده غلجیانو په ډېره بیړه ایرانی لښکرې تعقیب کړې د دوی زیات شمېر
یې په قتل ورسول لیکن گرجیانو او ابدالیانو چې ځان ایستلی وُ غلجی یې
پرشا و تمبول او ځان یې خلاص کړ په دې جگړه کې ټوله توپخانه او ساز سامان
دیاغیانو په لاس کې ولوېدل مقصد یې میرویس نیکه دی د دې شکست خبر
چې اصفهان ته راورسېدی د خسرو خان مرگ د ستر ایرانی اردو ماتې په
اصفهان کې عظیم خوف او هراس تولید کړ.

دلته زموږ ملي قاید دایران له ۳۱۲۰۰ لښکر سره جگړه وکړه د دې ټول پوج له
جملې څخه د سرجان مالکم او نورو مورخینو په قول فقط پنځه سوه یا اوه سوه
تنه د ډېرې چابکې تېښتی له کبله خلاص سول او ټوله توپخانه او تجهیزات یې
پر میدان کې پاته سول افغانی زلمر د دوی پاته آسان چې په لښکر کې بې خاوند
زغاستل سره ونیول او ټولې اولجې سره راټولی سوې او داسې هم وایي چې -
افغاني لښکرو دا تښتېدلی ایرانیان تعقیب کړل مگر لاندې یې نکړای سول.
ملي قاید ولجې پراولس وویشلی نو د شکر سجده یې وکړه او په ډېره سرلوړې
کندهار ته راوگرزېدی چې د ښار ټول وگړي واړه زاړه یې د هر کلی او درناوی
له پاره له ښاره راوتلی وُ ملي قاید به له هر چا سره په مینه روغبړ کاؤ او دوی به د
دې لویې فتحې مبارکي ورته ویله دالویه فتحه د سنه ۱۳۲۳ کال د روژې پر اوومه
نېټه د ملي قاید په برخه شوه.

دپارسیانو دبل لښکر ماتې

دوه کاله وروسته دا صفهان دربار بیا یولوی لښکر سره برابر کړ او د رستم خان په سرداری یې افغانستان ته راورساوه مګر څرنګه چې زموږ ملي قاید دافغان ملت په اتفاق او مرسته ډېر غښتلی شوی و دې لښکر هم هېڅ ونکړای سول افغانانو په یوه حمله کې دا لښکر په تېښته مجبور کړ او رستم خان هم له دې بېرې چې دا سلافو کانه پرې ونسي ډېره چابکه تېښته یې ګټه وبلله او ایران ته وتښتېدی دپارسیانو دا شکست په سنه ۱۱۲٦ کې واقع سو او هم د شاحسین صفوی داوروستی کوشش له ابدي ناکامی سره مخامخ سو او د شاحسین امید ونه یې د ابد دپاره په خاورو ولړل. تر دې پېښو وروسته زموږ ملي قاید دافغان ملت مستقل خپلواکه او خود مختاره واکمن سو د ملیسون په قول پرته د هرات له ابدالیانو نور د ټول افغانستان متباقي افغاني قبایل یې داسې سره متحد کړل چې د مخه نه ولیدل سوی او دافغانانو د ریاست پایتخت یې د کندهار ښار وټاکو او د مملکت په نظم او نسق یې پیل وکړ.

دملي قاید وفات

دافغانانو ملي قاید او ستر زعیم تر ډېرو سترو مبارزو او ډېرو جنګونو وروسته چې متجاوزینو ته یې ماتې ورکړه څه د سیاست په ډګر کې څه د توری په خرپ خو پردی یې له خپلې مېنې وشړل او افغان ملت ته یې زړه آزادی بېرته ددوی په نصیب کړه او افغانان یې بیا د پخوا په شان آزاد کړه د مملکت غربي سیمې یې تر فراه او سیستانه بېرته دافغانانو کړې او دملي وحدت رسیی یې بیا وغښته او تېنګه یې کړه نو په دې وخت کې داجل استازی راورسېد او نه یې پرېښود چې دا ستر زعیم خپل نور افکار عملی کړی د ۱۱۲۷ کال د ذوالحجة الحرام په ۲۸ ورځ یې داجل داعي ته لبیک ووایه که دده نوری آرزوګانې عملي نه سوې

یا یې ارت تشکیلات وضع نکړای سول دا به محترم لوستونکی دده د نه فرصت له کبله وګڼی ځکه چې څولیکی له مخه موو ویل چې په ۱۱۲۶ کال د متجاوزینو له جګړو وزګار سو او په ۱۱۲۷ یعنی یو کال وروسته یې وفات وکړنو دده د آرزو ګانو او افکارو د عملی کولو د پاره یو کال ډېر لږ وخت دی.

د افغان او پارس د جګړې لیکونکی د ملي قاید وفات په دې ډول لیکی دا معروف دانشمند قهرمان او وه کاله په قندهار کې حکمرانی وکړه او د پارس د ډېرې غښتلی او مقتدرې امپراتوری په مقابل کې کلک و درېدی او هېڅکله د یأس او نا امیدی اندېښنې دده د مخې باریک ترینه رشته هم متزلزل نکړای سوای څو چې دده قوا د سن د ډېروالی له کبله ورو ورو په تحلیل ورسېده او صورت یې ناتوانه او مریض سو دده په ناروغی ټول افغانان ویرجن سول همیشه به دده د پوښتنې د پاره ډلې ډلې افغانان راتلل او دده ګټور او مفید نصیحتونه به یې اورېدل او په هغو به یې عمل کاوه.

د ملي قاید وروستی خبرې

د افغان او پارس د جګړې د لیکونکی د لیکنی په قرار کوم وخت چې میرویس د خپل حال خرابوالی حس کړنو یې د افغانانو مشران راوغوښتل او لاندې په لنډو لنډو جملو کې یې داسې وصیت ورته وکړ، خپل ټول کار و نه خدای (ج) ته وسپارئ او پر خدای تعالی (ج) توکل وکړئ جنګ په مړانه پر مخ بوزئ. په هر کار کې شرافتمندانه وضعیت غوره کړئ! هېڅکله د پارسیانو اطاعت ونه منئ په هر قوت او سعیه چې ممکنه وي خپل دښمنان چې پر تاسې حمله وکړي پر شا وتمبوئ ځکه چې ستاسې دښمنان د درباري اختلافاتو په اثر او د دوی د خلکو د فساد او خیانت له کبله خورا په تلوار د فنا خواته روان دی د دوی د شمېر له ډېروالی څخه مه بېرېږئ ځکه چې تاسې سره

متحد یاست پرخدای (ج) موتوکل کړیدی یقین لرم چې دوی به مغلوبه کړئ! په دې وخت کې یې سالنده لنده سوه نور یې نو دخبرو توان نه درلود په ډېر تکلیف یې سترګې روښنی کړې او د شهادت ترکلیمې دمخه یې دا جمله وویله: «اصفهان ونیسئ!» تردې وروسته یې یوه اوږده ساه وایستله دپاک او سپېڅلی روح مارغه یې جاودانی ځالی علین ته والوت د آزادی او آزادی خواهی په دنیا کې یې لوړ مقام او ژوندی نوم پرېښود او تر مرګ وروسته موږ ته وایي:

د ننګ ټوټه به مې هر هډوي
که پس له مرګه په مزار راشي مینه

دلری پښتونخوا خوږ ژبی شاعر میا سید رسول رسا وایي:

میرویسه بابا دم یې دافغان د آزادۍ
ژوندی کړل تا په دم حوری غلمان د آزادۍ
که ته نه وای پښتون کله لیدای شوای په ژوندون کې
باغونه چمنونه ګلستان د آزادۍ
غلجی مورکه پیدا کړي یو میرویس بل په وطن کې
پښتون به بیا روان شي په آسمان د آزادۍ

دده مزار دقندهار دښار څخه اوس دوه درې کیلومتره فاصله لري دهرات کندهار پرلویه لار دکوکران په کلی کې واقع دی دده مزار دافغانانو دنرو، ښځو، وړو، زړو دورتګ مرجع ده ټول افغانان دده مزار ته ورځي اوله روح څخه یې فیض غواړي. داعلیحضرت محمد نادرشاه په زمانه کې دستر پښتانه جناب وزیر محمد ګل خان مومند په سرپرستۍ دملي قاید پرمزار یوه ښکلی ګنبده جوړه سوه. هو په یوه ملت کې چې لږ ډېر حس وي خپل نومیالی نه هېروی.

دحاجي میرویس خان نیکه ورور میر عبدالعزیز

دحاجي میرخان نیکه تر وفات وروسته له هغه چې له فاتحې خلاص سونو لویه جرګه راوبلله سوه او د حکومت د مشر د ټاکلو په شاوخوا کې خبرې اترې شروع سوې څنګه چې د حاجي میرویس خان نیکه دوه زامن میر محمود ۱۸ کلن او میر حسین ۱٤ کلن وُ دا چې د ملي قاید زامن ډېر کم سن نو جرګې د ده ورور چې په کاله کې مشر و د حکومت د رئیس په حیث انتخاب کړ او د مشر توب لنګوټه یې وروتړله میر عبدالعزیز نه د ورور همت درلود نه پوهه، آرام طلبه سړی وله جنګ جګړې څخه یې کرکه کوله نیمه ډوډۍ آرامه اوسه یې د خپل ژوند شعار و هغه وُ چې له یو څه مودې وروسته یې د قوم مشران او غټان راوبلل او جرګه یې جوړه کړه او جرګې ته یې په دې ډول د خپل زړه غوټه وسپړله:

عزیزانو! تر ډېرو مشکلاتو او جنګو وروسته چې موږ خپل زلمی پکې له لاسه ورکړل فکر کوم چې تاسې به هم زما په څېر جنګ ته نه هوسېږئ فلهذا نو په کار دی چې د پارس له بادشاه سره روغه وکړو او س چې مشر ورور مې مرحوم سو او افغانانو ته یې لویه سو به ګټلی ده نو که موږ د روغې او سولې غوښتنه وکړو د پارس بادشاه به یې په ډېره خوښی راسره ومني! باید دا وویل سي چې په دې وخت کې لا ډېر ایرانیان او د دوی ګوډاګیان چې د ملي قاید د رحمدلی له کبله پاته و په ښار کې موجود وو چې هغو په هر قیمت کوشش کاوُ چې پښتانه له خپلې لارې واړوی عبدالعزیز هم د دغو اشخاصو د مزدورو افکارو تر تاثیر لاندې راغلی و او د ده دې وینا د پښتنو په منځ کې شور ماشور جوړ کړ او هغه محبت او حرارت چې تر دې پخوا یې د افغانانو په منځ کې درلود په عمومي نفرت بدل شو. د افغانانو جرګې ورته وویل چې موږ هېڅکله دا بې ننګه

خبره نه شو منلای دا خبره زموږ دقاید له وصیت څخه مخالفه ده که دورور
پر قدم نسې تلای نو روغې ته هم دونه تلوارمه کوه خوله هرې خوا پر -
عبدالعزیز فشارونه وارد شول چې په دې جمله کې د خپلې کورنۍ له خواهم اه
سخت تهدید او مخالفت سره مخامخ سو چې په دا وخت کې په کورنۍ کې موجود
مشر یار محمد خان د یحیی خان زوی د ملی قاید وراره ؤ یار محمد خان عبدالعزیز ته
ورغی او سخت یې تهدید کړ او ورته وې ویل چې: ته باید په ډاګه د دې ناروا
فکر بخښنه له افغانانو نه وغواړی که نه وې نو تر خلکو مخکې به یې موږ لوته
سره معلوموو! په دې وخت کې د کورنۍ لوی مشر چې د سیاسي پوهې
خاوند ؤ حاجي انګو ؤ چې په هند کې یې د سفارت وظیفه اجرا کوله، -
شاه محمود او شاه حسین کوچنیان ؤ، شاه اشرف نوی حلمی ؤ خو بیا هم د پلار
له کړو خوښ نه ؤ په کندهار کې موجود مشر یار محمد ؤ عبدالعزیز خان له یار محمد
څخه ډېر خطر حس کړنو یې فکر وکړ چې دا خطر باید له منځه یوسي هغه ؤ چې ځان یې پر
ناجوړی واچاوه خلق پوښتنې ته ورته راتلل یار محمد د دې د پاره چې اولس
د دوی له خوا بدی څخه خبر نه سي دا کا پوښتنی ته ورغی چې څنګه
هلته ورغی فوراً یې ګرفتاره او دستي یې مړ کړ بهانه یې خلکو ته
داوکړه چې ده پر ما حمله کوله د میر عبدالعزیز دې دوهمې ناروا د -
شا محمود او نورو پښتنو په روح ډېر بد اثر وکړ په تېره بیا هغه وخت چې
دده له پیش نهاد څخه خبر سول چې د پارس بادشاه ته یې پدی لاندې شرطو
کړی ؤ په داسې حال کې چې جرګې دده پیش نهاد بېخي رد کړی ؤ مګر بیا هم
ده په پټه د هغو ایراني ګوډاګیانو په وسیله چې دی یې بې لارې کړی و
د پارس پاچاته ولېږه دده د روغې شرطونه په لاندې توګه وو:
۱- افغانان دې د هغه باج څخه چې د ګرګین په وخت کې اخستل کېدی
معاف وي.

۲- کندهارته دې پارسي عسکرنه راځي.

۳- دافغانانو بادشاهي دې د همیشه دپاره دعبدالعزیز په کورنۍ کې دده دزامنو اولمسیانو وي.

څرنګه چې افغانانو خپله آزادي او خپلواکي پخپلو وینو لاس ته راوړې وه نو چې دعبدالعزیز په دې ناوړه کار خبر سول ډېرې سترګې ورته سرې شوې او د یار محمد خان ناروا قتل یې هم ولیدنو یې دصبر پیمانه لبریزه سوه او همغه وو چې څلو پښتو تنو مشرانو د شاه محمود په مشرۍ جرګه جوړه او فیصله یې وکړه چې باید عبدالعزیز ووژل سي هماغه وو چې دشپې قصرته ورغلل او دی یې وواژه سهار یې نغاره ووهله اولس یې سره راټول کړ او د میر عبدالعزیز مرګ یې اعلان کړ. پخوا زمانه په کندهار او پارس کې دا رواج وُ چې دښار په دروازو او برجانو کې نغاري ځړېدې چې یوه مهمه موضوع به پېښه سوه نو به نغاره وډنګېده خلک به سره راټول او موضوع به ورته اعلان سوه. دلته هم له معمول سره سم چې د اولس زاړه واړه سره راغونډ سول نو شا محمود لومړی دخپل اکا پیش نهاد چې په پټه یې د پارس بادشاه ته کړي وُ خلکو ته وښود بیا یې څرګنده کړه چې د ده اکا دخپلې شخصي آرامي او خوش ګرزانۍ دپاره غوښتل چې پښتانه بیا د پارسیانو تر لاس لاندې کړي او د هغوی مطیع یې کړي او زموږ خپلواک مملکت بېرته وران او د پردو تر لاس لاندې سي افغانان بېرته غلامان کړي تر دې وروسته یې د یار محمد د مرګ جریان خلکو ته ووایه چې یار محمد خان پر دې ناوړه پیش نهاد سخت احتجاج وکړ او دی یې تهدید کړ چې له خپلو کړو پښیمانه سي ده پر ځای د دې چې دکاله او اولس خوابدی ته غاړه کېږدی یار محمد خان یې په ناروا ډول په شهادت ورساوه نو هغه وُ چې ماله پښتنو مشرانو سره مشوره وکړه جرګې دا فیصله وکړه چې دی باید پخپله له مینځه یو وړل سي هغه وُ چې مانن شپه دی مړ کړ او دخپل بد چاره مې پخپله وکړه اوس نو رتا سي پوهېږئ

اوستاسی کار، هرڅوک چې دخپل حکومت په مشرتوب تاکی لومړی بیعت به
زه ورسره کوم ما ددې دپاره چې داولس په منځ کې وینې توی نه شي دا
مسوولیت مې پخپله په غاړه واخیست فقط ستاسې دښېګړې دپاره نه دځان
دکوبې ادعا دپاره . اولس چې له جریان څخه خبر سو اوورته ثابته سوه چې
محمود رښتیا وایي نو یې ده ته آفرین اوشاباس ووایه اوپه خپل منځ کې یې
له یولر مشوروروسته دی دځان بادشاه وټاکه اوشاهي لقب یې ورکړ
نوشاه محمود وباله سر .

دعبدالعزیزخان دمرګ قصه دعبدالغفارهوتک په قلمي دیوان کې داسې
ویله سویده :

عزیزخان یارمحمد — دښمني یې شوه بې حد
شیطانانو راهزني کړه — دیارمحمد یې دښمني کړه
یارمحمد یې پرې شهید کړ — ولحد ته یې ورسید کړ
چې توضیح یې داسې شان وه — واوره ته په داعنوان و
عزیزخان جوړه حیله کړه — دمرض یې بهانه کړه
یارمحمدسو په خبر — چې مرض یې ده ابتر
نوروان پردغه لورسو — گردشاه پاته په کورسو
چې دی ورغی دیوان ته — په پرسش دعزیزخان ته
هغه آن یې دی بندي کړ — هم یې مړ داسې دستي کړ
په خونی بیا عزیزخان سو — مخ تورن بیا په شاهان سو
دارفتاردعزیزخان و — ورسره ټول شیطانان و
دوه کاله یې حکومت کړ — باندې زهر یې راحت کړ
شاه محمود وکړه غیرت — دعزیزخان په بد طلعت
مې یوځوې سنبه خاصان و — دهوتکو صلاحیان و

اتفاق یې وکړ یاره دعزیزخان دمرګ دپاره
شاه محمود سه ورروان اکای مرکه عزیزخان
محمود کښیناسته پرتخت
خدای ج ورکړی وُښه بخت

د شاه محمود تر تخت کښیناستو مخکې عبدالله خان ابدالي په هرات کې دپښتنو یو ریاست قایم کړی وُ چې وروسته یې بیا غوریان مرغاب او بادغیس هم اشغال کړ. وروسته چې یې خپل ریاست ته یو څه سر او سامان ورکړ نو یې پر فراه چې د شاه محمود قلمرو وُ حمله وکړه او فراه یې اشغال کړه شاه محمود چې له دې واقعې خبر سوله لښکر سره فراه ته روان سو اسدالله خان د عبدالله خان زوی د فراه او دل آرام تر منځ د شاه محمود مخې ته ورغی او د دوی په منځ کې جګړه ونښته چې په نتیجه کې اسدالله خان د جنګ په میدان کې مړ سو او لښکر یې - وتښتېدی شاه محمود فراه بېرته ونیوه مګر په عبدالله خان او ابدالیانو یې نور غرض ونکړ شاه محمود د فراه له نیولو وروسته بېرته کندهار ته ولاړ شاه محمود چې د خپل قلمرو له تنظیم څخه فارغه سو نو پر ځای د دې چې د افغانستان یو والی تامین کړي د ایران د فتح په فکر کې سو هغه وُ چې لښکر یې سره برابرولو وروسته یې د ایران خوا ته حرکت وکړ مخکې تر دې چې ایران ته حرکت وکړی بیجن سلطان الکوزای یې چې اصلاً د فراه وُ د خپل نایب او جای نشین په حیث مقرر کړ پخپله د ایران په لور روان سو اولس د ده له اقدام څخه خوښ وځکه فکر یې کاوُ چې د ملي قاید وصیت پر ځای کوی چې په دی ناره کې د دوی فکر معلومېږي:

تر سر کېږي د بابا دواوې غواړي
محمود واخستله توره له پارسیانو به مریان ښځې کړي جوړي

هغه وچې شاه محمود سیستان ته ورسېدی له هغه ځایه یې پر کرمان یرغل وکړ دایوه ناره ده:

ـــــ که زمنی پښتانه توریالی زمنی
په غزاولاړو کرمان ته تویږي اوس پرپردو هیواد وویني

کرمان پې محاصره کړ محاصره اوږده سوه په دې وخت کې مشهور ایراني سردار لطف علی خان له یوې لوی فوج سره کرمان ته راغی د لطف علي خان اوشا محمود په منځ کې جنګ روان وُ چې شاه محمود ته خبر راغی چې بیجن سلطان په کندهار کې بغاوت کړیدی هغه وُ چې شاه محمود د کرمان جګړه ناتمامه پرېښوده او کندهار ته راستون سو دلته په کندهار کې بیجن سلطان الکوزایي چې شاه محمود د خان د وکیل اونایب په حیث مقرر کړی وُ له ملکُ جعفر پارسیبان سره چې سیاسي بندی وُ لاږ جوړه کړاود بنار د پارسیبانانو په مرسته یې په بنار کې بغاوت شروع کړی وُ او تریوه حده بریالی شوی هم وُ ځکه افغاني لښکر ټول کرمان ته تللی او بنار خالی پاته وُ خو پر ټول بنار یې لاقبضه نه وه کړی چې شاه حسین په بیړه له اطراف څخه کومک راوغوښت او اولس په بیړه ورته راورسید و چې له یوې مختصرې جګړې وروسته بیجن سلطان او ملکُ جعفر ګرفتار سول او وروسته له محاکمې اعدام سول چې په دې لنډی کې ورته اشاره سویده :

چه لکزی ته له ګومانه شاه راغبرګ سو
حسین خان توریې ته لاس کړ لکزی د حسین خان له لاسه مزګ سو

شاه محمود چې له دې وضعیت څخه خاطر جمعه شو ترېیره کاله په کندهار کې پاتې سو وروسته له یوه کاله یې بیا لښکرې سره برابرې کړې او د ایران پر لور روان سو یوه قصه ده وایي شاه محمود چې له کندهاره څو منزله لرې شو نو لښکر او ډول ده پرواړ خپل افسران خپلې خیمې ته وربلل او پوښتنه یې وکړه چې له دې ځایه کندهار لرې دی که اصفهان؟ هرچا به ورته ویل چې له کندهاره خو اخو منزله ګډې چې کوچ سوی یو اصفهان د هرلرې دی وروسته سیدال خان ناصر وغی ده خپل سوال ورته تکرار کړ سیدال خان ورته

وویل چې کندهارلرې او اصفهان نزدې دی ځکه کندهارته موشا او اصفهان ته مخه ده هرې خواته چې دې شا سوه هغه لرې ده نو یوه نا زه ده وایي:

که سرده اصفهان دملکو سرده
چې اصفهان نزدې کوي سیدال ناصرده

افغاني لښکرې د بم[1] له فتحې وروسته کرمان ته ورسېدې په دې وخت کې د افغاني لښکرو تعداد د یو پولنډی پادری سیاح دلیکنې په قرار چې دی وایي ماله عبدالله خان افغان څخه چې دې ناجوړه ؤ په اصفهان کې پوښتنه وکړه چې ستاسې دلښکرو تعداد څونه دی عبدالله خان چې دشاه محمود ایشک اقاسی و راته وویل چې زموږ لښکر ۱۳ زره پښتانه اته زره هزاره او څلور زره بلوڅ ؤ چې کرمان ته راتلو پنځه ویشت زره افغاني فوج وو.

پر کرمان جنګ شروع سو د کرمان قلعه محاصره سوه د تېر وار په څېر افغانانو محاصرې ته اوږدوالی ورنه کړاوله هرې خوا یې پر کرمان یرغل شروع کړ او قلعې ته یې زینې کښېښودې او پرې وروختل چې دا نا ره د دې واقعې شاهدی وایي:

احمدخان میاڼی ښاغلی ده زلمو کې
دکرمان کلاته خېزي دتوپوګولی یې اوري په زینو کې

هغه وچې کرمان اشغال او مدافع عسکر یې تسلیم سول دلته افغانانو ته ډېرې وسلې وغیره دغنیمت په توګه په لاس ورغلی شاه محمود په ایران کې کرمان خپله لومړی پایګاه وټاکله دا ځای یې مضبوط کړیو څه عسکر یې دلته پرېښودل او پخپله دا صفهان خواته روان سو.

---

(۱) بم یې نورالله خان د حاجي انګو مشر زوی ته پرېښود پخپله شاه محمود دکرمان په لور خپل پیشرفت ته ادامه ورکړه.

دوهم څپرکی

د شاه محمود هوتک سوبې

شاه محمود خپله دوهمه حمله چې د محمد محسن په قول په اوله د محرمې کال ۱۱۳٤ چې ۲۲ داکتوبر کال ۱۷۲۱ سره سمون خوری په ایران باندې شروع کړه شاه محمود له دوو کالو وروسته چې دلومړی او دوهمې حملې تر منځ وقفه تیره سوه بېرته کرمان ته راغی سره له دې چې وخت لا دګرمی ؤ دلوت په دښته کې ډېر انساني او حیواني تلفات ورر سېدلی ؤ که څه هم ډاکټر لارنس لیکارټ په انقراض صفویه ص۱۵۱ کې وایي چې دا فوج دایران دفتح کولو دپاره ناکافی ؤ خو افغانان خپلو تېرو فتوحاتو دونه مست کړی وو چې هر څه ورته هېڅ ښکارېدو ځکه د د دوی جنګي قابلیت او مذهبي جوش او جذبې دا کمبوت له منځه وړی ؤ له بلې خوا شاه محمود او دده سرداران دایراني حکومت له فساد او سره پاشلی حالاتو څخه ښه خبرو وا فغاني اردو پر ۲۲ داکتوبر کرمان ته راورسېد او بې له مشکلاتو یې په ښار قبضه وکړه خو په کرمان کې مستقر ایراني فوج چې د رستم محمد سعد لو تر قوماندانی لاندې ؤ په ارګ کې ځان قلابند کړ خو شاه محمود دخپلې ځوانۍ او بې تجربه ګۍ له کبله پر دې مستحکمه کلا د حملې امر ورکړ افغاني عسکرو په بې ساری توګه مخامخ پر کلا حمله وروړه چې دا ناره هغه صحنه داسې تمثیلوي :

احمد خان میانې ښاغلی ده زلمو کې
د کرمان قلاته خېزي د توپو ګولی یې اوري په زینو کې

د شاه محمود اردو ته په دې حمله کې زیات انساني تلفات ورپېښ شول هغه ؤ

چې د زیاتو تلفاتو څخه د مخنیوی په غرض یې په داسې حال کې چې له زمبورکه سوا
بل ډول توپخانه یې هم نه درلوده نو یې د کرمان په قلا بندې اکتفا وکړه که څه
هم دایراني لښکرو د خوراک څښاک سنه بند وبست شوی ؤ او رستم محمد سعد لو
هم ډېر غښتلی او توریالی قوماندان ؤ محاصره اوږده سوه په افغانانو کې شکایت
شروع سو حتیٰ داسې وایي چې ځنې خلق بېرته وطن ته ولاړل چې په دې شپو
ورځو کې چې د جنوري اخري شپې وې رستم محمد سعد لونا جوړه او مړ سو د ده
جای نشین شاه محمود ته پیشنهاد وکړ چې که ته له محاصرې څخه لاس واخلی ۲۵۰۰
تومانه به تاوان درکړو هغه ؤ چې شاه محمود هم دا د جوړې پیشنهاد غنیمت وګاڼه
او جوړه یې وکړه او خپلو لښکرو ته یې مخ په وړاندې د اصفهان په لور د مارش امر وکړ
هغه ؤ چې افغاني لښکر له کرمانه د یزد په لور وخوځېدې دا چې له کومې لارې د شاه محمود
قواوې له کرمانه یزد ته ولاړې معلومه نه ده خو د ۱۷۲۲ کال د فروري په نیمایي کې
یزد ته ورسېدې مخ کې د شاه محمود تر رسېد و یزدیانو د ښار دروازې په ځان
پسې تړلی او ځان یې محاصره کړی ؤ افغانان چې یزد ته ورسېدل بیا یې کوشش وکړ
چې د یزد په استحکاماتو کې لاره پیدا کړي مګر بېځایه تلفات ورپېښ سول شاه محمود
د مخکنی تجربې له مخې یزد پر خپل ځای پرېښود او مخ په اصفهان یې خپل پیشرفت
ته ادامه ورکړه شاه محمود له یزد څخه د ورزانی د کلي په لاره چې د زاینده رود پر
غاړه ؤ او ٦٤ میله له اصفهانه فاصله لري ورسېد او په همدې کلي کې شاه محمود
ته دایراني شاه حسین پیشنهاد راورسېد چې ویلی چې که ته له خپل پرمختګ څخه
منصرف شی ٦٠٠ بدری سپین زر به درکړو شاه محمود دا پیشنهاد نور هم د سلطان
حسین په کمزوری تلقی کړ د هغه له منلو یې ډډه وکړه او خپل پرمختګ ته یې دوام
ورکړ هغه ؤ چې دایراني بادشاه له خوابل وړاندیز ورته راورسېد شاه محمود هغه
هم مسترد کړ بیا شاه محمود اصفهان ته درسېد و په لاره کې د محمد آباد کلي ته چې
له اصفهان څخه په ۱۸ میلی کې واقع دی ورسېد او همدا ؤ چې د اصفهان او یزد

شاه محمود هوتك

اصلي لارې ته راولوېدی شاه محمود چې د سجزی کلی ته راورسېدی له اصفهان څخه د ایراني لښکرو د راوتو څخه خبر سو هغه
ؤ چې ده د محمد آباد له کلی سره واړول او د ایراني لښکرو راتګ ته منتظر سو. د شاه محمود
قواؤ په دې ډول موقعیت درلود چې د ده د قواؤ ښی خوا له اصلي لارې سره ترنیم میلی
پورې د هغه کلی د غربي او جنوب غربي پورې چې اوس یې هم ګودالونه موجود دی
پرته وه د خپلو اصلي قواو قلب یې پر هغو د روو ړو غونډیو باندې ځای په ځای
کړی ؤ چې افغانانو له دې مختصرو غونډیو څخه تر ګلن آباده پورې دا ټوله دسته
تر نظر لاندې ساتله د برزون نهر هم دلته د محمد آباد او ګلن آباد د کلیو تر میانځ
له شمال څخه و جنوب او جنوب غربي خوا ته جریان درلود په دې ځای کې د
شاه محمود پوځ داوبو له درکه له کافي سهولت څخه برخورداره ؤ علاوه له دې
څخه یې د تاینیي قلعه چې اوس یې هم خرابی شته دی د خپلو قواؤ ښی څنګ
یې پرې حمایه کړ. شاه محمود چې له یزد څخه راتېر شو د ایران دولت ویرې
واخیست او ډول ډول تدبیرونه به یې کول. ایراني صدراعظم محمد قلي خان
داسې ویل چې موږ محاصرې ته تن ورکړو دا عسکرو لوکه هر څونه ډېر دي خو
بیا هم د غلزو غونډې غوښلیو او بې باکو جنګیالو عسکرو مقابله نسی کولای
موږ به د ایران له نورو سیمو غښتلی او تعلیم یافته عسکر راټول کړو بیا به نو
له شاه محمود سره جګړه و نښلو و خو نور د دې نظر یې مخالف وو او د فوري
جنګ غوښتنه یې کوله ځکه دوی ویل چې دا ناچیزه لښکر څه شی ده موږ
به ټول یا مړه یا به یې مټې وروتړو او د شاه حضورته به یې پیش
کړو د بادشاه هم دغه لار خوښه وه او د عبدالله خان د عربستان د والي
خط هم په دې موقع چې دوه مزله له اصفهانه د قمشی په ښار کې و او له
هغه ځایه خط لیکلی ؤ د فوري حملې غوښتنه کوله. خط په دې وخت کې
راورسېد او د بادشاه زړه یې ډېر تقویه کړ نو یې د فوري جنګ نقشه خوښه
کړه څونه چې صدراعظم بې غیرته او بې زړه ؤ همدومره د هغه پر عکس

سید عبدالله د عربستان والي توریالی او بې باکه ؤ نو د دوی په منځ کې
اختلاف حتمي ؤ دې والي پر بادشاه باندې ډېر نفوذ درلوده په ډېره اسانی
یې کولای شوای چې خپله نظریه په شاه ومني ده پر بادشاه زور واچاؤ چې
د فوري حملې تدارکات باید ونیول شي او ده ذمه واخیسته چې زه به ډېر
زر خپل عرب سپاره سره راټول اوله تاسو سره به یو ځای شم هغه ؤ چې د
فوري حملې د پاره تدارکات نیول شروع شول او په اولس کې د شپږ ومیاشتو
د مالیې د معافی خبر هغه چاته چې په اردو کې داوطلب شامل شي په کلیو او
باندو کې خپور شو چې په ډېر ولږو شپو ورځو کې ډېر لښکر سره راټول شو په دې
لښکرو کې رستم خان چې یو کرجي شهزاده ؤ ډېر غښتلی او تعلیم یافته عسکر درلودل
او هم همدا ډول د علی مردان خان چې یو ښاغلی نظامي سردار ؤ ډېر غښتلی عسکر تر
قوماندې وو او هم د وولس زره عربي سواره د سید عبدالله تر قوماندې لاندې
ؤ هغه ؤ چې محمد قلي خان صدراعظم له شپېتو تر اتیا زره لښکرو سره د ۱۷۲۲ د
مارچ د میاشتې پر درېیمه له اصفهان څخه وووت له دې لښکر سره ۲٤ غټ توپونه
وو چې د فلیپ کولومب نومی فرانسوی افسر تر قوماندې لاندې وا کرچې رسمي
قوماندان احمد خان ایرانی ؤ فلیپ اصلاً فرانسوی او د پاریس اوسېدونکی ؤ
او د روس په اردو کې یې هم خدمت کړی ؤ ډېر یو ماهر توپچي ؤ په هغه ورځ چې
صدراعظم له اصفهانه له خپل ستر اردو سره د شاه محمود مقابلې ته روان سو
سید عبدالله هم د قمشی له ښار څخه له دوولسو زرو عربو سپرو سره د ده ملاتړ ته
ور روان شو د وی ورځې وروسته د سید عبدالله لښکر د محمد قلی خان له اصلي ستر
لښکر سره یو ځای شو په دې دول د ټولو لښکرو تعداد مختلفو منابعو داسې
ښودلی دی:

منبع	د ایراني قواؤ تعداد	د افغاني قواؤ تعداد
تاریخ نادری ص ۸	د ایرانیانو په هکله څه نه وایي	۸۰۰۰

منبع	دایراني قواؤ تعداد	دافغاني قواو تعداد
زبدة التواریخ ص ۲۰۶	قریب ۸۰۰۰۰	۹۰۰۰
مجمع التواریخ ص ۵۶	۸۰۰۰۰	۴۰۰۰۰
کاردان دفرانسی د وزارت خارجې		
له ارشیف څخه جلد ۶ ص ۱۴۸ -	له ۴۵۰۰۰ څخه تر ۵۰۰۰۰	۱۰۰۰۰
ژوزف آي سالمیان په ترکي ژبه -	۵۲۰۰۰	۱۴۰۰۰
ژوزف آي سالمیان په فرانسوي ژبه -	۵۰۰۰۰	۱۰۰۰۰
د هالنډیانو د روزانه دفتر وقایع ۳ مارچ -	۵۰۰۰۰	۱۲۰۰۰
کرونسکی	۵۰۰۰۰ -	۴۰۰۰۰

همداسې تخمین شوی له یو په څلور یو په پنځه پوری.

دایراني قواؤ قوماندانی په محمد قلي خان صدراعظم او سید عبدالله د عربستان په والي اړه درلوده شاه مخکې تر دې چې قواوې یې د جنګ میدان ته حرکت وکړي امر صادر کړ چې له فرح آباد څخه دې توپونه ښار ته رانقل شي او د قصر مخ ته دې ودرول شي خو دا امر تر اجرا لاندې ونه نیول شو ایراني قواؤ په لومړی ورځ له ښار څخه په لږ څه فاصله د شهرستانی له کلي سره چې د ښار جنوب شرقي خواته واقع ده واړول او د مارچ پر ۴ د شرق خواته راوڅرخېدا او د اصفهان او یزد اصلي لارې ته ولوېدل دا قواوې چې د خراسکان لوړو ته ورسېدې له هغه ځایه ښی خواته وڅرخېدې او د کورت له تنګی څخه تېرې شوې و هغه د ښتې ته ورسېدې چې د ګلناباد او محمداباد په هغه کې واقع دي ایراني قوماندانانو دا خوښه کړه چې یو ستر میدان کې خپلې سترې قواوې سره ځای پر ځای کړي ایرانیان د مارچ پر اوومه د برزون تر نهره یو کیلومتر تېر شول او هغوی د افغاني لښکرو مغرب په یو میلی کې موضع درلوده، په دې ورځ یو معمولي آخ ډب د علي مردان د قواؤ او افغانانو په منځ کې پېښ شو بله داسې واقعه نه ده پېښه شوی د سلطان حسین منجمانو ویلی وُ چې د مارچ تر اتمې له مخې ستوری

د سعد خانې ته نسي داخلېدای خوشاه محمود او ملګري يې د لارنس ليکارت په قول (۱۵۸ مخ) د ايرانيانو کثرت يعنی ډېر زياتوالی وار خطا نکړای شول او په خپل ځای ثابت قدمه ولاړ وو د ايرانيانو خرافاتی بادشاه چې د خپلو منجمانو په پيشګويي قناعت نه وُکړی امر يې صادر کړ چې هغه سحر اميزه ښوروا دې هم دی ستر اردو ته ورکړه شي د ده له سردارانو څخه يوه يې ورته اطمينان ورکړی وُ چې که په عسکرو دا ښوروا وخوړله شي دوی به په يوه نامريي صورت مبدل شي او پر دښمن باندې به له ډېر ستر مزيت څخه برخورداره شي دا ښوروا دی په داسې لوښيو کې تهيه شي چې په هر لوښی کې د نر وزګړی دوې پښې او ۳۲۵ دانې شنه نخود په اوبو کې پاخه شي او يوه پيغله نجلی دی ۳۲۵ وار د تشهد کلمه پرې ووايي او پرې پويې کړي بيا دې نو په عسکرو وخوړه شي او دا او امر ټکي په ټکي اجرا شول سهار د مارچ د مياشتې په اتمه بلاخېزه ورځ راورسېده لمر راوخوت دوو لښکرو يوله بل سره وليدل. د دواړو لښکرو په منځ کې يو فاحش تفاوت موجود وُ ايرانيانو نه يوازې پر افغانانو زياتوالی درلود بلکه متحد الشکله جامې يې درلودې د دوی اردو ټول په هر ډول ښه وسله سمبال وُ اکثر لښکر يې ډېر پرشکوه ښکاريده. برخلافه د افغانانو رنګونه الوتی، جامې خيرنې او څيرې وې په لښکر کې د بريښ شی نه وُ پرته له توري او نيزې خو د ايرانيانو د آسو عراقونه لاد سروزرو هم پکې وُ پر چاغو او تازه د مو آسو يې داسې سپرلی کوله لکه رسم ګذشت ته چې روان وي خو افغاني آس ډنګر او کبڼ ولاړ وُ - پروفيسور برون ګلناباد د جګړې مشابهت د ساساني عهد د ايرانيانو او مسلمانو عربو د قادسيه د ۶۳۵ ميلادی کال د جنګ او له مغولانو سره تر بغداد د باندې د معتصم بالله خليفه سره جنګ سره مقايسه کړی دی وايي په دې درې واړو مواردو کې شکوه او جلال ظاهری د مدافعانو او خواری او نيستی د مهاجمينو ښکاري چې تر توجه لاندې ونيوه سی نو د ګيبون په قول د قادسيې په جنګ

کې عدم تساوي دایرانیانو په نفع یو په څلور او د خلیفه او مغولانو په منځ کې تر دې لاهم ډېر فرق وجود درلود په دې درې سرو موردو کې تجربې او ثبات رأی د وسلې لږ والی او کمزورتیا جبران کړېده په تعین د نظم او طرز د صف آرایي د دواړو خواوو د قواؤ په برخه کې د مورخینو په وینا وو کې تناقض تر یوې اندازې مشکلات پیدا کړی له بده مرغه په دې ټولو کې هېڅ یوه افغاني منبع نشته تر هغه ځایه چې استنباط شویده - ایراني قواوې په دې ډول صف آرایي شوې وې: د عربستان والی او د ده عربي سواره د ښی خوا په شا کې موقعیت درلود و روسته له ده د ښي لاس په زړه کې رستم خان گرجي قوللر اقاسي علاوه د ده له خپلو قواؤ د سلطنتي گارډ هغه توریالی گرجي یو یو راټول شوی عسکر و هم موقعیت درلود په منځ د قواؤ کې محمد قلي خان له څلوېښتو زرو عسکرو سره موقعیت نیولی ؤ په کینه خوا کې علی مردان خان فیلي د لرستان والي قوماندہ درلوده پر بله ډله علي رضا خان د گیلویه د غره او سېدونکی قوماندہ درلوده ایراني قوماندانانو د خپل لښکر د ډېر ښت له کبله خپل صفونه تر ډېرې مسافې د جنوب خواته پراخ کړی ؤ چې د جنگ په وخت ښه تره افغانان له هرې خوا سره راوپېچي.

افغاني لښکرې هم په درو برخو ویشلی شوې وې پر ښي لاس امان الله سلطان چې د افغاني اردو یو غښتلی او تجربه کاره قوماندان ؤ، شاه محمود پخپله د لښکر د منځ قوماندہ په غاړه درلوده او په کیڼ لاس کې نصرالله چې د سیستان له زردشتیانو څخه ؤ قوماندہ درلوده هېچا د ورځې په اوږدو کې جنگ ته زړه نه ښه کاوه اعتماد الدوله د ډار او احتیاط له کبله د لومړی گام له اوچتولو څخه ځان ژغوره او په حقیقت کې یې غوښته تدافعي وضعیت حفظ کړي - افغانان هم د ایرانیانو د لښکر له زیاتوالی او شکوه او جلال څخه په بېره کې معلومېده، د مازیگر څلور بجې وې چې قطعي قدم رستم خان گرجي پورته کړ

او د شاه محمود په کیڼ لاس یې په نصرالله سخته حمله وکړه او په بې نظمی
یې وشاتګ ته اړ کړ د عربستان والي په همدغه وخت دایره واره خپل
لښکر د شاه محمود دارد وشاته ورساوه خو خلاف د پخوانی نقشې به یې د
افغانی کیڼ لاسی اردو د شاله خوا حمله کوله چې د دوی کار یکطرفه کړي
خو دی چې دایره واره راوګرزېدی د شاه محمود پر اوطاقو یې حمله
وکړه او پر خیمو یې قبضه وکړه وایي چې شاه محمود چې ولیدل چې د
کیڼ لاس لښکر یې د دښمن د حملې توان نه لري په دې وخت کې امان الله
سلطان ورته وویل چې خپل مخ پرېده پر رستم حمله وکړه مؤرخین وایي چې
شاه محمود دا هیڅ سپکه نه وبلله چې زما یو نوکر ماته حکم کوي بلکه د امان الله
سلطان له وینا سره سم یې پر دښمن حمله وکړه او حمله یې هم داسې وکړه
چې دوه سوه متره تر خپل لښکر په مخکې د دښمن په لښکرو ورګډ سو د شاه-
محمود له حملې سره سم نصرالله هم مخ پر راوګرزاوه محمد قلی خان او دده قوي لښکر
پخپل ځای وچ پاته شو. د عربستان والي دایرانیا نو کومک غوښتلو ته هیڅ
غوږ ونه نیوی خو بالعکس شاه محمود وخپل قوماندان ته موثر کومک ورساؤ
او په لږ وخت کې یې د رستم خان رابطه له نور ایراني لښکر سره پرېکړه، رستم
په دې وخت کې خطر احساس کړ او د نور وایراني قوماندانانو د کومک تمه یې وخته
نو یې تېښتې ته ملاوتړله څو له خپل نور اردو سره یو ځای شي خو دا فکر ډېر
ناوخته ورپیدا شوی ؤ په دې وخت دده ټول لښکر له ماتې او تېښتې سره مخامخ
شوی ؤ او شکست یې خوړلی ؤ په هر صورت ګرجیان او د دوی سردار له هرې خوا
محاصره او تر حملې لاندې راغلی ؤ په ډېره سر تېری جنګېدی او د برزون نهر ته
ورسېدی رستم خان د تېښتې په نیت غوښتل چې د برزون تر نهر آس په ټوپ
تېر کړی خو د آس ټوپ تر ځایه نه ورسېدې او پښه یې خطا شوه په نهر کې
ولوېدې افغانان ورته راورسېدو بېرته پر آس د سپرېدو فرصت یې ورنه کړ

اوپه نیزویې سوړې بورې کړې رستم خان هغه ډول لکه یې ولیکل کاله پخواد ده
وداره چې افغانانو زغمې د جنګ په حال کې له آس څخه راواچاوه او په نیزویې
سوړې بورې کړې هم پخپل واړه پسې ولاړ علیمردان خان او دده لښکرو د
شاه محمود دکین لاس یې قوماندان امان الله سلطان باندې حمله وکړه داجګړه
د محاذ په شمالي برخه کې روانه وه افغانانو هغه ډیر ډپارتانو په ډول داسې ښکاره
کړه چې کوالکی د وړې ماتې کړیده خو تر هغه ځایه چې ورسېدل چې دوی د جبهې
په شا کې اوښان چوکړي وو او زمبورکې نومې توپونه یې پرې بار او خپل واړې ته
منتظر و تا کلی حد ته چې ورسېدل امان الله سلطان امر وکړ چې توپونه مخه
خلاصه کړې هغه و چې افغانان نیم چې خوا ته وپېچل شول نیم یې ښې خوا ته
د توپخولې ایراني لښکر ته ور خلاصې شوې داسې مرکبا ره کوله باړې یې پرې
وکړه چې تلفات یې پرې اندازې تېر شول چې په دې حمله کې د علیمردان خان
ورور هم د مړیو په جمله کې و او پخپله علیمردان خان تپي او په ډېر خواړې او تېښته
یې د جګړې له میدانه وپوست دې لښکر په چابکه منډه میدان پرېښود او وتښتېدل
محمد قلي خان صدراعظم له خپل غښتلی لښکر سره ځای پر ځای ولاړ د رستم خان
حشر یې ولید او د علیمردانخان ماتې ته هم کوږې. ډاکټر لیکارټ لیکي چې د محمد-
قلي خان لښکرو مختصر تماس له افغانانو سره نیولی و خو تېښته یې مناسبه
وبللې او وتښتېدل افغانانو چې دایراني لښکر تزلزل ولید خپل بریدونه یې
پسې چابک کړل او په ډیره برېښنا دوله حمله کې په داسې حال کې چې فلیپ-
کولومب درو ته اوږدوکړې و چې افغانان د ورسېدل احمدخان تر یې-
باشي یعني د توپچي قوماندان او فلیپ کولومب او نور افراد یې دایرانیانو په
اصطلاح لکدمالې شول او مړه کړای شول او په سالمه توپخانه افغانانو قبضه
وکړه دایران ستراردو ورته کتل چې د دوی توپخانه افغانانو تصرف کړه
خو دوی دونه وار پار خطا کړې و چې پرېشادمغ راڅرګند یې هم نسوای

کولای او په ډېره بېړه يې د خورت د تنګي خواته مخه کړه او د خورت له تنګي تېر او په اصفهان ننوتل پر دې تښتېدلیو عسکرو ویرې دونه غلبه کړې وه چې په اصفهان ننوتل په ځان پسې دروازې تړل يې هېر شوی ؤ او پخپله اصفهان هم له يوې بې ساری ویرې او ګډ وډی سره مخامخ شوی ؤ بې له شکه که شاه محمود په عاجله توګه خپل پر مختګ ته دوام ورکړی وای بې له ټکه پوکه به په اصفهان ننوتلی ؤ خود شپې تیاره راورسېده خلک نابلده ؤ ده فکر وکړ چې کېدای سي د شپې په تیاره کې په کوم یوه دام کې ونه لوېږم ، دا چې ځینې ایراني او اروپايي مأخذونو د تلفاتو شمېر چا څنګه او چا څنګه ښودلی دی له بده مرغه تر اوسه هېڅ داسې افغاني منابع نه دی پیدا سوی چې د دې ستر جنګ حال د پښتنو له خولې واورو پرته له دې نارو :

که غوټون دی په ګولون کې لوی غوټون دی
پښتانه باندې ګډېږي د دښمن يې له تېرې توری کوټون دی
که ډارکه پر دې ډارکه له کوټونه
پرګلون يې ماتې وکړه ځنې پاته شوه توپک ، توري ، توپونه
سرې ګولی دی ډګلون پر میدان اوری
نوری پروت دی په میدان کې ښایسته صورت يې ندی پله پوري

یورپي او ایراني منابعو په دې ډول د تلفاتو اټکل کړېدی ژوزپ آپي سالمیان پخپلو ترکي یادداشتونو کې لیکي چې افغانانو او ایرانیانو هر یوه پنځه زره او پنځه سوه تلفات درلودل خو کلراک بیا ایرانیان شپږ زره او افغانان اووه سوه بولي د هالنډ د هند شرقي دفتر په خپلو روزانه یادداشتونو کې لیکي چې د ایرانیانو تلفات له څلورو تر پنځو زرو پورې ؤ او د افغانانو په برخه کې پټه خوله پاتې ده محمد محسن لیکي چې د ایرانیانو تلفات درانه وو څه شی چې د ډاکتر لارنس لیکارټ په نظر ډېر محتمل دی هغه دا دی چې د ایرانیانو تلفات پنځه زره او افغانان پنځه سوه . لارنس لیکارټ د دې جنګ د بری

اوماتې علتونه په دې کې بولي چې ایرانیان بې اتفاقه وویوه قوماندې نه وه خو برخلافه شاه محمود دافغانانو په صف کې که دجنګ په ګرمۍ کې له ځانه ویره نکړه ښکاره په تزلزل درایې اخته سو خود امان الله خان دلارښودنې په اثر یې ددې لغزش کفاره وکړه دانکته باید په نظر کې ولرو چې شاه محمود فقط شل کلن زلمی ؤ دده او سردارانو په منځ کې کامل اتفاق او یووالی موجود ؤ عسکرو یې په هغه شجاعت او سرسختی چې د دوی معمول وې جګړه پای ته ورسوله.

داصفهان محاصره

دګلناباد دجنګ ویروونکی خبر د ۱۷۲۲ کال دمارچ په اتمه دشپې پر نهو بجو اصفهان ته راورسید اولس په بیره کې ولویدی دجګړې له ډګر څخه دراتښتیدلیو سیلاب په ښار راننووت او خپلې لیدنې کتنې یې په ډیره ویروونکی توګه اولس ته واورولې ددې ویروونکو خبرونو په اوریدو داولس وارپار خطا او دچارو واکی له لاسه ووتې داسې ویره پر ایرانیانو راغله چې دوی فکر کاوه چې هیڅ قدرت نشته چې دشاه محمود مخ نیوی وکړي چې دی دایران تخت نه ونیسي او داسې اوازې خپرې شوې چې مصیبت تر دې ډیر زیات دی په نیمه شپه کې ښځې په ژړا له کورو راووتې او تر ډیره دښار په کوڅو او واټونو کې یوې بلې خواته زغاستی غوښته یې چې دتبروک په کلا کې پناه واخلي دمارچ په نهم سهار چې لمر راوخوت او ایرانیانو دویروونکی دښمن غښتې نښانې ونه لیدی یو څه یې زړه تکیه او پریشانی یې څه کمه شوه شاه او وزیرانو یې دښار د ساتنې لارې چارې سنجول پیل کړه په ډیره بیړه لومړی دزاینده رود پلونه - مستحکم سنګر بندي شول بیا یې داصفهان دقلا استحکامات تقویه کړه زاینده رود دپسرلی بارانونو او دواورو ویلیدو دونه مست کړی ؤ چې غاړې تر غاړې راتلی پخپله زاینده رود یو مضبوط سنګر داصفهان دساتنې دپاره

ؤ ، دزاګروس دغرو واوري په کرار کرار راویلیدي او له زاینده رود څخه یې
داصفهان دساتني دپاره دیوې اوږدې مودې دپاره یو مستحکم سنګر جوړاوه
سره له دې ټولو تدافعي اقداماتو او د دښمن له نشتوالی بیاهم داصفهان اولس
له ویرې سره لاس اوګریوان ؤ، د ډوډۍ نرخ ډېر جګ شوله دې څخه معلومیده
چې بدې شپې راتلونکی دی سید عبدالله دعربستان والي دورځې له مخې
له خپل فوځ سره اصفهان ته راورسېدی او هغه یو شمېر څاروي او نور دغنیمت
مال ورسره ؤ چې له افغاني اردو څخه یې په لاس راوړی ؤ خو دې اولجو
دایرانیانو ختلی زړه نسوای ټینګولای دکابینې په یوه غونډه کې چې ریاست
یې بادشاه په غاړه درلود محمدقلی خان صدراعظم پادشاه ته پېشنهاد وکړ
چې له ښهر څخه ووزه یو خوندي او مستحکم مقام ته ولاړ سه هلته به نور زیات عسکر
راټول او افغانان به له ماتې سره مخامخ کړو. محمدعلی حزین دا موضوع دشاه
له څو تنو محارمو سره ترمذاکرې لاندې ونیوه او دوی ته یې وویل چې تاسې
شاه ترغیب کړی چې اوس لادتېښتې فرصت شته دی داصفهان لار خلاصه ده
مصلحت په
دې کې دی چې بادشاه ووزي، شاه محمود بیادونه فشار پر اصفهان نه اچوی او
اصفهانیان په هرصورت دده تکلیف له سره لرې کوي دی به تریوې مودی دلته
وی اخیر به بېرته خپل هېواد ته ولاړسی یا به له اوږدو سلطاني جګړو سره مخامخ
سي. دا ډېر سودمند تدبیر ؤ دا دونه مخلوق به نه تلف کېدو خو تقدیر ته نه ؤ
منظور څو ناپوه کسان د دې خبرې مانع وګرزېدل لکه چې له نورو مأخذونو څخه
ښکاري چې دا ناپوه کسان له سید عبدالله دعربستان والي او ملا باشي او حکم باشي
او څه نورو کسانو څخه عبارت وو.

بادشاه وروسته له هغه چې په اصفهان کې دپاته کېدو اراده وکړه سید عبدالله
یې دقواؤ په قوماندانی مقرر کړ او ډېر چابک استازی یې دګرجستان والی شپږم
رختانګ او علي مردان خان دلرستان والي ته چې په جنګ کې ټپي شوی ؤ

واستول همداسې يې قاسم خان د بختيارو د قبيلې مشر او نورو معتبرو -
سردارانو ته پيغامونه واستول او د اصفهان د تقويې د پاره يې لښکر ځنې
وغوښتل خو وختانګ له شاه خوا بدی ؤ او لوړه يې کړې وه چې زه به د شاه
د مرستې د پاره له ملا څخه توره ونه کاږم او علي مردان خان ورته وليکل چې
ټپ مې ښه شي در به سم نورو خانانو هم وعدې ورکړې چې مرستې ته به
درسو خو داسې خاص نقشه نه شوه جوړه له کومو خلقو سره چې بادشاه په
مشوره بوخت سو يو هم لطف علي خان داغستاني و چې له بندي خانې
څخه يې دربار ته راووست او هغه بادشاه ته توصيه کړې وه چې کومو خلقو
چې ستا د خدمت په لاره کې په راستي ملاوې تړلي دی د جود او سخا له
لارې د دوی د خدمت تلافي وکړه او امر صادر کړه چې غلې دانې په کافي
اندازه ښار ته راوړې شي او هم امر صادر کړه چې د هغو ټولو سردارانو سرونه
پرېکړای سي چې د ګلناباد په جګړه کې يې سپيتانه کړيده بادشاه د ده
دوه مخکيني پېشنهادونه ومنل مګر د درېيم په برخه کې يې غوږ کوڼ واچاوه
او لطف علي خان يې بېرته بندي خانې ته بوتی شاه له شکه خلاص په دې
برخه کې د حکم باشي او سيد عبدالله په خوله عمل وکړ.

ګرونسکي ليکي چې افغانانو د قزلباشتو لښکر چورکړ ځکه د اسلام لښکرې
وتښتېدې او افغاني لښکرو د دوی توپخانه او نور اسبابونه او پنځويشت زره تومانه
نغدې روپۍ خپل لښکر ته ولېږدولی دا چې په يوه ناره کې ودې خبرې ته اشاره
کوي وايي:

که پنګی د پرديو تر ملا پنګې
ملو خان ورپسې سپور سو ملو ګل لا په او تاک کې چښلې بنګې

ملو خان دامان الله سلطان افغاني اصطلاحي نوم دی چې د پرديو د خزانو -
ضبطول ځنې ښکاري او هم ګرونسکي ليکي چې د ګلناباد له جنګه وروسته اته شپې

افغانان پرځای پراته وو آرام یې کاوه دلته په اصفهان بادشاه سید عبدالله
ته وظیفه ورکړه چې ته ولاړشه وګوره تحقیق وکړه داڅه شول، دلته اوازې
دي چې شاه محمود بېرته کرمان ته تللی دی خو سید عبدالله چې د شپې-
ورغی افغانان بېغمه پراته دی هزاره خپلې تمبرې وهي بلوڅان خپلې چغکې
وهی او پښتانه خپل ډولونه غربوي هېڅ داوایي نه چې موږ د دونه لوی
دښمن په منځ کې په مزلو مزلو له خپله هېواده لیرې پراته یو دلته شاه او
وزیران د اصفهان استحکامات مضبوطوی وایي موږ باید ښار ټینګ کړو
محمود به جلفا وغیره چورکړي بېرته به ولاړسي دغه چرت یو څه د دوی خیال
ته تسکین ورکاوه لارنس لیکارټ وایي چې شاه محمود وروسته له هغې
سترې فتحې څو ورځې په عجیبه توګه په کراره تېری کړی ده و دې ته توجه
وکړه چې د خپل خطرناک مقصد خواته هڅه وکړي شاه محمود وقائع نګار نه
درلود له دې وجې د ده د فکر اټکل له جنګه وروسته په دې څو شپو کې
نه شو کولای چې ده به د عقب نشینی فکر کاوه چې کرمان خلاص کړي او که
د ده هغه پېشنهاد چې وروسته له جنګه یې ودته وکړ هیلې او ارزوګانې
راپارولی وي چې د اصفهان پرخوا خپل پرمختګ ته ادامه ورکړی د بادشاه
ضعف یې احساس کړی او د کرمان له تګه یې صرف نظر کړی وي احتمال لري چې
شاه محمود به کرمان ته پرشاتلی خو د دربار د سولې پېشنهاد به د ده اراده بدله
کړي وي خو منطقی تعبیر یې دا دی چې بې شمېره غنیمتونه چې د ده لاس ته
ورغلل ده د دویم ګام د پورته کېدو په هکله فکر کاؤ چې آیا دا پرېمانه غنایم چې
د ده په لاس کې لوېدلی دي په دغو قناعت وکړي او قندهار ته ولاړشي او که
نور هم په جسورانه توګه پرمخ ولاړشي او له شاه حسین نه تخت و تاج
په لاس راوړی. یقیناً ده ته د خپل لښکر لږوالی معلوم وُ او دا چې له وطنه څو نه
لیرې دی په دې هم پوهېدی او هم په دې پوهېدی چې دا په اصفهان کې

لښکر خو چنده ډېر دی او هم دایران په نورو ښارو کې کافي قواوې موجودې دي حتی ګرجیان یوازې د ده بس ؤ خو دی به په دې نه ؤ خبر چې وختانګ لوړه کړېده .

که شاه محمود پرې پوهېدلی وای چې ایرانیان دې شکست څونه مضمحل کړیدی او دوی څونه خپله روحیه بایللی ده یقیناً به یې د جنګ په صبا د اصفهان پر خوا خپل پر مختګ ته ادامه ورکړی وه او که ده دا اقدام کړی وای له هیڅ ډول مقاومت سره به نه ؤ مخامخ شوی او که کوم مقاومت ورسره شوی وای هغه به ډېر کم ؤ په دې صورت کې به د اصفهان خلق له هغه مصیبت څخه چې د محاصرې په دوران کې ورسره مخامخ وو خوندی به پاته شوی و او هغه وحشتناکه تلفات به نه ور اوښتل . معقوله فرضیه دا ده هغه څه چې عاقبت یې شاه محمود په دې مصمم کړ چې د اصفهان د نیولو هڅه وکړي هغه خبرونه چې له - اصفهان څخه ورته رارسېدل څه د جاسوسانو په وسیله څه د هغو خلکو په وسیله چې د شاه مخالفین ؤ هم برابرېدل لکه څنګه چې شائع وه چې فتح علي خان داغستانی پخوانی صدراعظم چې سلطان حسین رهوند کړی ؤ او دی لکه شاه محمود له اهل تسنن څخه ؤ وایي چې له ابتدا څخه یې له شاه محمود سره رابطه درلوده بل سید عبدالله د عربستان والي چې دی له اهل سنت والجماعت څخه ؤ . احتمال لري چې شاه محمود په ۱۱ د مارچ له کلنا باد څخه حرکت راکړی وی د دوی له فوجي ټیکانې محمداباد څخه څولاری د اصفهان خواته راتلی د ګورت له تنګی څخه تېرېدونکی لار مستقیمه لارده او نورې لارې چې د خراسکان له غونډیو تېرېږي او د فیروزآباد او جوزون له کلیو او کاج څخه تېرېږي موجودې وې غیرله دې څخه یوه بله لار هم وه چې له جنوب او جنوب غربي خوا د افغاني اردو څخه چې د امین آباد او زینبی به وکاج ته تللی او له هغه ځایه به له هغو لوړو څخه تېرېده او سروش بادران ته به رسېده دا کلی د زاینده رود په شمالي غاړه پروت

دی اوله دې ځایه لارله زاینده رود سره دکرارج له میانه تېرېږي په اخیر کې د
یزد او اصفهان عمومي لارې ته چې د وه نیم میله دشهرستانی له کلي لرې ده هم
د دغه لارې په منځ کې د لارې چپې خواته دچوم پل چې په زاینده رود باندې
واقع دی له دې ځایه بله لارله سروش بادران څخه جلا کېږي او په دشت ایله
تمامېږي اوس دغه پل نشته معلومه نه ده چې شاه محمود له کومې لارې څخه
راغلي دی خو ډېر احتمال لري چې د سروش بادران له لارې به راغلی وي ځکه
دا په یوه پراخ دشت کې راځي د دښمن دکمین احتمال نشته او بله داده چې
زرتر زره رود ته رارسېږي چې پرېمانه او به د دوی په واک کې شي بله دا چې
د رود په داسې طغیانی وخت کې دچوم او دشتې دپلونیول بېخي دا همیت
وړ خبر ده له مختلفو منابعو څخه داسې معلومېږي چې شاه محمود مخکې تر دې
چې له محمد آباده حرکت راوکړي خپل یو شمېر قواوې یې تر زاینده رود تېرې کړې
کېدای شي چې له دغو پلو څخه به یې یو یا دواړه تر استفادې لاندې نیولی وي
خو هغه پلونه چې اصفهان ته تلل د دوی له نظره پټ وکېدای شي چې دا فرض کړو
چې شاه محمود چې د سروش بادران کلي ته رسېدلی وی خپل یو شمېر عسکر یې
د رود جنوبي غاړې ته تېر کړي وي پخپله به یې دکرارج د رود پر غاړه اصلي لار
نیولی وي او کېدای شي چې ده په داسې حال کې چې د زاینده رود په غاړه تللی دحوم
له پله څخه یې زیات شمېر قواوې تېرې کړې وی. د مارچ په ۱۱ مازیګر وخت د
افغاني مخکښو عسکرو او د شهرستانی د پله د محافظینو تر منځ ډزې تبادله شوې
افغانانو په دغه ورځ یا په صبا یې له دغه پله سره یوه غښتلی اردو واړول دوی
له دغه ځایه ځنې ازمایشي حملې پر شهرستانه باندې وکړې خو احمد آغا
د حاضر باشو یو غښتلی قوماندان چې بیا وروسته قوللر اقاسی مقرر شو
دا حملې دفع کړې او افغانانو ته یې تلفات ورواړول. په دې وخت کې څو
سوه نفر کومکیان ایراني لښکرو ته راورسېدل چې په دوی ساه ننوتله د

شاه محمود دلښکر څارونکی بیکاره نه وُ ناست دوی شاه محمود ته خبرورکړچې په
جلفاکې هیڅ ایراني عسکر نشته او هم دمعلوماتو له قراره جلفا هم دغسې خوشې
پاتې ده شاه محمود توفیق نه وُ پیدا کړی چې دشهرستاني کلاونیسي بس خپله
حمله یې په جلفا شروع او خپلې قراوې یې جلفا ته متوجه کړې دجلفا ارمنیانو
مخکی تر هغه چې حمله پرې وشي له اصفهان څخه یې داحتمالي حملې دپاره
کومک غوښتی وُ دجلفا خلک په یوه عجیبه شمشه کې واقع شوی وُ ایرانیانو
له بې عقلی څخه د جلفا له ارمنیانو له دې کبله وسله ټوله کړې وه چې له افغانانو
سره په متحد شي دایرانیانو دغوښتنی په اثر دجلفا ارمنیانو مشرانو درې سوه
کسه رلمی دشاهي ماڼی د حفاظت له پاره دایراني عسکرو دغیاب په وخت کې چې
هغه جنګ ته تللی وو استولی وُ ایرانیان چې دګلناباد له جنګه راغلل بیرته یې له
ارمنیانو وسله واخیسته او دوی یې رخصت کړه چې که بیا ضرورت شو
تاسې به راوبولو د جلفا دخلکو دکومک غوښتنې په مقابل کې دایرانیانو له خوا-
هیڅ ډول کومک ورته نه راغی افغانانو دمارچ د ۱۶ او ۱۷ ترمنځ په جلفا برید
وکړیو نفر ایراني د دوی مرستی ته نه راغی صفی میرزا له یو شمېر سپرو سره غوښته
چې جلفا ته ولاړشي مګر دعربستان والي په دې پلمه وګواښاوه چې دتاج وتخت
وارث ته نه ښایي چې جګړې ته ولاړشي او ځان په خطر کې واچوي بیرته یې وګرزاوه
ارمنیان سره له دې چې ایرانیانو تنها پرېښودل او کافی سلاح یې هم نه درلوده خو
بیا یې هم بې ځایه مقابلې ته ملاوتړله او یو بل ته به یې په فارسي نومونو بزغ کاوُ
دا به یې ښکاره کوله چې ګواکی ایرانیان په موږ کې سته مګر افغانان د
ارمنیانو او ایرانیانو په فرق نه پوهېدل دا خو د دوی خیال وُ چې ګرجیان او له
درجه ایرانیان دوهمه او ارمني په نورو درجو شمېرل کېدل پښتنو ته ټول یو
ډول برېښېدل نو د دوی تدبیر بیځایه وُ افغانانو له یوه مختصر اخ وډب څخه
وروسته جلفا ونیوله د جلفا او فرح آباد ترمنځ دونه فاصله نه وه شاه محمود سوه

سو چې د ده د خبر رسولو د مامورینو اطلاعات صحیح وُ دا چې ایراني عسکر په داسې
حال کې چې د شاه محمود د پرمختګ خبر هم ورته ورسېد د فرح آباد خوشي پرېښودل
له عقله لرې ده خو بیا هم باید ووایو چې خیانت موجود وُ له فرح آباد څخه دفاع په -
داسې حال کې چې لوړه قلا او برجان یې درلودل د داسې چا په مقابل کې چې سنګینه
توپخانه یې نه درلوده (په دې ځای کې د ښاغلی لیکوال دا خبره هیره ده چې
پنځویشت ستر توپونه د ګلناباد په جګړه کې د شاه محمود په لاس کې وُ او ده ته
دا تر ټولو قیمتي غنیمت وُ په هر صورت زه دا توری دا نقراض صفویه څخه
لیکم) شاه حسین د فرح آباد په آبادولو کې ډېرې زیاتې پیسې لګولې وې او خپلې
د خوښۍ شپې ورځې به یې هلته تېرولی خو داسې تصمیم ونیول شو چې
پرته له یوې ګړۍ مقاومته له هغه څخه سترګې پټې کړې لکه څنګه چې احمد آغا
او داسې نور ښاغلی عسکر هلته مستقر شوی وای یوازې دا نه چې د -
فرح آباد دفاع به شوی وای بلکه د جلفا او د شاه محمود د نورو عملیاتو په
مخ کې به یې هم خنډونه ایجاد کړی وُ. د فرح آباد فتحې و شاه محمود ته دا
امکان ورو باخښه چې د اصفهان په څنګ کې له یوې کافي مستحکمې قلا څخه برخوردار
شي ګرونسکي وایي که شاه محمود فرح آباد نه وای نیولی نو د اصفهان فتح
به ورته مشکله وه شاه محمود بې له دې چې یوه ګولی وولی فرح آباد یې تصرف
کړ دې ځای په ډېره ښه توګه د ده ضروریات ورپوره کړو شاه محمود بې-
له ځنډه فرح آباد د خپلې قوماندانۍ مرکز وټاکه دلته دی متوجه سو چې
ایرانیانو خپل درانه توپونه دلته په خاورو کې پټ کړی دی افغانانو هغه شپږ
درانه توپونه له خاورو راوکښل پاک یې کړل او په کار یې واچول په دې اثنا
کې د جلفا خلک شاه محمود ترفشار لاندې ونیول سره له دې چې د جلفا له خلکو څخه
یو سړی هم مړ کړای شوی نه دی خو کورونه یې چور کړای شول او شاه محمود
له ارمنیانو څخه او یا زره تومنه خراج د دوی په غاړه کښېښود داسې مقرر شوه

چې نیمې دې فوري تحویل شي او نیمې دې بیا تحویل شي هرچا چې به د خراج په تحویلي کې سستي کوله تر لرګو لاندې اچول کېدی وایي چې د دې ارمنیانو پنځوس پېغلې پښتنو عسکرو بیولی وې خو چې مشرانو یې شاه محمود ته عرض وکړ هغه بېرته ټولې خپلو خپلوانو ته وسپارلی ځنی د شاه محمود ترامر له مخه د دوی د چیغو او نارو له کبله بېرته ټولې خپلو کورو ته بیولې شوې وې.

دا چې په جلفا کې افغانانو د غنایمو وغیره په ټولولو کې بیړه درلوده - ایرانیانو دا فکر کاوه چې که کوم نجات بخشه فوج راورسي افغانان بېرته کرمان ته ځي د مارچ پر ۱۸ ټول اروپایان په چارباغ کې د صفي میرزا په امریو مجلس ته را بلل شوی ؤ له دوی څخه شهزاده پوښتنه وکړه چې تاسې د جلفا له خلکو سره چې د خپلې دفاع له کبله یې عجز ښکاره کړیدی او په بې خونده سرنوشت اخته شوی دی څه ډول مراوده درلوده ؟ اروپایانو د ده د سوال صریح جواب ور نکی خو دوی او شهزاده ټول په دې پوهېدل چې له اصفهان څخه د نه مرستې له کبله جلفا تسلیم شوه شاه محمود چې د جلفا او فرح آباد له نیولو هغه هم بې ټکه ټوکه ډېر خوښ ښکاریده خپله لومړی حمله یې په اصفهان باندې د مارچ په ۲۰ شروع کړه هغه د خپلو عسکرو زیاته برخه د زاینده رود پر جنوبي برخه کې متمرکزی کړی خو په هغه ورځ رود ډېر مست ؤ په دې توګه تر نورو ورځو زیات پوخ سنګر معلومېده یوازینی کار چې د افغاني قواؤ له لاسه وشو هغه دا ؤ چې له هغو ایراني عسکرو سره چې د رود پر شمالي غاړه مستقر وو ډزې تبادله کړي.

اوس به د هغه پېشنهاد په هکله څه ووایو چې سلطان حسین د سید عبدالله په وسیله شاه محمود ته کړی ؤ ګرونسکی لیکي: (۳۸ مخ) چې شاه سلطان حسین د حویزی خان چې مراد له سید عبدالله څخه دی وروغوښت او ورته وې ویل چې ته له خپله ځانه و شاه محمود ته ولیکه څرنګه چې د اهل سنت و جماعت له کبله چې

ما او تاسې هم مذهبه یو ستاسې خیرخواه اولتاسې یره متحدیم نو تاسې ته وایم
چې تاسې دا پلا روستی غنیمتونه چې په لاس درغلی دي له ځانه واخلئ او بېرته
ولایت ته ولاړسئ ځکه چې هره ورځ فتح او بری د سړی ملګری نه وي کېدای شی
چې د قزلباشو بادشاه ته لښکری راورسېږي بیا به تاسې له مشکلاتو سره مخامخ
شئ زه به بادشاه او وزیران اغفال کړم چې تاسې تعقیب نکړي او که په صلح
راضي یاست د قندهار ولایت به د همېشه د پاره تاسې ته پرېښودل سي او له
بادشاه څخه به زر او روپی او هدیې واخلم دربه یې کړم ستاسې د مقاصدو
به ذمه واخلم! دا خط یې شاه محمود ته ولېږله شاه محمود ټول افغانی مشران
سره راټول کړل او په لوړ آواز یې دا خط ورته ولوست او په خپل منځ کې یې
مشوره شروع کړه چا تصدیق، چا انکار وکړ او له دې مکتوبه یې د قزلباشو د
ضعف اندازه ولګوله او وې ویل چې دا فتحه دلوی او مهربانه خدای له خوا
راکړه شویده بېرته وطن ته تګ مناسب نه دی هغه وُ چې د محمود هوښیارانو
دې ټولنې ته وویل چې د قزلباشو دولت له یو شهرت کاذبه څخه عبارت دی
په دوی کې رحم او شفقت نسته همېشه فرصت او کذب او حیلې ته منتظر
دی د دوی په عهد او پیمان اعتماد نسی کېدای دا هزاره او بلوچ ورونه چې له
موږ سره دی د دوی نظر دا دی چې ایرانیان که رښتیا وایي اول باید پاچا خپله لور
له یوه لوی جهېز سره موږ ته راکړي دویم له قندهار او د هغه له ټولو توابعو څخه لاس
وکاږي او موږ ته یې راکړي او د ټاکلیو هیئتو په وسیله سرحدونه تعین
شي موږ او دوی باید دیو او بل د دوستانو دوستان او د دښمنانو دښمن واوسو
که صلح غواړي لارې داده! دا چې د حویزی خان ته خط راورسېدی شاه او
وزیران او سپاهیان په تفکر کې ډوب شول او ډېر وار خطا شول.

شاه له رجالو او مشرانو سره وویل چې دا نور شرطونه امکان لري مګر د بادشاه
لور ورکول دا خو به موږ ته په جهان کې یوه ذره اعتبار نسي پا ته تر دې ژوند

خومرګ بهتردی موږ به ټول غیرت وکړوله اطرافه به لښکرې راشي او په ښار
به شاوخوا خندقونه وکنو او دفرح آباد خلک به ښارته راولو ډېرفوج لرو
همت به وکړو یوڅه موده به دځان حفاظت وکړو د دوی ذخیرې به تمامې
شي نو نا چاره دی ځي به. په جواب کې یې افغانانو ته ولیکل: چې ستاسې ټول
مطالب امکان لري خو لورورکول د شیعه وسني ته امکان نه لري شاه وخپل
رعیت ته لورورکول صلاح نه ګڼي. څرنګه چې جواب وافغانانو ته ورسېدی -
اتفاق یې وکی غیرت یې وکړ څوورځې یې صبروکړ او بیا یې داصفهان اطرافو ته
لښکرولېږه داصفهان شاوخوا یې تاراج اولوټ کړه ګرونسکي لیکي: «۴۰ مخ» افغانان
سهاروختي د جلفا په ارمني ښارکې راتوی شول داغنیاؤ کورونه یې لوټ
کړل مګر په غریبانو او کلیساګانو یې غرض نه وکړ او حتی یو سړی یې هم نه دی
وژلی ترنوروز لس ورځې وروسته یې د جلفا له اطراف څخه داصفهان محاصره
پیل کړه داچې په منځ کې زاینده رود واقع ؤ ورتېرېدای نشوای پراوښانو یې
زمبورک بارکړی راوړل او توپونه یې راوړل، ښارته یې مخامخ کېښودل او جنګ
یې پیل کړ څوورځې یې یو پربل ټکان کول لکه د هلکانو بازی څوک تلف شوی نه دی.
فقط په یوه ځای کې ایراني قواوې له خطر سره مخامخ شوی هغه د مرنان د پله
په آخرنی برخه کې وې چې داغربي آخرنی پل داصفهان ؤ شاه محمود دا پل د
کمزوریو استحکاماتو له کبله چې دېوالونه یې کوچنی ؤ د حملې دپاره انتخاب کړی
و په دې جګړه کې ایرانیان پرشاوتښتېدل افغانان پسې ورمخ ته سول دوی بېرته
مخ پرې راوګرزاؤ او ډېر سرسختي یې ښکاره کړه افغاني قواؤ ونګړای شول چې د
پښې د تمکېدو ځای پیدا کړی هغه وو چې بېرته راترشا سوه طرفینو ته دروند تاوان
ورسېدې خود ایراني عسکرو روحیه په دې ډېره لوړه شوه چې څنګه مووکړای
شوای چې افغانانو ته ټینګ شو، د دې جګړې په صبا یې داصفهان په اطرافو
کې خلق ترفشار لاندې ونیول او خلکو ښارته مخه ونیوه په ښارکې ګڼه ګوڼه زیاته

شوه او هم دایران د دولت فرمان صادر شوی ؤ چې څوک دې له ښاره څخه نه وزی دې دواړو اقداماتو له دې سره مرسته وکړه چې په ښار کې دخوړو له درکه خلک له مشکلاتو سره مخامخ شي مخکې تر دې چې د اصفهان محاصره تکمیل شي غیر جنګي افراد به له ښار څخه ایستل کېدل څو دخوړو له کمی سره مخامخ نشي له بلې خوا خلکو د شمال او مغرب خواته مخه وګرزوله پر هغه خوا د افغانانو قبضه نه وه شوی خپل ما یحتاج یې له هغې خوا تأمین کول همدغه د شمال او مغرب له لارو څو زره سپاهیان له اطرافو څخه و اصفهان ته راوستل شول.

شاه محمود چې د پلو په اهمیت پوه ؤ کوشش یې وکړ چې یو له دغو پلو څخه په هر ډول چې وي لاس ته راولی دالله ویر دی او خواجه جو پلو نه ډېر مستحکم شوی ؤ نو یې د مارچ پر ۲۳ د شهرستان پل تر برید لاندې ونیو د شاه محمود سرتېرو بېدرېغه توری ووهلې ایرانیان یې پسې واخیستو پر پله یې قبضه وکړه، د پله مدافع توپچي قواؤ د ژاکوب نومی اروپایي چې د کور لانډ او سېدونکی او د فلیپ کولومب پر ځای ټاکل شوی ؤ له هغو لوړو څخه چې توپونه یې پرې نصب کړی وافغاني عسکر تر ګوله باری لاندې ونیول او درانه تلفات یې ورو رسول او افغانان بېرته له پله څخه پر شا سول. له دې واقعې څخه شاه محمود ډېر خواشینی سو ځکه اصفهان ته تازه دمه قواوې راتلې د غلو دانو او نورو احتیاجاتو لار یې نه وه تړلی شاه محمود پوهېدی چې څه موده وروسته او به لږ بېږي بیا به دوی کولای سي چې هر چېرې چې وغواړي خپلې قواوې تر رود پورې باسي خو دی له دې هم بېرېدی چې شاید زیاتې قواوې راسي تښتېدلی دښمن به تقویه کړي فلهٰذا نو لازم وو چې هر څونه ژر کېدای باید خپلې قواوې تر رود تېرې کړي او اصفهان په کلی توګه محاصره کړي هغه ؤ چې د اپرېل پر ۶ مه د مرنان پر پله چې ایرانیانو ضعیفه نقطه بلله نو یې ښه تقویه کړی وه خپل زیات توریالی عسکر یعنی ګرجي عسکر یې هلته ځای پر ځای کړی ؤ د اپرېل

پر ٦ مه جاسوسانو شاه محمود ته خبر ورکړچې کرجیان دشپې سخت ډېر
شراب خوري چې شراب وخوري بېسده پراته وي شاه محمود فوراً خپلو قواؤ
ته د مرنان پر پله دحملې امر صادر کړ او هم یې تاکید ورته وکړچې تختې
ورسره واخلي د پله مات ځایونه پرې جوړ کړي ایرانیانو پلونه مات کړي هم ؤ
حمله له سپېدو چاو دسره پیل شوه په لږ وخت کې بریالی توب ته ورسېده
کرجیان تر وروستی سړی پورې له منځه یوړل شول افغاني عسکر پسې تېر
شول دعباس آباد په سیمه یې حمله وکړه احمد آغا دایرانیانو توریالی قوماندان
ډېره دفاعي جګړه وکړه خو افغاني ځلمو وځا په د یولړ خونړیو جګړو وروسته
افغاني قواوې له هغو افغاني قواؤ سره یو ځای شوې چې دښار له شرقي
او شمال شرقي خوا څخه راتېر شوی وی وروسته له هغه د اصفهان د محاصرې
کړی سره ورسېده اصفهان محاصره او پارسیان په ښار ننوتل نوری نود
هر ډول کومک او غلو دانو لارې پرې بندې شوی ځای پر ځای پوستې
واچولی شوې چې حفاظت د سپرو قواؤ له خواکېدې دا پرېل په میاشت
کې په اصفهان کې قحطي سترګې ښکاره کړې د ډوډی بیه ډېره جګه شوه
نور نود اصفهان پرشا وخوا جنګ تر پلو پورې محدود نه ؤ دا پرېل پر
۱۳ افغانانو دوی سیمې دباغ هزار جریب په سیمه کې چې تر دغه وخته
ایرانیانو ساتلې وې ځنې ونیوې او هغه د فرح آباد له شپږو توپو څخه یې
درې توپه دلته مستقر کړل دوی ورځې وروسته د شهرستان پر پله بله حمله
وشوه خو دفعه یې کړه.

هر څو چې دا پرېل میاشت تېرېده په ښار کې ناکراري او اعتراضونه -
زیاتېدل ځکه اولس د مسلحو قواو پر بې غیرتی او بې زړه توب سخت اعتراضونه
کول له اطرافو څخه راغلیو خلکو د بارکو په مخکې د مسلحو قواؤ په بې غیرته رول
سختې مظاهرې وکړې دا پرېل پر ۲۷ خلکو اخطار ورکړچې که پر افغانانو باندې له

ښار څخه حمله ونسي دوی به له افغانانو سره یو ځای شی شاه ډېر خوابدی او
مشوشه ؤ د قصر دروازې یې تړلې وې او له افغانانو سره د جګړې امر یې
صادر کړ د اپریل پر ۳۰ یوه قواچې له عربو او ایرانیانو مرکبه وه د احمد آغا
تر قوماندانۍ لاندې د طوق چې له دروازې ووته پر هغو سیمو یې چې د ښار
په شمال کې افغانانو د دوی د تګ راتګ عمده لاره بنده کړې وه حمله وروړه
خو څالا که افغانانو پر هغه مقام د ایرانیانو له نظره پټ هغه ځای په نورو قواو
تقویه کړی ؤ چې جګړه شروع شوه زړه ختلیو ایرانیانو د افغانانو د دې ډوله
حملو طاقت رانه وړ په ډېره ګډوډی یې ماتې وخوړه او بېرته ښار ته -
وتښتېدلی احمد آغا چې د توریالی توب شهرت یې درلود او ده به هم ښې لاپې
وهلې ډېر وشرمېدی د حکومت او د خلکو تر اعتراضو لاندې راغی. یو له مسوولیتو
څخه یې دغه ؤ چې د ماتې په وخت کې ایراني عسکر و عرب عسکر ویشتل ډېر عرب
عرب عسکر یې وژلی ؤ عربو سید عبدالله ته شکایت وکړ هغه ؤ چې احمد آغا له
خپله مقامه برطرف شو که څه هم څه موده وروسته بېرته مقرر شو خو ملا یې
سمه نه کړای شوه د مئ د میاشتې په اوایلو کې یو لوی لښکر د شمال له خوا اصفهان
ته رانژدې شو لیکن د ګزکلي ته نژدې چې له اصفهانه نه میله شمال ته واقع دی
د افغانانو تر حملې لاندې راغی دیوې سپکې جګړې وروسته تار و مار سو څو
ورځې وروسته خبر راورسېد چې علي مردان خان د لرستان والي دیوه لوی لښکر
سره وګل پائیګان ته چې له اصفهانه ۱۴۰ میله شمال لویدیځ ته واقع دی راورسېدی
دې خبر د اصفهان خلکو ته د زړه قوت ورو باخښه پر ۱۳ د مئ د علي مردان خان
بادشاه ته خط راورسېدی او په دغه خط کې یې د عربستان له والي څخه شکایت
کړی ؤ او لیکلی یې ؤ چې دی دې د والي پر ځای مقرر شي. شاه حسین د ده
خواهش رد کړ پر درېیمه د جون اصفهان ته خبر راورسېد چې وختانګ د -
ګرجستان والي لګزیانو ته ماتې ورکړه او له ۱۲ زره لښکر سره د اصفهان مرستې

ته راروان دی خو داخبره هم درواغ ثابته شوه ځکه گرجیان له افغانانو دونه
بیریدلی وُ چې زاره یې ځنې چاوده ځکه په هیڅ جنګ کې گورجیان له دوی
روغ نه وُ تللی. دوی درې شپې وروسته دعلی مردان خان بل خط بادشا
ته راغی له بادشاه څخه یې غوښتی وُ چې ته دخپل زوی په حق کې استعفا
وکړه اوزامن دې ماته راولیږه چې زه د دوی په مرسته رهایي بخشه لښکر
برابرې کړم بادشاه داستعفا په هکله غوږ کوڼ واچاؤ مگر ددوهمې غوښتنې
په برخه کې یې خپل دریم زوی طهماسپ دجون دمیاشتې د ۷/۸ شپې
ترمنځ له یوې قوي دستې سره په پټه له اصفهانه دباندې واستاؤ او -
طهماسب په تیښته کې بریالی شو او کاشان ته ورسیدې شاه محمود له
دې خبرې څخه ډیر خوابدی سو شاه اشرف یې چې دمحاصرې عمومي قوماندان
وُ ترپوښتنو لاندې ونیو له هغه وروسته بیا د محاصرې کړی ډیرې ټینګې
او ډیرې تنګې شوی طهماسپ له کاشانه قزوین ته ولاړ هلته یې دفوځ
په ټولولو گوتې پورې کړې لوږې او قحطي پرښار سیوری راخپور کړ،
ډوډی نه پیدا کیده خلک دلوږی له مرګ سره مخامخ سوی ځینو به له ښاره
مخامخ منډه واخیسته خو هغه دافغاني عسکرو ترصفونسوای تیریدلای
یا به مړسو یا به بیرته ښار ته وګرزیدو یا به افغاني عسکرو بندیان کړل
طرفینو دجون له نیمایي دجولایي ترنیمایي پورې چې دروژې مبارکه
میاشت وه جنګ درولی وُ په دې وخت کې وایي چې شاه محمود خلک ولیږل
هرڅه غلې داني چې په لاس ورغلې وایي خستې فرح آباد ته یې راوړې خو
چې چا به پټې کړې هغه به یې وسوځولې دې واقعې هم دښار د خلکو
امیدونه په خاورو ولړل په هرصورت دروژې په میاشت کې جنګ نه وُ خو
۸۰۰۰ زره کسه بختیار دقاسم خان ترقوماندې لاندې داصفهان په ۱۲ میلی
کې د نجف آباد کلي ته راورسیدل څو داصفهان له خلکو سره مرسته وکړای

شي هم په دغه موقع بل خبر راورسيد چې يوه ستره قافله د شمال له لوري د -
اصفهان خواته را روانه ده او هم يې د ملک محمود د تون او تبس د حکمران راتګ
له لس زره لښکر سره واوريدی دې خبرو او احوالو د ښار د اوسيدونکو
هيلې راوپارولی او زړونو يې قوت ونيو.
شاه محمود څلور زره عسکر د بختيارو د ترټلو له پاره ورولېږل -
افغانانو له بختيارو سره جګړه ونښلوله که څه هم بختيار ډېرؤ افغانان
لږؤ خو شاه محمود لکه دوندری لېوه ترايرانيانو غورزېدلی ؤ زړونه
يې پکې پريکړی ؤ په هېڅ توګه يې افغانانو ته زړه نسوای ټينګولای
بختيار بېرته وتښتېدل په هغه پسې علي مردان خان له پنځه زره لښکر سره
دخوار بارلويه قافله جوړه کړی اصفهان ته رانزدې شو قافله يې واړوله
يو څه لښکر نور هم پر زيات شو او خپل کشر ورور يې پر مقرر کړ او هدايت
يې ورته وکړ چې تاسې تر هغو صبر کوئ چې زه نور لښکر راولم خو
ورور يې د ځوانی په نشه کې ډوب ورته انتظار ونه کړ او د اصفهان پخوانی
فوځ او قافلې ته چې ډېر خواړه او نور ما يحتاج پکې راټول شوی وحرکت
ورکړ د دې قافلې او فوځ په راتګ افغانان خبر شول مخ ته ورووتل په يوه
خونړی جګړه کې د ګرونسکی په قول ډېر قزلباش مړه شول قافله ځنې پاته
شوه او پاته ژوندو يې په ډېره چابکه منډه ځان له خطر څخه خلاص کړ
دا ټوله قافله او عسکري غنيمتونه د افغانانو لاس ته ورغلل د قافلې مالونه
چې بې پايه ؤ په يوه وار يې نسوای راوړای نو يې يو څه را بار کړل نوره
يې هلته کوټه کړل سپاهيان پر ناست ؤ را بار شوی قافله چې د بنی
اصفهان کلي ته راورسېده د دغې سيمې ټول خلک سره راټول دا د بنی -
اصفهان کلا يې ښه مضبوطه کړی او خندق باندې کيندلی او ښه
ډېر خلک سره جمعه شوی ؤ پر دې قافلې يې حمله وکړه په دې قافله کې

د پرلـږ خلک ورځ په جګړه ۱۸س پورې کړ افغانان نـږدې وه اوخوکسه ایرانیانو
ژوندی ونیول چې په دې کې درې تنه د شاه محمود دکورنۍ غړي وُشاه محمود
دستي وشاه حسین ته واصفهان ته استازی واستاوُ چې دښې اصفهان خلکـو
ته خبر ورکړی چې بندیان ضایع نه کړی که نه وې ټول ایراني چې له مونږ سره
بندیان دی مړه به کړای شي شاه حسین دخپل استازی میرزا اسحاق په لاس
دښې اصفهان خلکو ته خبر ورکړ چې بندیان ضایع نه کړی خودخط ترسره
مخکې یې دوی وژلی وو، وایي چې په دې مړوکې یږد شاه محمود کوچنی وسعید
خاله زوی اوخوکسه پیښ ندل شوی کسان وو.

ددې خبر په اوږدو ټول افغانان په قهر شول اوهرڅه بندیان چې وو سره
وُهغه یې ټول ووژل. طهماسپ چې دباندې لـږ ښکل شوی وُد پادشاه فرمانونه
یې دسیمو د مشرانو لکه دکرمان شاه خانان دلرستان شهرزاد او ایلات اوپه
کوم وُځایونو کې چې سپاهیان وو ویـږل کړدانو ورته ویـلې چې مونږ د روم د مملکت
په څنګ کې یو هروخت له خطر سره ګاڼې یو مونږ نسو درتلای، د داغستان لګزیانو
ورته وویل چې مونږ پخپله سره اخته یو نه اصفهان ته حُونه د طهماسپ ماتحت
کیږو طهماسپ قزوین ته راغی د پرښې زره لښکر یې برابر کړ غوښته یې چې
د اصفهان مرسته ته ولاړسي خودده ملګرو ورته وویل چې دایران ملت له
جنګه ستړی اونفرت ځنې لري خصوصاً بیا په داسې وخت کې اصفهان ته
ورتګ چې هغه کرداب د بلاګرزبدلی دی دپوهانو په خیال په داسې وخت
کې له هغه څخه ځان لـرې ساتل په کاردی شهزاده طهماسب له خپلـه خیاله
پاته سـو او د امراوُ رایه ئې ومنله امراوُ ورته وویل چې زمایات لښکر به پیدا او
برابر کړو او ذخیرې به هم د پرې سره ټولې کړو افغانان پر اصفهان دست-
رسی نسبي پیدا کولای دوی به په خپله ولاړسي مونږ به له شا حمله پرې
کړو هغه غنمت شوی مال ونه به سپرته ځنې راوګرزوو هغه وُچې طهماسپ په

قزوین کې دیوه خان لور وغوښته په هغه شپه چې دده واده
پلار وشاه محمود ته تسلیم شو
د شرقي هند دشرکت نماینده لندن ته پخپل راپور کې داصفهان دوضعیت
په هکله داسې لیکي چې په تاریخ ۶ دجولای سنه ۱۷۲۲ هغه څه چې
دلته پیښ شوی دی عبارت دجنګ له خبرو، دلوږی دخپریدو او د
مصیبت دجنګونو په هکله دی د دې مشکلاتو ادامه چې موږ یې هیڅ
انتظار نه درلود موږ یې دپرنا راځته کړې یو د دې پرو دلایلو پراساس
معلومیږي چې زموږ مشکلات به نورهم دپرسې اوداهم ورسره ترلې
ده چې ستاسې هڅه دارایي دلته له منځه ولاړشي دخوراکي موادوکاختې
قیمتونه په ناباوره توګه لوړ کړي دی دوی اواوړه چې هرمن به
یې دشاه په دوې شاهي اوځلورغازه خرڅیده اوس په پنځوس شاهي
خرڅیږي. وریژې ۶۵ وربشې ۲۴ غنم ۴۲ غوښه ۴۸ . کرانی ترډې
حده ده چې نورې زموږ نغدې پرتمامیدو دی د دښمن درانګې په وخت
کې موږ د دریو میاشتو ذخیره تهیه کړې وه اوس زموږ ذخیره پر
تمامیدو ده اوډ محاصرې حال لا نه دی معلوم، دانه یرازې موږ سره بلکه
زموږ ټولواروپایي اندیوالانو اونورو سپارښتنو دا اشتباه کړېده هغه
خلک چې د داسې حرادشو شاهدان دی وایي موږ هیڅ کله دا تصور نسوای
کولای چې دایران شهریار دې دپنځه زرو کسو خپلواتباعو له خوا په اسانی
له پښو ولوېږي ځکه دوی دترکانو له سترې امپراتورۍ سره دېرې سترې
دغږې وهلې اولوی افتخارات یې کتلی وموږ څوارلس ورځې دمخه
احتیاط نه وکړ اقدامات ترپه هکله مشورې سره کړې دي. د دې خط -
لیکونکی خبرې ته ادامه ورکړي وایي دوی له مخه شیراز ته تلل غوښتل مګر
اعتمادالدوله دتګ اجازه رانه کړه، اووی ویل دلته به پاتې سوکه چې

ښار سقوط وکړ موږ به آخري خوشبخته خلک یو چې د ده پر خرابو پایاله سو. داور بشود ګرانی له کبله خپل اسان خرڅوو د شراکت خاوندانو ته اطمینان ورکوو تر هغه ځایه چې وخت اجازه راکړي پخپل مصرف کې به کمی راولو انژوګاردان هم همداسې د قحطی په هکله خپل خط په دغو ټکیو تماموي؛ له هرې خوا وحشت اوري.

د محاصرې شدت

د روژې میاشت د جولائی پر پنځلسمه تمامه شوه خلک بیا راپورته شول او د جنګ په هکله یې اعتراضونه وکړل بادشاه له دولت خانې راووت اووې فرمایل: ای زما غلامانو دا چې شر شور کوی ستاسې مقصد څه دی؟ ټولو خلکو په لوړ آواز وویل چې شاه له غفلته بې خبر دی موږ له لوږی اونګی مرګ ته رسیدلی یو اوز موږ د درد هیڅ دوا بې له دې نسته چې شاه د حرمه راووزی د جنګ میدان ته دې راشي چې موږ به کډه پر افغانانو حمله وروړو که د دښمن په توره مړه سو تر دې ډېره ښه ده چې دا صفهان په ښار کې یو ځای بل ځای له لوږی مړه سو. دا یې ویل او په های های به یې ژړل شاه د دوی دلاسا یې وکړه او د دوی کار یې سید عبدالله ته حواله کړ خلک هویزه خان ته ورغلو سید عبدالله ته خان هویزه هم وایي هغه ته یې وویل چې مخ ته سه چې موږ درپسې سو او پر دښمن حمله وکړو سید عبدالله ورته وویل چې څلور پنځه شپې صبر وکړئ د طهماسپ مکتوب راغلی په دا څلور پنځه شپې کې د ده لښکر رارسیږي دی له دباندې موږ دننه د دښمن کار به ورتمام کړو خلک یې په دې تمه رخصت کړل. بله ورځ یې ورته وویل چې نن سخته ورځ د جنګ ورځ نه ده

شاهي سرای سنګ باران

خلک سره راټول شول شاهي ماڼۍ ته راغلل چيغې اوناري يې شروع کړې د شاهي سرای دروازې يې ترلې وې خلکو ناري کړې چې د هويزي خان د جنګ اراده نه لري بادشاه دې پخپله راووزي چې موږ د ده په رکاب کې له دښمن سره جنګ وکړو او ځان فدا کړو مګر بادشاه نه ورته راوتی خلکو شر وشور کاوتر څو د محل پيره دارانو يو څو د توپو ډزې ورباندې وکړې او يو شمېر يې ځنې مړه کړل خلک چې له شاه څخه نا اميده سول. لاس په لاس کې له اصفهان وتل يې شروع کړل.

د شاه آشپزخانې چور کول

احمد آغا چې يو توريالی قوماندان وو، تابعين يې لوږی په عذاب کړل او پرده يې مخه راوګرزوله ده چې له دوی څخه ځان نسوای خلاصولای پر شاهي آشپزخانه باندې ورهي سو او شاهي اشپزخانه يې چور کړه، شاه وروغوښت او پوښتنه يې ځينې وکړه چې دا دې څه وکړل ده ويل ښه ده چې يوه شپه د حرم خواجګان او شاهي نديمان وږی پرېوزی پوه به سي چې پر خلکو څه حال دی شاه د ده له خبرې څخه متاثر سو او څه يې نه وويل په دې وخت کې احمد آغا ته خبر راورسېدی چې يو شمېر سپاهيان له آزوقی سره راغلی دی د باندې يې ځانونه په خندقونو کې پټ کړی دی چې ځانونه ښارته راورسوي احمد آغا فوراً ځان سيد عبدالله ته ورساوه او حال يې ورته ووايه هغه فوري حمله خوښه نه کړه احمد آغا د باغچې له لارې د باندې ورووت او له افغانانو سره يې جنګ ونښلاوه چې په نتيجه کې رئيس ميانه مقتول خوخان هويزه [illegible] ورسته ونه کړه

اوبیرته په ماتي ښارته راغی شاه ډیرعتاب اوخطاب ورته وکړچي ولي دي
د سید عبدالله بي اجازي حمله وکړه اوخلک دي په مړه کړل ده ورته
وویل چي خان هویزه دښمن دی که ده له موږ سره کومک کړی وای
داسي به نه پیښیده کارجوړوشاه خپل دوست اودښمن نه پیژني زما
له خدایه سره وعده ده که دی افغانانو له تخته راواچاؤ اوپرمځکه یي
کش کړله ځایه به ورنه ښورم دا یي وویل دباندي راووت دشپي یي
زهروخوړل سهارته مړؤ.

په اصفهان قحطي

له درومیاشتو محاصري وروسته په بازارکي هرڅه ورک شول وروسته
له درومیاشتو دخره اوښ غوښي خرڅیدي وروسته له څوشپو دخره
قیمت ۱۲ تومنه بیا پنځویشت بیا ۵۰ تومنو ته ورسیدی وروسته له هغه
دخره غوښي نه پیدا کیدی خلکو د سپو او پشیانو غوښي خوړي، ګرونسکی
وایي چي یوه ورځ د فرانسي د سفیر له کوره راووتم که ګورم چي یوه ښځه او
پشو سره اخته وي چغي اوناري جوړي کړي په ښځه پشونو کاری لګوی -
دواړو چغي وهلي زه راغلم له ښځي سره مي کومک وکړ پشي مي ورحلا له کړه
څلورمیاشتي وروسته خلکو د سړو غوښي خوړي پنځه نفره قصابان په دي
کاراخته ؤ تازه مړی مي په بازارکي ولیدل چي دورنو غوښي یي ځني پریکولی
اوخوړی یي دا صفهان خلکو عادت نه درلود چي دکال ازوقه پریوه ځای تهیه
کړی هرچاله بازاره یومیه خپل احتیاجات اخستل دوی هیڅکله دمحاصري
اوقلعه داری فکرنه کاوه ویل به یي دا دیوڅو شپو هنګامه ده تېره به سي
اخیرکار ودي ته راورسید چي دونو پوستکی د دارچیني په بیه خرڅول په
هاونګ کي یي کوټل ٤ وقیه په ۱۰ تومنه پلورل کیدل دزړو بوټو او چاروغو

پوستکی به یې ټولول او هغه به یې ایشول بیا به یې خواړه . خلک په کوڅو او بازارو کې له لوږی مړه پراته ؤ پېغلو نجونو به لعل جواهر په سر اخستی گرزېدی څوک یې د اخستو نه ؤ دوی به چیغې وهلی له لوږی به مړې کېدې چا یې پروا نه کوله حتی څوک یې د دفن کېدو په فکر کې هم نه لوېدل د دوی ښار د دوی د مړیو له لاشو ډک ؤ یو سړی له شاهي کورنۍ نه چې هر څه ور تمام شوی ؤ په خپله آخری شتمنی یې د روو ختو خواړه برابر کړل او خپله کورنۍ یې سره ټوله کړه او ورته وې ویل چې زما هر څه شتمنی چې وه را تمامه شوه نن مو دا آخري خواړه دی زه نه غواړم چې تاسې له لوږی یو ځای بل ځای مړې پراته یا ست نو یې هندي زهر په خوړو گډ کړل ټوله کورنۍ یې په تړلې دروازه کې مړه پراته وو.

گرونسکی وایي چې یوه عجیبه مې ولیده یو روند ؤ فقر به یې کاوه له محاصرې وروسته مې بیا ولید چې ژوندی ؤ او فقر یې کاوه.

خارجي سفیران

د خارجي مملکتو سفیرانو خپل بندوبست کړی ؤ غله وغیره یې تهیه کړې ؤ د هر شی بندوبست یې کړی ؤ او د خپلو کورو دروازې یې تړلې وې د محاصرې تر پایه بېغمه ناست وو.

د اصفهان د مړو شمېره

د اصفهان ښار د خلکو د ډېر ښت له کبله یو بې پایه دریاب ؤ له قزلباشو څخه چې په جنگ کې مړه و شل زره کسه ؤ او د لوږی د مړو تعداد تر سلو زرو رسېدلی دی.

د محاصرې په دوران کې جګړه

سیاح وایي چې د محاصرې په دوران کې ټولې دولس جګړې ذکر وې جګړې وشوې خو په ټولو کې قزلباشو یادا اسلام لښکرو ماتې وخوړه .

شاه محمود ته د بنار دهرې برخې د ټول حال مفصل رپوټ ور- رسېدی نو دې وحملې ته هیڅ زړه نه ښه کاوه ځکه دی پوهېده چې د دوی بې له هغه د ځنکدن سلګی دی شاه محمود له دې کبله هم حمله نه کوله چې د حملې په صورت کې به ټول سرکاري او د خلکو مالونه لوټ سي په دې شپو کې په شاهي سرای کې خواږه پرتمامېدو سول دلته شاه حسین د غفلت له خوبه راویښ سو او ډېره له حال پوه سو د بادشاهی لباس یې وکېښ او د ماتم کالی یې واغوستل په حرم کې ګرزېدی له خپلو خادمانو اوندیمانو سره یې وداع کوله شاه له حرمه راووت او وې لیدل چې په کوڅو کې خلک له لوبړی سره پرا ته دی لکه د پسرلی اوړه په ژړا یې پیل وکړ او په لوړ آواز یې ژړل کاهی کاهی به وخادمانو اوندیمانو ته متوجه سو وداع به یې ځنی وکړه او په لوړ آواز یې ویل: وای زما صادقانو وای زما په محبت کې ګرفتارشویو وای زما غلامانو چې د دې به په بحر کې لوېدلی یاست او د غیرت په اوډکې سوی یاست په دې مبهمه فضا کې پرته له تسلیم څخه بله چاره نسته د خپل ولس بنا مې په خپل لاس خرابه کړه د حق د نعمت شکر می نه وکړ په نفاق او شقاق سو د دښمنان ببډاره ګرځل او له سوء تدبیره هرڅه چې سو د رلودل و د دښمن ته سو وسپارل ازلي قضا نازله شوه او دا ایران - تخت یې زما لایق نه وبالله او ماته یې سزا راکړه خداوندي تقدیر د بنده د تدبیر تابع نه دی چون اراده بالله په دې مرحله کې ترسره شوی ده، د ځی چې ټول د رسو نوی بادشاه ته سر

کښته کړو او غلامان یې سو .

الوداع ای تخت شاهان الـــوداع
الوداع ای ملک ایـران الـــوداع
الوداع ای تاج داران الـــوداع
الوداع اهل صفاهان الـــوداع

شاه او د ښار خلکو او سپاهیانو په ګډه ژړل دا ژړا په دونه لوړ آواز وه چې افغانانو په جلفا کې اوریدله په هغه ورځ ترماښام ګرزیدو او ژړل یې ماښام سپاه او خلک ټول خپلو کوروته ولاړل صبا سهار پر شاهي سرای سره راټول شول او د ښار په سپارلو اتفاق وسو صبا ته شاه حسین څو کسه معتمدان د خبرو د پاره و شاه محمود ته ورواستول او خپلې لور ته یې ګینهی ور په غاړه له معتمدانو سره ورولیږل له معتمدانو له شاه محمود سره خبرې وکړې شاه محمود د دوی شرط ومنل بیا بیرته شاه ته راغلل او د شاه د راوستلو د پاره د شاه محمود د ربار آسان تهیه کړل شاه محمود څو نفر د خپل دربار له خلکو څخه ورولیږل او پر آسو سپاره لکه د ایرانیانو غوندې صفونه یې جوړ کړل او تیپونه یې برابر کړل او د ښار خواته ور روان سول یو عیني شاهد چې د انګریزانو د شرقي هند د شراکت نماینده ؤ وایي داسې د ایران قوي شوکته پادشاه د اکتوبر پر ۲۳ ساعت ۱۲ بجې دورځې وې بې له هیڅ ډول جلال او جبروته له سلطنتي قصر څخه سپور سو هغه دیوه بېنوا او پریشان حاله سړی په توګه لباس اغوستی ؤ داسې معلومېده چې لکه د هغه اعلیحضرت د جنازې مراسم پرځای کېدل هغه خلک چې د شاه د سپرلی په وخت کې د قصر په دروازه کې د شاه سپرلی ته کتل یوني کشیش جان فراست د انګلستان د هندي شراکت روحاني مشر او بل ماتیوس فن لایپزیګ د هالند د شراکت حساب دار

ؤ او نور یې څو کسه ایرانیان وو شاه مخکې تر دې چې حرکت وکړي د هغو درو اوښانو چې پاته و د حلالېدلو امر وکړاووې ویل چې غوښې یې وږیو خلکو ته وروویشئ ! په دې ډول د اصفهان محاصره پای ته ورسېده چې شروع یې د ۱۷۲۲ د اپریل څخه شوی وه، ځکه له دغه وخته ښار تر کاملې محاصرې لاندې راغلی ؤ په دې ډول ښار شپږ میاشتې محاصره شو د تلفاتو شمېر په قطعی توګه امکان نه لري خو تخمیناً د فوجي عملیاتو په وسیله ۲۰۰۰۰ شل زره او د لوږی او نورو مصیبتو له کبله څلورواره نور مړه یعنی ۸۰۰۰۰ شوی دی . د اصفهان د هغه وخت د نفوسو شمېر شپږ نیم لکه ؤ.

د شاه حسین ګوښه کېدل

د اکتوبر پر ۲۳ مه سلطان حسین له خپلو وزیرانو، جنرالانو او نورو درباریانو سره چې شمېر یې تقریباً دوه سوه کسو ته رسېدی پر هغو اسو چې د شاه محمود له خوا څخه ورته استول شوی ؤ سپاره سول او د خپل پایتخت په واټو سوکه سوکه روان ؤ چې یوې بلې خواته مړې پراته ؤ د سلطنتي طبیلې اسان ټول حلال شوی او خوړل شوی ؤ یو شاهد وایي ګرچې د ټولو زړونه له غم څخه ډک ؤ خو بیا هم داسې امید کېده چې شاه محمود به له سلطنت څخه سترګې پټې کړي، بادشاه او وزیران وروسته له هغه چې له زاینده رود څخه تېر شول ښي خواته راوګرزېدل سوکه سوکه د فرح آباد خواته روان وګرونسکي پخپل کتاب (۴۹ مخ) کې وایي:

شاه محمود خپل نور پاته رجال سره راټول او د شاه د راتګ انتظار یې کاوه او د شاه د پاره یې خونه برابره کړی وه، ځای یې تیار کړی ؤ او بالښتان یې ورته ایښی ؤ. شاه محمود د دیوان خانې په دروازه کې بادشاه

ته هرکلی ووایه ده او سلطان حسین روغبړ سره وکړ شاه حسین شاه محمود
په غېږ کې ونیو او پر مخ یې مچ کړ او پر خپلو ټاکلیو ځایو کښېناستل
دا چې په دې مجلس کې د دوی په منځ کې څه تېر شوی دی دا دیو عیني
شاهد له قول څخه په دې ډول روایت دی چې د اکتوبر پر ۲۰ چې هره ګړی
د ښار د سقوط انتظار کېده د فرانسې کنسول وخپل منشي او مترجم آپی سالیمیان
ارمني ته امر وکړ چې فرح آباد ته ولاړ سه او شاه محمود ته د فرانسې د اتباعو د حقوقو
په هکله عرض وکړه ژوزف د ایراني او افغاني لښکرو تر صفو تېر شو او ځان
یې فرح آباد ته ورساوه او هلته د شاه محمود حضور ته پېش کړای شو،
شاه محمود د فرانسې د ګټو او حقوقو په هکله اطمینان ورکړ د شاه محمود
د تشریفاتو رئیس ژوزف له ځان سره وځنډاوه او درې شپې وروسته -
مخکې تر هغه چې شاه حسین د شاه محمود حضور ته وروستل شي ژوزف یې
له مخه لا هغه تالار ته وروستلی ؤ او ژوزف د دوی ملاقات له نزدې څخه
ولید هغه هر څه جریانات چې دلته تېر شوی دی دی یې عیني شاهد دی،
وایي شاه محمود د تالار په یوه برخه کې د زر بفتو بالښت ته څنګ لګولی ؤ شاه
حسین د تالار بلې ګوښې ته بوتلی شو او په ټاکلی ځای کښېناست او وروسته
له روغبړه شاه حسین وویل رویه د قادر متعال دا اراده ده چې زه زیاته له دې
سلطنت ونه کړم او د خالق متعال مشیت داسې دی چې نور نو ته د ایران
تخت ته وخېژې زه د زړه له کومې خپل سلطنت تاسو ته سپارم او له خدایه ج
تاسې ته توفیق غواړم شاه وروسته له هغه له خپل پټکی څخه تاج وکېښ
او امان الله سلطان ته یې ورکړ خو چې وې کتل چې افغان امپراتور په دې
عمل خوا بدی سو بېرته یې تاج له امان الله سلطان څخه واخیست او
پخپله ورغی شاه محمود پر خپل ځای ناست ؤ او شاه سلطان حسین
خپل تاج د ده پر سر کښېښود او د مزید توفیق د وعا یې ورته وکړه شاه-

حسین ببرته پرخپل ځای کښېنوست وروسته بیا چای او قهوه راوړه شوه
شاه محمود په دې موقع د شاه حسین په هکله ترحم سنکاره کړه او ورته
وې ویل:

ته مه خرابدی کېږه اوا قبال دانسان داسې بې ثباته دی دپاک
خدای ج، اراده چې وسي دبادشاهی تاج له سره واخلي بل ته یې ورکړي
اقتدار له سره لاسه بل لاس له سره قوم ته منتقل کړي لیکن زه
وعده کوم چې همېشه به تاته دپلار په ستر که کورم او هېڅکله به ستاسو
بې صلاح او مشورې هېڅ کار ونه کړم وروسته له هغه سره بلوڅ سردار
وشاه حسین ته ورنژدې شو او ورته وې ویل زمونږ شهریاره قطع نظر
له دې څخه چې دلته څه تېر شول مونږ چې ستاخد متګذار وُاوس مو دې
افغان ته وسپاره! شاه حسین د شاه محمود دخبرو په جواب کې وویل،
مالکُ الملکُ خدای (ج) دی! وروسته له هغه سلطان حسین سره اطاق ته
چې له هغه لاوده ته په نظر کې نیول شوی وُ بوتلی شو د شاه حسین سلطنت
اود صفویانو اوږده دوره په دې دول پای ته ورسېده شاه محمود په
هغه وړځ مازیګر امان الله سلطان ته وظیفه ورکړه چې له ۳۰۰۰ سپرو سره
اصفهان ته ولاړشه امان الله په اصفهان کې داخل شو او شاهي ماڼۍ پې تر
خپل کنترول لاندې راوستې او دروازې یې مهر او موم کړې او بتول -
ځایونه یې خپلو پیره دارانو ته وسپارلې اصفهانی شپاهیان یې رخصت کړل په دې وخت
کې چې امان الله سلطان په دغو اقداماتو بوخت وُ په شاهي حرم سرای
کې د ژړا وُ دونه شور پورته کښېدې چې بتول شهر او ورېدی صبا ته یې
شاه محمود امر وکړ چې بتول مړي دې له بناره بتول کړای شي او دفن
دې کړي چې له خپرېدونکو مرضو څخه مخ نیول وشي. لاړنس لیکاریت خپلې
وینا ته (۱۹۹ مخ) داسې ادامه ورکوي:

شاه محمود وروسته له هغه چې له شاه حسین څخه یې تاج او تخت په لاس کې واخیست داولس دربړونو د خاتمې دپاره امر وکړ هر څو نه غلې چې په فرح آباد کې وي فوراً دې ښارته انتقال سي او په اولس دې په وریا توګه وویشلی سي دانګریزانو د شرقي هند د شراکت اعضاؤ داکتوبر پر ۲٤ له امان الله سلطان سره وکتل او امان الله خان دوی ته دهر ډول مرستې اطمینان او ډاډینه ورکړه وروسته له هغه چې د شاه محمود د راتګ دپاره په رسمي او فوق العاده توګه ترتیبات ونیول شول، اعلیحضرت په یوه باشکوه او مجلله توګه له فرح آباد څخه د اصفهان خواته راروان شو امان الله د احتیاط له کبله دده د شاهانه موکب دلارې په اوږدو کې په لوړو بامو او جوماتونو په مناروکې کاملاً مسلح - پیره داران درولی ؤ خو معلومه شوه چې اولس دونه بیریدلی ؤ چې حتیٰ چا د بې نظمي تصور هم نسوای کولای ژوزپ آپي سالیمیان که د دې شاهانه موکب له سپرو یا پیاده ؤ څخه که نه ؤ د تماشا ګرو په ډله کې خو به حتماً ولاړ ؤ ده دې موکب جریان د کلراک د فرانسې کونسل ته هغه پطرس دی سارجیس ګیلانتیسن ته ورساؤ، هانوی دغه شرح چې کلراک لیکلی ده بیا په انګریزي ترجمه کړیده چې داسې وایي:

دا موکب په لسو سپرو صاحب منصبو شروع شو په هغو پسې دوه زره سپاره چې د دوی په میان کې څوکسه د ایران د دربار لویان او غټان هم ښکاریدل حرکت کاوه وروسته بیا دافغاني امپراتور میرآخور چې پنځلس سپاره ورسره ؤ چې ډیرې قیمتي غجری یې پر آسو اچولې وې روان ؤ په دوی پسې توپک لرونکی عسکرو وروسته له هغه زرکسه د پیاده نظام عسکرؤ وروسته له هغه د تشریفاتو عمومي رئیس له ۳۰۰ سرخ پوښه زنګیانو سره روان ؤ دا زنګیان د اصفهان په بند یانو کې انتخاب شوی ؤ

چې د افغاني امپراتور په محافظينو کې شامل شي د ځلو ډېښتو قدمو پر
فاصله شاه محمود پر هغه آس سپور ؤ چې د عربستان والي د تسليمۍ په
ورځ ورکړی ؤ شاه حسين دده پر چپ لاس راروان ؤ د دې دواميرانو ترشا
درې سوه کسه غلام بچه ګان سپاره روان ؤ وروسته د غود شاه محمود مفتي اعظم
ملا زعفران نصرالله قوماندان ملا موسیٰ خزانه دار او محمد آغا د البسا تو ناظر
وروسته له دوی ايراني صدراعظم محمد قلي خان او ايراني لوړپوړ تبه هاصب-
منصبان او افغاني صاحب منصبان سپاره روان ؤ په پای کې سل اوښان
چې پر هر يوه يو شمخال توپ بار و روان ؤ تر دغه اوښانو مخکې ۶۰۰ کسه
ملوريک چيان او په هغو پسې شپږ زره کسه د رسالې سپاره په حرکت کې و
دوی په مجرد دې چې د شېراز له پله را تېر شول شاه حسين پې د باغ و
له لارې خپل استوګن ځی ته رخصت کړ معلومېږي چې شاه محمود د خپلې
فتحې په پرتمين جلوس کې د شاه حسين شمول خلاف د تدبيرو بللی وی دوی
خپلې تګلارې ته ادامه ورکړه خو د بنار دروازې ته را ورسېدل د اصفهان
خلکو سره له هغه دونه تکليف وروسته د اتغير نه ويرامېدل بخشه نېک فال
بللی چې د ځان او اولس د سوکالۍ اميد ونه وهره مله ؤ په دې کسو مجوشي
د نوی امپراتور هرکلی ته را وتلی ؤ د اصفهان اولس د نوی امپراتور په موکب
قسم قسم عطرونه وپاشل چې د بنار ټوله فضا يې په خوشبويي ولړله لوقيمتي
شالونه اوغالۍ ددې د آسونو تر پښو لاندې هوارې کړې وې هغه توپونه
چې پر اوښو بار ؤ د زې يې کولی د شاه محمود عسکر وو روسته له هغو
چې د شاهانه موکب جلوس تمام سوې په يو ډزغ يې «الله اکبر» ناره کړې
ميرزا مهدي د نادر نسا مې ليکونکی وايي چې: «محمود با فر و فر عوني وبيداد
شادی به اصفهان وارد شد» زه وايم چې داد شداد او فرعون خو نه ؤ چې
په اوله وهله کې يې د بنار ټول اولس ته په وړيا ستوکه غلې ورکړې او وبنې يې

ماړه کړل د دوی مړي يې په محترمانه توګه پټ کړل او که نادر شداد او فرعون ؤ چې د کندهار ښار يې له بېخه ونړاؤ د اولس کورونه يې له يو مخه چور کړل جنګېدونکی نر او ښځې يې قتل عام کړل له مشرانو يې سترګې وکښې او د ښار او شا وخوا ټول اولس يې له خپله جايداد او وطن څخه محروم او بل ملک ته يې فراره کړل چې د هغو خلکو فراري تر اوسه لا ادامه لري.

شاه محمود وروسته له هغه چې د قصر تر دروازې تېر سوګاردان او د فرانسې د قونسلګری نور هيأت دلته د احترام د مراسمو پر ځای کولو بسپاره ولاړ ؤ شاه محمود د قصر ستر تالار ته ننووت او پر شاهی تخت باندې کښېنوست شاه حسين او ټولو ايراني او افغاني رجالو د وفاداری لوړه وکړه او د احترام مراسم يې پر ځای کړل او شاه حسين د خپلې لور نکاح وروتړله څوګړی وروسته د اصفهان په ارګ او نورو برجانو او دروازو مستقر وتوپونو په ډزو پيل وکړ او دا مراسم يې پر ځای کړل په دې ډول صفوی دوره تمامه او د افغاني امپراتوری دوره شروع سوه وروسته له دغو مراسمو شاه محمود ټولو حضارو ته د ډوډی دعوت ورکړ.

د قحطی آثار له منځه وړل

وروسته له دې د شاه محمود لومړی کار د اصفهان وضعيت عادی حالت ته راکړ زول وو تر ټولو وړاندې يې د خوراک چښاک کافي بند وبست وکړ چې دورځې په اوږدو کې هر چا ته غوښه او ډوډی په ارزانه قيمت رسېدل په داسې حال کې چې د شاه محمود ښار ته له را رسېدو سره د قسی او ړه په دوه غازه خرڅېدل شروع سول دا د اصفهان د خوشحالی آبادی دوخت له نرخ سره برابرؤ په اوله وهله کې د همدې مقصد د پاره جنرال نصرالله له درې زره فوځ سره د اصفهان وشا وخواته ولېږی. ګرونسکي وايي امر يې ورته وکړ هر چا چې اطاعت وکړ مينه او مهربانی ورسره وکړه

چې تمرد يې وکړ ببدر بغه يې ووژنه هر څونه غلې دانې چې په لاس درغلی
اصفهان ته يې راليږه نصرالله خان دهمدان خواته متوجه سو په لاړکې
هر چيرې خلکو اطاعت کاوه غلې اودانې به يې پيدا کولې اصفهان ته به يې
راليږلی او هغه چا چې تمرد وکړ دوی يې مړه اومالونه يې چورشول، درست
يې لاخبر کاينه وُ تمام کسې چې درکې ښکته ښکته سيد اودرګزين ښار درګزينيان
د نصرالله استقبال ته راووتل ښه احترام يې وکړ د درګزين اوسيدونکی سني
مذهبه دی دشاه عباس په زمانه کې له موصل څخه راغلی کرای شوی دلته يې
اچولی وُ نصرالله څورځې دلته پاته سو درګزين ښيا نو شپږ زره لښکر هم
وکړ نصرالله له دغه ځايه له نه زره لښکر سره د همدان خواته وخوځيدی
هلته يې له مطيع سره مينه وکړه اومتمردين يې توري ته وسپارل اوډېرې زيادې
غلې اودانې يې په لاس راوړې چې يوه دپنځوس زرو بار اوښانو قافله
يې اصفهان ته ولېږدوله په اتياشپې کې يې دلخدمت وکړ دراتګ په لاړه کې
سل زره کوره درګزينيان يې له کډوالو اوادوقې سره اصفهان ته ولېږدول اودلته يې
په هغه خالي کورونو کې چې خاوندان يې مړه يا ورک وُ مېشته کړل اوهم دلته
يې محکې اونور املاک وړکړل داچې له اصفهان نه خلک کډه شوي وُ ښار
ډېر خالي وُ دا دول دېرش زره اوښ په کډو بارله کندهار افغانان راغلل اوپه
اصفهان کې يې مېشته کړل.

د افغانانو له خوا د اصفهان د شاوخوا سيمونيول

د شاه محمود لښکر چې نهيات سرونوې د متمرد وځايو چې تر اوسه دغسې ن
قلابند پاته ودزبردست خان هزاره په قوماندانۍ يې دی دګڼ اوبينې اصفها
ته ولېږه فوځ ولېږه زبردست خان دوارې وځايه محاصره کړل محاصره اوږده شوه -
اخير يې انتش پرستان راوستل اوقلاته يې نغم يا نقب ودواچاوه اودېوال يې

ونړاوه او يرغل يې پرې وکړ دفتحې په درشل کې قزلباشو امان وغوښت — زبردست خان يې امان قبول کړ او هرڅه غله وغيره چې وه ضبط يې کړل اصفهان ته يې ولېږل دوی دډېرې مودې دمحاصرې ترتيبات نيولی ؤ نوغلې يې ډېرې جمعه کړې وې شاه محمود دزبردست خان دامان له ورکړې ناخوښه سو او امر يې وکړ چې داسې متمردو خلکو ته امان مه ورکوئ وې يې هڅه وکړئ چې دوی بيا تمرد وکړي او بهانه ورته جوړه سي څو د تېرو وختو انتقام ځنې — واخستل سي په دغوشپو کې لطف علي خان پخوانی ستر قوماندان چې له شاه — محمود څخه راوتښتېدی او بنی اصفهان ته راغی او د بنی اصفهان خلکو ونيو او بېرته يې شاه محمود ته وسپاره په دې وسيله دافغانانو خواشينی څه آرامه شوه او شاه محمود چې لطف علی خان ډېر نازولی ؤ ورته په قهر شو او څلور اندامه يې کړ او په څلورو دروازو کې يې وځړاوه .

دشاه محمود سلطنت

شاه محمود او دده سلف شاه حسين سره په ظاهر خو چندانی تفاوت نه درلود مګر د ژوند په نورو برخو کې ډېر سره لرې او ډېر تفاوت يې سره درلود خلع شوی بادشاه د شاه محمود برخلافه تن پروره عياش د شيخی په جامه کې سخت ظالم پرخپله کورنی يې لاهم صرفه نه کوله خپل ورونه داکازامن يې ټول راندې کړی وو له ړندېدو وروسته ابدی بنديان ؤ حتی خپل زامن يې هم بنديان کړی وو فقط خپل اقتدار يې غوښت نور يې هيڅ مروت او مېړانه نه درلود د فوج فوج ښځو په منځ کې يې چې دايران له هرې ګوښی راټولې شوې وې ژوند کاوه پخپله دمړانې او غيرت آثار نه ؤ پکې داولس له حاله ناخبره دخپلو اطرافيانو دلاس ګوډاګی ؤ دده برخلافه دشاه محمود په هکله ګرونسکی چې ده پخپله ليدلی دی او دناروغی په زمانه کې يې دده علاج کاوه دده سجايا ډېر ښه

لیکلی دی خو متعصبه ایرانیانو چې دګرونسکی کتاب یې ترجمه کړیدی ګوئی
پکې وهلی خو بیا هم څه ناڅه دده احوال ځنې ښکاري ګرونسکی لیکی (٦٢ مخ)
چې شاه محمود میانه قده غنم رنګی سترګې یې دایم په حرکت کې وې تریو تندي سره
بزیره لنډ مزغی ډېر دانضباط خاوند حکم یې جاري ؤ دخپلو دښمنانو په حق کې
جبار او قهار ؤ افغانان یې بیرولی او ترخپل اطاعت لاندې راوستی و تر داسې اندازې
چې دجنګ په شدت کې هم چا دده دامر مخالفت نسوای کولای داسې سخا چې
فضول خرڅه وبلل سي نه ؤ مګر دغنیمت له ماله یې پرخپل لښکر هر څه لورول
په جنګو کې دخپل فوځ په مخکې تلی دخپلو مطالبو په پوره کولو به
یې اصرار کاؤ ډېر کم بیده کېدی اکثر اوقات به ویښ ؤ نس
پروری او تن پروری ته راغب نه ؤ هر خواړه چې به حاضر وخوړه به یې
او هر چیرې چې ؤ هلته به بیده کېدی په یوه کمیس کې به په باران کې روان ؤ
او هم په هغه حال کې به یې پر دښمن برید کاؤ په لښکر کې به ګرزېدی هر
چیرې چې به وږی سویا د ډوډی وخت ؤ بس له خپلو عسکرو سره به
کښیناست له هغو سره به یې کاروانه وخوړه په سپرلي کې ډېر چابک ؤ
چې دآس ورږ ته به یې لاس ورسېد بې له دې چې په رکاب کې پښه کښېدی
بیا به په زین کې سپور ؤ له خپلو عسکرو سره به هر ځای ګرزېدی حتی
کله کله به پخپله پسې ګرزېدی په قصاص تعذیر او تادیب کې هېچا
شفاعت نسوای ورته کولای او شرعي اوامر به یې ټکی په ټکی
اجرا کول عیش وعشرت او شرابو ته راغب نه ؤ وروسته له هغه چې د
شاه حسین لور یې نکاح کړه جاریه وغیره ته یې رغبت نه ښکاره کاوه
پرته له خپلې شرعي ښځې له هیڅ ښځې سره نه دی پریوتلی هر سهار به یې
نیم ساعت دخپل لښکر له زورورو پهلوانانو سره غېږ نیوه او نوره ورځ
به یې نور ورزشونه کول روزانه به یې پنځه پسونه ورته راوړل چې ده

به په توره وهل او دوه ځایه به یې کول دی دنیزې په غورزولو کې دونه ماهر ؤ چې هیڅ کله هدف نه ځنی خطا کېدی د لښکر کښیو په وخت کې هیڅ کله پر بستره نه بیده کېدی هغه به د شپې له خواله خپلو معتمدو اشخاصو سره په اردو او د اصفهان په ښار کې ګرزېدی داؤ دیو ځلمی امپراتور خو یونه .

د شاه محمود د حکومت لومړی شپې

شاه محمود د خپل حکومت په لومړیو میاشتو کې لوړ کفایت او میانه روي ښکاره کړه لارنس لیکارټ (۲۲۰ مخ) لیکی :

داسې حکومت چې د خلکو د تعجب وړ وګرزېدی دی په دونه اندازه له سلیم عقل څخه برخوردار ؤ چې د غلجو نابلدی او د صفویانو پیچلی طرز حکومت یې په لږه موده کې تشخیص کړ همدا ؤ چې ده د پخواني بادشاه مامورین بېرته پر خپلو ځایو مقرر کړل خو له هر یوه سره یې یو افغان د هغه د کنټرول د پاره مقرر کړ دې افغانانو دونه فعالیت ښکاره کړ چې د ایرانیانو د مفاسدو په مقابل کې یې یو سد تشکیل کړ او د دوی د ټولو فاسدو اعمالو - مخنیوی یې وکړ او شرعي امورو ته یې افغاني قاضي مقرر کړ ګرونسکی وایي په شرعي امورو کې یې د افغانانو له جماعته دیوان بیګي مقرر کړ هغه ډېر زاهد، عابد او کامل، رشید، عالم او د شرعي قواعدو واقف مېړه ؤ او خلک داسې د هغه له دیانته عفته او پاکی خوشحاله ؤ چې پر خپل تېر ژوند چې د دوی د دولت د زوال باعث شو نه وو خوابدی او په کلی توګه یې تېر حال هېر کړ او په تېره نیمه پېړۍ کې ایران داسې دولت نه ولیدلی . د شاه محمود یو له هغه انساني اعمالو څخه چې د اصفهان د وژونکی لوږې د فعه کول وا وهم یې هغه ایرانیان چې خپل وطن ته یې خیانت کړی ؤ

په قتل ورسول دې عمل خلک ډېر خوښ کړل خو د سید عبدالله یې صرف
په بند اکتفا وکړه شاید علت یې داوي چې دی اهل تسنن ؤ او ورور یې
له شاه محمود سره ؤ چې د عربستان دوالي په حیث مقرر شو ګرونسکي وایي چې
شاه محمود په ښکاره ویل چې هغه چا چې خپل بادشاه او ملک ته خیانت کړیدی
له ما سره هم وفادار نسي کېدای چې فرصت پیدا کړي خیانت یې پېشه ده
شاه محمود ټول هغه شهزادګان چې د سلطان حسین له خوا بندیان او راندې
ؤ بندیان وساتل او شاه یې هم تر نظارت لاندې ونیو خو بیا یې هم
احترام ساته خو کوم ظلم یې چې ورسره وکړ هغه داؤ چې له هغو ټولو
ښځو یې چې تقریباً شمېر یې څلورسوه ته رسېدې محروم کړ او د هغه
علت داؤ چې شاه محمود چې شاهي حرم سرای ته ورننووت که ګوري
چې له ښایسته ښځو چې دا یران له ګوښي ګوښي راټولي کړای شوی وې ډک
ؤ ده له قاب چیانو وغیره پوښتنه وکړه هغو په جواب کې ورته وویل چې دا
ټولې ستاسو د خاطر د پاره دی. قاب چیان ملامت نه و دا ښځې د سلطنت د
مقام د استعمال د پاره وې نو دوی فکر کاؤ چې سلطنت ستا سو دی نو دا
ښځې خو هم ستا دی خو بې ذوقه شاه محمود امر وکړ چې تر صبا پوري
یا مړونه وکړي یا خپلو کورونو ته ولاړې سئ ګرونسکي په تاریخ
سیاح کې وایي چې دوه سوه خانزادګانې وې شاه محمود رخصت کړې خو
چې تر ښار ووتې افغانان په پسې سول ټولې یې مړې یا ورکې کړې خو په
هر صورت له څلورو شرعي ښځو او څو کنیزانو ما سوا یې بله ښځه ورته پرې
نه ښوده متباقي ښځې چې ده ساتلې وې د لارنس لیکارت په قول پر خپلو
صاحب منصبانو یې تقسیم کړې خو پخپله یې په هغه یوه ښځه چې د شاه حسین
لور وه قناعت وکړ بل اقدام د شاه محمود د خزانې تصرف ؤ دا چې ویل
کېږي چې شاه محمود دا یران د دوو سو کلو پر جمعه کړې شتمنیو تصرف

وکړ لارنس لیکارټ (۲۲۱ مخ) وایي چې دا بالکل مبالغه ده ځکه د محاصرې په دوران
کې د سپاهیانو د تنخواه د پاره ډېرې دست درازی شوی له بلې خوا شاه حسین
مبذر ؤ د هغه فضول خرڅیو په خزانه کې څه نه ؤ پرې ایښی همدا د خزانې
تشوالی ؤ چې شاه محمود د جلفا په ارمنیانو او د اصفهان پر خلکو سنګین
مالیات وضع کړل علاوه پر دې هغه ټول خلک چې مړه ؤ او د میراث یې څوک
نه ؤ مالونه یې دولت تصرف کړل رحیم خان حکیم باشي چې له بادشاه څخه یې
ګوډاګی جوړ کړی و ۲۰۰۰۰ تومنه یې د ده له ناجایز ثروت څخه ضبط کړل د
شاه محمود وضع په ابتدا کې متزلزله وه که څه هم د ایران نظامي قدرت یې له
منځه وړی ؤ پای تخت یې نیولی په تاج و تخت یې قبضه کړی وه خو له اصفهان
او د هغه شاوخوا کرمان او سیستانه ماسوا نور ایران یې تر کنټرول لاندې
نه ؤ راوستی ایرانیانو دی او د ده ملګری منفور شمېرل دوی ته یې د
ګستاخو وحشیانو په سترګو کتل ځکه د دوی بادشاه یې له منځه وړی ؤ او دا چې
دوی اهل تسنن ؤ نو یې نفرت ځنې درلود که څه هم افغانان یوازې د اصفهان
د جمعیت په مقابل کې په اقلیت کې ؤ خو دوی دې خلکو ته داسې ضربه ورکړې
وه چې تر ډېرې مودې له دوی څخه د مزاحمت خطر نه احساس کېدی له
بلې خوا په ولایاتو کې لا داسې ډېر خلک چې شاهي کورنۍ ته وفاداره ؤ وجود
درلود د علي مردان خان تر اداري لاندې لرستانیان د بختیارو قبیلې او ګیلویه
د غرو خلک په جنوب او جنوب غرب کې هم داسې د فارس په سیمه کې لا ډېر
خلک شاهي کورنۍ ته وفاداره و او هم په شمال او شمال غرب کې هم د شاه طرفدار
ؤ او هم روسیه د ایراني شاه احتمالي طرف دار او شاه محمود خطر ځنې حس کاؤ ځکه
کوم وخت چې شاه محمود په اصفهان قبضه کوله پطر کبیر و دربند ته
را رسېدلی ؤ او غوښته یې چې ګیلان ته قواوې را ولېږي او پیټر اعلان کړی
ؤ چې زما قصد د شاه حسین مرسته ده، د ده د بیان دقیق مفهوم داسې ؤ چې

ژربه د ده قواوې له شاه محمود سره مخامخ شي اماله هغو مذاکراتو چې
څه موده وروسته امان الله سلطان د شاه محمود ستر قومندان له -
آپی سالمیان سره کړې وې له هغه څخه معلومېږي چې افغانان د روسیانو
له طاقته او اهمیته ناخبره وُ هغه مملکت یې د ځان له پاره خطرنه باله او داسې
شواهد هم موجود و چې عنقریب به ترکیه په ایران کې مداخله وکړي خو
شاه محمود ته دا نه وه معلومه چې ترکان به د چا حمایت وکړي له ده څخه به
حمایت وکړي چې د دوی هم مذهبه دی او که به له طهماسپ رافضی او د
ده له روسي ملګرو څخه که فرضاً شاه محمود داسې افکار هم درلودل
خو د طهماسپ د اعلان له کبله چې په قزوین کې په ۳۰ د محرمې ۱۱۳۵
(۱۰ د نوامبر ۱۷۲۲) د پلار له تسلیم کېدو خبر سونو په خپله یې د
سلطنت اعلان وکړ د طهماسپ د اعمل دا معنی درلوده چې شاه محمود
ته یې د جنګ دعوت ورکړ شاه محمود هم نسوای کولای چې د ده پر دې
عمل سترګې پټې کړی شاه محمود پوهېدی چې د طهماسپ د شاهي کورنۍ
د غړیتوب له کبله کېدای شي چې ده ته هر ډول مشکلات پیدا کړی او د
ملک له ګوښې ګوښې څخه شندلی قواوې سره راټولې کړي شاه محمود بې
له ځنډه امان الله سلطان له ۳۰۰۰ افغانانو او زرتنه ایراني ایلجاري
سره قزوین ته واستاوه شاه اشرف د شاه محمود د کاکا زوی
چې د شاه محمود د لښکر له قوماندانانو څخه وُ د امان الله خان تر قوماندې
لاندې قزوین ته روان وُ امان الله خان چې قزوین ته ورلنډ کېدو
طهماسپ د ده له راتګه خبر سو په ډېره بېړه دې او د ده ملګری وزنجان
ته وتښتېدل او له هغه ځایه تبریز ته ولاړ د طهماسپ له وتو وروسته
د قزوین خلکو بې له جنګه ښار امان الله خان ته تسلیم کړ امان الله خان
چې قزوین بې ټکه یو که ونیو بې له هېڅ ډول احتیاطه یې یو شمېر عسکر

د شاه اشرف ترقوماندي لاندي طهران ته ولېږل او يو څه نور يې په طهماسپ
پسې ولېږل او يولږ شمېر يې له ځانه سره وساتل په دې ترڅ کې امان الله خان
پر خلکو ډېر فشار راووست چې روپۍ لاس ته ځنې راوړي او سپاهيانو
يې هم پر خلکو له ظلم څخه دريغ نه کاوه دلته له يوې خوا د امان الله خان
فشارو له بلې خوا ايرانيانو ميدان چغالي وليد ځکه امان الله خپلې زياتې
قواوې و طهران او طهماسپ پسې لېږلې وې قزوين خالي پاتې و ايرانيانو
د سيسه سره جوړه کړه او د جنورۍ ۸ تاريخ ۱۷۲۳ يې سره تعين کړ خلکو ته په
۸ د جنورۍ له خپلې ويرې داسې فکر ورولويدی چې افغانان زموږ په د سيسه
خبر شوي دي تر ټاکلي وخت يې مخکې پر افغانانو حمله شروع کړه يو شمېر
يې په داسې حال کې غافلګير کړل چې هغه بې غمه بې خبره په خپلو اطاقو کې و
دوی حمله پرې وکړه او يو شمېر نور په بازار کې ګرزېدل چې قزوينيانو تر بريد
لاندې ونيول په دې اړو دوړ کې زيات شمېر افغانان ووژل شول نورو پاتو
خپل ځانونه خوندي کړل او په مقابله يې پيل وکړ امان الله خان په داسې
حال کې چې زخمي و او يوه ګولۍ پرې لګېدلې وه لکه د زمرې غوندې په اړو دوړ
کوونکو درې حملې وکړې عسکرو چې د خپل زخمي سردار نور يا ليتوب او مړانه
وليده د ډاکټر لارنس ليکارټ (صفحه ۲۲۶) په قول د زړه قوت يې وموند او شاهي
ماڼۍ ته يې ځانونه سره راورسول دري ورځې د قزوين په ارګ کې قلابند وو په
اخير کې امان الله خان فکر وکړ چې د ښمن ورځ په ورځ زياتېږي او هم د زړه
قوت پيدا کوي چې موږ افغانان قلابند کړي د هغه و چې خپلو قواو ته
چې شمېر يې بېخي کم و امر وکړ چې په هر صورت چې وي ځان ته لاره خلاصه
کړي هغه وو چې افغاني عسکر لکه تندر غوندې پر قزوينيانو را پرېوتل په
يوه حمله يې شوړېږ شو کړل او ځان ته يې لاره خلاصه او د اصفهان پر
خوا راوخوځېدل ايرانيان يې په دا يوه حمله وبېرول په داسې حال کې چې

شمېرېي و زرهاؤ ته رسېدی بیا یې د دې کم شمېر قواؤ له تعقیب څخه دډه
وکړه دافغانانو دې مرګ ژوبلې ایرانیانو ته یوڅه د زړه قوت ورکړ
مګر شاه محمود داضربه په سختی وزغمله امان الله خان چې له قزوین
څخه راووت دیو چابک استازی په لاس یې د قزوین د واقعې راپور شاه محمود
ته ولېږه د قزوین داړو دوړ په وخت له امان الله خان سره صرف زرکسه
عسکر پاته و متباقي درې زره وطهران او طهماسپ پسې استول شوی وُ په دې
اړو دوړکې تقریباً څلور سوه کسه افغاني عسکر مړه شول متباقی شپږ سوه
کسه له امان الله خان سره د اصفهان خواته راوخوځېدل د لارنس لیکارټ
په قول (صفحه ۲۲۷) چې له ګیلان تنر څخه روایت کوی وایي چې څلور زره
کسه له کاشانه قزوین ته ور روان و چې له دغو شپږ سوه افغانانو سره
مخامخ شول او د افغانانو داسې رعب پر ایرانیانو پروت وُ چې دې
څلور زره کسو خپل هر څه بار او بنه او نور لوازم پر ځای پرېښودل او
په یوه برېښنا ډوله تېښته یې ځانو نه د افغانانو له تور برېښ
څخه خلاص او کاشان ته ننوتل او دروازې یې د افغانانو پر مخ وتړلی
د امان الله خان لښکر چې اصفهان ته راتلی زیات شمېر څاروی او سامانونه
او لوازم ورسره وُ خلک حیران شو ځکه دلته خبر راغلی وُ چې د هغه لښکر
تباه او دی ټپی او په تېښته راروان دی خو اصفهان ته دالږ عسکر د جنوری
پر ۲٤ مازیګر ورسېدل دې راتګ او دونه ولجوهم خلک حیران کړل
وروسته معلومه شوه چې دوی په لارکې څلور زره کسه ایرانیان بې ټکه پوکه
زغلولی او د دوی سامانونه او څاروی یې ځنې راوستلی وو. په هر صورت
شاه محمود له دې واقعې څخه ډېر په قهر وُ د میلمستیا په نامه یې ټول ایراني
مشران راټول کړل او هغه کسان چې تر اشتباه لاندې وُ هغه یې ووژل
خو محمد قلي خان صدراعظم او داسې نور چې کوم قصور یې نه درلود پرېښودل

شول د محمد قلي خان ورور له امان الله خان سره د يو زر کسو
عسکرو سره د قزوين په نيولو کې ملګري ؤ داسې وايي چې اله ګوله
د اصفهان د مشرانو په اشاره شوی وه د دی مړيو تعداد د کلانتر ۱٤۸
تنه بللی دی خو ګرونسکي يې ۳۰۰ کسه بولی د دی اقدام له کبله ايرانيان
دونه وبېريدل چې څو شپې له کوره نه راوتل د جنوری پر ۲۷ يو ترکي
ايلچي د عثمان آغا په نامه د حسن پادشاه له خوا اصفهان ته راورسېدی
حسن پادشاه چې هميشه د خپل قلمرو د منافعو مراقب ؤ په ظاهره يې د
يو ايلچي په توګه رالېږلی و چې له شاه محمود او د ده د حکومت له غړيو سره
د پېژندګلوی کتنه وکړی خو په باطن کې دی د دې د پاره رالېږل
شوی و چې د افغانانو نظامي قدرت ځان ته معلوم کړي او هم د شاه محمود
د طرز فکر په هکله معلومات حاصل کړي خو شاه محمود د ده په هکله
ډېره مهرباني ښکاره کړه تحفې او خلعتونه يې ورته ورکړل عثماني استازی
ته اجازه ورکړه شوه چې دوه واره له خلع کړی شوی بادشاه سره ووينی او
له خارجي اتباعو سره مرکې وکړي چې په هغو کې ژوزب آپی سالميان هم ؤ چې
دوی پخوا سره پېژندل ژوزپ آپی سالميان وايي چې عثمان آغا وويل چې له
دې ځايه بېرته ولاړ سم سلطان ته به پېشنهاد وکړم چې شپاړس زره لښکر راکړي
له دې ځايه تر قندهاره د دې ټولې سيمې د اشغال ذمه به واخلم دا افغانان
خو دونه شی نه دی پر ۱۵ د فروری شاه محمود و عثمان آغا ته اجازه ورکړه
چې خپل هېواد ته ولاړ سي شاه محمود امر صادر کړ چې هېڅ څوک يو ايراني
د مينځی يا غلام په توګه له ايران څخه نسي بيولای هغه وو چې عثمان آغا
حرکت وکړ او د ښار په درې ميلی کې افغان منصبدار له سپاهيانو سره مخ ته
ورته ولاړ ؤ او په سامانو کې يې تلاشي شروع کړه او دوولس غلامان يې
ځنې پيدا کړل او هغه يې پر هغه ځای په توره ووهل د سفير په مخکې يې مړه

کړل چې یو څه لار ولاړل بله ډله افغانان تلاشي ته ولاړو بیا یې د تلاشي په دوران کې د ده له بکسو څخه دوې ایرانی مینځې پیدا کړې هغه هم په همغه ډول قتل کړای شوې عثمان آغا به ترکیې ته له رسېدو وروسته حتماً د افغانانو خلاف نظریه ورکړې وی لکه چې هغه خبرې چې ده وژوزف ته کړې وې که تر قضاوت لاندې ونیوی سي د ده نظریه د شاه محمود په متعلق مخالفه وه په هرحال سفیر خپل وطن ته وګرزېدی.

د شیراز فتح

شاه محمود په افغاني امیرانو کې نصرالله ته چې ایرانیانو په کور(۱) سلطان مشهور کړی وُ له درو زرو افغانانو او شپږ زره درګزینانو سره د شیراز د نیولو ماموریت ورکړ دا نقل ګرونسکي د خپل کتاب په ۵۵ مخ کې داسې کړی دی: د اصفهان او شیراز تر منځ دلارې په اوږدو پر تو خلکو یې اطاعت وکړ نصرالله په طایفه د کعب هندوستاني او په عجم کې چې مطلب ایراني دی ډېر معتبره وُ په بهادرۍ دلاوری او شجاعت یې شهرت پیدا کړ په افغانانو کې یې پراخ بخت درلود افغانانو به ایلدرم خان باله د اصفهان په جګړو کې چې به هرچیرې افغانانو له عجمو څخه ماتې وکړه دی به ور رسېدی او عجمو ته به یې ماتې ورکوله او دې په هیڅ جنګ کې نه وُ مغلوب شوی افغانانو وده ته ډېره عقیده درلوده او قزلباش سخت ځنې بیریدل په دې سفر کې دی ډېر مغروره شوی وُ ده فکر کا وُ په محض رسېدو سره به شیراز قبضه کړم چې برعکس نتیجه یې ورکړه نصرالله خان په ډېر غیرت او زړورتوب په شیراز حمله وروړه او دی به د خپل فوځ په مخکې ولاړو چې د ټوپک ګولی راغله او پرده ولګېده او دی یې هلاک کړ افغانان د ده له مرګه دونه متاثر شول چې له محاصرې یې لاس واخیست دا خبر و شاه محمود ته ورسېده او سخت خوابدی سونو یې د ده پر ځای زبردست خان

(۱) ده به یوه سترګه اکثره چڼه نیوه.

دلښکر په سرداری مقرر کړ ده ډېرې جګړې وکړې پر شیراز یې بری
نه کی پیدا ځکه د شیراز خان ډېر عاقل او مدبر ؤ د حاجي عبدالباقی عرب
وخواته یې روپی او سړی واستول او مرسته یې ځنې وغوښته د شیراز
خان او د هغه ښار او سېد ونکیو د مرستې په تمه اته میاشتې مقابله وکړه او
افغانان ډېر تلف شول یوه ورځ مازیګر حاجي عبدالباقي له شپږ زره عربو
او یوڅه سپاه د قزلباشو او بې حسابه آزوقی سره د شیراز د خلکو مرستې ته
راغلو افغانان د دوی په راتګ خبر سول سخت جنګ د دوی په منځ کې
ولګېدې د قزلباشو او عربو ډېر سړی مړه کړای شول او حاجي عبدالباقی
خان له دوه سوه کسو سره په میدان کې پاته سو، دی ډېر جسور او
غیور سړی ؤ له جنګه یې مخ نه واړاؤ تر څو چې مړ کړای شو زبردست خان
د دوی مالونه او د ازوقی ذخیرې خپل اردو ته راوړی افغانانو په دې
غنیمت ډېره پراخې حاصله کړه او ټوله عنیان شول زبردست خان د
امان خبرې له خلکو سره کولی چې په دې وخت کې یې برید پرې وکړ
او دیوې خونړی جګړې په ترڅ کې یې شیراز فتح کړ امر یې وکړ
چې څوک ونه وژنی مګر له چور څخه یې څوک نه دی منع کړی
ښار چې ونیول شو که ګوري چې څو کسه ګدایان له لوږی مړه
شوی او دیو سوداګر په کور کې دونه غنم پیدا سول چې درې
میاشتې یې د ټول شیراز له پاره کفایت کاوه زبردست خان
سوداګر تر پوښتنې لاندې ونیو او بندی یې کړ چې ولې دې دې
مسکینانو ته څه غله نه ورکوله چې له لوږې مړه شول او له هغه ځایه
یې څلور سوه کسه بندر عباس ته واستول چې دوی له هغه ځایه
د هرمز جزیرې ته ورسېدل خود ناروغیو له کبله دا عسکر ډېر
ضایع شول او بېرته شیراز ته راغلل.

دګل پائیګان فتح

طهماسپ ته چې د حاجي عبدالباقي د مرستې خبر ورسېده چې له شپږ زره کسو سره د شیراز مرستې ته روان دی ده - فریدون خان له شل زره لښکر سره ګل پائیګان ته واستاوه او طهماسپ فریدون خان ته امر کړی وُ چې د ګل پائیګان له شاوخوا څخه عسکر راټول کړه او په اصفهان حمله وکړه. شاه محمود چې د فریدون خان له راتګه خبر سو پخپله وګل پائیکان ته روان سو وایي چې فریدون خان پر یوه لوړه غونډی ولاړ وچې د شاه محمود لښکر یې له دې لوړی څخه ولید بې له ټکه پوکه له ګل پائیګان څخه وتښتېدی ګل پائیګان شاه محمود اشغال کړ او د ګل پائیګان په څنګ کې نورې قلاوې وې چې په هغو کې ډېرې ذخیرې جمعه کړای شوی وی شاه محمود په هغو حمله وروړه څو په پای کې د فیلانو په وسیله دېوالونه ونړول ایراني عسکرو پناه وغوښته شاه محمود یې پناه قبوله کړه ګل پائیګان او د هغه شاوخوا د خونسار ښار چې د ګل پائیکان د جنوب په ۹ میلی کې وُ او د زاګروس د غرو د شمال شرقي سلسلو سیمې هم اشغال کړې.

د کاشان فتح

د قزوین له اړو دوړ سره د کاشان خلک هم پورته شوی وو شاه محمود د شاه اشرف په مشری یو لښکر کاشان ته ولېږی شاه اشرف چې کاشان ته ورسېدی د کاشان خلکو د قلا دروازې وتړلې او مقابلې ته یې ملاوتړ له شاه اشرف په یوه زوروره حمله کې د

کاشان د ښار دروازې ماتې او ښار ته ور ننوتل ایراني قواوې
یو په بل پسې وځپل شوی او کاشان یې د تورې په زور فتح کړی فتحې
ډېر لوی تاثیر پرځای پرېښود دا زیری چې اصفهان ته راورسېدې
په اصفهان کې شاه محمود جشن جوړ کړ او ښار یې څراغان کړ دا
ناره هم د دې مدعا شاهدي وایي:

که لوړې دا شرف ټولګی لوړې
د کاشان پر خوا چې سپور سو دروازې یې د دې ښار کړې دړې وړې

وایي دا جشن درې شپې درې ورځې دوام درلود.

د امان الله خان مرور کېدل

د امان الله سلطان او د شاه محمود تر منځ خوابدی پېښه شوه کرونسکي
د عبرت نامې په ۵۸ صفحه کې وایي چې وروسته له خوابدی امان الله خان و
شاه محمود ته حال راولېږی چې تا له ما سره قول نه وپالی زه هم له دې
وروسته تا ته خدمت نه کوم او ستا له قبیلې نه کېږم زه خو اصلاً د هندوستان
د پادشاه تبعه یم ستا حکم پر ما نه ده نافذ خپل لښکر له ځان سره هندوستان
ته بیایم دلته باید پرې پوه شو چې د کابل شا وخواسیمې د هند قلمرو
وی امان الله له دې حال رالېږلو څخه وروسته سملاسي له دوه زره
لښکر سره د افغانستان خواته وخوځېدی شاه محمود له یو څه ځنډ څخه
وروسته پخپله له لس زره فوځ سره پسې سپور شو او امان الله خان یې
لاندې کړ په دې وخت کې محمد خان بلوڅ د دښمنی په توګه غوښته
چې حمله پر وکړی خو شاه محمود منع کړ شاه محمود له آسه کښته شو
پیاده یوازې د امان الله خان خواته ور رهی سو امان الله خان چې ولیده
چې بادشاه پیاده د ده خواته را روان دی دی هم له آسه کښته او مخ ته

ورته راغی دواړو د لښکرو په مخکې په غېږکې سره ونیول او پرمخ یې
سره مچ کړل بیا دواړه دوه په دوه له لښکره یو څه لرې شوه یوه
ګرځ سره وږغېدل بیا دواړه بېرته لښکرته راغلل امان الله خان د
خپل لښکر خواته ورغی او خپلو ملګروته یې وویل عزیزانو د دونه -
عظیم الشانه بادشاه په موږ پسې راتګ او زموږ خوشحاله کول دا
په تاریخ کې ساری نه لري نو خوشحاله کېده څه باید عهد وکړو چې د
ژوند تر وروستی سلګی پوری به ځان د ده له خدمت څخه نه سپموو!
هغه ؤ چې دواړه لښکره لاس تر غاړه بېرته اصفهان ته راغلل همدا
ډول شاه اشرف دوه واره په مرور تیا قندهار ته ولاړ چې بیا به
بېرته پخلا کړای سو او بېرته به راغی په وروستی پلا چې راغی
د کاشان د نیولو ماموریت ورکړ شو د شاه اشرف او امان الله خان
په منځ کې څه تاو تریخوالی ؤ ځکه هغه مقام چې شاه اشرف د
ځان بالو هغه شاه محمود امان الله خان ته ورکړی ؤ همیشه به یې دی د
امان الله خان تر قوماندې لاندې یوې خواته لېږی لکه د
قزوین په پلا هم شاه اشرف د امان الله خان تر قوماندې لاندې
د قزوین فتحې ته لېږل شوی ؤ چې وروسته یې بیا دی د تهران
د قواؤ د تقویې د پاره تهران ته ولېږی او شاه اشرف له تهرانه
مرور قندهار ته ولاړی بیا شاه محمود مرکه پسې ولېږله
او بېرته یې راوست او وروسته له راتګه د کاشان د نیولو ماموریت
ورکړ شو.

دلرستان او کیلویه د غرونیول

اصفهان ته له رارسېدو سره سم وامان الله خان ته ماموریت ورکړ

شو چې د لرستان او کیلویه د غرو او بختیارو سیمې اشغال کړه هغه
وچې امان الله خان ونومورتو سیمو ته حرکت وکړ امان الله خان
چې د بختیارو سیمې ته ورسیدی بختیارو د بری سختی جګړی ورسره
وکړی امان الله خان له شاه محمود څخه کومک وغوښت شا محمود
پخپله سیمې سپورسو شاه تر بهبهانه پرمخ ولاړی چې په دې وخت
کې زمی راورسیدی او په هغه سیمه کې درنی واوری لویږی دوی
په دې جای کې واورولاندی کړل په سیمه کې دونه درنی
واوری وشوی چې پوره دری میاشتی یې نور هیڅ خواته حرکت
ونکړای شوای پسرلی چې واوری ویلی شوی رودونه مست
شول پلونه خراب کړای شوی وهغه وچې د قاسم خان بختیار په
لارښوونه شاه محمود له خپل لښکر سره خان اصفهان ته راورساو
خو د برخانی او مالی تاوانونه ورسیدلی وپه دوی یې لښکری
سره برابری کړی څه له کندهاره څه له درګزینانو څه له بلوڅو څخه
خپل عسکر یې ښه ونازول چې په دې وخت کې دوه زره کسه عسکر له
کندهاره راتلل د یزد په سیمه کې ایرانیانو حمله پرې وکړه او ډیره
مرګ ژوبله یې ځینی وکړه شاه محمود پخپله له لښکر سره ورووت ایرانیان
د یزد قلاته نیوتل او محاصره شول محاصره اوږده شوه په دې میان
کې شاه محمود په ښارکې له آتش پرستانو سره ارتباط ونیو هغو وعده
وکړه چې پرتاکلی وخت به تاسې پرقلا حمله راوړی موږ به پلانی
وخلاصه کړو پرتاکلی وخت شا محمود پرقلا حمله وکړه
وپارسیبانان له دې دسیسې څخه خبر شوی وُ او آتش پرستان
سې له منځه وړی وُ شاه محمود ته په دې حمله کې ډیر تلفات ور-
سیدل له بلې خوا بیا دژمي سخته یخني پیښه شوه شاه محمود

د واورو له وېرې له جنګه لاس واخیست او بېرته اصفهان ته راغی دې
دوو واقعو د شاه محمود پر اعصابو ډېر ناوړه تاثیر وکړ او دی د اعصابو
په ناروغی اخته شو خوب یې وتښتېدی خوراک یې نه کاوه یو ډول
بل ډول وسوسې به ورلوېدی دلېونتوب علامې پرې ښکاره شوی
یو افغاني شیخ دم باندې کاوه څلوېښت شپې یې په چله کې وساتی
وروسته له هغه چې له چله خانی راووت یو مخ لېونی ؤ جنون یې
پر عقل غالب ؤ در او دیوال ته به یې سلام ورکاوه خپل او پردي ته
به یې عتاب او خطاب کاؤ له خپله شیخه څخه یوه ګړۍ نسوای جلا
کېدای بېرېدی به خلکو به ویل چې داد شیخ کرامات دی افغانانو
کوشش کاؤ چې د ده دلېونتوب حال پټ وساتي ګرونسکي ادامه
ورکوی وایي څلوېښت شپې په دې ډول نورې تېرې شوې
ګاهې لېونی ګاهې پرسد ورځ په ورځ یې لېونتوب زیاتېدی.

د بادشاه د خپلوانو وژل

په دې ورځو کې شاه محمود پر هر چا بدګومانه ؤ خصوصاً
پر شاه اشرف باندې، هغه ؤ چې شاه اشرف یې په قصر کې
بندي کړ او له مالیخولیا څخه سخت په تکلیف ؤ لارنس لیکارټ -
(۲۳۹ مخ) دا قصه داسې بیانوي:
یوه ورځ چې شاه محمود له خپلې ناروغۍ څخه په عذاب ؤ
یو ایراني خبر ورته راوړ چې صفی میرزا د شاه حسین دوهم زوی
له خپلو محافظینو څخه تښتېدلی دی او بختیارو ته تللی دی ده بېله
دې چې د دې خبرې رښتیا او درواغ معلوم کړی فوراً یې
امر وکړ چې ټول صفوی شهزادګان چې اکثره یې راندې

وو او شاه سلیمان سترګې ځنې کښلې وې او دا بې بخته د صفوي
شاه حسین او پلار په زمانه کې یې لا په بندي خانه کې وُ او شاه محمود
هم داسې په بندی خانه کې ساتلی وله بندیخانې راوستل شول او
د ټولو لاسونه یې وتړل دا تصمیم د ۱۷۲۵ کال د فروری د ۷ او
۸ ترمنځ وشو په داسې حال کې چې د ټولو لاسونه یې تر شا
تړلی وُ شاه محمود امر وکړ چې د قصر یوې باغچې ته یې
بوزی او ټول یې د قصر یوې باغچې ته بوتلل او خپلو دوو تنو
سپاهیانو ته یې امر وکړ چې مړه یې کړی عسکرو د دوی په
وژلو پیل وکړ په دې وخت کې شاه حسین صفوی چې د شاه محمود
له تصمیم څخه خبر شوی وُ راورسېد او د دوی شفاعت یې شروع
کړ دوه کوچنیو د شاه حسین زامنو چې پلار ولید ځان یې ورته
راورساؤ او په غېږ کې یې پټ شول شاه محمود کښلی توره په دوی پسې
راورسېدی خو چې پر صفوی شاه حسین یې سترګې ولګېدې یو څه
سد یې سرته راغی او ودردېدی شاه حسین زاری ورته وکړې او په دې اړودوړ
کې یې د صفوي شاه حسین خوږ شوی لاس متاثر کړ او لاس یې ونیو په
دې واقعه کې د مړو شمېر صحیح نه دی معلوم ځکه مختلف مأخذونه یې
له ۱۸ څخه نیولی تر ۱۸۰ پورې ښیي خو منلی خبره داده چې ټول صفوي
شهزادګان پرته له طهماسپ او د شاه حسین له دوو کوچنیو زامنو
څخه نور ټول د شاه ورونه او زامن ووژل شول په دې جمله کې
رحیم خان د معزول شاه حکم باشي هم شامل وُ چې د لارنس لیکارټ په
قول څوک نه دي په ده خوابدی شوی. دې واقعې د شاه محمود پر
اعصابو نور هم بد تاثیر وکړ ګرونسکي چې په هغه وخت کې په اصفهان
کې موجود وُ داسې وایي چې افغاني طبیبان چې له خپل علاج څخه عاجز

شول نو یې ارمني کشیشان ورو غوښتل چې د انجیل هغه برخې چې سور انجیل ورته وایي او پر لیونیانو باندې یې تلاوت کوي پر شاه محمود باندې تلاوت کړي دا رسم په ایرانیانو کې رواج ؤ او دوی یقین درلود چې دا عمل په لیونتوب اخته کسانو ته شفا ور بخشي ارمني کشیشان په ډېرو پرتمینو مراسمو په داسې حال کې چې لګېدلی شمعې یې په لاسونو کې وې شاهي ماڼۍ ته راغلل درباریان چې د ننه په ماڼۍ کې په دوو صفو کې ولاړ ؤ په ورینو تندو یې د دې مذهبي مراسمو ننداره کوله په داسې حال کې چې عمیق سکوت حکمفرما ؤ د دې کشیشانو په احترام ولاړ ؤ د دې عیسوي کشیشانو هر کلی یې وکړ وروسته له هغه چې دوی خپل دم او دوعا تمامه کړه د قصر موجود رجال د قصر تر د باندې پورې له دوی سره ووتل او دوی یې جلفا ته ورسول.

شاه محمود دلنډې مودې د پاره په هر علت چې ؤ تر یوې اندازې صحت پیدا کړ او ارمني کشیشانو ته یې هدیې ورولېږلې او د شرقي هند شراکت دا نګرېزانو او دهالند د شراکتونه یې له دوی څخه اخیستی شوی روپۍ بېرته ورمستر دې کړې په دې شپو کې شاه اشرف په بند کې ؤ له لږ شپو ښېګړې وروسته بېرته مرض پر شاه محمود حمله وکړه په دې وار حمله ډېره وحشتناکه وه تر دې اندازې چې بیا نو څوک ورنژ دې کېدای نشوای او دروازې به پسې تړلې وې په هغه حال کې ده کله کله له درده په ځان خولی لګولې او په تن کې یې پرهارونه پیدا شوه د ده د ناروغی د ماهیت تعین ونکړای شو چاویل دا د جزام ناروغی ده چاویل فالج ده خو بیا یې هم معلومه نکړای شوای دا چې په هر ډول ناروغی اخته ؤ نور

یې دعلاج امید نه کېدې په دې وخت کې اصفهان ته خبر راورسېدې چې سید علی خان هزاره چې مخکې له اته زره لښکر سره په طهماسب پسې استول شوی ؤ دقم په برخه کې له طهماسب څخه شکست خوړلی دی دا خبر چې اصفهان ته راورسېدی افغانانو جرګه تشکیل کړه وروسته له ډېر بحث او مباحثې د شاه محمود له روغېدو په قطعي توګه نا امیده شول او له قندهاره د شاه حسین راوستلو هم ډېر وخت غوښت.. دلته اوضاع په فوري طور ویجاړه ؤ نو فیصله داسې وشوه چې شاه اشرف له بنده را خلاص او دایران د بادشاه په حیث یې پر تخت کښېنوی هغه ؤ چې دا پریل پر ۲۲ وروسته له غرمې امان الله خان او یو بل افسر ورغلل شاه اشرف یې له بندي خانې راخلاص او قصرته یې راوست او په عارضي توګه یې دچارو واګې په لاس کې واخستې لارنس لیکارټ (۲٤۲ مخ) لیکي: وروسته له دروشپو شاه محمود وفات شو خو معلومه نه شوه چې دنا روغی له کبله ؤ که دسوء قصد له کبله خو حزین ایرانی مؤرخ چې په هغه وخت کې اصفهان کې ؤ وایي چې شاه محمود په طبیعي مرګ مړ شو (۱۳۹ مخ) او حقیقت هم دادی. په داسې حال کې چې شاه اشرف دچارو واګی په لاس کې واخستی او شاه محمود هم دژوند وروستی سلګی وهلې نو ده ته یې دوژلو څه ضرورت ؤ، وروسته له هغه چې دشاه محمود دمړینې او ښخولو مراسم پرځای شول دشاه اشرف بادشاهی هم اعلان شوه په دې ډول دلومړی افغاني فاتح لنډه او خونړی دوره پای ته ورسېده او دځوانی په لومړیو شپو یعنې ۲٦ کلنی کې په طبیعی مرګ وفات شو.

ډاکتر لارنس لیکارټ په انقراض صفویه کې (۲٤۳ مخ) د دې ځلمي فاتح افغان امپراتور په هکله داسې لیکي چې دده دژوند دوره اول دافغانانو له بادشاهی څخه نیولی بیا دایران ترشاهنشاهی پورې که تر تحقیق لاندې ونیوله شي هغه حقایق چې واقعیت ځنې

معلوم شي که محال نه وي مشکل خو حتماً دی باید دا په خاطر
کي ولرو چي په دی تفحص او تحقیق کي تقریباً ټول اطلاعات
دده له مخالفو ماخذونو څخه سرچشمه اخلي سره له دي په دي
کي تردید نشته چي دي ستمګر او خون آشامه نه وچي تر
یوي اندازي د قوت او همت په زور او څه د ایراني د رباریانو
د بي کفایتي له کبله یي خلیدونکي کامیابي په برخه شوي په
لومړیو مراحلو کي د ده کردار او رفتار زیرکانه وخو وروسته
خون خوري غلبه پري وکړه.

خو د دي نقطي تصور که چیري دی د پلار میرویس له
پوهي او تدبر څخه بهرمند وای معلومه نه وه چي د افغانانو سرنوشت
به چیري تمامیدی خالي له فایدي نه ده او آیا په داسي صورت کي
به ده کړي وای چي د افغانانو امپراتوري په ایران کي په اساسي
توګه تاسیس کړای سي.

په ایران کي روسي مداخله

هغه وخت چي شاه محمود اصفهان محاصره کړي وطهماسپ
د شاه حسین روی له محاصري ووت او د ایران شمال ته ولاړ پیټر
کبیر هم په دي وخت کي په ایران کي مداخله شروع کړي وه
هغه وچي خپل یو خاص سړي یي وطهماسپ ته راولیږو څو
طهماسپ تشویق کړي چي له پیټر څخه مرسته وغواړي دا سړي
سیمون اوراموف نومیدی دي سړي ته پیټر تام اختیارات ورکړي
دي سړي له طهماسپ سره هر ډول مرستي کولي اوراموف
طهماسپ ته له شرابو نیولی تر وسلي پیسو هر ډول مرستي کولي

اوراموف طهماسپ تشویق کړ چې خپل یو خاص استازی د -
پیټر دربار ته ولیږه پیټر به تا د افغانانو له شره خلاص کړي
حتی د ایراني ولایاتو لکه ګیلان مازندران او استرآباد سودا دلته
اوراموف او طهماسپ سره کړی وه چې دا ولایتونه به پیټر کبیر
ته پریږدي پیټر به متباقي ایران د شاه محمود له لاسه واخلي
تا ته به یې درکړی هغه ؤ چې اسمعیل بیګ د طهماسپ استازی
د ۱۷۲۳ په سپتمبر کې پیټر بورګ ته ورسېد او هلته یې لکه دیو سفیر
غوندې احترامات پر ځای شول او د دې ماموریت اهمیت د -
ډاکټر لارنس لیکارټ (۲۸٤ مخ) له دې وینا څخه معلومېږي چې
څلور شپې وروسته اسمعیل بېګ د پیټر کبیر حضور ته وروستل
شو او اسمعیل بېګ د طهماسپ لیک وکولوګین صدراعظم ته ورکړ
او د تزار د چپنې څوکه یې مچ کړه پیټر د ګوښه کړای شوی بادشاه
د خیریت پوښتنه ځنې وکړه اسمعیل بېګ داسې خیال وکړ چې
لکه چې ګوښه کړای شوی بادشاه محمود وژلی دی ژړغونکی سو
خبرې یې نسوای کولای د روس او ایران خبرې له دې لیدو
وروسته بې له ځنډه شروع شوې د روس د دولت له خوا څخه
یو ډېر پوه سړی او سترخان نمایندګي کوله څنګه چې اصلي
خبرې د اوراموف او طهماسپ په منځ کې شوی وی او اوراموف یې
مفصل رپوټ رالیږلی ؤ دلته په خبرو کې دونه جنجال نه ؤ اسماعیل -
بېګ د روسانو ټولې خبرې ومنلې نوله دې کبله خبرې دونه -
اوږدې نه شوی په دې خبرو پورې مربوط اسناد د ستامبر
پر ۲۳ سنه ۱۷۲۳ امضاء شول دا قرارداد یوه مقدمه او پنځه مادې
درلودې چې هغه ډاکټر لارنس لیکارټ په انقراض صفویه کې داسې

خلاصه کړیدی :

اوله ماده : تزار تعهد کوي چې له طهماسپ سره کومک وکړي اوله ده سره دده دقلمرو دیاغیانو برخلافه اتحاد تشکیل کړی او همدا ډول تعهد کوي چې د ده دقلمرو باغیان تعقیب او دقلع قمع په غرض خپلې لښکرې ایران ته ولیږي.

دوهمه ماده : طهماسپ د دې ښیګړو په بدله کې دباکو او دربند ښارونه له خپلو توابعو سره په انضمام دګیلان مازندرانو او استرآباد به دهمیشه دپاره وروسیې ته ورپریږدي.

دریمه ماده : داچې وایران ته د خوړلو شیان او آسان رسول غیر ممکن دی نو مقرر کیږي چې د روسانو داړتیا وړغلې او آسان به په عادلانه قیمت ورکوي.

څلورمه ماده : باید د دواړو مملکتو په منځ کې دایم دوستی او تفاهم موجود وي او د دواړو مملکتو اتباع په هر وخت کې هر څو واره چې وغواړي یو د بل مملکت ته سفر وکړي او هلته اقامت اختیار کړي او دایران او روس په منځ کې آزاد تجارت برقرار وي.

پنځمه ماده : ایران او روس یو د بل دوستان او دښمنان خپل دوستان او دښمنان بولي.

دا قرارداد په مجموعهٔ عمومی سیاسي وحقوقی امستردام سنه ۱۷۳۱ جلد ۲ صفحات ۷۵ و ۷٦ کې ذکر شوی دی. کلراک یو بل لیکوال هم په فرانسوي ژبه په خپل کتاب کې له ۲۷۱ څخه تر ۲۷۵ صفحو پورې درج کړیدی.

اسمعیل بیګ چې د طهماسپ بااختیاره استازی وُ او د دې تړون د لاسلیک کولو اجازه خلع کړای شوی با د شاه ورکړې وه

له دې کبله دې سند د پیټر او روسیانو لاس دایران په شمال کې په قانوني توګه خلاص کړ د دې قرارداد په انعقاد پیټر له خوشحالی په جاموکې نه ځائېده پیټر څه موده وروسته شهزاده بوریس مشرسکی وایران ته واستاوه چې داسند په طهماسپ هم امضا کړی هغه وُچې پیټر لواچف دګیلان د حکمران په توګه مقرر کړ ایرانیان په دې قرارداد ډېر ناخوښه وو ایرانیانو دګیلان په سیمه کې روسانو ته مشکلات پیدا کړل او روسانو ته یې تهدید متوجه کړ جنرال ماتیوشکن وروسته له هغه چې باکو یې اشغال کړه خپلې لښکرې یې ګیلان ته بوتلی داستار حاکم چې نوم یې نه دی ښول شوی تقریباً شل زره لښکر سره راټول کړی او د ځنګلو په پناه کې یې پر روسانو حملې شروع کړی خو په پای کې د ماتیوشکن قواؤ له منځه یوړل.

د ترکانو او روسانو تر منځه د تشنج زیاتېدل

په ٦ د فروری سنه ١٧٢٣ ترکي سفیر نیشلی محمد ماسکوته ورسېد چې د تزار له خوا یې له معمول سره سم احترامات پر ځای شول وروسته نیشلی محمد د سلطان لیک تزار ته وسپاره ولوکه د مکتوب لهجه سخته وه خو بیا هم د تهدید بوی نه ځنی راتلی سلطان ورته لیکلی وچې تاسو له لزګیانو څخه شکایت کړی لزګیان مسلمانان او اهل سنت دی او زموږ ترحمایې لاندې دي موږ به چاته اجازه ورنه کړو چې عیسوی نصارا پر هغو خپله سلطه قایمه کړي او هم یې ورته لیکلی وچې که سوله غواړی په داغستان کې له خپلو فتوحاتو لاس واخلی دربند او باکو تخلیه کړی او د صلیب مقدس سنګرونړوی نیشلی محمد خصوصاً په دې خبرو بحث

وکړخو تزار د باکو او دربند د خلکو خطونه ورښکاره کړل په دې خطو یې دی چې کړخو په هر صورت سفیر ته ماموریت ورکړ شوی وچې له تزار څخه جواب راوړه سفیر جواب ځنی وغوښت روسیانو ته د دوی د سفیر نپلویف له خوا چې هلته په استامبول کې یې له ترکانو سره خبرې شروع کړی وی ښه خبرونه رارسیدل نو یې په ځواب کې ځنډ واچاؤ خو په پای کې یې د مارچ په اوایلو کې سفیر ته اجازه ورکړه او ورته وې ویل چې زموږ ستاسې په منځ کې سوله هغه وخت ټینګیدای سي چې په ایران کې د خپلو فتوحاتو پرویش سره جوړ سو. ترکی صدراعظم و نیپلویف ته ولیکل او د تزار پیشنهاد ته یې اشاره وکړه او ورته زیاته یې کړه په اوله مرحله کې لزګیان چې مسلمانان دی او د شیروان ولایت یې نیولی دی او د ترکانو ترحمایې لاندې راغلی دی دویم محمود د حاجي میرویس زوی چې اصفهان یې نیولی دی - شاه محمود چې لکه د لزګیانو غوندې په حقیقي توګه د اهل سنت وجماعت پیرو دی علاوه پر دې د سلطان قدرت او توانایي منونکی ده خو دا نتیجه حاصله ده چې د ایران مشکلات پای ته رسیدلی دی هغه ټولې علاقې چې شاه محمود او لزګیانو تصرف کړی دی د ترکیې ترحمایت لاندې راغلی دی دلیک په پای کې داماد ابراهم صدراعظم ورته زیاته کړه چې امید دی چې تزار د هغې عهدنامې چې په سنه ۱۷۲۰ کال کې منعقد شوې وه وفادار پاته شي له هر ډول فکر او اقدام څخه به د ایران په برخه کې اجتناب وکړي.

په داسې حال کې چې داسې زیږی خبرې د یو صلحدوست صدراعظم له خوا لرې ښکاریدې خوله دې څخه معلومیده چې دی د افراطیونو

د فشار لاندې راغلی وُ او ممکن ده تر یوې اندازې دانګرېزي سفیر استانیان دنفاق اچولو تر تاثیر لاندې راغلی وي ځکه هغه غوښتل چې د ترکیې او روسیې تر منځ دنفاق تخم وکري استانیان په ۲۰ دفروري سنه ۱۷۲۳ لندن ته داسې رپوټ ورکړ؛

په ارسنی وخت کې له هرې هغه ضعیفې نقطې څخه چې د ترکی صدراعظم راپارول کېږي دریغ نه کوم (۱)

دفرانسې دسفیر دوبنناک په هکله نپلویف په وارو وارو تزار ته تعریف کړی او هم یې د ده تاثیر په ترکانو کې ښودلی وُ هغه وُ چې تزار په ماسکو کې د فرانسې سفیر کامپردن ور- وغوښت او ورته وې ویل چې ته دوبناک ته خط ولیکه چې زموږ او د ترکانو په منځ کې د منځګړی توب چارې په غاړه واخلي کامپردن هم دوبناک ته ولیکل دوبناک چې له پخوا څخه ودې کارته لېواله وُ له دې موقع څخه په استفادی سره ترکانو ته ورغی څو دخپل منځګړیتوب په هکله د دوی رایه معلومه کړی ترکان لومړی په تردد کې شول خود سلطان تر اجازې وروسته یې خپله موافقه اعلام کړه د روسي او ترکی ګډو غونډو ته یې دوبناک د منځګړی په توګه دعوت کړ او ده هم موافقه وکړ چې هغه دسفیر په عنوان په دې غونډو کې ګډون وکړي دا چې دایران پر سر د ترکانو او روسیانو تر منځ اوضاع ډېره خړه پړه شوی وه او د جنګ خطر یې منځ ته راوړی وُ خو دې خبرو څه سړوالی یکې راوست ترکانو طهماسپ ته د جنګ اعلان ورکړ او خپل فوځونه

---

(۱) انقراض صفویه صفحه ۲۵۸

يې په ايران کې ورننه ايستل د کرمان شاه او همدان په سيمو کې
له مشکلاتو سره مخامخ وو روسانو هم دربند او حُيني نورې
سيمې ترمازندرانو پورې نيولې وې همدا د روسانو -
پېشقدمي اوضاع خړه پړه کړې وه په دې غونډو کې د ترکيې
نمايندګان عبارت وُ له محمد افندي وريس افندي وزير
خارجه وحاجي مصطفى د ماليې وزير څخه، هغه اوږده -
غونډه چې د جنوري پر ٢٣ سنه ١٧٢٣ تشکيل شوه روسي
سفير نپلويف بحث شروع کړ او روغې جوړې ته يې د تزار
اشتياق ښکاره کړ او هم يې زيا ته کړه چې موږ د لزګيانو
له تعاقب څخه لاس اخيستی دی او هم يې د خزر د بحيرې په غاړه
د خپلو فتوحاتو په هکله وويل چې موږ د خزر د بحيرې په سيمو
کې د هېڅ دولت مداخله نسو زغملای خصوصاً د ترکيې. او غوښتنه
يې وکړه چې طرفين بايد له هر ډول تاو تريخوالی څخه ډډه وکړي
او هم ترکان په ايران کې خپل پر مختګ وځنډوي او د جنګ
له خطرې څخه اجتناب وکړي ترکانو هم پخپل وار له سولې
سره علاقه ښکاره کړه خو د يو عيسوي دولت سلطه يې پر
مسلمانانو باندې د زغملو وړنه و بلله او وې ويل چې د روسانو
فتوحات په اسلامي قلمرو کې زموږ په واک کې نه دی او په ګرجستان
کې زموږ د فتوحاتو د درېدلو روسان هېڅ حق نه لري ځکه دا
سيمې هېڅکله د روسيې په تصرف کې نه دی راغلی د وی ايران
په اوسنی حال کې بې خاونده او له پښولو يدلی ملک بولي دا چې
ترکانو د افغانانو په هکله خپلې رويې ته تغير ورکړ له
شکه خلاص د عثمان آقا رپوټ متأثر کړی وُ ترکانو شاه محمود

نور د سلطان ترحمايي لاندې نه باله او ترکانو ويل چې
تر اوسه د افغانانو نام نشان چا نه ؤ اروېدلی دوی د سپاهيانو
پرځای يو څو رهزنان راټول کړی او د ايران د دوو پېړيو
حکومت يې له پښو غورزولی دی دا صحيح ده چې دوی زموږ
هم مذهبه دی خو د دوی وجود تر ايرانيانو لاخطرناک
دی ځکه که دوی د تبريز خوا ته خپل پرمختګ ته دوام ورکړی
ترکان به يې حتماً مخه نيسي دوبناک فرانسوی سفير ترکانو
ته وويل چې که تاسې موضوع ته ښه ځير شئ تزار له تاسو سره همکاری ته سخت لېواله دی
نپلويف د دوبناک د خبرو په تائيد وويل چې زه به دا جريانات ديو چابک استازی په وسيله تزار ته
ورسوم ترکانو هم خوښه کړه او وې ويل چې موږ به هم
جريان د صدر اعظم تر نظر تېر کړو په دې خبرو کې که څه
هم کومه قطعی نتيجه په لاس نه راغله خو د راتلونکی وخت د
پاره د خبرو اترو لاره خلاصه شوه.

يو له لويو مشکلاتو څخه د دوی په منځ کې طهماسپ ؤ، ترکان
سره له دې چې په دې خبرو چې پيټر له طهماسپ سره په تماس
کې دی خو په دې نه وو پوه چې د دوی خبرې تر کومه ځايه
رسېدلی دی د پيټر قصد له طهماسپ سره کومک ؤ خو په دی شرط
چې کوم ښارونه چې پيټر نيولی دی او يا به يې وروسته فتح
کړی د هغو قباله روسانو ته ورکړی خو ترکانو طهماسپ د
ايران د بادشاه په توګه په رسميت نه پېژانده او ده ته يې کوم حق
نه ورکاوه او له ده سره د جنګ په حال کې ؤ دوی يوازې نسوای
کولای چې له طهماسپ سره روغه وکړی خو دوی له روسانو سره
له يو ځای کېدو وروسته دی پر تخت کښېنولای سوای خو د دوی

دې عمل حتماً له شاه محمود سره په جنګ کې مخالف کړل دوی له
شاه محمود سره د زړه له کرې کومه علاقه نه درلوده لیکن دا یې حتماً
حس کوله چې که موږ له یوه اهل سنت اوجماعت سره د یوه رافضي په
ګټه د یوه عیسوي په ملګرتیا په جګړه اخته شو حتماً به د اولس
له مخالفت سره مخامخ شو.

د ۱۷۲۳ اکتوبر په اخیروشیو کې د طهماسپ له خوا
مرتضی قلي بیګ د سفیر په توګه ترکیې ته راورسېدی او
صدراعظم دامادا براهیم ته ورغی او په ملاقات کې یې له دامادابراهیم
څخه غوښتنه وکړه چې سلطان له موږ سره کومک وکړي
دامادابراهیم ورته وویل چې ترکان په هغه صورت کې له تاسې سره
مرسته کولای شي چې هغه بنارونه چې د ترکانو پرې دي دغه
ده وترکیې ته ورکړئ د ترکانو رویه هم عیناً لکه د روسانو
غوندې وه پرته له دې چې دیوه مشترک اقدام فکر ورسره وي د
دسامبر پر ۱۶ له روسیې څخه استازی راورسېدی او روسي سفیر
ته یې تازه هدایات راوړې وو چې د دوبنناک په کډون هغه وو چې خبرې
شروع شوې نپلوبف د تزار له خوا دسولې دپاره تازه اطمینانونه مجلس
ته ورایه کړه خو دا یې اضافه کړه چې روسان د بحیرهٔ خزر خپل
فتوحات باید حفظ کړي تردې وخته لاکوم کار نه وشوی چې د
دسامبر پر ۲۳ نوی اوخطرناک بحران منځ ته راغی هغه دا وو چې په
دغه ورځ د سن پیټربورګ دوه ځپانو هغه نسخې چې په ایتالیایي
ژبه لیکلې شوې وې د ترکي وزیرانو لاس ته ورسېدې چې
په هغوکې د پیټر او طهماسپ دمعاهدې کامل متن نشر شوی
وو که څه هم تزار دهغه قرارداد چې له طهماسپ سره یې کړی وو یوه

نسخه د ترکانو د خبرولو د پاره ونپلویف ته هم رالیږلی وه خو هغه پر لارې ځنډېدلې وه، ترکان له غیر مستقیمې لارې خبر شول نپلویف هم د دې خبر په اورېدو حق حیران پاته شو.

دوبنناک چې ولیدو چې وضع سخته بحرانی ده نو د ترکیې وزیرانو ته ورغی او ورته وې ویل چې که تاسې دا قرار داد په غور مطالعه کړئ په دې کې د ترکیې پر خلاف کوم شی نه دی ځای کړای شوی مراد له هغې مادې څخه چې وایي دایران دښمنان د روس دښمنان دی مطلب افغاني یاغیان دی نه ترکان علاوه پر دې په قرارداد کې هیڅ ډول - اشاره وګرجستان یا ایروان یا دایران نور وښارونو ته چې ترکانو تصرف کړی دی او یا یې د تصرف خیال لري هیڅ اشاره پکې نشته، ترکي وزیران داسې د دې استدلال تر تأثیر لاندې راغلل چې هغه نظامي ترتیبات یې چې تر غور لاندې نیولی ؤ شاته پرېښودل او بیرته خبروته راضي شول دوی ورځې وروسته چې د سولې جلسه شروع شوه نپلویف دا خبرې راوړاندې کړې:

اول: تزار چې له طهماسپ سره قرارداد منعقد کړی د پلار د بندیتوب او مرګ په صورت کې دی دایران قانوني سلطان بولی او باب ته پیشنهاد کوي چې دایران په هکله په اتفاق ګام پورته ګړي او هم که غواړي په جلا توګه له طهماسپ سره د خبرو اترو اقدام وکړي.

دویم: تزار په کراتو اعلام کړی چې هیچا ته به اجازه ورنه کړي خصوصاً ترکانو ته چې د خزر د بحیرې پر غاړو کوم ځای اشغال کړی.

دریم: داؤد بیګ د داغستان امیر چې ځان یې د ترکانو ترحمایې لاندې راوستی دی په هغه صورت کې به د شماخي په حکومت کې پاته شي چې ترکان په هغه ښار کې فوجي استحکامات جوړ نه کړي او عسکر یې هلته مستقر نه شي د کورا نهر باید د دواړو مملکتو ترمنځ د سرحد کار

ورکړی .

څلورم : ترکان نور په ایران کې پرمخ ولاړ نه شي او نه نور عسکر ایران ته راولیږي .

ترکانو دا ټول مطالب غیر قابل قبول وبلل او له نپلویف څخه یې وغوښتل چې پخپلو نظریاتو کې تغیر راولي هغه وویل چې زه داسې اختیارات نه لرم ترکانو وویل چې تزار له موږ سره بازی کوي نورنو د خبرو کول فایده نه لري .

د خطرناک جنګ سیوری

آستانیا دانګریزانو سفیر چې وظیفه یې درلوده په هره توګه چې وي د روس او ترکانو په منځ کې جنګ ته لمن ووهي د جون پر ۱۱ د برطانیې صدراعظم ته داسې خط لیکلی ؤ : ما ته د تزار او طهماسپ په منځ کې له اتحاد او د تزار د جاه طلبانه نظریاتو څخه بریښي چې یوه ورځ به د ایران په قبضه کولو موفق سي دا فکر مې په واقعي توګه د ده په ماغزو کې ورتزریق کړ او که په دې کار کې تزار توفیق پیدا کړي هغه ورځ لری نه ده چې د دې امپراطور د زوال موجب به وګرزي ماله داسې ټکو څخه چې د ترکیې د صدراعظم د وحشت او اضطراب باعث ګرزي سپاوی نه دی کړی سره له دې چې دی له ما سره یو بزغ دی مګر بیا هم د جنګ او سولې فیصله یو لوی مجلس ته محول شویده چې هغه فیصله وکړي ! استانیان خپل مکتوب په دې الفاظو ختم کوی چې : د جنګ یا سولې د سرنوشت ټاکلو په باب ډیره حساسه موقع ده ما د پیسو وعدې ورکړې دی که قطع دروابطو وشوه فایده ده ترڅو شپو پوری اوضاع تیاره وو ترکان د تزار د پیشنهادو په هکله لکه آسمانی ډبره کلک ولاړ وو چې نپلویف اعلان وکړ چې زه د تزار له اجازې پرته هیڅ ډول اقدام

نسم کولای ترکانو هم وویل چې موږ ته نور طاقت نه دی پا ته صدراعظم و ښلویف ته وویل چې زه تابندي کوم نه، ولې په دې درولارو کې چې دې هره یوه خوښه وي غوره یې کړه په قسطنطنیه کې پا ته کېدل یا روسیې ته تګ یا له ترکي سپاهیانو سره کېدل له دې درولارو یوه غوره کړه.

دوبنناک چې وضعه داسې خړه پړه ولیده دجون پر ۱۵ سهار وختي وګریګوری قیقا ته چې د ترکانو د حکومت مترجم ؤ ورغی او ورته وې ویل چې د روس دحکومت ځینې پیشنهادونه ښه نه دی خو بیا هم له هغو څخه دجنګ بوی نه راځي د روس نماینده حاضر شوی دی چې کوم مواد چې ستاسې داعتراض وړ دی او تاسې موافقه نه ورسره لرئ د تجدید نظر د پاره به یې تزار ته واستوی تزار ددې د پاره له طهماسپ سره قرارداد کړی دی چې د خپلو فتوحاتو د پاره په ایران کې یو سند په لاس راوړی دایران پر سر جنګ د روسیانو او ترکانو په ګټه نه دی په پای کې ده ومنله چې تزار ته به پیشنهاد وکړي چې طهماسپ وهڅوي چې له ترکانو سره هم داسې تړون وکړي لکه له روسانو سره چې یې کړی دی قیقابي له ځنډه وصدراعظم ته ورغی صدراعظم په هغه مجلس کې اشتراک درلود چې له روسیانو سره دجنګ او سولې په هکله فیصله وکړی په دې شورا کې ۴۰۰ کسه وزیرانو، جنرالانو، علماؤ مخورو او نظامي سردارانو اشتراک درلود ډېرې ترخې نظریې وړاندې شوی دصدراعظم له صلح جویانه کوششونو سره مجلس دجنګ په طرفداری رایه ورکړه دشوراغونډه پای ته رسېدو ته نزدې وه چې قیقا ځان صدراعظم ته ورښکاره کړ هغه هم ورو باله قیقا هغه خبرې چې دده او دوبنناک په منځ کې شوی وی

ورته بیان کړی دا چې ده خبرې تمامې کړې داماد ابراهیم صدراعظم امر ورته وکړ چې دا خبرې مجلس ته وکړه قیقا دا خبرې مجلس ته وکړې دا خبرې دونه مؤثرې واقع شوې چې په یوه وار د جنګ له اعلان څخه صرف نظر وسو او موافقت وسو چې بېرته خبرې شروع کړي وروسته بیا شورا ختمه شوه داماد ابراهیم له څوتنو مشرانو سره او قیقا یې هم له ځانه د سلطان حضورته ورغلل قیقا هغه څه چې په شورا کې ویلی وو ټکی په ټکی سلطان ته وویل سلطان څو سوالونه ځنې وکړل وروسته یې وویل چې هېڅکله به په داوطلبانه توګه له روس سره جنګ ته زړه ښه نه کړم د دوبنناک د پاره د دې خبرو نتیجه ډېره ستره کامیابي وه.

وروسته چې بیا د جوړې د خبرو جلسه جوړه شوه دوبنناک هغه خبرې وکړې او هم یې زیاته کړه چې تزار هم د نپلویف په خبرو نه دی پوه شوی زه غواړم چې د سون دالیون د خپل سفارت غړی مسکو ته ولېږم چې له تزار څخه مطلوبه هدایات راوړی او مطلوبه نتایج به وروسته له درومیاشتو چې دالیون له مسکو څخه راورسېږي تر لاسه شي فلهٰذا اوس کوم خطر نشته ځکه که جنګ شروع هم شي تر پسرلی پورې د لښکرو تدارکات نسي کېدای ترکانو په بې میلی له دې پېشنهاد سره موافقه وکړه او هم یې زیاته کړه چې تزار ډېر مخاطره آمیزه اوضاع منځ ته راوستی دی ځکه چې په اوکراین کې یې لښکرې راټولی کړی دی موږ به هم لازم اقدامات وکړو.

وروسته بیا پر هغه مستقیم خط بحث شروع شو چې د روسانو د فتوحاتو او د ترکانو تر منځ به غزېدی ترکي صدراعظم بحث شروع کړو وې ویل چې ایراني بادشاه د ترکانو او روسانو دوست ؤ

له دې کبله دا ویلای شو چې دی د دې دوو مملکتو پلارو بولو چې ده
تر شاه درې زامن یعنې ترکیه، روسیه او طهماسپ پرې ایښی دی دا
چې د ده میراث په څه توګه تقسیم کړي د تقسیم کار به د فرانسې
سفیر ته محول کړو او په خندا یې وویل چې دی به په سل کې دلسو
مستحق نه وي د طهماسپ په هکله په نه میاشتې کې د رویې تغیر د
توجه وړ دی ترکانو د ۱۷۲۳ په پسرلی کې په طهماسپ باندی د رافضی
داغ ولګاوه او د جنګ اعلان یې وکړ او په مني کې یې د مرتضی قلي بېګ
سره په خبرو کې په دې شرط همکاري ومنله چې طهماسپ د دوی
دادعا سره سمی علاقې و دوی ته پرېږدي خو په دې پلا یو
ګام پرمخ ولاړو او طهماسپ یې د ایران قانوني وارث وباله
او له روسانو سره مساعي ته حاضر شو چې طهماسپ پر تخت
کښېنوي د دې تغیر دوه علته ویو دا ؤ چې شاه محمود غیر-
دوستانه رویه درلوده او احتمال یې درلود چې د ترکیې دادعا وړ
محکوخواته پېشقدمي وکړي بله داوه چې ترکان بېرېدل چې که موږ
له طهماسپ سره یوه جوړه ونکړو روسان یې ورسره کوي لکه
څنګه چې موولیدل چې دې موضوع ډېر وخت ونه غوښت چې د-
ترکیې خلق او علما په دې راضي شول چې د یوه رافضي د پر تخت کښېنولو
د پاره له یوه عیسوي سره همکاری ته حاضر شول چې یو اهل سنت
والجماعت له تخته وغورزوي دوبنناک تهدید کړی ؤ چې که د ده
پېشنهادونه ونه منل شول له منځګړي توبه به ووزي هغه وچې
روسیې ته لېږونکی استازی دالیون چې پرلارې باندې واورو
څه وځنډاوه بالاخر د می پر ۱۳ بېرته راورسېدی او خپل ماموریت
یې په زړه پورې توګه سرته رسولی ؤ د ده له راتلو سره بېرته

د صلح جرګې شروع شوې سره له دې چې دواړو خواؤ صمیمیت ښکاره
کاوه خو بیا هم د خبرو پرمختګ سست ؤ یو لوی خنډ داؤ چې هغه د
سرحد خط د ترکانو او روسانو په میان کې په شېروان کې ؤ ځکه چې
طهماسپ د دې ولایت زیاته برخه و روسانو ته ورکړې وه حال دا دی
چې ترکان په دې ټینګ ولاړ ؤ غوښته یې چې شېروان په ځان
پورې وتړي او حاجي مدرس یې د هغه ځای والي ټاکلی ؤ بل جنجال
د تبریز په سر ؤ روسانو غوښتل چې تبریز دې د ایران پایتخت
وټاکل سي ځکه طهماسپ په خپل ورته ټاکل شوی علاقه کې
داسې مهم ځای نه درلود ترکانو له دې سره مخالفت کاوه ویل یې
چې طهماسپ اردبیل او قزوین او سلطانیه لرل ده ته کفایت کوي د خبرو
په ځنډ پرمختګ صدراعظم متغیر کړ چې وې غوښتل دوه کسه ترکي
مامورین له دې ماموریته تبدیل کړي او هم یې وویل چې له تزار څخه
به د نپلویف جا نشین وغواړم په اخیر کې نپلویف له تبریزه تېر شو
ترکانو او روسانو دواړو له دوبنناکه وغوښتل چې سرحدي
خط داسې په شېروان او داغستان کې تېر کړي چې شماخي له خپلو
ټولو توابعو سره د ترکانو په منطقه کې واقع شي او روسانو ته ارته
ساحلي لار پرېښوده شي د روژې میاشت دمئ پر ۲۳ نوی شوه د
قرارداد دوړو وړو جزئیاتو د پاره به د شپې له خوا جلسې کېدې او
ټوله شپه به روانې وې په روژه کې د قرارداد پر ټولو برخو توافق
حاصل شو خو آخري برخې تر ۲۳ د جون سنه ۱۷۲٤ چې د کوچنی اختر
سره یې سمون خوړو ځنډ بدې خو د قرارداد په جریان کې د تزار پر
کلیمه هم شخړه پېښه شوه ځکه ترکانو دا کلیمه نه منله ترکانو ویل چې دا
موضوع به په بله موقع ترغورلاندې ونیسو روسي نماینده تر دې تېر سو

څو په اخیر کې له کوچنی اختره وروسته صدراعظم نپلویف د جون ۲٤ سنه ۱۷۲٤ دا قرارداد د خپلو حکومتو په نمایندګی امضا کړ دوبنناک د جولای پر ۸ د میانځګړي په توګه دا قرارداد امضاء کړ قرارداد یوه مقدمه او شپږ مادې درلودې چې په دې توګه خلاصه کېږي:

مقدمه: دا چې شاه محمود اصفهان نیولی او بادشاه یې بندي کړیدی ستر مشکلات یې په ایران کې رامنځ ته کړی دی ترکیه مجبوره شوه هغه ښارونه چې اشغال یې ضروري باله سپاهیان ورواستوي تزار د باب عالي دوست دربند او باکو ځنې نور ښارونه په تصرف کې راوستی دی او د دې ښارو واګذاري د هغه قرارداد په موجب چې د ده او طهماسپ او تزار تر منځ د ګیلان او مازندران او استرآباد په هکله شویدی د نوموړی قرارداد په موجب یې لاس ته راوستی دی تزار او باب عالي دا سې ترتیبات نیولی دی چې له طهماسپ سره کومک وشي خو تر هغو پورې چې اطمینان نه وي حاصل شوی چې طهماسپ به هغه ښارونه چې ترکیه دعوه پرې لري نه وي ور پرې اېښول شوی کومک به ور سره ونه شي — مارکی دوبنناک د فرانسې سفیر د منځګړی په توګه انتخاب شویدی.

اوله ماده: د ترکیې او روسیې سرحد باید له هغه نقطې څخه چې په فاصله د ۲۲ ساعته سپاره لاره له دربند څخه په داخل د خشکی شروع شي سرحد له هغه علامت چې نصب به شي تر بل علامت پورې چې په یوه دریمه لار له شماخي و بحر خزر ته امتداد لري له دې ځایه یو مستقیم خط د کورا او اراس تر رود خانو پورې کش کړای شي ترکان او — روسیان به حق لري چې و دې ځای ته نزدې عسکري قلاوې جوړې کړي خو محل د دې قلاؤ باید درې مزله له سرحده لرې وي د دواړو خواو مامورین په شمول د فرانسې د نماینده چې فرانسه به یې تعیین کړي

د سرحد د تعین کېدو دنده به په غاړه واخلي دواړه تعهد کوونکی به حق لري چې په خپلو سیمو کې استحکامات جوړ کړي او عسکر پکې واچوي ولې دا استحکامات باید هېڅکله تر درې ساعته د سپاره لار نږدې سرحد ته نه وي.

دوهمه ماده: شماخي باید مقر د خان یا حاکم د شېروان د ترکیې متعلق و پېژندل شي او هلته باید عسکری استحکامات جوړ نه شي او ترکي عسکر هلته مستقر نه شي که چېرې اغتشاش پېښ شي البته ترکیه عسکر ورلېږلای شي.

درېیمه ماده: د ترکیې او ایران سرحد باید د روسیې او ترکیې د سرحد له پایه چې د کورا او ارس د رودخانو له کډون ځایه څخه شروع شي دغه خط له دغه ځایه بیا دارد بیل د ښار د مغرب یوه ساعت د سپاره لار، پورې وغزېږي او هغه ټولې مځکې چې د دغه خط په لویدیز کې دی په ترکیې به اړه لري له دغه ځایه دارد بیل تر لویدیز پورې چې د سپاره د یوه ساعت لار ده بیا خط کشي سی تر همدانه او کرمان شاه پورې دې وغزېږي.

څلورمه ماده: تزار د هغه قرارداد په موجب چې له طهماسپ سره یې منعقد کړیدی تعهد کوي چې د هغو ټولو ښارو په برخه کې چې په درېیمه ماده کې ذکر شوی چې د طهماسپ له خوا به له باب عالي سره مساعدت وشي مساعي په کار راولي چې ور پرېښودل شي اما د طهماسپ د نه منلو په صورت کې به ترکیه او روسیه د هغو ټول ښارونه چې دوی ته اختصاص شوی دی په تصرف کې راولي او نور پاته ایران به هغه وخت چې کامل امنیت راشي د ایران له اتباعو څخه ویو داسې چا ته چې تر ټولو زیات لیاقت ولري وسپارل شي دا شخص به کامل سلطنت ولري او آزاد حکومت به یې وي.

پنځمه ماده: که طهماسپ د تزار دوساطت په اثر هغه ځکې اوښارونه چې د ترکیې ترادعا لاندې دي چې په دریمه ماده کې ذکر شوی دی په داوطلبانه توګه واګذاره شي د ترکیې دولت به دی دایران دبادشاه په توګه په رسمیت وپیژني له ده سره به هر دول مرسته اوکومک ته حاضر شي اوتزار به هم دهغه قرارداد مطابق چې له طهماسپ سره یې منعقد کړی دی مرستې اوکومک ته حاضر شي اومونږ کومکونه به ورسره وکړي ځو دې وګولای شي چې دایران دقانوني واړث په توګه دایران تخت و تاج له غاصب محمود څخه په لاس راوړي چنانچه په دې توګه که شاه محمود په ترکیه حمله وکړه روسیه به میدان دعمل ته ورکړاومونږ کومک به له ترکانو سره وکړي ترڅو دی له ایرانه وشړل شي ترکیه اوروسیه به په کړه کوشش وکړي چې طهماسپ د دې قرارداد په موجب دایران په تخت کښېنوي.

شپږمه ماده: که طهماسپ د ترکیې ترادعا لاندې ښارونه - ورکړې انکار وکړي روس اوترکان به لومړی دخپل ادعا لاندې ځکې تصرف کړي بیا به پاته ایران اشغال کړي وروسته چې دامنیت بنه طرح تامین شي بیا د واړه دولته په صلاح باندې یوایراني الاصله سړی پر تخت کښېنوي اودې به کاملاً آزاد اومستقل وي اودشاه محمود له نماینده سره به هیڅ دول خبرې اوتماس نه نیوکښې نه به کوم قرارداد ورسره کښې دا قرارداد به بې له تخلفه رعایت شي ترهغو پورې چې دایې صلح تامین شي په دې ترتیب هغه ښارونه چې په ترکیه اوروسیه پورې اړه لري دهمیشه دپاره به د دوی ملکیت وي اوایران به په نوې چوکاټ کې جوړ اوقوي به شي دا قرارداد به سلطان وروسته له هغه امضاء کړي چې تزار یې امضا کړي.

هغه نتایج او اثرات چې له دې قرارداد څخه وطرفینو ته رسېږي په دې ډول دی:

۱ - دې قرارداد دایران د زیاتې برخې ویش د ترکانو او روسیانو ترمنځ بې د توري له حکمیت څخه فیصله کړ.

۲- دې قرارداد له یوې خوا څخه د ترکانو رضائیت حاصل کړ چې د یو شمېر ایراني مځکو الحاق یې په ترکیه پورې غوښت له بلې خوا څخه یې د درېیم سلطان احمد او داماد ابراهیم دوره ځلانده کړه. پیټر کبیر هم د دې معاهدې په موجب د خزر په بحیره کې چې له ډېرې زمانې څخه یې سترګې ورته نیولې وې خپل تسلط برقراره کړاو په سیمه کې د ترکانو د نفوذ - مانع شو.

۳- داسې پټېیلې شوی وه چې طهماسپ هغه ټولې مځکې چې په اوله ماده کې ذکر شوی دی په داوطلبانه توګه پرېږدي له ده سره به کومک وشي چې خپل تخت او تاج په لاس راوړي او دایران قانوني بادشاه وشمېرل شي.

٤- فرانسه به خپل دې مطلب ته ورسېږي چې د روس او ترکانو په منځ کې یې جوړه غوښته وروستی دولت نورکولای سي چې دا تریش د دولت خنډ وګرزي.

۵- د فرانسې د دولت اعتبار د دوبنناک دښې دیپلوماسی له کبله زیات شو.

(انقراض دورهٔ صفویه صفحهٔ ۲٦۹ - ۲۷۰ - ۲۷۱)

هرڅوکه دا قرارداد د ترکانو او روسانو له نظره قناعت بخشه وُخو په بین المللي توګه داسې برېښېده لکه چې یوه پردی ښکارکړی مړزګه

سره ویشي اصل فاتح شاه محمود افغان چې دایران زیاته برخه یې په لاس کې ده له دې جریانه ناخبره دی.

دایران په شمال کې دروسانو نور اقدامات

لکه مخکې چې وویل شول چې پیټر په خپله په لښکرکشي وه دربند ته تازه دایران سرحد ته رارسېدلی ؤ چې دوو مهمو پېښو دی دلته وځنډاوه هغه داوی چې یو یې په بحیره خزر کې دتوفان له کبله زیاتی بحري بېړۍ له لاسه ورکړې یعنی غرقې شوې دوهم دترکانو له تهدید سره مخامخ شو پیټر دې سیمې ته تر راتګ مخکې خپل زبردسته جاسوس سیمون اوراموف ایران ته رالېږلی ؤ څنګه چې طهماسپ داصفهان له محاصرې وتښتېدې اوراموف ځان ورته راورساوه طهماسپ ته له شرابو نیولی تر هرڅه یعنې روپو پورې مرستې شروع کړې اوهم یې دطهماسپ اطرافیان ترخپل نفوذ لاندې راوستل هغه ؤ چې دوی یې ودې ته وهڅول چې پیټر نزدې راغلی دی مرسته ځنې وغواړی هغه ؤ چې دطهماسپ په امر دګیلان حاکم له پیټر څخه خواست وکړ چې دلته هره ګړۍ دافغاني عسکرو درارسېدو بیره ده هیله ده چې ته خپل یو شمېر عسکر دې ځای ته راولېږې چې دافغانانو مخنیوی وکړای شي داغوړ پیغام چې داوراموف په کوششونو لارورته هواره شوی وه ښه پر موقع پیټر ته راورسېدې سره له دې چې فصل تېر شوی ؤ خو پیټر داطلایي موقع له لاسه نه ورکوله نو تزار امر صادر کړ چې سویي مونف او ګریګوری یف او یورنیف او اندریي سیمونف چې وروستی دوو دګیلان په هکله ښه معلومات درلودل دی په خپل

منځ کې په مشوروپیل وکړی په دې مینځ کې یې یوهندي سوداګرد
امبورام په نامه هم پیدا کړله هغه څخه یې هم دخپل تهاجمی مطلب دپاره
معلومات ترلاسه کړل هم په دې موقع یوبل سوداګرله هشترخان نه
راورسېدی چې په کرجستان اوتفلیس کې ښه بلدوله دې سوداګرو
هم معلومات حاصل کړای شول پیترامروکر چې دوه کرداښه -
داوطلب عسکر دې دکرنیل شیفوف ترقوماندې لاندې دکښتیو په
وسیله دسوېي مونف ترنظر لاندې کیلان ته روان شي وپیترته وویل
شول چې دوه کردانه فوځ به څنګه داوظیفه اجراکړای شي ده د
خپلې هېښنې لهجې مطابق وویل:ولې کافي نه دی هداځای استنکار
آزین په ۵۰۰ کسه قزاقونه ګومې تاسې دوه کردانه داوطلبه عسکر
له دې تردد لرئ. پتول لوازم په تاکلی وخت کې تهیه اوبارکړای شول
ترڅو او ده صاحب منصبان د نومبر ۱۷ سنه ۱۷۲۲ دا بحریه رخصت کړه
سوېي مونف چې له دې څخه دآبشارون جزیره ولیده دکورواوخولی ته
ورمخکې سوده ددې سیمې د مختلفو ولسو اندازه واخیسته ددې ځای په
دېرش میلې کې دسلیمان سیمه انتخاب کړه بیا دانزلي خواته روان شو څو
ورځې وروسته هلته ورسېد وکرنیل شیفوف مخکې یو صاحب منصب
دچې ته واستاوچې دقوا راورسېدل واورامروف او دګیلان حاکم ته اعلان
کړي او هم ځني وغواړي چې یو تعداد اسان دپیر بازار و بندرګاه ته
راولېږي چې د دغو آسو په وسیله خپل سامانونه ورشت ته انتقال
کړي دوی دکښتیو په تخلیه او دسامانو په نقل او انتقال اخته وو چې
له رشت څخه دپیطریچې په نامه یو یوناني مترجم راورسېد چې او
شیپوف ته یې وویل چې زه له اسمعیل بیګ سره یم اسمعیل بیګ د
طهماسپ استازی دی چې ولاړسي اوله پیترسره چې دتاسو اختیارانو خلوند

دی تړون وکړي ده وویل چې اسمعیل بېګ غواړي چې ستاسې د بېړیو په وسیله ولاړسي او دو چې له سفر څخه چې له ګیلان، شېروان داغستان څخه تېرېږي خلاص شي.

هغه وه چې شیپوف خپل دو ګروها نه سپاهیان دکښتیو محافظت ته پرېښودل متباقي یې رشت ته انتقال کړل روسي عسکر په هغه لوی کاروان سرای کې چې د رشت دښار په څنډه کې دروسی تجارو داستفادې ځای و ځای پر ځای کړای شو دا کاروان سرای ډېر مضبوط جوړ شوی و له دې کبله ښه خوندی ځای و اوراموف د اسمعیل بېګ د مسافرت اهمیت وشیفپوف اوسوی مونیف ته بیان کړ او ورته وې ویل چې څه موده مخکې ما ته تزار حال راکړ چې دیو داسې قرارداد بندوبست له طهماسپ سره وکړم چې که دوی دخزر د بحیرې ساحلي ښارونه موږ ته راپرېږدي په عوض کې به موږ له دوی سره دافغانانو پر خلاف کومک وکړو له روسانو څخه دمرستې اخیستو فکر وروسته دګل نا باد له جګړې شاه حسین ته هم پیدا شوی وخو محاصرې فرصت ورنه کړ بیا وروسته یې طهماسپ ته وصیت کړی و. اوراموف لږ څه وروسته له هغه چې — اصفهان سقوط وکړ طهماسپ ترغیب کړ چې له روسیې سره دقرارداد د پاره اسمعیل بېګ ته تام اختیارات ورکړه شیپوف اوسوی مونیف داسمعیل بېګ دسفر په اهمیت پوه شول سره له دې چې یخ ووالګا یخی وه بیا یې هم په ۲٤ دسامبر اسمعیل بېګ په کشتی کې کښېناو اوروسیې ته یې ولېږی سره له دې چې په لاره یخ ډېر خنډان ورته پېښ کړل بیا هم پر ۲۱ داګست سنه ۱۷۲۳ سن پیټربورګ ته ورسېدی. د پسرلی خواته څلور ګردانه نور عسکر د لواشف ترقوماندانی لاندې چې یو د سپرو قوماندان ورشت ته راورسېدل چې په دې ډول شپږ

ګردانه عسکری په رشت کې روسانو مستقر کړو سره له دې چې شاه محمود
د روسي عسکرو په راتګ خبرو خو یو دوی روسانو ته اهمیت نه ورکاوه
بل دا صفهان په شاوخوا کې په جګړو لا اخته و لارنس لیکارټ دانقراض
صفویه په ۲۲۲ مخ کې داسې وایي: روسیه د شاه محمود د پاره د خطر یوه
منبع بلله کېده په هغه موقع چې شاه محمود دایران تخت ته خوت پیټر
کبیر د دربند مهم ښار نیولی بېرته مسکو ته تللی و او قصد یې درلود
چې ګیلان ته قواوې ولېږي لکه څنګه چې مخکې ذکر شو پیټر اعلان
کړی و چې په ایران باندې له حملې څخه زما مقصد و شاه حسین
صفوی ته کومک رسول دی د ده له خبرو واضح معلومېده چې ژر
تر ژره به د ده قواوې له شاه محمود سره مخا مخ شي اما له هغو خبرو څخه
چې څوشپې وروسته دامان الله خان او آپي سالمیان ترمنځ وشوې داسې
معلومېږي چې افغانان د روسیې له قدرت او طاقت څخه غافل و
هغه مملکت یې د ځان د پاره خطرنه باله امان الله خان اعتماد الدوله له
آپي سالیمیان څخه پوښتنه وکړه چې دا روسیان څوک دی پرنګیان دی
که بل څوک، آیا دوی فوج هم لري ژوزف وایي: ماورته وویل: چې
هغه د ګیلان د دریاب هغې خواته ډېره لویه امپراطوری لري ژوزف
وایي ماورته وویل: چې هغه کولای شي چې دوه لکه عسکر
میدان ته راولي او ډېر زبردسته جنګ آوران دي امان الله خان
راته وویل چې ته پرېده چې یو څه هوسا شو بیا به یې ستاله دې
پرنګیانو سره ګورو په هر صورت اسمعیل بېګ چې سن پیټر بورګ ته -
ورسېدی ذکر شوی قرارداد یې له روسانو سره امضا کړ.

د اعلیحضرت شاه اشرف د سلطنت دوره

اعلیحضرت شاه اشرف د عبدالعزیز زوی د بنالم خان لمسی دی په هغو خت چې شاه محمود عبدالعزیز د خپل ناوړه عمل له کبله مړکړ اعلیحضرت شاه اشرف هم ځلمی وُ او د خپل پلار له کړو څخه ناخوښه وُ او د شاه محمود په مقابل کې یې هیڅ ډول عکس العمل ښکاره نه کړ خو بیا هم د قوم مشران له څه مودې وروسته راټول او د پښتنی رواج سره سم مرکه ورغلو قومي مشرانو د شاه اشرف پر کورنوه ونیوه وروسته له هغه چې ټول شاهي کورنۍ واک د قام مشرانو ته ورکړ قومي جرګې داسې فیصله وکړه چې لومړی عبدالعزیز خپل وراره د حاجي انګو ورور یار محمد وزلی وبیا شاه محمود خپل اکا مړکړ حاجي انګو د خپل ورور پور د شاه محمد پر ځای د عبدالعزیز په مړی کې ولګاوه عبدالعزیز او یار محمد سره ساری شول د وروستی په پورکې یې د شاه محمود خور و شاه اشرف ته ورکړه کومه بدي چې په شاهي کورنۍ کې پیښه شوې وه په دې توګه فیصله شـــــــــوه هم د حاجي انګو او شاه اشرف په منځ کې فیصله وشوه هم د شاه محمود او شاه اشرف په منځ کې فیصله وشوه بدي په دې توګه له منځه ولاړه شاه اشرف د فوځ دیوې برخې قوماندان وټاکل سو نورنو په تعلقاتو کې هیڅ تاوتریخوالی نه وُ همیشه به اولس خپل شکایات شاه اشرف ته رسول او هغه به د شاه محمود نظر سمې لارې ته راجلب کاوه یوازې شاه اشرف کولای شوای چې شاه محمود خپلو غلطیو ته ملتفت کړي پر دې به کله کله د دوی په منځ کې شخړه هم پیښه شوه او شاه اشرف به مرور سو چنان چې دوه واره په ایران کې

شاه اشرف مروره او قندهارته به ولاړی په وروستی وارچې شاه اشرف
د یوې برخې عسکرو په قوماندانی قزوین ته ولېږل شو ده د
امان الله پر کړووړو سخت اعتراض درلود ځکه په قزوین کې د
امان الله خان چلند له خلکو سره ډېر ناوړه وُ داچې شاه محمود د
امان الله خان په هکله دهیچا خبره نه اورېدله په قزوین کی شاه اشرف له
امان الله خان څخه په تنګ وُ امان الله خان له شاه اشرف څخه په تنګ شونو
یې فیصله وکړه چې اوس خو په قزوین کې امنیت تامین شو
شاه اشرف دې د سیدال خان مرستې ته تهران ته ولاړسی شاه اشرف
د فوځ له یوې برخې سره تهران ته ولاړی یوڅه موده وروسته یې
خپل فوځ سیدال خان ته پرېښود پخپله قندهار ته ولاړی
شاه محمود بېرته مرکه پسې ولېږله دلته په قندهار خپلو پردو
مشرانو ټولو ملامتی باندې ویله ځکه چې د شاه محمود دماغي حالات
هم ښه نه وُ نو ستارا تګ ډېر بېځایه کار دی هغه وُ چې شاه اشرف یې
بېرته دې ته اړکړ چې اصفهان ته ولاړسي او شاه اشرف هم د خلکو له
غوښتنې سره سم بېرته اصفهان ته ولاړې په اصفهان کې د شاه محمود
له خوا هرکلی ورته وویل شو وروسته بیا د کاشان د نیولو ماموریت
ورکړ شو شاه اشرف کاشان په توره واخیست وروسته د شاه محمود
دماغي توازن ښه خراب شو او د خلکو شکایتونه هم ډېر سو شاه اشرف
هم مجبوره وُ پر هره ناوړه خبر به ورته ولاړ وُ او ورځ په ورځ د شاه محمود
حال خرابېدی څو یوه ورځ یې دلېونتوب په حال کې دایراني شاه حسین
ټول خپلوان په قتل ورسول پردې باندې شاه اشرف پرده ډېره
ملامتي وویله او د دربار خلکو ته یې وویل چې د ده داسې ناوړه او امر
مه اجرا کوئ په دې وخت کې په دربار کې ځنې فاسد اشخاص وُ لېونی

شاه محمود یې وپاراؤ او شاه اشرف یې بندي کړ شاه اشرف تر هغو
پورې په بندکې ؤ چې د شاه محمود له ژونده نوره د خلکو تمه وخته
داؤ د شاه اشرف په هکله لنډ معلومات اوس به د ده په هکله د یو
پولینډی پادري چې په ایران کې د عیسوي مبلغینو مشر ؤ اوله هغه
وخته په ایران کې ؤ چې میرویس نیکه هلته بندي ؤ بیا تر هغه وخته
دی په ایران کې ؤ چې شاه اشرف د ترکانو د ریم سلطان احمد ته ماتې
ورکړه وروسته له روغې چې لومړی افغاني سفیر عبدالعزیز بلوچ
واستمبول ته ځي پادري گرونسکي هم له ده سره ملگری اروپا ته ځي وروسته
بیا په اروپا کې خپل خاطرات په یو کتاب کې نشر کوي چې دا کتاب بیا دونه شهرت
پیدا کوي چې په ټولو اروپایي ژبو ترجمه او چاپ کیږي تر څو چې ترکان
یې ترجمه کوي اوله هغه څخه یې ایرانیان ترجمه کوي که څه هم کتاب
تر ډیره حده اصلي ماهیت له لاسه ورکړی دی خو بیا هم څنگه چې
په دې برخه کې افغاني ماخذ هیڅ نشته او اروپایي ماخذ ته می لاس نه
رسیږي دا دی د هغه کتابه څخه چې په دې کلو کې په کابل کې هغه ایراني
ترجمه چې د مسیحي سیاح د تاریخ په نامه چاپ شوی ده دغه د مسیحي سیاح
د کتاب له ٦٣ مخ څخه چې د اعلیحضرت شاه اشرف په هکله معلومات درته
ولیکم .

اعلیحضرت شاه اشرف هوتک

مسیحي سیاح گرونسکي وایي : شاه اشرف له شاه محمود سره له قندهاره
راغلی ؤ جنگیدلی میړه ؤ په کارپوه ؤ ده ته یې د خانی لقب ورکړی ؤ د
فوځ دیوې برخې مشري یې په غاړه وه او د ځینو ځایو ماموریتونه یې ورکړل
دی عاقل، صاحب رایه، شجاع، مدبر او د خلکو خیرخوا ؤ متواضع او
ډیر مهربانه ؤ له همدې کبله پر سپاه ډیر گران ؤ د گلنا باد پر

مقام ده جوړه کوله خو د محمود پر مغزو د عجم د پادشاهی هوس پروت ؤ اشرف چې د سولې فکر ښکاره کړ شاه محمود له ده - خوابدی سو شاه اشرف چې د شاه محمود په خوابدی پوه سو باید ویره ورسره پیدا شوی وای د اصفهان د محاصرې په وخت کې ده ته خبر ورسېدی چې په شاهي حرم سرای کې خواړه نشته زر منه غله یې ورولېږ له او خط یې ورولېږی له بادشاه څخه یې خزانه وغوښته ورته وې لیکل چې روپی راولېږه چې زه یې خپل لښکر ته ورکړم بس زه به له دباندې ته به له دننه سی د شاه محمود په کارکې به کنډو جوړ کړو شاه حسین د ده په خبرو اعتماد ونه کړ په دې کار یې رضا نه شوه شاه محمود له دې قصې څخه خبر شو په خاطر کې یې تغیر راغی خو ښکاره یې نه کړ څو ورځې وروسته یې دی او دده لښکر مخ ته بنی اصفهان ته ولېږي چې اصفهان فتح شو اشرف یې خپل حضور ته وغوښت او پوښتنه یې ځنې وکړه چې ولې دې بادشاه ته غله ورلېږ له خطاب او عتاب یې ورته وکړ او بندي یې کړ مګر په بند کې یې د ده احترام ساته ځکه چې محمود د خپل دولت آبرو او ظفر د شاه اشرف او امان الله خان او شیخ د افغانانو څخه باله شاه اشرف د خپلې بادشاهی په دوره کې ملایمت، تواضع او عدالت وکړو اطرافو اکنافو ته یې خطونه ولېږل او خلک یې واسترل چې له دې وروسته چې څوک زموږ تابع وي او که نه وي نو باید په صلح او آرامی کې ژوند وکړی او په امان وي له دې وروسته چې ایران د هرچا په لاس کې وی باید آبادشي نه خراب .

بل انګریز مورخ ډاکتر لارنس لیکارټ د خپل کتاب انقراض دورهٔ صفویه و سلطه افغانیه بر ایران په ۳۱۵ مخ کې د شاه اشرف په

هکله داسې لیکي :

شاه اشرف د عبدالعزیز مشر زوی د اپریل پر ۲۶ سنه ۱۷۲۵ د ایران په شاهي تخت کښېنوست د دې واقعې په افتخاریې د طلاسکې په کاشان او سپینو زروسکې په اصفهان، کاشان، مشهد استراباد، قزوین وتبریز وشماخي ورشت کې ضرب کړې د شاه اشرف د تولد تاریخ معلوم نه دی خو د ده او د ده دکاکا د زوی شاه محمود په میان کې چنداني تفاوت نه ؤ نو فرض کولای شو چې وتخت ته ته دختو په وخت کې به د ده عمر ۲۶ یا ۲۷ کاله ؤ دی سره له دې ځوانی زبردسته لښکرکشی او په حربي چارو پوه و ده د رهبری په مقام کې خپل کفایت په ثبوت ورساؤ شاه محمود د خپل مسلم شجاعت له کبله د خپلو ملګرو د احترام وړګرزېدلی ؤ خو د خلکو زړونې د محبت پرځای په ویره ډک کړی ؤ شاه اشرف بالعکس په داسې حال کې چې لکه د اکا زوی یې په شجاعت پېژندل شوی ؤ په زیاته اندازه پر خپلو لښکرو ګران ؤ دی تر محمود ډېر هوښیار ؤ. له همدې کبله به یې ډېر احتیاط کاوه که به فرصت په لاس ورغی مقصد ته یې تر جنګ په چلول رسېدل خوښ ؤ دا چې شاه اشرف تر شاه محمود نا مطمئن وضع درلوده بېشکه یې و دې ټولو عالي سجایاو ته اړتیا درلوده او د تزلزل دلیل یې هم دا و چې د شاه محمود د مرګ له کبله یې له خپل اصلي ټاټوبی قندهار څخه د مرستې تمه نه درلوده دویم د ترکانو چټکې لښکرکشی دا امکان راوستی چې ډېر ژر به له دې ستر طاقت سره ټکرو خوري خو د روسانو او طهماسپ له خوا خطر دونه نه ؤ شاه اشرف د جلوس په وخت کې عراق، ایران، فارس او کرمان سیستان وقومس او د خراسان غربي سیمې په تصرف کې درلودې.

له صفوي شاه حسين سره د شاه اشرف وضع

شاه اشرف ګوښه کړای شوی بادشاه ته ورغی ده ته یې هر
ډول تسلی ورکړی او ورته وې ویل چې ما لکه دا کا زوی غوندې
جبار مه ګڼه د پېښو شویو پېښو په هکله له صبر څخه کار واخله چې
خدای تعالیٰ ستر اجر درته درکړي او د بادشاه د زامنو او ورونو
مړی چې تر دې وخته په قصر کې امانت پراته و د افغانانو پر ډول
یې په تابوتانو کې واچول او قم ته یې ولېږدول او هلته یې
خاورو ته وسپارل یوه ورځ د شاه حسین لیدو ته ورغی نو د خبرو
په دوران کې یې شاه حسین ته وویل چې ته راشه بېرته پر تخت کښېنه
بادشاه ورته وویل چې که ما د بادشاهی لیاقت درلودای حق تعالیٰ به
تاج و تخت له ما څخه نه اخیست چون تقدیر ازل ته لایق او تا ته یې عنایت
فرمایلی دی تا ته دې مبارک وي تر څو چې جهان وی ته دې پر تخت
باقي یې ما د تخت تاج او حکومت سودا له زړه څخه لرې کړې ده
غواړم چې باقي عمر په عزلت کې تېر کړم او ستا دولت ته په دوعا
مشغول اوسم د خپلو اولادو د فراق تریخوالی به مې ترا بده نه سي هېر
ته له ما سره داسې جبر او تشدد مه کوه د بادشاه دې خبرو د شاه
اشرف زړه په رحم راوست او د ده خرڅ یې څلور برابر زیات کړ او د
شاهي تعمیراتو وظیفه یې چې ده ډېره علاقه ورسره درلوده و ده ته
وسپارله له دې کبله له شاه اشرف څخه ډېر ممنون شو بیا یې یوه
ورځ له شاه اشرف سره ملاقات وکړ او خپله لور یې ورته ورکړه له دې
څخه شاه اشرف ډېر خوښ سو او هرې خواته یې استازی واستول
چې له دې وروسته له ما څخه په امان یاست ناحقه خپل اولس مه تباه کوئ

راشئ چې بدي په مينه او محبت بدله کړو:

طهماسپ ته د شاه اشرف خط ليکل

شاه اشرف وروسته له هغه چې ټول اولس ته يې خطونه وليږل او اولس يې سولې او آرامۍ ته دعوت کړ او طهماسپ ته يې هم خط وليکي او ايلچي يې ورته واستاوه ښه اسان چې د زر وايراقونه يې درلودل ورولېږل په دې مضمون يې محبت نامه ورته وليکله: بايد له دې وروسته نفاق له منځه ورک کړو او کدورت رفع کړو له ايران څخه يو موټی نظامي قدرت جوړ کړو. د مسکو خلکو له فرصته استفاده کړې څو ځايه څو ولايته يې اشغال کړي دي او عثماني دولت هم سترګې ايران ته نيولي دي او د ايران تجزيې ته تمه لري بايد دا درد دوا کړو که د ايلچيانو وتګ راتګ ته منتظر اوسو وخت له لاسه وزي بهتره داده چې د قم او تهران تر منځ دواړه خواوې له مساوي سرو سره راسو او خپلې لانجې سره حل کړو او د دوستۍ عهد او ميثاق سره وتړو طهماسپ د احتياط ملاحظه ونه کړه دا پيشنهاد يې ومانه او ملاقات ته حاضر شو دا چې تر دې مخکې هم دوه درې واره شاه اشرف وطهماسپ ته محبت آميزه ليکونه استولي ؤ په دې ميان کې پنځويشت کسه مشران د قزلباشو و طهماسپ ته کاغذ وليکي چې د اشرف په خبرو مه خطا کېږه دا ټولي حيله او تزوير دي دا خبرې د اعتبار وړ نه دي دا خط يې د قاصد په لاس ورکړ او طهماسپ ته يې ورولېږ واتفاقاً سيد علي خان هزاره چې له طهماسپ څخه يې شکست خوړلي ؤ او اصفهان ته راروان وسيد علي خان قاصد ونيو او کاغذ يې لاس ته ځني راوړ او چټک يې ځان اصفهان ته راورساو او شاه اشرف يې له موضوع څخه خبر کړ شاه اشرف دا سې ښکاره کړه چې دا خبره درواغ ده

خو وروسته یې د قزلباشو مشران فرح آباد ته میلمانه کړل او هلته یې
ټول ووژل او له پنځه ویشتو سپرو سره روان سو چې له طهماسپ سره
ملاقات وکړي په دې وخت کې د شاه اشرف له درباره ایلچی رهي
شوی و او ښه اعزاز او اکرام یې شوی ؤ او اصلان خان ته هدایت
شوی ؤ چې له یو شمېر سپرو سره ولاړ سه او د ملاقات ځای تعین
کړه اصلان خان له قزوینه راوتلی او د قم خواته تلی چې دا افغاني
سپاره یې ولیدل دی چې خوارکی بې له دې بېرې اخستی ؤ هغه
متل چې وایي یو بوده یې تر نظر ګورم ورغی بس چې سپاره یې ولیدو
په لنډ ساه یې ځان طهماسپ ته ورساوه چې شاه اشرف خوتا ته
یوه د سیسه جوړ کړېده هغه ؤ چې طهماسپ له خپله لښکره سره
مازندران ته وتښتېدی اصلا خان چې یې زړه نا زړه وجنګ ته
ورلېږلی ؤ له مختصر تماس څخه وروسته ده ماتې وکړه او په طهماسپ
پسې یې ځان ومازندران ته ورساؤ طهماسپ چې ومازندران ته ورسېد
د فتح علي خان له خوا استقبال شو.

بېرته افغانستان ته د امان الله خان تګ

امان الله سلطان چې په قوم صافي او د تګاو او سېدونکی دی
هغه وخت چې حاجي میرخان نیکه استقلال حاصل کړ او د غلجو
کومکي لښکرې له هرې خوا سره راغلی امان الله خان هم د صافیو
او شنوارو لښکر سره راټول او قندهار ته راغی او د حاجي میرخان
نیکه په خدمت کې شامل شو څنګه چې هم پوه او هم توریالی ؤ ډېر ژر یې
ترقي وکړه او د لښکرو د یوې برخې قوماندان شو خو ډېره دیا د ولووړ
کارنامه یې د اصفهان په څنګ د ګلنا باد په جګړه کې د ده فعالیت او

لیاقت ؤ ده او شاه اشرف له ډېره وخته د نظر اختلاف درلود دامان الله خان
تر هر څه د مال جمع کول خوښ ؤ او سره له دې دونه پوهې او
توریالی توبه د نغدی په هکله یې ضعف درلود او د مال په جمعه کولو
کې به افراط ځنې کېدې شاه اشرف غوښته چې دا یرانیانو په نزد
زموږ اعتبار ډېر سي څو سلطنت دوام پیدا کړي دامان الله سلطان
د مال او دولت خوښه له دې نارې څخه هم څه ښکاري:

که پنګې د پردیو تر ملا پنګې
ملوګل ورپسې سپور سو ملوخان لا پر او تاک کې چښلي ښګې

ملوخان دامان الله خان مخفف پښتنی نوم دی امان الله خان
د شاه محمود اعتماد الدوله او د مسلح قواو ستر قوماندان و د قزوین
کاشان وغیره شمالي سیمو د زون قوماندان و دا چې شاه اشرف
د طهماسپ لېدو ته ولاړ امان الله سلطان له یو شمېر لښکرو سره مخ
په افغانستان وخوځېدی قندهار ته هم نه وروګرزېدی سیخ
کابل ته ولاړی وروسته بیا شاه اشرف ملا پیر محمد میاجي او څو
کسه نور مشران مرکه کابل ته پسې ولېږل ګرونسکي هم د خپل
کتاب په ٦٦ مخ کې د ملا پیر محمد میاجي او څو کسو نورو کابل ته تګ
لیکلی دی ملا پیر محمد میاجي چې دامان الله خان د خورزوی ؤ او د
کابل د ختیځ خواته د هوتکو څخه ؤ په امان الله پسې په مرکه کابل ته
ولاړی امان الله پخپله نه راغی یو شمېر عسکر یې له خپل زوی سره
اصفهان ته ولېږل چې نوم یې سعد الله خان ؤ داسې نقل کېږي
چې په تګاو کې د غازي محمد عثمان خان کورنۍ دامان الله سلطان
له اولادې څخه ده د ده له ایران څخه له تګه سمدستي وروسته افغانان بېرېدل
چې دی به وطهماسپ ته ورسي ځکه د ده ښځه هم د شاه حسین صفوي

لوروه اودی دې ښځې د پرتو تاثیر لاندې راوستی وُ خود خلکو دلیل خطاوُ ځکه امان الله خان غوندې مېړه څنګه داسې بې ننګې قبلولای شوای نو هم هغه وُچې نخامخ دهزاره جات پرلار کابل ته ولاړها وقندهار ته هم نه وروګرزېدی وایي که چې له لږ موده وروسته په تکاوکې وفات شو.

په دې لړکې یو هم الماس خان د شاه محمود قوللراقاسی وُ د تعقیب له ببرې وتښتېدی خو ونیول شو له څه تعقیب اوشکنجې وروسته پرېښودی شو خو الماس خان چې یوغیر تمند سړی وُ دا تعقیب او شکنجه یې دځان سپکه بلله کله چې له بنده خلاص شو خپله ښځه یې مړه کړه او خپله یې هم ځان وواژه دده په مرګ دایران د هرې طبقې خلک خوابدی شول خصوصاً په ایران کې مقیم خارجي عیسویان.

شاه اشرف یو شمېر هغه درباریان چې د شاه محمود دناروغۍ په وخت کې ناوړې استفادې کولې مړه کړل.

د شاه اشرف او طهماسپ جنګ

طهماسپ په مازندران کې د علي مردان خان او اصلان خان په مشرۍ یو شمېر قواوې سره راټولې او د ۱۷۲۵ په دسمبر کې د شاه عبدالعظیم ته نږدې له شاه اشرف سره جګړه وکړه خو په دې جګړه کې شاه اشرف برېالی شو او د طهماسپ قواوُ قوماندان چې نوم یې نه ده معلوم ژوندی ونیو او خپله طهماسپ په داسې حال کې تښتېته وکړه چې نه ده حال په لښکرو نه دلښکر حال په ده. طهماسپ دافغاني اردو په محاصره کې راغلی خو د تښتې -

لاریي پیدا کړه اوله محاصرې روت او دشمیران په لاره دالبرز په غروکې ببرته مازندرانو ته وتښتېدی په مازندرانو او استرآباد کې یې هم ځان خوندی نه باله ځکه داسې خوده دوه کاله پخوا سره سا نو ته ورکړې وې طهماسپ چې له دې ځایه وتښتېدې وفتح علی خان قاجار ته یې یوعاجل پیغام ولیږه چې د تهران کومک وکړي فتح علیخان قاجار هم دده په امر عمل وکړ او تهران ته راغی او د - وامین په برخه کې یې له شاه اشرف سره جنګ وکړ او مات سو او دایرانیانو په قول تهران یې وسرنوشت ته وسپارو او خپله په داسې حال کې چې بنه پوهیدی چې زه نسم کولای چې زبردست خان غوندې جنرال ته مات ورکړم نو داسې تښته یې وکړه چې په مازندرانو کې تم نه سو چې طهماسب وروینی سیخ داسترآباد له لاړې بسطام اوله هغه ځایه دامغان ته ولاړې فتح علي خان وروسته له هغه چې کله به طهماسپ ته یاغي کله به یې بیا سر پرخپره ورته اینبی وُ د ۱۷۲۶ کال دمئ په میاشت کې طهماسپ ته ودغی.

له ترکانو او روسانو سره د شاه اشرف جنګونه

شاه اشرف له دې کبله چې دایران زیاته برخه د ترکانو په لاس کې وه او هم یې احتمال درلود چې نورهم پرمخ راسی نو یې لازمه وبلله مخکې تر دې چې د دښمن دخونی دروازه ورو ټکوي له هغه سره معامله څه دخبرو له لاړې یا دتوري په خوله فیصله کړې په هغه وخت کې شاه اشرف ته روسانو او طهماسپ دونه اهمیت نه درلود فقط ده له ترکانو ویره درلوده خو داکمتق لارنس لیکارت انګریز په انقراض صفوی کې په ۳۲۴ مخ کې وایي چې شاه اشرف که ببر بدی هم خو داسې څوک نه وُ چې چاته

عجز وکړي شاه اشرف چې پر تخت کښېناست عبدالعزیزخان بلوڅ یې
چې د دوی په قول پخوا یې اوښ بني کوله خو دخپل لیاقت په سایه
کې د جلفا د قومندان رتبې ته رسېدلی ؤ دخپل سفیر په توګه د باب عالی
دربار ته مقرر کړ دا چې سفیر یې د داسې مهم کار او ځای د پاره کافي
نه باله نو یې اما نوئیل شریمن ارمني د منشي په توګه ورسره مقرر کړ داسړی
د یوې مشهورې ارمني کورنۍ غړی ؤ او د جلفا اوسېدونکی ؤ عبدالعزیز
د جون په اوایلو سنه ۱۷۲۵ کې له اصفهان څخه د استمبول په قصد وخوځېدی
عبدالعزیز له ځان سره درې لیکونه درلودل یو د شاه اشرف خط و
سلطان ته یو د شاه اشرف د اعتمادالدوله خط وه د اما د ابراهیم ترکی صدراعظم
ته یو د نونسو افغاني علماؤ خط د ترکیې مفتي عبدالله د علماؤ او روحانیونو
په نوم دا خط په عربي لیکل شوی او نونسو افغاني علماؤ دستخط کړی ؤ
عبدالعزیز چې په لار کې ترکي مامورینو ډېر ځله تم کړ او ډېر یې -
وځنډ اؤ د ژانویه پر ۲۰ سنه ۱۷۲۶ و اسکدار ته ورسېدی با سفور ته د افغاني
سفیر رسېدلو ډول ډول آوازې په خلکو کې خپرې کړې سره له دې
چې د اما د ابراهیم صدراعظم او د ده وزیران د احمد پاشا له خوا د افغاني
سفیر په مقصد او مطلب پوه کړل شوی ؤ خو عام خلک په دې ډېر خوښ
ښکارېدو د دې خوښی احساس ودوی ته د دوی د خوش فهمی له کبله
ورپیدا شوی ؤ چې یو مخ پر خطاؤ په ترکانو کې داسې آوازې خپرې شوې
وې چې شاه اشرف نه یوازې دا چې د سلطان اولوئیت او برتری
په رسمیت پېژاندلی ده بلکه حاضر شوی دی خپلې ټولې فتح کړې ځکې
د دې په بدله کې چې پر قندهار باندې د ده عمارت تصدیق شي
و ترکیې ته ورپرېږدي په ترکیه کې هغه وخت څوک نه ؤ خبر چې پر
قندهار د ده دا کاږوی شاه حسین حکومت دی ترکیې د هغې

قرارداد له رویه چې په سنه ۱۷۲٤ کال یې له روسیې سره کړی ؤ
نشوای کولای چې بې د روسانو له خوښې د افغاني سفیر په
حق کې د سفارت اداب پرځای کړي له بلې خوا د ترکانو دولت نشوای
کولای چې د عبدالعزیز له لیدو او هغو لیکونو څخه چې له ده سره ؤ
سترګې پټې کړي بالنتیجه داماذا براهیم د روسیې سفیر نپلویف او
د فرانسې سفیر داندرزیل خپل حضورته راوغوښتل او ورته وې ویل
چې موږ افغاني استازی چې زموږ هم مذهبه دی خپل حضورته منو
خو تاسې ته اطمینان درکوو چې د ۱۷۲٤ کال د تړون خلاف به هیڅ
معامله ورسره ونه کړو اما د ده خبرې به واورو او هغه لیکونه به
وګورو. له عبدالعزیز سره چې د سفارت شئون نه ورعایت شوی او څو
ورځې هم په اسکوادر کې معطل کړی شوی ؤ بالطبع خوابدی ؤ خو د هغه
مجبوریت له کبله چې ترکانو د ده په هکله حس کاوه ده ته یې اجازه ورکړه
چې تر بسفور راتېرشي او پای تخت ته راورسېږي چون ترکان ده ته
د سفارت په حقوقونه ؤ قایل پرځای د دې چې یوه عرشه یې کشتی یې
ورکړی وای یوه با دوانی کشتی یې ورکړه عبدالعزیز د ژانویه په
اواخرو کې د صدراعظم په حضور باریاب شو ترکی صدراعظم په دونه
جلال او دبدبه افغاني استازی ومانه چې د خپل تېر رفتار تلافي او
جبران یې وکړ وروسته له هغه چې افغاني سفیر د افغاني اعتمادالدوله
لیک د ترکو صدراعظم ته ورکړ چلپي زاده د ترکیې د دربار رسمي -
وقایع نګار هغه مجلس ته په زوره ولوست چې د لیک لوستل پای ته -
ورسېدل نورنو د شاه اشرف د کړو وړو په متعلق د هیچا په زړه کې
کوم شک او شبه د ده د واقعي مقصدو په هکله نشوه پاته دی لیک
په ډاګه کړه چې شاه اشرف یوه لوېشت خاوره ترکیې ته نه ورکوي بلکه له

دوی څخه غواړي هغه ټول ښارونه او ځکې چې دوی نیولی دي بېرته ده ته مستردې کړي دلیک په پای کې یو فارسي شعر لیکل شوی و چې دخطر بوی ځنې راتلی چلپي زاده وروسته دافغاني علماؤ لیک قرائت کړ چې د دی لیک له قرائت څخه وزګار شو له عبدالعزیز څخه یې هغه لیک وغوښت چې د سلطان دپاره یې راوړی و خو ده لیک له ورکړې ډډه وکړه او وې ویل چې زه دا لیک شخصاً سلطان ته سپارم سره له دې چې ده پخپله رایه ټینګار کاؤ خو خط یې له لاسه ځنې وکښی.

دافغاني لیکونو، مطالبو او ترخې لهجې، ترکان خوا بدی کړل عبدالعزیز په هغو خبرو کې چې له ترکانو سره یې پیل کړی ډېره آشتي ناپذیره رویه غوره کړې وه ده سخته تکیه پر مذهب کوله او ترکان یې ملامتول چې باید د رافضي ایرانیانو کار یک طرفه شي او په عین حال کې چې سلطان ته یې حق ورکاؤ چې د خپل اولس امام وپېژندل شي ویل یې څه مانع لري چې شاه اشرف هم پخپل قلمرو کې امام وپېژندل شي او هم یې ځان ته حق ورکاؤ چې د ایران دقانوني بادشاه په توګه هغه ټولې ځکې او ښارونه چې ترکانو او روسانو نیولی دی بېرته وده ته وسپارل شي.

په دې هکله ترکانو یوه سلسله مجلسونه دمشورې په توګه تشکیل کړل چې خپلې خط مشي او شاه اشرف ته دجواب برابر ولو په هکله مشورې وکړي او تصمیم ونیسي د دوی ویره پر ځای وه ځکه په همدې وخت د احمد پاشا له خوا دوی ته خبر ورکړ سو مبني پر دې چې د شاه اشرف مبلغینو د ترکانو په عسکرو کې سخت فعالیت شروع کړیدی دا چې د دوی داخل کېدل په جنګ کې له خپلو هم مذهبو سره له شرعي احکامو د اسلام ډېره مخالفه خبر ده او هم اطلاع حاصله شوه چې د شاه اشرف په امر په مراغه او نورو سیمو

کې اعلامیې خپرې شوی دی او خلک یې ودې ته رابللی دی چې دی
د خپل بادشاه په حیث ومني ترکانو په عام مجلس کې چې عبدالعزیز
مفتي د ترکیې او نور معتبره قضات د مکې شریفې او مدینې شریفې ډېر
مفسرین حاضر وُ د خپلې خط مشی په هکله وفیصلې ته سره ورسېدل په
دې غونډه کې د مفتي مخ ته دوه سوالونه کښېښودل شول له ده څخه سوال
شوی وُ چې په دې هکله فتوا راکړه لومړی سوال دا وُ چې آیا واقعي مؤمنان
کولای شي چې په آن واحد کې له دوو امامانو څخه تابعیت وکړي دویم
سوال چې کلي مفهوم یې په دې ډول ده ډېر مفصل وُ وروسته
له هغه چې د مسلمانانو جامعې د ترکانو سلطان خپل امام بللی دی
او یو داسې شخص چې بې له حقه په زور او جبر اصفهان نیولی او د هغو
شاوخوا سیمې یې قبضه کړې دی او س ځان ته جرئت ورکوی او د
هغو سیمو مطالبه کوي چې هغه ترکانو د رافضي ایرانیانو له سلطې
څخه آزادې کړې دی او خپل ځان ته د امام په توګه په شان او مرتبه
قایل شویدی څه رویه باید ورسره اتخاذ شي.

مفتي د لومړی سوال په ځواب کې وویل په اتفاق سره د مذهبي
مراجعو رایه داده چې په یوه وخت کې دوه امامان نسي کولای چې
سلطنت وکړي مګر چې د هغو دوو په میان کې داسې طبیعي سرحد
لکه بحر هند وجود ولري اشاره یې ودې ته وه چې د شاه اشرف او
سلطان په منځ کې داسې طبیعي سرحد نشته.

د دویم سوال په جواب کې مفتي وویل چې ذکر شوی شخص
یاغی دی باید اطاعت ته راوبلل شي خودا یې زیاته کړه چې که
دی د زړه له کومې د ظل الله فی الارض یعنې د ترکیې د سلطان په
وړاندې سر د تسلیم ټیټ کړي بیا د ټولو مشکلاتو رفع کېدای شي اما

که دی نافرماني پښه وکړزوي حکم يې موافق له قرآني آيتوسره
داسې دی:

فان بغت احدهما علی الاخری فقاتلوا التی تبغی حتیٰ تفی
الیٰ امرالله ٥ چلپي زاده وروسته هغه مسودې چې د شاه اشرف
داعتماد الدولته اونولس افغاني علماؤ په جواب کې برابرې شوې
وې مجلس ته قرأت کړې جوابونه وروسته د مجلس له تصویبه
سره له دوو فتواؤ د مفتی اعظم دمشهوراو معروف خطاط په وسیله
ولیکل شول. دافغاني علماؤ په نامه د ترکیې علماؤ لیک، مفتي اعظم
د ترکیې اوټولو معتبرو قضاتو اوروحانیونو اومدرسانو لاسلیک
کړ د ترکیې دولت په دې توګه شاه اشرف یاغي وباله نوې اعلان
د جنګ ورکړ انګریزي سفیر استانیان په قول عبدالعزیز افغاني سفیر
د ترکانو له اعلان د جنګ څخه سخت په حیرت کې ولوېدی دانګریزي
سفیر په عقیده د ترکانو دې کړنلارې دوه اساسي دلیلونه درلودل یو دا
وُچې شاه اشرف د سلطان اتباعوسنی مذهبه پیژاند بله داوه چې ترکانو
نسواي کولای چې له روسیې سره یې ودانه نه شي له افغانانو سره جوړه
وکړي.

عبدالعزیز د مارچ په اواخرو سنه ۱۷۲۶ د خدای په امانی مراسم
پرځای کړه خوشې وروسته د اصفهان خواته وخوځېدې دافغاني
اوترکي لښکرو په میان کې ۱۷۲۶ کال دی په میاشت کې شخړې د ایران
په شمال کې شروع شوې خواصلي نښته د هغه کال ترمني پورې وځنډېده
ځکه واحمد پاشا ته اوامر رسېدلی وُچې د دوبی کړمې نه وي تېره شوې
د دښمن د مقابلې قصد مه کوه!

د ایران په شمال غربي سیمو کې جنګ د هغو ایرانیانو چې له افغانانو

سره یو ځای شوی ؤ دیو شمېر افغانانو په شمول شروع شولو مړی جنګ
د شقاقي او شاهسون قبیلو د خلکو او ترکانو ترمنځ چې دا قبیلې د -
اردبیل د نیولو له کبله ترکانو ته خوابدی وی وشو عبدالرحمن پاشا د
عبدالله کوپرلو پاچا زوی له شل زره لښکر سره له اردبیل څخه راووت
او د ۱۷۲۶ کال دمی پر ۸ یې له دې قبیلو سره جګړه پیل کړه په دې
جګړه کې ترکان بریالی شول دې قبیلو ماتې وخوړه او دمغان دشتې ته
ولاړل هلته بیا سره راټول شول بیا یې جګړه پیل کړه خو بیا یې هم
ماتې وخوړه او سره خواره واره شول یو بل خونړی جنګ د مرند په شمال
غربي په آزربائیجان کې ونښت هلته شاه قلی خان د مراغی پخوانی حاکم
چې د شاه حسین په وخت کې هلته مقرر ؤ او اوس له شاه اشرف سره یو
ځای شوی ؤ په داسې حال کې چې علاوه پر خپل لښکر یې څو زره افغاني عسکر
هم په واک کې ؤ بېرته د څو قلاؤ په نیولو موفق شو چې په هغو کې د دیزی
مشهوره قلا هم وه وروسته د علي پاشا او شاه قلي خان ترمیان سختې
جګړې وشوې په دې جګړو کې تقریباً پنځلس زره افغاني کرد، افشار او د
اسلو قومو عسکر ووژل شول او د دیزي قلا او دوې نورې قلاوې ترکانو
ونیوې په دې حمله کې شل زره ترکي عسکر و برخه اخیستی وه د شاه اشرف
هغه اعلامیې چې مخکې یا ده شوه او هغه مبلغین چې ودغو علاقو ته واستول
شول سخت تاثیر کړی ؤ ټول ایران د ده پر ثناو خوا راټول شو او په هر ځای
کې یې ترکانو ته مزاحمت جوړ کړ په دې جمله کې ګرجي او ارمني چریکانو
هم پر ترکانو حملې شروع کړې دا چې دوی د خپلې سیمې بلد خلک
ؤ له هرې شېلې، غره او ځنګله څخه یې حملې پر کولی د ترکانو ساه یې
پزې ته راوسته داود بېګ د قپان او سېدونکی تر مرګ پورې د هغې سیمې
قیادت په غاړه ولاړه دی د سپتامبر په میاشت کې (سنه ۱۷۲۷) په هالستز کې مړ

شو ارمنیان د اوان یوزباشی په مشری جنګېدل کنستانین هم لکه دارمنیانو غوندې خپلو حملوته پر ترکانو باندی ادامه ورکړه. دا چې احمد پاشا ته امر ورکړ شوی ؤ چې حمله د دوبی دګرمی ترتیرېدو وځنډوه شاه اشرف ته ښه موقع په لاس ورغله چې د خپلې زورازمایی د پاره هر ډول اسباب برابر کړي.

شاه اشرف ته خبر راورسېدې چې د قزوین خلکو د ترکانو خلاف بغاوت کړی او ترکان یې پسې اخستی دی سخت امید واره شو فوري یې همهغو سیمو ته چې ترکانو اشغال کړې وې اعلامیې واستولی او خلک یې د قزوینیانو غوندې پاڅون ته دعوت کړل دا چې منی راورسېدی شاه اشرف ته خبر راورسېدی چې د احمد پاشا په مشری یو عظیم لښکر د خرم آباد له لارې د اصفهان خواته راروان دی شاه اشرف له خپل کوچنی مګر با ایمانه لښکر سره مخې ته ورووت د شاه اشرف لښکر (۱۷۰۰۰) افغانی او درګزینی او څه ایرانی ځلمو څخه مرکب ؤ شاه اشرف یوه وړه توپخانه درلوده چې زمبورک بلل کېده بالعکس احمد پاشا له اویا څخه تر اتیا زرو پورې عسکر ورسره ؤ چې اکثر یې ترکان ؤ او یو څه بینچه کردان هم پکې ؤ د توپخانې تفوق غیر قابل د قیاس ؤ د انقراض دورهٔ صفویه (۳۳۱ مخ) لیکونکی لارنس لیکارټ وایي احمد پاشا هغه وخت چې له همدانه یې حرکت راوکړ بې له ځنډه یې یو له سپکو خبرو ډک پیغام شاه اشرف ته راولېږه چې په هغه کې یې ویلی ؤ تاسو افغانان یو بې سره او پښو قوم یاست چې هیڅ ارزش نلرئ بیله حقه مو د ایران قانونی پادشاه له تخته غورځولی دی او د ده پر سلطنت مو قبضه کړېده زه د دې د پاره در روان یم چې نو موړی فرمانروا بېرته پر تخت کښېنوم! دی پیغام افغاني امپراطور دونه وپاراوه چې فرهاد نامی خپل مهتر چې د شاه حسین په وخت یې هم دغه دنده درلوده سره له دوو کسو افغانانو یې اصفهان ته ولېږل فرهاد او ملګری یې په مجرد د دی چې اصفهان ته ورسېدل د ګوښه کړای شوی بادشاه سر یې پرېکړ او له ځانه سره یې د شاه اشرف

حضورته راوړ شاه اشرف د شاه حسین په وینو لړلی سر واحمد پاشا ته ورولیږه او دالنډ پیغام یې ورسره مل کړ چې، نور جواب به د جنګ په میدان کې د توری په ژبه درکړای شي! د شاه حسین په وینو لړلی سر له دې لنډ اولړزوونکی پیغام سره احمد پاشا ته ورسېد احمد پاشا دی عمل او پیغام - وریږ داوه نور هم خواشینی شو او مخ په وړاندې یې زور پسې وکړ او - پر مختګ ته یې ادامه ورکړه ترکی لښکر تقریباً اتیا میله له همدانه لرې شوی ؤ چې د دوی څرک بنو خبر ورکړ چې افغانی لښکر موږ ته درسېدو په حال کې دی - احمد پاشا خپلو لښکرو ته د درېدو امر ورکړ او شاه اشرف ته هم څرک بنو خبر ورکړ، چې له ترکي لښکر څخه ۱۲ میله فاصله لرو شاه اشرف هم خپل لښکر تم کړ دواړه لښکر تر څو شپو پورې پر خپلو ځایو پرا ته یو بل ته کتل، شاه اشرف له دې فرصت څخه په استفا دې خپل استازی په ترکی لښکر کې خپاره کړه دې استازو د روپو او وعدو په ورکړه وکر دانو ته وعده ورکړه چې که تاسې د ترکانو له ملګری واوړی او زموږ ملګری شی د خانی پر خطاب علاوه به هر ډول مرستې درسره وشي پدې وخت کې افغاني عمالو په ترکی لښکر کې خپلې ریښې غزولی احمد پاشا شپږ زره کسو ته له ترکي لښکرو څخه ماموریت ورکړ چې د دښمن وضع او موقعیت کشف کړی دا لښکر داسې رهنمایانو رهبري کاوه چې اصلاً افغان امپراطوری سرې وپرداسې لارویې ترکی عسکر راواستول چې په کامله توګه یې د افغانانو په محاصره کښېناستل او تر آخري سرې پورې له منځه یوړل شول دا حال چې احمد پاشا ته راورسېدی هک حیران شو او نور هم په قهر شو. خو لارنس لیکارټ په ۳۳۲ صفحه کې وایي چې دی ناحقه په قهر ؤ ده ته خو لا تر دې بدو بد مرغیو کا ته یعنی ده خو تر دې لاسپکی په مخ کې درلودی په همدې وخت کې څلور کسه افغاني علما چې له ټنډو څخه یې اعزاز او احترام ښکارېدو د ترکی لښکر په میان کې راښکاره او ځان یې د ترکی لښکرو په صفو کی د ترکیې

سرعسکر احمد پاشاه ته ورساوه دوی پداسې حال کې چې له تندو څخه یې مذهبي
شان او احترام څرګندېده د دوی مشر واحمد پاشا ته دا پیغام ورساوه چې
موږ د خپل شهریار له خوا څخه د دی د پاره راغلی یو چې له تاسې ترکانو
څخه خواست وکړو چې له خپلو هم مذهبو سره جګړه پرېږدئ او دواړې خواوې
په اتفاق دایراني رافضیانو سره جهاد ته پورته شئ افغانی علماؤ زیاته کړه
چې زموږ امپراطور په دې ډېر خوابدی دی ترکانو چې له یوه عیسوي روسي
سره زموږ پر خلاف اتحاد کړیدی او زما سلطنت غواړي پر نورو وویشي په
داسې حال کې چې زموږ اوستاسې خدای یو، نبي یو دین یو، مذهب یو،
موږ دې ته حیران یو چې تاسې ځان ته مسلمان وایاست مګر له یوه کافر سره
زموږ پر خلاف تړون کړئ دی لارنس لیکارټ وایي: د ملایانو ویاند په دې
جمله خپلې خبرې پای ته ورسولی چې زموږ شهریار په هغه صورت کې چې
احمد پاشا د جنګ له کولو ځنې مخ ونه ګرځوي د خپلو سنی او هم مذهبو
ورونهو دوینو له توئیدا به ډېر متأسف وي خپلې خبرې تمامې کړې دا خبرې
چې د هرچاو غوږ ته ورسېدې ډېر سخت یې تر تاثیر لاندې راوستل. په هغه
حال کې چې احمد پاشا له افغاني نطاق سره په خبرو اخته ؤ ناګهانه د آذان
بزغ پورته شو افغاني علما بې له ځنډه د لمانځه دا دا کولو د پاره له ترکانو
سره په صف کې یو ځای ودرېدل په دې ډول یې بیا له ترکانو سره خپل
مذهبي یووالی ثابت کړ وروسته له لمانځه افغاني پیشوا بیا بیا دوینو له
تویولو څخه د ډډې کولو توصیه وکړل، او له خپلو درو ملګرو سره د ترکو له لښکر
څخه روان شو په داسې حال کې چې یو شمېر ترکي عسکر هم په دوی پسې ولاړل.
احمد پاشا چې ولیدل چې د شاه اشرف د دې ماهرانه تبلیغ علاج یوازې او یوازې فوري
جنګ دی بې له ځنډه یې د جنګ امر صادر کړ خو دا داسې وخت ؤ چې د شاه اشرف
یلانو او ماهرانه تدبیرو خپل کار کړی او خپل تاثیر یې ښودلی ؤ نه یوازې دا چې

د ترکانو د لښکر یوې برخې له جنګه ډډه وکړه بلکه (۲۰۰۰۰) کرد سپاره د بېګ سلیمان اوغلو په مشرۍ د دښمن په څنګ کې ودرېدل جګړه شروع شوه افغاني سپرو د سترګو په رپ کې د ترکي لښکر ښی څنګ په بېدرېغه توګه وځایه، منځ او کېڼ څنګ یې هم تر سخت برید لاندې ونیو وروسته له دې ترکانو خپل ښی څنګ بېرته تقویه او سره برابر کړ او بیا یې پر افغاني لښکرو یرغل وروړ. خو بل وار ته داسې پرشا ووهل شو چې بیا یې د ترشا کتو توان نه ؤ. افغاني لښکر په ټولو جبهو کې یرغل پیل کړ او په ترکي اردوګانو کې عمومي ماتې پیل شوه، د ماتې په حال کې ترکي فوځونه له عمومي تباهۍ سره مخامخ شول خو شاه اشرف فوراً عسکرو ته امر وکړ او د ترکانو له تعقیب څخه یې لاس واخیست. لارنس لیکارټ والي که شاه اشرف په ترکي فوځ پسې تعقیب ته دوام ورکړی وای د ترکي فوځ به له قطعې ورکې سره مخامخ ؤ خو افغاني امیر په سر کې بله هوا درلوده، ترکي لښکر په ډېرې بې نظمۍ ماتې وخوړه د ولس زره مړي یې په میدان پاته شول په هغه ورځ چې دا جګړه پېښه شوه د نومبر ۲۰ (۱۷۲۶) ؤ. په هغه شپه هغه کردان چې د ترکو له لښکر سره نه و تښتېدلی د ترکو په میراث شوی اردوګاه کې یې داسې جار واهه اوس چې دا دونه عسکر د افغانانو خواته اوښتی دي — ترکان باید په بیړه پرشا تېښته وکړي څو له نابودۍ نجات ومومي کردانو له دې هرج مرج څخه په استفادې سره د ترکي اردوګاه په لوټ پیل وکړ، احمد پاشاه او دده لښکر چې د جنګ له میدانه په ډېر بیړه تېښته کړی ؤ. هرڅه یې په اردوګا کې پرځای پاته شوی ؤ په دې ترتیب ټوله توپخانه چې (۷۰) ستر توپونه پکې ؤ او نور ټول اسباب او وسایل وافغانانو او کردانو ته پاته شو. احمد پاشا په داسې حال کې چې لوڅ لپړ دی او دده سپاهیان له دغه ځایه همدان او له هغه ځایه کرمان شاه او بغداد ته ورسېدل سره له دې چې

احمد پاشا د دې شکست پرکردانو اچوله خود مراغې حاکم عبدالعزیز پاشایې هم
مسئول باله که څه هم شاه اشرف د جنګ په میدان کې خپل عسکر د ماتې خوړلې
ترکانو له تعقیب څخه منع کړل خو وروسته په دوی پسې سوکه سوکه تلی تر هغو
چې د وی یې د ایران له خاورې ویاستل لارنس لیکارټ (۲۳٤ مخ) وایي چې
شاه اشرف هم مشایعت ورسره وکړ افغاني فاتح امپراطور که غوښتی وای چې ترکي
لښکر یو مخ محوه کړي کولای شوای خو د لارنس لیکارټ په قول ده له اعتدال او
پیرزوینې څخه کار واخیست خو داغوره او نیکه رویه چې شاه اشرف خپله کړه
په حقه سره ده امید درلوده چې د ترکانو عسکري نظام به حتماً د ده له
رویې متاثر شي غوښته یې چې له ده سره له جنګ نه منصرف شي یو بل نیک
عمل لا بل هم شاه اشرف پسې اضافه کړ هغه داؤ چې هر څونه ترکي بندیان
چې له دوی سره ؤ هغه یې هم خوشی کړل چې زرتر زره له ترکي عسکرو سره
یو ځای شي د دې بندیانو شمېر په زرهاؤ ؤ خو صحیح شمېر یې نه دی معلوم
بل بهتر کار د شاه اشرف داؤ چې احمد پاشا خپله ټوله اثاثه پر ځای پرې ایښی
وه، د ماتې خوړلو وخت آخر منی ؤ د ژمي سر ؤ یخني ډېره وه شاه اشرف په -
احمد پاشا پسې حال واستاوه چې تاسې خپل امین څوک راولېږئ چې ستاسې
پاته شوی مال درورې زه دیو سني مسلمان په حیث نه غواړم چې د خپل سني مسلمان
ورور مال وخورم ما پخوا هم تاسې ته ویلی ؤ چې زه به د خپل هم مذهبه ورور د وینو له
تویولو څخه متأسف یم او ترکانو ته یې ټوله اثاثه بېله وسلو ورمسترد کړل او هم یې
امر وکړ چې په ټولو ترکي مړه شو و عسکرو دی د اهل سنتو پر طریقه د جنازې
لمونځ وکړی او محترمانه دې خاورو ته وسپاري د شاه اشرف دې نیکو انساني او د
ورو ګلوی اعمالو ترکان بې حده متأثر کړل د دې فاجعې یا جګړې خبر د ۱۷۲٦ په د سامبر
کې قسطنطنیې ته ورسېدی چې اولس یې له تعجب او حیرانتیا سره مخامخ کړ دلته د شاه
اشرف په ګټه داسې تبلیغات پیل شول چې دولت یې نور هم وار خطا کړ ځکه د ترکانو عامه

ټولنه دشاه اشرف پخوا شوه عاموتر کانو دشاه اشرف په هکله عجیبې عجیبې
عقیدې ښکاره کولی چا به ویل ولی دی چا به ویل مهدی دی پنلویف روسي
سفیر وخپل دولت ته اطلاع ورکړه چې ملایان په دې عقیده دی او خلکو ته وایي
چې له شاه اشرف سره جنګ بې فایدې دی. ځکه خدای تعالیٰ دشاه اشرف ملګری
دی خود ترکیې دولت بې ځایه هلې ځلې کولې او داسې اعلامیې او تبلیغات
یې خپرول چې شاه اشرف شیعه شوی دی او پرده یې د رافضی ټا په لګولمه
استانیان انګریزی سفیر په خپل رپوټ کې لندن ته ولیکل چې دا شیعه له سیاسي
مجهولاتو څخه دی محض یوه پروپاګنډه ده چې د ترکي اولس افکار دشاه اشرف
پر خلاف راوپاروي او په ترکیه کې دشاه اشرف دنفوذ مخه ونیسي احمد-
پاشا دخپل اعتبار او حیثیت دبیرته پر ځای کولو د پاره دجنګ غوښتونکی ؤ او د ترکیې
دولت داسې تصمیم ونیو چې اروپایي ترکیې ته به دشاه اشرف تبلیغات ډېر
نوی رسېدلی باید دشاه اشرف د مقابلې دپاره له اروپایي ترکیې څخه عسکر
راټول کړی او د احمد پاشا په برخه کې ترکي دولت پر دوه لاری ولاړ ؤ ځکه یې
نسوای کولای چې ده ته یو مخ شاورو ګرځوی او له کاره یې برطرفه کړي خو آخر دې
ته مجبور شول چې دی پخپل مقام کې وساتی او ده ته امدادي لښکرې ورواستوي
په دې ترتیب د ١٧٢٧ کال منی ته بیا په داسې حال کې چې ٦٠٠٠٠ لښکر ور سره ؤ تر
کرمان شا راتېر شو خو افغان مدبر امپراطور په دې پوهېدی چې تر جنګ یې په سوله
کې ګټه ده نو یې د صفرې دمیاشتې پر ١٥ کال ١١٤٠ چې د اکتوبر له ٥ کال ١٧٤٧
سره سمون خوري اسمعیل خپل استازی د سولې دپاره د ترکیې سر عسکر ته ورولېږه
احمد پاشا هم چې ګواښ ته سترګې ختی دا یې یوه غیبي مرسته وبلله ځکه په ترکي
فوځ کې له جنګه کرکه دې حد ته رسېدلی وه چې ترکي سر عسکر احمد پاشا
بېرېدی چې خپل عسکر به پر ما حمله وکړي ځکه دافغاني امپراطور کړو وړو ترکي
ملت دونه تر تاثیر لاندې راوستی ؤ چې دوی ته له شاه اشرف سره جنګ کفر

ښکارېدو د ایشیایي ترکي خلک خو بالکل امکان نه درلود چې یو نفر هم جنګ
ته راولی خو اروپایي ترکیان چې تر ایرانه را رسېدل د شاه اشرف تبلیغاتو
یې په کلي توګه نظر واړاوه، نو هغه ؤ چې د ترکیې دولت د خپل له جنګه
ناراضي ملت او د جنګ بې پایه درانه اخراجات له بلې خوا د افغانانو په
هکله په دوی کې پروپاګنډ کېده چې افغانان انسانان نه دیبان دی.
هغه ؤ چې ترکي دولت بالاخره د سولې په هکله تصمیم ونیو او هم یې
روسانو ته خبر ورکړ چې له افغانانو سره په دې شرایطو زموږ جنګ ناممکن دی ځکه که موږ د جنګ
هڅه وکړو کېدای شي چې زموږ اولس پر موږ راپورته شي هغه ؤ چې د سولې خبرې شروع شوې له افغاني
لوري یوازې د اسمعیل نوم یاد یږي د بل چا نوم نه یاد یږي خو د ترکانو
له خوا احمد پاشا او عبید الله افندي د ادرنې او حلب قاضي په دې هیأت
کې وو له بلې خوا خبرو ورځې دوام وکړ په ۱۲ مادو کې یې یوه صلحنامه ترتیب
کړه چې په لومړي ماده کې یې د ترکیې سلطان رسماً د عالم اسلام پیشوا و پېژندل
شو د وهمي مادې هغه سیمې چې پخوا لا د ایران او ترکیې په منځ کې تر دعوې
لاندې وی لکه کرمان شا، همدان، ګنجه او قره باغ په آذربائیجان کې او د تبریز
سیمې او ګرجستان و ترکیې ته پرېښودل شوی دریمه ماده شاه اشرف رسماً د
ایران د شاهنشاه په توګه په رسمیت و پېژانده او د ده نوم په سکه او خطبه کې شامل
سو او هم حق ورته ورکړ شو چې هر کال به دی پخپله د حج کاروان استوي او امیر
د حج به دی پخپله تعین کړی خو د پاتو نورو مادو په هکله نپوهېږم چې د انقراض
صفویه مصنف تله پرې تېره کړېده او که مترجم، خو ډېر ګومان داسې دی چې
ایراني متعصب مترجم له دې علاوه نور هم داسې ځایونه چې د ده سترګې به پر برېښېدی
له قلمه غورځولی دی خوزه چې کوچنی وم په مجلسونو کې به ویل کېدل چې شیعه ګانو
په مکه شریفه کې د مسئلې حق نه درلود، خو شاه اشرف دا حق د دوی د پاره واخیست
او د دوی مسئله هم هلته په رسمیت و پېژندله شوه. په هر صورت د سولې دا تړون

دروغې جوړې یوه لاروه خوله شکه خلاص دشاه اشرف دپاره یو په زړه پورې کار ؤ په داسې حال کې په دغسې کاروباندې دشاه اشرف توفیق حاصل کېدل دده کمال دسیاست مداری اوسترې پوهې محصول ؤ (انقراض صفویه ۳۳۶ مخ)

محمد رسید افندی د ۱۷۲۸ داګست په میاشت اصفهان ته راغی څو د ترکیې له خوا داتړون لاس لیک کړي محمد رسید په اصفهان کې خپلې لیدنی کتنی په یوه لیک کې چې د ترکیې د سرکاری اوراقو په تحویلخانه کې اوس هم محفوظ دی داسې بیانوي، داخط پتاریخ د ۷ اپریل ۱۷۲۹ لیکل شوی دی محمد رشید د اصفهان په سفر کې چې درې منزله وخت یې واخیست په لاره کې دشاه اشرف له میلمه پال سره چې ده ته منتظر ؤ مخامخ شو. دشاه اشرف میلمه پال دده زیات هرکلی وکړ خو چې پایتخت ته نژدې شو ښار ته یې نته ایست بلکه دښار په څنډه کې یې د سرجی سرای پنامه یوې دولتي ماڼۍ ته بوت د محمد رشید او دده د ملګری ښه هرکلی وشو لیکن دوی عملا ترمراقبت لاندې ؤ ځکه دوی نشوای کولای چې دشاه اشرف له مامورانو ماسوا له بل چا سره وګوري او دا هم ؤ چې په ایران کې ترکانو ته اولس په ډېره بده سترګه کتل دامراقبت اصلاً د دوی دحفاظت په خاطر ؤ.

افغاني اعتماد الدوله پر ۲۷ مارچ کال ۱۷۲۹ محمد رشید رسماً ومانه وروسته بیا افغاني وزیر ورته وویل چې شاه اشرف له ایرانیانو سره د جګړې دپاره مشهد ته روان دی له دې کبله موږ ستا د درناوی وړ احترامات او تشریفات نکړل پر ځای څه وخت وروسته محمد رشید دشاه اشرف په حضور مشرف شو افغاني شهریار په جواهر نشانه تخت ناست او دایراني بادشاهانو تاج یې پر سر ؤ شاوخوا یې ستر ورجالو چې اکثر قزلباش ؤ نیولی وه ترکي سفیر چې د سلطان خط وافغاني شهریار ته تسلیم کړ دی له ځایه ولاړ شو او لیک یې له سفیر څخه واخیست او مچ یې کړ څو ګړي ولاړ ؤ او لیک یې پر سر نیولی ؤ وروسته له هغه یې په هغه تاخچه کې کېښود چې یو ډېر قیمتی تاقچه پوښ چې قیمتي

غمی پکې کارشوی وُ بری پروت وُ، خطرې کښنود. وِ ورته له هغه افغاني امیراطورد ترکیې د امیراطورد صحت پوښتنه وکړه او محمدرشید هم په ډېر ادب مناسب جواب عرض کړ دربار پای ته ورسېدی.

محمدرشید وایي داچې ما او زما نوکرانو ته یې اجازه نه راکوله علت یې دا وُ چې دښمنو خلکو حال ډېر خراب وُ دوی یعنی افغانانو غوښته چې دښمنو خلکو حال پټ پاته شي او دا ندې خلک حُنې خبر نه شي.

لکه څنګه چې مخکې ذکر شو شاه اشرف له اصفهان نه د تلو په حال کې وُ حُکه هغه غوښته چې له طهماسب سره مقابله وکړي محمد رشید وروسته چې په ۶ اپریل ۱۷۲۸ د خدای پامانی د پاره د شاه اشرف حضور ته ورغی نو بېرته ترکیې ته روان شو د شاه اشرف له خوا محمدخان بلوچ د شیراز حاکم په ترکیه کې افغاني سفیر مقرر شو او استنبول ته واستول شو څو له ترکانو سره د ترون لاسلیک وکړي د محمدرشید له تلو وروسته محمدخان بلوچ ترکیې ته ورسېدی د ترکیې دولت داقدام بالمثل په توګه چې په وارو وارو د شاه اشرف له خوا د وروکلوی د ښکاره کولو په غرض شوی وُ له یوې خوا د خپل اولس د خوشحالولو په غرض حُکه ترکیې اولس له شاه اشرف سره دومره مینه درلوده چې حد یې نه وُ له بلې خوا د بالمثله وروکلوی د ښکاره کولو په غرض دیو بې مثاله تشریفاتو ترتیبات ونیول حُکه د ترکانو په تاریخ کې د داسې هرکلی ترتیبات هېڅ امیراطور ته نه وُ نیول شوی لکه محمدخان بلوچ - افغاني سفیر ته. لومړی هغه ته ولې ماڼۍ اوکورونه د وکانونه چې د افغانی سفیرد سپرلی د تګ پر لار واقع وُ ترمیم او سپین کړای شوی وُ چې په دې مناسبت وده ته د خان سیواسی یعنی سپین خان لقب ورکړشو، په مجرد د دې چې افغاني سفیر له بندرګاه څخه د باسفورد په دریاب کې داخل شو دده د تګ دلارې په اوبدو کې په بحر کې یوې بلې خواته ترکي بحري بېړۍ درول شوې وې د توپونو خولې خلاصې

کړې او د توپو په ویشتلو یې پیل وکړ تر هغو پورې چې افغاني سفیر د بحر په اروپایي غاړه پر وچه پښه ښوده د استمبول په اروپایي برخه کې د ترکیې اولس چې له هر ځایه یې ودې هر کلی ته ځانونه را رسولی ؤ د تګ لارې په دواړو خواؤ د ګلو ګسېدې پلاس نړاو ښځې د افغاني سفیر د را رسېدو هر کلی ته ولاړ ؤ وهرې برخې ته به چې سفیر رسېدی د ګلو باران به باندې روان ؤ محمد خان بلوڅ او دده د سفارت غړې په خپلو افغاني جامو کې چې له یو عالم عظمته ډک برېښېده په هر ځای کې یې د هر کلی کوونکو واحساساتو ته بالمثله د ورور ګلوی په احساساتو ځواب ورکاوه د هر کلی دې منظرې اروپایي خلک سخت تر تاثیر لاندې راوستی ؤ د ترکانو دې بېدریغه د ورور ګلوی اظهار او د افغانانو فتوحاتو په اروپایانو کې یو شور او غوغا را پورته کړې وه اروپایي امپراطوریو د یو والی او اتحاد له دې نوی تړون څخه د خطر احساس کاوه په پای کې داماد ابراهیم محمد خان بلوڅ په یوه باشکوه دربار کې ومانه په دې دربار کې هم خلاف له معموله شکوه او جلال ښودل شوی ؤ د ترکیې د دولت غرض داؤ چې موږ نن یو غښتلی سکنی ورور پیدا کړ چې په دې توګه د خپلو رقیبانو په روحیه اثر واچوي همدا وجه وه چې اروپایي ولسونه د افغانانو د پېژندلو په لټه کې شول چې په لږه موده کې یو په بل پسې څو کتابونه په اروپا کې نشر شول چې د افغانانو او د دوی د رهبرانو په هکله لیکل شوی ؤ چې وروسته به تفصیل وار ولیکل شي.

داماد ابراهیم صدر اعظم سفیر ته ګله وکړه چې افغاني اعتماد الدوله زما په نامه خط نه دی ؤ ورکړی دده هېر شوی ؤ چې ده هم محمد رشید ته د اعتماد الدوله پنامه خط نه ؤ ورکړی.

استانیان انګریز سفیر په خپل مکتوب کې ولندن ته ولیکل چې محمد خان بلوڅ بې له انعطاف او بې له احتیاط رفتارلري فکر نه کېږي چې دی دې دلته د ترکي وزیرانو وروستی را جلبولو ته کوم اقدام وکړی او یا دې د باب عالي د زیاتی

دوستی په فکر کې وې.

په بل مکتوب کې استانیان چې په ۱۱ د سپتامبر کال ۱۷۲۹ لیکل شوی ولندن، ته ولیکل څلور شپې مخکې محمد خان بلوڅ بې له دې چې کوم نوی قرارداد لاس لیک کړي بېرته واصفهان ته ولاړ.

د شاه اشرف او روسانو تر میان مخامخ جګړه

لکه څنګه چې مو مخکې د روسانو په هکله ولیکل چې د افغانانو د راتګ سم دوی په ایران کې مداخله شروع او د ایرانی بادشاه نښځې زوی څخه یې د ډېرو سیمو قبالې تر لاسه کړې خو افغاني امپراطورانو فرصت نه درلود چې له دوی سره خپل حساب تصفیه کړي څو په ۱۷۲۷ کال کې اعلیحضرت شاه اشرف و روسته له یو لړ کوششو څخه د افغاني اردو ستر سپه سالار محمد سیدال خان ناصر ته وظیفه ورکړه چې ایراني سیمې د روسانو له ناولی وجود څخه پاکې کړي - سیدال خان ناصر له شپاړس زره سرتېرو سره مازندارانته ورغی او د رود سر په سیمه کې یې چې درشت د ختیځ په ۲۰ کیلومتری کې واقع ده ورته واړول تر ډېرو شپو پورې څو وړې وړې جګړې د دوی په میان کې پېښې شوې. د دې جګړو پوره تفصیل نه دی معلوم ځکه هغه افغاني مؤرخین او وقایع نګاران سره له خپلو آثارو تر خاورو لاندې شول او له هغه تاریخه تر اوسه په افغانستان کې داسې خواخوږی دولت چې د دې تاریخي پېښو پلټنې وکړي نه ده پیدا شوی بلکه خاورې یې پر اړولي، دوهمه منبع د ایرانی لیکوالو ده هغه بیا له بده مرغه ثواب په - د رواغو کې لټوي تر اوسه چې ما هر څه له اروپایي ماخذونو څخه لیکلی هغه مې له هغو آثارو څخه لاس ته راوستی دی چې د ایرانیانو تر غلبېل راوتلی دی په دې توګه په روس کې ډېر معلومات شته

خوله بده مرغه هلته چې څوک ولاړشي بېرته دلېنن په افکار بـــار راشي بل شی ته ځای په ماغزوکې نه وي پاته دا چې مخکې ترجګړې زموږ او - روسانو څه ډول څونه سیاسي خبرې شوی دي معلومات نشته، پېښه شوی جګړه هم داسې مختصره ذکر شویده چې وایي جګړه درشت په ختیځ کې د تیمی جان دکلی په شاوخوا کې پېښه شوی د روسي عسکرو اصل مرکز په رشت کې او دافغاني عسکرو مرکز رود سرؤ، افغاني لښکرې د محمد سیدال خان - سپه سالار په مشری روسي لښکرې د جنرال لیواچوپ په مشری خود جګړې په میدان کې د روسي لښکرو لارښوونه جنرال اورلسوف کوله افغاني ستر قوماندان سیدال خان د جنګ د میدان قوماندہ هم له افغاني دودسره سمه کوله یعنې د لښکر په مخکې به ولاړؤ د جګړې خاص تفصیل هېڅ نه دی معلوم فقط دونه ویل کېږي چې د تمی جان دکلی سره جنګ وشو روسان مات شول اولیواچوپ د جوړې غوښتنه وکړه دا جګړه یو کال وروسته د ترکیې له جګړې د ۱۷۲۷ کال په اواخرو کې وشو. (انقراض صفویه ۳٤۰ مخ) شاه اشرف هم له روسانو سره سیاسي خبرې شروع کړې جنرال سیدال خان غازي چې په دې جګړه کې ټپي شوی ؤ د صحت له موندلو وروسته دافغاني سیاسي هیئت مشری په غاړه واخیسته اوله روسانو سره یې درشت په ښارکې د صلحې داسې تړون لاس لیک کړ دا تړون د شاه اشرف او د روسیې دوهم پیټر نمایندګانو تر منځ امضاء شو. دهغې معاهدې متن چې د روسي او افغاني هیئت له خوا ترتیب شوی ؤ داسې دی: دلوی او نجښونکی قادر متعال پنامه دالاندې موافقت نامه اعلان کېږي:

چون اعلیحضرت دوهم پیټر د ټولې روسي امپراطور وغیره چې د خزر د بحر پر غاړه او د خزر د بحر پر غاړه ولایاتو له خپل جانب مقابل اعلیحضرت شاه اشرف دایران پادشاه او د ډېرو مځکو خاوند وغیره وغیره او موږ سره همسایګان یو د قادر متعال په اراده دا مقدس اتحاد چې د نظامي شخړو د حل د پاره چې زموږ

قواوې سره مخامخ کړي دي نود وسلې داستعمال د مخنیوی دپاره دا نمایندګان
تعین شول دا علیحضرت دوهم پیټر دتولې روسیې دستر پادشاه له خوا
عالیجناب سترجنرال واسیلی لیواچوف دسنټ الګزاندر دنسبان درلود ونکی دتولو
روسي قواوو قوماندان د خزر د ساحلی ولایتو ګیلان مازندران او استراباد او سرحدو
او دا علیحضرت شاه اشرف دایران ستر پادشاه او دډیر محکوخاوند وغیره وغیره.
له بلې خوا دافغاني اردو ستر سپه سالار او دډیر محترم محمد سیدال خان بیګلربیګي او
محترم ترین عالی جنابان مستوفي عالی خاصه میرزا محمد اسمعیل وعمر سلطان و
حاجي ابراهیم چې په دا ستر د دربار وکې او د دا ستر د دولتو او د هغو د اتباعو له
خوا یې په اتفاق سره صلح د دوارو خواؤ په منځ کې مفید بللی ده او دایمي او -
حقیقي اتحاد لازم بولي د دوستی دابدي ترون چې عبارت له دغو مواد وڅخه دی:

۱ - تولې محکې او بنار ونه له تولو متعلقاتو سره چې په ایران کې په طرفین
معظمینو پورې خمیمه شوې دی څه هغه ځایونه چې پخواسرحد تعین شوی
وُ څه هغه ځایونه چې اوس سرحد تعین شوی دی د دریمې مادې سره سم تر
ابده پورې به د طرفین معظمینو پورې اړه لري.

۲ - اعلیحضرت د تولې روسیې امپراطور د خپل دولت له خوا اراده کړې ده چې
داستراباد ګیلان اومازندران ولایتونه چې ساحلي ولایتونه دی د هغه قدیمي -
دوستی له کبله چې امپراطورۍ له ایران سره لري وایران ته ورپریږدي
په دې شرط حتمي او استوار چې دا ولایات په هیڅ وجه ویل دولت
ته نه ورپرېښودل کېږي. اوکه له دې شرط سره بې اعتنایي وشو
نو ذکر شوی ولایتونه سره له تولو متعلقاتو د دوهم ځل دپاره به
تصرف اوتن ابده پورې به د روسیې نه ببلیدونکی برخې وګرځي او دا ترون
به لغوه بلل کېږي.

۳ - د دوارو خواؤ سرحدونه به په دې دول وي: دا د سرحدو تعین د روس او

ایران ترمنځ په تفصیل سره ذکر شوی دی.

٤ - له معمول سره سم سفیران او مختار وزیران او هغه کسان چې د طرفینو له خوا لیږل کیږي تر وار پخوا د څارندوی قوماندانانو ته به خبر ورکول کیږي چې دوی به یې له معمولو تشریفاتو سره سم احترام او ساتنه کوي تر څو چې د ورسپارل شویو ندو تر اجرا وروسته بیرته راګرزي د دوی ساتنه به کوي.

۵ - هغه دوستانه مکتوبونه چې طرفین معظمین یو بل ته لیږي دغه موجود القاب او عناوین معتبر دی که دا مالکین معظمین له دواړو خواؤ څخه اراده وکړي چې په خپلو القابو کې څه زیاتوالی راولي دا خبر باید استوار اساس ولري هیڅ یو له طرفینو څخه حق نه لري د هغو ځکو چې ویش یې شوی وی په خپلو القابو کې راولي او یا نوی سکه ووهي.

٦ - هغه دعوې او شخړې چې په سرحدي علاقو او د سرحدي اوسیدونکو ترمنځ پیښیږي باید سرحدي قوماندان یې په ښه توګه حل وفصل کړي څو دا مقدس اتحاد له هر ډول ناندریو څخه خوندي پاته شي په دې کار کې طرفین کامل اختیار لري.

۷ - که د طرفینو له منطقو څخه څوک له یوې خوا څخه بلې خواته وتښتي تښتیدلی سړی باید له خپلې دارایی سره بیرته وخپلې خواته وسپارل شي هیڅ څوک حق نلري چې تښتیدلی خلک تر خپلې حمایې لاندې ونیسي.

۸ - د دواړو خواؤ د سوداګرو د فایدې په غرض هر ډول مالونه په آزاده توګه دیو بل په علاقو کې څه په وچه څه په دریاب کې خپل له پخوانۍ معمول سره سم محصول به ځنې اخیستل کیږي. روسي اتباع حق لري په ایران کې له هر چا څخه خپل حق واخلي او یو د بل په وطن کې د خپلو مالو د خوندي کولو د پاره کاروان.

سرایونه جوړ کړي یو د بل په ملک کې چې وغواړي آزاد سفر وکړي او هم یو د بل له ملکه په آزاده توګه دریم هېوادته مالونه تېر کړي او هم یو د بل رعایا یو د بل په ملک کې استوګنه غوره کړي .

۹ - که چېرې یو د بل ملک سوداګر مړ شي مال او دارایي پاته سی باید مال او دارایي یې خوندي پاته او وساتله شي تر څو چې قانوني وارث یې یا دربار ور معرفي یا یو د بل مملکت قانوني سند ورکړي . بیا دې قانوني وارث ته بې عیبه وسپاري .

۱۰ - داغوره عهدنامه چې خدای تعالیٰ ج په خوښ دی او مقدس اتحاد یې راوستی دی د دې دپاره چې ترابده پورې خوندي پاته شي د دواړو خواو په مهرونو به ښکلی کړای شي او دوې نسخې به په یو ډول کښلی کېږي او یو بل ته به سپارلی کېږي د دې ټاکلیو مختار نمایندګانو چې تام اختیارات لري له خوا مهر او امضا تصدیق کېږي یو بل ته به سپارل کېږي ګیلان د رشت ښار ۱۳ د فبروری کال ۱۷۲۸ په هر صورت دې تړون دایران د محکې تمامیت تأمین نکړ خو د ملک پلورنې هغه تړون چې د سپتمبر پر ۱۲ کال ۱۷۲۳ دایران د ښځه نوکی شهزاده او پیټر کبیر تر منځ شوی وُ ستر باریې دایران له اوږو واچاوه خو بیا هم دا چې څه محکې ترکو ته پرېښودی شوی څه یې روسانو ته پرېښودې شاه اشرف په څه ډول شرایطو کې واقع وُ باید ګران لوستونکی حُنې خبرسي نو د محترم غلام محمد غبار د افغانستان د مسیر تاریخ له ۳۲۸ مخ څخه درته لیکم ؛

پدی ترتیب هوتکو دایران حکومت له شمال او غرب څخه د تورو او نیزو له دېوال سره مخامخ شو ځکه د هغه وخت ستر تریني امپراطور یو محاصره کړله جنوب څخه یې بحر و پداسې حال کې چې دوی بحري قوه نه درلوده د شرق په جبهه کې له سیستانه تر اوسنی خراسانه د ملک محمود مستقل حکومت وُ چې هېڅ

ډول ارتباط يې له شاه اشرف سره نه درلوده د هغه شاته دابد اليانو رياست
وُ چې له شاه اشرف سره يې قبيلوي مخالفت درلوده د بلوچستان ولايت چې قسماً
د شاه حسين تر اداري لاندې وُ او د شاه حسين دولت هم د شاه محمود د مرګ
له کبله د شاه اشرف په خونې دښمن تبديل شوی وُ، يوازې دانوی په داخلي
جبهه کې ژورې خلاوې موجودې وې چې د هغو روغول هم محال ښکاريدل ايراني
ښارونه د شاه محمود د فشار له کبله خوابدی وُ ځنې محل سردارانو چې خپلې منافع
له لاسه ورکړې وې وفرصت ته يې کتل چې قيام وکړي تر ټولو مهم هغه علي چاک
وُ چې پخپله په غلجو کې پيدا شوی وُ د شاه محمود له مرګه وروسته د قندهار او اصفهان
په غلجو کې سخت حزبيت پيدا شو په ايران کې د افغاني دولت اتکا په افغانستان
وه د شاه حسين لومړي مخالفت داؤ چې د افغانستان او ايران تر منځ يې ارتباط
قطعه کړ شاه اشرف چې خپل قوت ظهر له لاسه ورکړ د خارجي او داخلي مخالفتونو
په منځ کې راګير شو داسې برېښيده لکه د خيمې چې تناوونه پرېکړه شوی وی
يا د کشتي د هغو سپرلو غوندی چې د خوراک څښاک اسباب يې تمام شوی وی
په دې شرايطو کې له يوې خوا په داخل کې طهماسب او صفي ميرزا او سلطان محمد نظامي
قوتونه تشکيل او يو په بل پسې پورته شول له بلې خوا د غلجو په منځ کې دوه ډلې
کېدل د شاه محمود طرف داره غلجي له شاه اشرف څخه جلا شول او قندهار ته
ولاړل حتی ستر فاتح سردار امان الله سلطان هم افغانستان ته ولاړ
همدا ډول د ترکانو د حملې او روس د حملې خطر ورځ په ورځ ښکاره کېدو همدې
پېښو او حوادثو د ايران د هوتکو او شاه اشرف واقعي ارزش ښکاره کړ شاه اشرف
د حوادثو له تراکم سره زړه له لاسه ورنکړ او په ټوله قوا يې له ټولو حوادثو
سره ډغرې ووهلې او د دې شعر په مصداق : «زړه مې نه خوځي له ځايه
غرخو هسې وی که نه» په دغو حالاتو او حوادثو کې که شاه اشرف د ايران له ځينو
برخو تېر شو. چې د ايرانيانو له خوا پر دوته په بډه کې ورکړی شوی وی بيا يې

هم ډېرې برخې ځنې راوګرزولې که څه پاتې شوی وی فکرکوم چې ګران لوستونکی به د شاه اشرف معذرت ومني په دې ډول دا افغان مېړنی شاهنشاه د نړۍ دهغه وخت د ووسترو قدرتوته ماتې ورکړه اوله دې امتحان څخه سرلوړی راووت او افغانانو ته یې په خاورو کې پټ - افتخارات پرېښودل.

په انقراض صفویه کی (۳٤۳ مخ) لارنس لیکارټ لیکی چې شاه اشرف دایرانی الاصله خلکو په مقابل کې عدالت او مروت پېشه وګرزاوه خو یو شمېر بدمرغه خلکو د بې ځایه جاه طلبو د پاره یو ځای بل ځای اړدوړ جوړاوه چې شاه اشرف و دې ته نه وزګار کېدی چې د خلکو د هوساینې د پاره کار وکړي چې په لاندې کرښو کې به هغه یو څه ناڅه درته وښیو:

دا شورشونه او فتنې د هغو خلکو جوړې کړې وې چې چا ځانونه د شاه حسین زامن بلل چا یې ځانونه خېښان بلل دې خلکو د ایران اوضاع نوره هم خړه پړه کړه په دې خلکو کې پرته له سید احمده نور ټول درواغجن ؤ، د وی خلکو ته پرګوتو جنت جوړاوه په دوی کې سید احمد صحیح نسبه سړی ؤ اوله شاهي کورنۍ سره یې اړیکې درلودې ځکه دی د مورلخوا صفویانو ته منسوب ؤ. د ده نیکه میرزا داود د امام رضا د زیارت متولی ؤ او د شاه سلیمان له لور شهربانو بیګم سره یې واده وکړ پخپله سید احمد په لومړۍ سرکې د طهماسپ ملګری و د بدو اعمالو له کبله ځنې جلا او په ۸ نومبر ۱۷۲٦ کال یې په کرمان کې د استقلال اعلام وکړ چې له یو لړ شخړو وروسته شاه اشرف ګرفتار کړ او په ۱۷۲۸ کې مړ کړای شو، د بختیارو په غرو کې یو سړی پیدا شو چې له مخه یې ځان معصوم میرزا معرفي کړ وروسته یې بیا ویل چې زه صفي میرزا یم او په شوستر کې یې پر ځان څه خلک راټول کړل سره له دې چې طهماسپ دې شیاد باله او ویل به یې چې دا شیطان زموږ هېڅ نه دی خو په ۱۷۲۷ او ۱۷۲۸

کلو کې له منځه یوړل شو په ۱۷۲۹ کې یو بل سړی د صفي میرزا توب دعوه وکړه چې د ده اصلي نوم محمد علي رفسنجاني وُ او سوشتر ته ورغی او خلک یې پر ځان راټول کړل د ده ګوډاګیانو به ویل چې سترګې یې صفي میرزا ته سوی دی خو دهغه ځای حاکم د ده له ملګرۍ ډډه وکړه او دی تېښتې ته اړ شو او بین نهرین ته وتښتېدی خو ترکانو د دې د پاره چې ګټه به ځنې واخلو ترکیې ته یې بوتی.

بل مدعي د سلطان محمود میرزا په نامه د ساحل په اوږدو کې د ګمبرون بندر عباس او مکران په سیمو کې اړدوړ جوړ کړ څو بیا له منځه یوړل سو.

بله فتنه چې د طهماسپ او روسیانو د پاره جنجال وګرزېده هغه یو ملنګ د زینل بن ابراهیم پنامه د لاهي جان او سېدونکی وُ او ځان یې اسمعیل میرزا د شاه حسین بل زوی باله. زینل د ده یلم له خلکو څخه څه لښکر سره ټول کړلو مړی یې له طهماسپ سره ونښلوله ځکه ده طهماسپ د روسانو ګوډاګی باله د طهماسپ له جنګه وروسته یې له روسانو سره هم جګړی وکړې څو په پای کې د ترکانو تر اشغال لاندې سیمو ته ولاړ او هلته له عبد الرازق نامی یو ترک یاغي سره یو ځای شو او د شقاق او شاه هسون د قبیلو ډېر خلک یې پر ځان راټول کړل په ۱۷۲۸ کې یې اردبیل دوې هفتې محاصره کړ څو په پای کې ترکان موفق شول چې زینل ونیسی او له منځه یې یوسي دوه شیطانان نور هم د بختیارو په سیمو کې پیدا شول او وځپل شول.

یو بل په بلوچستان کې پیدا شو ځان ته یې محمد میرزا ویل څه خلک یې پیدا کړی وله سید احمد سره یې هم جګړې وکړې خو په پای کې شاه اشرف ګرفتاره کړ او هندوستان ته یې تبعید کړ.

داؤد نمونې په توګه پرته له طهماسپه د سلطنت دعویګیر.

طهماسپ ځان روسانو ته سپاري

هغه وخت چې طهماسپ د مازندران په اشرف نومي سیمه کې له فتح علي خان قاجار څخه ماتې وکړه نور نو نه ملګري پاته سول نه د ټیکې ټاټوبي له هرې خوا د قوي دښمنانو په احاطه کې راغی نو یې ځان وروسانو ته وسپاره دی او دده ملګري له اشرف نومې سیمې څخه بارفروش ته ولاړل او له هغه ځایه څخه یې محمد علي خان قوللر اقاسي او یوبل له سرکردګانو څخه وترکمنو ته چې د استراباد وشمال شرق ته پراته ؤو استول او له هغو څخه یې مرسته وغوښته او طهماسپ ومحمد علي خان ته (۴۰۰۰۰) روبله ورکړل چې دا په ترکمنو وویشه او لښکر ځنې راټول کړه (انقراض صفویه ۳۴۸ مخ) فتح علي خان قاجار چې ولیده چې روسانو هر ډول مرسته څه پیسې څه وسلې وطهماسپ ته ورکړی فوراً یې خپلې رویې ته تغییر ورکړ د سیالی پر ځای یې روغه جوړه وغوښته او د ایرانیانو په رسم توری په غاړه کې قرآن په لاس کې طهماسپ ته ورغی فتح علي خان وروسته له هغه چې له طهماسپ سره یې روغه وکړه طهماسپ او ملګري یې استرآباد ته بوتلل او د هغه ځای د شاهي باغ په ماڼۍ کې یې د پیره کړل په لږ وخت کې فتح علي خان چې یو مقتدر او متنفذ شخصیت یې درلود دا ښځه توکي شهزاده ترخپل کامل تسلط لاندې راوست سیمون او راموف د ۱۷۲۶ کال د مئ پر ۲۹ وطهماسپ ته ورغی د ده وضع یې داسې د ترحم وړ وبلله چې عملاً یې له یوه بندي څخه توپیر نه درلود په هغه محفل کې فتح علي خان د استرآباد د حاکم په حیث او علي قلي خان د استرآباد پخواني حاکم ومحمد میرزا د محمد قلي خان لمسی

کنستانتین دریم دکاختی له خلکو میرزا عبدالله اعتمادالدوله دطهماسپ
دوګړو په دې غونډه کې برخه درلوده اوراموف وایي چې فتح علي خان
ډېر فاخره لباس اغوستی واودا کالي یې داشرف دسیمې په جنګ
کې له طهماسپ څخه په لاس راوړی ؤ په دې غونډه کې فتح علي خان له -
اوراموف سره ناوړه رویه کړې وه هغه کاغذونه چې له اوراموف سره
ؤ په زور یې ځنې اخستی ؤ او دی یې خبروته هم چندانی نه ؤ پریښ ،
ځکه فتح علي خان یوله هغه پوه او وطن پرسته ایرانیانو څخه ؤ چې داوراموف
په ټولو ناوړو اعمالو خبراوله دې وطن پلورنې څخه یې کرکه کوله ځکه
دی پوهېدی چې همدغه اوراموف دملک پلورنې سودا په دغه نرښځی
شهزاده وکړه اوروس هم په پسې دی وناوړه اعمالو ته یې هڅوي او -
اوراموف هم یوازې په ټول ایران کې له فتح علي خان څخه کرکه کوله ځکه
دی پوهېدی چې دغه یو وطن پرسته سړی دی کېدای شي چې
دده دکړو وړو مانع وګرزي فتح علي چې یو پوه او مقتدر سړی
ؤ په طهماسپ یې زور واچاؤ چې دی د وکیل الدوله او نور لاندې
پوستونه دقاجار د قبیلې نورو اشخاصو ته وسپاري که په دی وخت
کې دغو عهدوکوم اهمیت نه درلود خو دراتلونکی وخت دپاره که
دطهماسپ کار یو څه رونق پیدا کړ ګټه به وکړي .

طهماسپ او فتح علي خان له دریغان څخه دبسطام اوشاهرود په
لاره خبوشان ته ولاړل هلته دوی ته خبر ورسېدی چې ملک محمود
له دوی سره د مقابلې دپاره داسفرائن دشتې ته رارسېدلی او هلته یې
اړولی دی طهماسپ له دغه ځایه حسینعلی بېګ معیر الممالک په نادر پسې
ولېږی چې له موږ سره یو ځای شه ځکه دوی دنادر له دلاوری او داچې
یوه مضبوطه ډله یې جوړه کړی ده اورېدلی و حسینعلی چې دطهماسپ

پیغام نادر ته ورساؤ له دې سره سم یې ده ته دایبورد دنایب الحکومګی
فرمان هم وسپاره نادرقلي بېګ هم دا پیغام یوه غیبي مرسته وبلله
اوفوراً له هغه ځایه د طهماسپ خواته روان سو او په خبوشان کې له
طهماسپ سره یو ځای شو او هغه وخت چې له طهماسپ سره مخامخ
شو د طهماسپ په پښو کې ولوېدی او پر پښو یې مچې کړ طهماسپ
چې داسې غښتلی ملګری پیدا کړل سخت په خوشاله او نادرقلي ته یې
د طهماسپ قلي خان خطاب ورکړ طهماسپ دنادرله ده سره یو کېدو
ډېر غښتلی کړ ځکه دوه زره لښکر د فتح علي خان ؤ او پنځه زره دنادر لښکر
ؤ د هغو شمېر چې له ترکمنو څخه د هغه څلوېښت زره روسي روبلو
په وسیله راټولی شوی وی معلوم نه ؤ هغه ؤ چې طهماسپ له دغه ځایه
د ملک محمود سیستاني د مقابلې یا له منځه وړلو د پاره د مشهد په لور
وخوځېدو دوی د ستامبر پر ۲۹ کال ۱۷۲۶ د خواجه رفیع بقعې ته
ورسېدل چې د مشهد د شمال په درې میلی کې واقع ده د دواړو خواؤ ترمنځ
جګړه ونښته د جګړې د قواؤ قوماندانی دنادر په غاړه وه څو متواترې حملې
یې وکړې مګر ناکامه شو نادر هم د توپخانې له نېستی شکایت کاوه
او اوراموف چې د طهماسپ اصلي مشاور او د دوی د ضروریاتو
تامین کوونکی ؤ طهماسپ ته یې د توپخانې ضرورت لازمي وګاڼه
او نادر او طهماسپ ته یې وعده ورکړه چې ډېر ژر به د توپخانې له
کبله ستاسې ټول ضروریات رفع کړم هغه ؤ چې په رشت کې د روسي
قواؤ قوماندان او نائب السلطنه ته د دې ضرورت په هکله ولیکل جنرال
لیوا چوف نائب سلطنه فوراً یو شمېر توپونه سره له پرسونله د طهماسپ
د سړو په واک کې ورکړه او هم یې د دوی د ضرورت مطابق توري او
ټوپک او ګوله باروت ورکړل دا توپخانه لا نه وه رسېدلی چې اوراموف

هلته بله شخړه پکار واچوله او هغه د طهماسپ په خیمه کې د بشپړېدو په
حال کې اوراموف دا قطعي تشخیص کړی وه چې فتح خان دده د امیالو
په لاره کې ستر خنډ دی اوس چې ده ته د نادر غوندې لنډغر په کوټو
ورغی نو دی ودې ته امیدواره سر چې اوس کولای سم چې د دې -
لنډه غر په وسیله فتح علی خان له منځه یوسم طهماسپ خو دده د لاس ګوډاګی
وُ نو نادر طهماسپ او اوراموف یوه د سیسه جوړه کړه او د فتح علي خان
له خوا یې وملک محمود ته خط ولیکی چې زه به طهماسپ نیولی تا ته یه
لاس درکړم داسې یې ښکاره کړه چې د دې خط وړونکی نادر ونیوی او
خط یې لاس ته ځنی راوست او له جوړکړی پروګرام سره سم نادر خط
طهماسپ ته ښکاره کړ او طهماسپ فتح علی راوغوښت وروسته له څه
خبرو یې فتح علی خان د نادر په خیمه کې بندي کړ او ماسپښین ته یې
د فتح علي خان مړی د نادر له خیمی راویوست مخکی تر دې چې خلک
د فتح علی خان له قتل څخه خبر سی د قاجار د قبیلې د مخې سړی یو یو نیول
شوی و محمد محسن خان د فتح علي خان یو ولس کلن زوی وتښتیده او
د تموت ترکمنو ته یې پناه وروړه ملک محمود چې د دې مقتدر سردار
له قتله خبر شو ډېر خوشحاله شو د فتح علي خان له مرګه طهماسپ او -
اوراموف او نادر هر یو د خپلې ګټې د په نظر کې لرلو سره خوشحاله سول
ځکه دا غښتلی مېړه د ټولو د سترګو ازغی وُ نادر او طهماسپ د مشهد -
محاصرې ته دوام ورکړ محاصرینو د یرغل ګرو ټولې حملې پر شاو تمبولې
ولې محاصره اوږده شوه نادر په پټه د ملک محمود له سپه سالار پیر محمد
نامی سره لاره جوړه کړه او د ربیع الاول پر ۱۶ د شپې په داسې حال کې
چې په ښار کې ټول خلک بېغمه بیده وُ پیر محمد د ښار دروازه نادر ته ورخلاصه
کړه او نادر سره له لښکرو مشهد ته ننوت او د ښار لویه برخه یې قبضه کړه

سهار ملک محمود دوی ناکامه حملې وکړې مګر فایده یې ونه کړه نو په ارګ کې کلابند شو وروسته له څه وخته یې خپل شاهي تاج وطهماسپ ته ورولیږی او دی د امام رضا په زیارت کې ننواتی خلوت ته ولویدی د نومبر پر ۱۱ کال ۱۷۲۶ د ملک محمود سیستانی کمبله ټوله شوه.

مشهد لا نه وفتح شوی چې روسي فوځونه او توپخانه نادر ته له وعدې سره سم راورسېدل شاید د ملک محمود د — سپه سالار پښې هم دې روسي فوځ او توپخانې ورغړندې کړې وي.

د نادر او طهماسپ اختلاف

روسي اوراموف چې نادر پر ګوتو برابر پیدا کړ ډېر نزدې شو د نادر او اوراموف نزدې والی طهماسپ په تشویش کې واچاو او د طهماسپ ملګری هم دې موضوع وهارول اوراموف د دې دپاره چې ځان حق په جانب وښیي پخپلو یادداشتو کې د طهماسپ په هکله داسې لیکي چې طهماسپ د اکتوبر پر ۲۳ کال ۱۷۲۶ فقط یوه هفته مخکې ترهغه چې مشهد ونیسي حسین قلي بیګ ګرجي امیرزاده ته امر کړی ؤ چې یو څه قفقازي شراب چې په چیخر مشهور دی پیدا کړه او ماته یې راوړه حسین قلي بیګ ورته وویل چې له موږ سره موجود نشته طهماسپ خواشینی او چیغې یې کړې چې له هرې خوا چې وي پیدا یې کړئ ګرجي له یوې ګړی فکر کولو وروسته ورته وویل چې د روس رالیږلی

استازی اوراموف یوڅه چیخرلری خوني راکوي طهماسپ چې په حال کې
نه ؤ وې ویل چې سربه یې سپرې کړم ! بې له ځنډه دروسانو اردوته
ورغی اوناري یې کړې چې ټول روسان باید چورشي اوسرونه یې پرې
کړای شي د طهماسپ سړو داوراموف پرخیمه یرغل ورووړاوراموف
یې په یوه کمیسه اوپرتاکه کې وطهماسپ ته حاضرکړاوراموف په دې
فکرچې لکه چې وروستی ګړۍ یې رارسېدلی دی د طهماسپ پرپښو
ورپریوت او بخښنه یې ځنې وغوښته طهماسپ ورته وویل ته له مانه
بېرېږې اوراموف ورته وویل چې څنګه ممکن ده چې زه له والاحضرته نه
ونه بېرېږم طهماسپ په ځواب کې ورته وویل چې که بېرېږې نوولې
یوڅه شراب نه راته راوړی اوراموف فوراً خپلې خیمې ته ولاړ اوچیخر
شراب یې ورته راوړل اود طهماسپ حال پربله خوا واوښت امر یې
وکړ چې دبزم مجلس جوړسو وسروزګروته یې امر وکړ چې دلالا تیکا
بدله ووایاست چې سروزتود شو ده به هم کله کله لاس ورسره
ټکول وروسته یې بیا څو شهوت انګیزه قصې وکړې ناګهانه یې
رنګ تغیروخوړ اومخ یې اوراموف ته راواړاو او ورته وې ویل چې
ته اواسمعیل بیګ زما د سلطنت دله منځه تلومسوول یاست اوراموف
بیا ویرې واخیست غوښته یې چې له ځانه څه دفاع وکړي خوطهماسپ
دده خبره پرېکړه وې ویل بس ده ما په خبرومه اخته کوه پرېده چې
یوڅوګړۍ خوښ واوسواوامر یې وکړ چې بېرته ساز شروع کړی
اوشراب وګرځوي وروسته له هغه چې لوښی خالي شول طهماسپ بیاله
اوراموفه چیخر وغوښتوخو چې اوراموف مثبت جواب ورکړ بیا یې د
لوښیو د ډکولوامر صادرکړاواوراموف ته یې وویل چې ته به وکړای
شي چې ماته څه چیخراو ودکا ذخیره کړې چې هغه هوورته

وویل نو یې امر وکړ چې زما د مصرف ذخیره راته ونیسه داوراموف
له یاد داشتو څخه معلومیږي چې طهماسپ اکثر اوقات پدې ډول
تېرول او اکثر اوقات به یې ودکا غوښتل اوراموف د خواجه ربیع
له پېښې وروسته طهماسپ له شرابو څخه نه کریاباؤ بې له غوښتو
به یې ودکا ورلیږل دلته باید فکر وشي چې دا خبره بالکل هم په
ایران هم په افغانستان کې پټه ساتلی شویده چې ایرانیان زموږ
برخلافه روسانو راوپارول د نادر او طهماسپ په منځ کې وروسته د -
مشهد له نیولو څخه شخړې شروع شوې طهماسپ خپل هرڅه پرځای
پرېښودل او د خبوشان لورته وتښتېدې نادر په مشهد کې د طهماسپ پاته
کسان گرفتاره کړل په طهماسپ پسې رهي سو په خبوشان کې یې طهماسپ -
محاصره کړ له لږ محاصرې وروسته د طهماسپ د خوراک او چښاک سامان
په تمامېدو شو نو یې خپل ملا باشي میر محمد حسین ونادرته ورولیږه
اوراموف چې له نادر سره ملگری په طهماسپ پسې تللی و چې ملا باشي یې
ولید نو یې نادر له یوه ملگری پوښتنه وکړه چې ملا باشي څنگه راغلی دی
هغه ورته وویل چې شهزاده جوړې ته رالیږلی دی نادر له طهماسپ سره
جوړه نکوله مگر اوراموف دی د طهماسپ په اهمیت پوه کړ او ورته وې
ویل چې دده په لاس کې لرلو سره ته هرڅه کولی شې حتی که دی نه
وي د سره پیټر روسي امپراطور هم له تا سره مرسته نه کوي
دا چې اوس ستاسې ټول مصارف وغیره زموږ له خوا تامین کېږي
که طهماسپ نه وي بیا له تا سره مرسته نه شي کېدای هغه و چې
نادر او طهماسپ سره جوړ شول او بېرته مشهد ته راروان شول نادر
مخکې تر دې چې طهماسپ ومشهد ته ورسېږي مکمل جشن یې ورته جوړ
کړ چې طهماسپ ښار ته ورسېدی د شپې یې ټول ښار چراغان کړ

دا هر څه د تظاهر د پاره وو په پټه کې د وی تر هر چا دښمنان و په لږ موده کې
بیا طهماسپ ځنې وتښتېد او یو لښکر یې سره برابر کړ او پر ۲۳ د اکتوبر کال
۱۷۲۷ په سبزوار کې د دوی تر میان جګړه وشوه چې په نتیجه کې طهماسپ ماتې
وخوړه خو نادر موفق سو چې طهماسپ ژوندی او روغ ونیسي ځکه طهماسپ د نادر
د پاره اوس طلا یې مرغی وه طهماسپ په هغه شپه د لاسو د پرې مینځلو په
بهانه له خیمې ووت او پسې وتښتېدی طهماسپ به قریب یو میل تللی وُ چې
نادر پسې خبر سو نادر او نفری یې ګډ پسې ووتل خو نادر پخپله پرده برابر شو
هغه وخت چې نادر ورنږدې شو طهماسپ دونه وار خطا شو غوښته یې چې په
چاړه ځان ووهي خو نادر ورورسېدی او وې نیوی او چاړه یې ځنی یوړ او
بېرته یې خپلې بندیخانې ته راوست سهار یې دوه کسه د طهماسپ خدمت-
ګاران او طهماسپ دیوې غښتلی پیری په لاس مشهد ته واستول وروسته
له دې یې له طهماسپ څخه مهر واخیست او ټول کار ونه بېې د طهماسپ په
مهر اجرا کول له دې وروسته طهماسپ د نادر تر اداري لاندې یو ګوډاګی
وُ کوم نظامي ارزش یې نه درلود نادر د ده طرفدار ملګری یو په بل پسې له
منځه یوړل خو نادر ته فی الحاله داوراموف له وصیت سره سم یوه طلا یې مرغی
وه ځکه د صفوي شاه حسین ولیعهد او د صفویانو واحد وارث وُ او د ایران
اولس یوا ځې پرده راټولېدی پیټر او روسانو هم ټول اهمیت ده ته ورکاوه
ځکه د ایران قباله یې له ده څخه اخستی وه او غوښته یې چې دی د ایران
واکدار ښکاره کړي د نادر نقشیه داوه مخکې تر دې چې له شاه اشرف سره
مخامخ شي په هرات کې د ابدالیانو ریاست چې د خپل منځي جاه طلبیو او اختلافاتو
له کبله ضعیفه شوی وُ له منځه یوسي که څه هم نادر ته د دوی له خوا هېڅ
خطر نه وُ متوجه او نه دا امکان وُ چې د دوی او د غلجو د حکومتونو تر منځ دی
یو والی راسی البته دا فکر له نادر سره وُ چې که موږ بلې خوا ته ولاړ سو

کېدای شي چې دوی مشهد ونیسي نو یې فیصله وکړه چې باید تر ټولو لومړی دابدالیانو
ریاست له منځه یوسي هغه وُ چې نادر په سنګانو او بهدادین کې ابدالیان محاصره
کړ او د سنګانو ابدالیان بې له ټکه پوکه ورته تسلیم شو خو د بهدادین ابدالیانو
مقابله شروع کړه د سنګان ابدالیانو چې د بهدادین د والو مقابله ولیده دوی
بېرته پورته شول نادر بېرته سنګان هم محاصره کړ او له مشهده یې روسي توپخانه
راوغوښته چې روسیان او توپخانه راورسېده د سنګانو قلایې تر اورلاندې
ونیوه. په دغه ورځ نادر یوه توپ ته ولاړ وُ خو چې توپ فیر کاو نادر ځنې بېرته
سوله فیر سره توپ وچاودېدی د توپ موظف روسیان مړه شول خو نادر
روغ پاته سوله لږ ګوله باری وروسته سنګان تسلیم شول تر تسلیم کېدو
وروسته په سنګانو کې موجود ابدالیان چې شمېر یې د روز روته رسېده
ټول ووژل سول خو د بهدادین خلکو همداسې په مېړانه مقابله وکړه او له هراته یې
عاجله مرسته وغوښته له هرات څخه له ۷۰۰۰ تر ۸۰۰۰ پورې ابدالي لښکر
د بهدادین مرستې ته راغی څلورو ورځې متواتر د نادر او ابدالیانو په منځ کې جګړو
دوام درلود وروسته له څلورو ورځو مغلوب او غالب نسو معلوم نادر مشهد ته ولاړ
ابدالیان هرات ته ولاړل وایي چې طهماسپ څو واره له نادر څخه وغوښته چې پر
اصفهان حمله وکړي خو نادر به ورته ویل چې نزدې دښمن وي لرې ته حاجت
نشته نادر او طهماسپ دواړو د ۱۷۲۸ کال په دوبي کې په هرات حمله وکړه
خو ځای یې ونه نیو بېرته ناکامه مشهد ته ولاړل لارنس لیکارټ (۳۷۰ مخ) په
انقراض صفویه کې داوراموف یادداشتو څخه لیکي چې ما اوراموف له نادر څخه
شکوه وکړه چې زموږ دونه وخت وسو په ایران کې سرګردانه یو ستاسی هم
هیڅ سروبرنه معلومېږي نادر راته وویل دا چې ستاسې دلته معطله یاست
اصل مطلب دادی چې موږ پر پنځوس زره ابدالیانو حمله کوونکی یو که موږ ی وموند
تاسې چې شاهد حال یاست اجازه به درکړو چې ولاړسی زموږ روسي ورونو

ته به قیصه وکړی او بې غمه او سرلوړی به په کښتۍ کې کښېني او خپل ملک ته به ولاړسی او که مو وبا یلله موږ به له منځه ولاړسو تاسې بیا پوهېږی او ستاسې کار هغه ؤ چې دنادر او ابدالیانو تر منځ سخته جګړه د اسلام قلا په سیمه کې ونښته - ابدالیانو کښلی توري پر نادر حمله وروړه خوروسي افسرانو چې د نادر لښکر او خپله توپخانه یې په بهترینه توګه تنظیم کړی وه ابدالي لښکر تر داسې مرګ باره ګوله باری لاندې ونیو چې هغه د مخ غښتلی ځلمی تر نادره راونرسېدای شوای پرته له توپو د نادر لښکر په ښو توپکو هم سمبال شوی ؤ ابدالیان یې لکه د پاڼو په شان ورژول ابدالیانو چې خپل سره سره ځلمی له لاسه ورکړل د هرات خواته یې ماتې وکړه او ټول اسبابونه ځنې پاته سول.

عجیبه خبره خو داده چې په دا دوه سوه شپېته کاله کې د دې خبرې هېچا پوښتنه ونه کړه چې نادر خو یو د ځنګلو غل ؤ او طهماسپ هم د ده پر ډول تښتېدونکی سړی ؤ نن دلته صبا هلته دوی داسې منظمه توپخانه له کومه پیدا کړه د هرات ریاست چې له څوکلو راهیسته یې خپل ریاست ؤ خپله یې آمدنی وه دوی نسوای کولای چې یو توپ له دباندی څخه پیدا کړي ځکه نه یې د رانیولو ځای ؤ نه یې د راوستو لار همدا ډول نادر او طهماسپ دا توپخانه په دونر لنډه موده کې له کومه ځایه پیدا کړه په څه شی یې واخیسته پر کومه لار یې راوسته پر ۲۹ د ستامبر ۱۷۲۶ نادر له طهماسپ سره یو ځای شو پر ۱۱ د نومبر کال ۱۷۲۶ چې دوی مشهد نیوی د مشهد تر نیولو مخکې د توپخانې خاوندان شوی ؤ ټول ټال څلویښت شپې شوی وې چې نادر او طهماسپ سره ملګری شوی ؤ دا چې د نادر او طهماسپ لوی قوت روسیان ؤ هېچا دې ته ځان نه ملتفت کاوه ایرانیانو خو دا پټوله داسې یې ښکاره کوله چې دا موږ ؤ چې افغانانو ته موماتې ورکړه د غلجو پر کور خو خونه ونړېده د دې څوک نسو پاته چې څه ووایي وروسته چې ابدالي دولت منځ ته راغی هم یې دا موضوع شا ته کړه نو دا د -

روسانو مرستې او کومک نادر او طهماسپ ته د دې توان ورکړچې هم د هرات ابدالیان له منځه یوسي هم د اصفهان غلجیان هغه وُچې له څو سختو جنګو وروسته ابدالیان تسلیم شول نادر بېرته الله یارخان د هرات د حاکم په حیث مقرر کړ نادر او طهماسپ د مشهد خواته راوخوځېدل الله یارخان یو شمېر سرتېری هم ورکړه څو کسه ابدالي مشران هم د نادر په فوځ کې شامل شول ځکه د سولې په تړون کې یوه ماده وه چې د غلجو په له منځه وړلو کې به ستاسې ملاتړ کوو.

د ابدالیانو تعهد او د صفوي حکومت تجدید

دا چې شاه اشرف یو مخ عثماني ترکانو او د روسانو خواته مصروفه وُ وطهماسپ ته یې هیڅ توجه نه وه ځکه طهماسپ د مازندران په ځنګلو کې غایب وُ یو څه موده تلاش پسې وشو خو پیدا یې نه کړای شو ای وروسته له هغه چې نادر پیدا شو نو روسانو هم خپله مرسته ورسره زیاته کړه دا چې اصفهان ته خبر راورسېدی شاه اشرف ویل که طهماسپ دلته پر موږ حمله وکړي دا به له موږ سره مرسته وي ځکه د دې دونه غرو او ځنګلو له مزلو به خلاص شو خو په اخیر کې د کال ۱۷۲۹ په اوایلو کې خبره ښکاره شوه چې طهماسپ او نادر د روسانو په مرسته کافي قوت موندلی دی شاه اشرف هم په تشویش کې ولوېدی او پر دوی باندې د حملې په ترتیباتو کې سو ده خپل فوځ چې د ترکانو او روسانو په درنو جګړو کې زیات زیانمند شوی وُ سرله نوی ترمیم کړ لارنس لیکارټ وایي چې شاه اشرف به په دونه بې پروا او ساده ستوګه پخپل لښکر کې ګرځېدی چې هیچا دا تصور نسوای کولای چې دا دونه ستر فاتح چې د روم او پیټر بورګ شاهي ماڼۍ یې له برمه ورېږدولی او د ایران چپه چپه یې د خپل آس تر سوولاندې وځپله او د ایران تخت تاج یې سره له خزانو په پښو

کې پراته دی خورده په ساده مګر باوقاره توګه له خپلو خلکو سره دوند بې تکلفه ژوند کاوه چې هیڅ توپیر ده اونورو افغانانو ترمنځ نه لیدل کیده داچې دنیا امپراطور په هکله د ده د ساده ژوند قیصه لیکونو پکار ده چې د نورو فاتح افغانانو په هکله د پردوله لیکنو څخه څه درته ولیکو.

دافغانانو په هکله د مسیحي سیاح کرونسکی لیکنه عبرت نامه له ۱۲ صفحې څخه تر ۱۵ پورې:

سیاح وایي چې جنګ اوقتال دافغانانو لکه عمل ځوند ی عادت دی دوی پخپل منځ کې سرکردګان اوضابطان لري د جنګ په وخت کې دوی په نظم برابر صفونه تړي اردوی پهلوانان اوقوماندانان لري کوم وخت چې دوی په جنګ کې سنه تاوده شي ضابطان یې شاته راسی اوکوري چې څوک خو په جنګ کې دښمن ته شا نه وګرځوي که چاماتې وکړه فوراً یې وژني. سیاح وایي چې داصفهان د محاصرې په وخت کې مې د عباس آباد له پله سره د جنګ سیل کاوه چې یو افغان مې ولید چې یو لاس یې پرې و اوله صفه دشا خوا ته راووت ضابطانو فوراً وښوځکه دوی فکر کاو چې له جنګه راتښتیدلی دی تپی ځلمی خپل پرې شوی لاس ورښکاره کړ دوی ته یې وویل چې زه تښتیدلی نیم دالاس مې پرې دی ضابطانو ورته وویل چې دا بنی لاس دې پرې دی چپ لاس خودې سته که هغه هم پرې وی خوله خولې کې نوردې په وس نه وه پوره نارې ددښمن پرمخ ورتوکړه چې خدای پاک اجر درکړي او بېرته یې جنګ ته واستاوه ضابطان اوجنګیالي ځلمي مکلف نه دی چې د جنګ مړي پټ کړي مړی دغسې په میدان کې پاته وي که چېرې د دوی له وسلې څخه کوم شی پرمیدان پاته ؤ دوی ته ضرورت نشته چې توپک تورې خنجر یا داسې څه ونه وشیانوته له آس څخه کښته شي او هغه شی راواخلي بلکه هم داسې پرآس سپور ورته راتیت شي او هغه شی پورته کړي داسې په سپرلی کې تردوی چالاکه څوک نشته د توپک

په ویشتو کې ډېر لایق دی دا چې ډېر مالونه او اسبابونه یې لاس ته ورغله په
کافي اندازه یې لباسونه او وسلې مکملې شوی دا چې اکثر د جنګ په حال کې وُ
په ډېره چټکتیا به یې صفونه تړل او په ګډه به یې په دښمن یرغل کاوه او
چې بېرته به راتلل هم ګډ به سره راتلل د کلاؤ په نیولو او محاصره کې یې
ښه مهارت نه درلود ځنې کلاوې چې یې ونیولی له د باندې څخه به
یې او به ځنې پرېکړی سخت د خپل مشر او سرکرده منونکی دی که به چېرې
د دوی د مشر له خوا څوک استازی راغی او ورته وبې ویل چې پلانی ځای
سره ټول سی چې له تاسې سره کار لرو هر کار چې به یې کاوه هغه به
یې پرېښود حتی چې ډوډی به یې خوړه هغه به یې نیمګړی پرېښوده -
وټاکلی ځای ته به ورغلو هر ښار او علاقه چې به یې فتحه کړه که به د هغه
ځای یو او سېدونکی له زرو او جواهرو ډک تال په سرا خستی تلی که دافغان
لښکر یو سړی به په هغه نزدې حدودو کې موجود وُ هېچا قدرت نه درلود
چې سړی وځوروي د شاه اشرف د پرتخت کښېناستو په وخت کې چې فوځ سره
دوه ځایه سو د بلوڅو او هزاره و په منځ کې جګړه ونښته د اصفهان خلکو دویری له
کبله دوکانونه وتړل او په کوزو تنو تل شاه اشرف ته خبر ورسېدې فوراً یې
په ښار کې جار وواهه چې که هرچا ته تاوان ورسېدی تاوان به یې دولت ورکوي
دوکانونه بېرته خلاص شول د اصفهان خلکو په خپل کسب او کار پیل وکړ او هېچا
ته یوه ذرّه تاوان نه ورسېد په داسې حال کې چې دافغانانو په منځ کې بېدریغه
جګړه روانه وُ د افغانانو د بندی خرڅون نه دی خوښ بندي تر یو وخته پورې
ساتي او خدمت یې کوي د بندیانو آزادول یې خوښ دی ډېر خلک یې په
جنګ کې نیولی دي چې ډېره موده بندي ورسره پاته شي وروسته د اولاد په سترګه
ورته ګوري په اردوګاؤ او کورو کې ډېر بې نظامه دی مطلب یې بې نظافته دی که
یو حیوان ورته مرداروي او بوی یې ځي له هغه څخه په عذابېږي نه بلکه تحمل کوي

یې له کورو اوار دو څخه یې لرې کوي نه په ډولو ډولو خوړو ته نه هوسېږي
بلکه د ضرورت په وخت کې په معمولي خوړو قناعت کوي د جنګو او مزلو په
وخت کې د غنمو په نینو ګذاره کوي په امورو کې توکل لري تن پروره نه دی
و ډول ډول خوړو ته نه دی لېواله د پسه له پوسته ژی جوړ کړي هغه له اوبو
ډګ کړي د ضرورت په وخت کې له هغه څخه استفاده کوي نقل کوي چې د
جلفا له فتحې وروسته یو افغان د یو ضرورت د پاره د جلفا د یوه ارمني کور ته
ورغی ارمني د ده د احترام د پاره د مربا مرتبان چې دوه منه د تبریز مربا پکې وه
د ده ومخ ته کښېښود ده ته مربا خوند ورکړ ټوله مربا یې وخوړه خو د تعجب ځای
دلته دی چې ده ته هېڅ تکلیف نه سو پېښ. په خوړلو کې تکلفات نه پېژني
میز او چوکی نه پېژني هر څه له خوړو څخه چې وي پر مځکه یې کښېدی او خوري
یې بې له اوبو څخه هېڅ شی نه چښي د دوی لباس د هېڅ ملت لباس ته ندي
سوی عجبه نمونه دی لمنې یې اوږدې لکه د فیل خرطوم ځړېږي چپ راست ته
د پرتګو پایڅې ارتې دي پوستونه یې پر پښو اغوستی پر سپرېږي
(شاید موزی ښیي) اعلیٰ او ادنی کرباسونه لري چې په هغه ځان له لمره او
وسله له بارانه ساتي (شاید څادر به ښیي) رنګارنګ شالونه تر سر تړي او سرونه
یې ومخ خواته اوږده راپرېږدي (شملې ښیي) وروسته له هغه چې پر عجمو
یې فتحه حاصله کړه ښې ښې چپنې اغوندي د زر بپتو ګلدار کوټونه اغوندي
خو بیا یې هم هغه ارتي پایڅې پرتګو نه وي هر ځای ته چې ورشي هر ډول
جامه یې چې اغوستی وي په خاورو کې ورسره کښېني ښځې یې لوڅ مخ
په کوڅو کې ځي ډېرې ښایسته دی لکه د لمر غوندې، بې حجابه روانی وي
خو بدرنګی هم ډېرې لري چې حجاب ته حاجت نه لري په غوږ و غوږ والی
ځړوي لکه عجمو چې به د آسو په غاړه ځړول د آسو د لمانو وېښتان پرېکوي
او د سر په وېښتانو پورې یې تړي. هر څه چې اغوندي تی یې ښکاره وي او د

عجموغوندې موچنې په پښوکوي خوکه چېرې ختې په مخه ورتسي
موچنې ورته کاږي وايي چې په ختوکې ضايع نه شي چې پوښتنه
ځنې وکړې چې ولې داسې کوې درته وايي پښې چې په ختوسي خو
پرې به مينځو موچنې که پرې مينځو خو له کاره وځي بيا به نوري موچنې اخلو

له نادر او طهماسپ سره د مقابلې ترتيبات

د ۱۷۲۷ کال په ژمي کې چې د ۱۷۲۸ کال اوايل وُ افغاني لښکرو وروسانو
ته په مازندران کې ماتې ورکړه او روسانو جوړه وغوښته بيا ترڅو
مياشتو پورې د دواړو خواوُ فوځونه يو بل ته د تيارسي په حال کې پراته
وُ خو چې جوړه يقيني شوه نو افغاني عسکر د رخصتي په توګه خپلو ملکو
ته ولاړل څو بېرته رارسېدل ډېر وخت يې واخيست ځکه دا فوځونه له —
ډېره اسمعيل خان څخه نيولي تر ننګرهار، کابل او با ميان پورې خواره واره
وُ څو دوی بېرته راټولېدل هغه وخت ضايع شو چې بايد په نادر حمله —
شوی وای ځکه پر نادر د حملې هغه وخت ډېر موذون وُ چې نادر د هرات له —
ابداليانو سره اخته وُ دا چې افغاني تاريخ تل داوير کوي چې شاه اشرف ته له
خپله ټاټوبي کومک نه ورسېدی له دی څخه مطلب په حکومتي توګه کومک دی
دغسی چې خلک دافغانستان له هغو سيمو څخه چې هلته به د شاه حسين نفوذ
کم يا نه وُ په خپله خوښه تلو چايې مخه نسوای نيولای بل ايران ته لښکر د هغو
سترو قومندانانو په اعتبار ورتلو چې په ايران کې وُ لکه ناصر ټول په سيدال
خان پسې ورتلل توخي په اسلام خان او ملا زعفران پسې ورتلل هزاره په
زبردست خان او سيد علي خان پسې ورتلل بلوچ په محمد خان او عبدالعزيز خان پسې
ورتلل شاه حسين د زور له لارې د چا د تګ خنډ نه، ګرځېدی خو له تلونکو څخه
به مانېجن وُ خو داسې نه چې د دښمنۍ تر حده ځکه هغه وخت چې افغانان له ايرانه

راووتل هغه بېرته پرخپلو منصبو وټاکل شول لکه سیدال خان ناصر ملازعفران توخي وغیره ټول منصبداران له خپلو رتبو سره سم په خپلو منصبو وټاکل شول.

د ۱۹۲۹ کال د دوبي په پای کې شاه اشرف خپل لښکر تریوې اندازې سره ټول کړ په دې هکله په یو خط کې چې د شرقي هند د شراکت مشر په ۱۳ داپریل و بمبئی ته لیکلی ؤ درته نقل کړو (انقراض صفویه ۳۷۶ مخ)؛

د مئ په میاشت ۱۷۲۹ کال کې رنګارنګ خبرې اصفهان ته راورسېدی چې پکې ویل کېدل چې ایراني شهزاده په مشهد او هرات کې زیاتې قواوې سره ټولی کړی دی څو دایران سلطنت په لاس راوړي تر یو وخته خو دا خبرې سرسری بللی کېدې افغانانو هیڅ توجه نه ورته کوله ځکه افغاني قواو په ډېرو لږو عسکرو د ترکانو او روسانو سترو او ویروونکو قواؤ ته ماتې ورکړې وه چې دنیا یې په حیرت کې اچولی وه دوی ته ځان دونه قوي برېښېده چې ابدا ویرې د دوی زړه ته لار نه درلوده او دښمن بالکل ناچیزه ورته برېښېده او دونه احتیاطي تدابیر یې نه ؤ ورته نیولی همدې غفلت ونادر او طهماسپ ته موقع ورکړه چې خپل ځان ښه ترا قوي او احتمالي دښمنان له منځه یوسی او حتی د خپلو لښکرو ملاتړ یې کړی ویلیام کاکل د شرقي هند د شراکت رئیس وایي چې شاه اشرف بالاخره له یوه قطار توپخانې او یو شمېر عسکرو سره چې سره برابر یې کړای شوای د اګست پر ۲ تاریخ له اصفهانه څخه وطهران ته وخوځېدی او هلته تر هغو پورې معطله شو چې د نورو ښارو خوانین وړ سره یو ځای شول او د سنګان خواته چې په خراسان کې واقع دی وخوځېدل شاه اشرف د فریزر په قول دېرش زره لښکر له ځانه سره بیولی ؤ خو تعجب دلته دی چې ده دا حمله ولې دونه وځنډوله که ده دا حمله هغه وخت کړی وای چې نادر او طهماسپ له ابدالیانو سره اخته ؤ یقینا به یې

خپل دښمنان له خطرناکي وضعي سره مخامخ کړي ؤ د شاه اشرف دلښکرو دراتګ
خبر مشهد ته دوې میاشتې وروسته له هغه راورسېدی چې نادر اوطهماسپ
له هراته راستانه شوی ؤ د دې خبر په اورېدو نادر بې له ځنډه دلښکرو
اونورولوازمو په راټولولو بوخت سو ځکه دا مقابله د دوی د ژوند او مرګ
مقابله وه نادر اوطهماسپ د صفرې په ۱۸م کال ۱۱۴۲ چې له ۱۲ د سپتامبر ۱۷۲۹
کال سره سمون خوري له مشهده ووتل او د سمنان خواته وخوځېدل سمنان -
شاه اشرف محاصره کړې ؤ نادر اوطهماسپ چې سمنان ته نزدې شول شاه اشرف
د سمنان محاصره خپلو عسکرو ته پرېښوده پخپله د مشرق خواته له دښمن سره
د مقابلې د پاره ورو راندې شو د شاه اشرف مخکنی لښکر د غازي سیدال خان
تر مشرۍ لاندې په بسطام کې د نادر په توپخانه حمله وکړه چې د نادر د توپخانې
قوا په کلي توګه روسیان ؤ په دې حمله کې سیدال خان غازي څه خاص بری
لاس ته نه راوست وروسته سیدال خان له خپلو قواو سره د مهمان دوست
د کلي خواته چې ½ ۱۱ میله د دامغان په شمال شرق کې واقع دی له شاه اشرف سره یو
ځای شو نادر اوطهماسپ هم دلویدیز خواته د مهماندوست تر نهر پورې راورسېدل
په همدې ځای کې لومړی جګړه د شاه اشرف او نادر تر میان وشوه دا جګړه د
ربیع الاول پر ۶ چې د سپتامبر له ۲۹ کال ۱۷۲۹ سره سمون خوري ونښته
دا جګړه د نورو شرقي عنعنوي جګړو څخه مختلفه وه دا جګړه چې د روسي
تجربه کار وافسرانو تر قوماندې لاندې وه داسې وه چې روسي او ایراني
قواوې بې له دې چې داسې صف آرا شي چې له ښی څنګ کېڼ څنګ
او قلب یا منځ څخه ترتیب شوی وی داسې نه وی دا قواوې په یوه
کرده غونډی سره راټولی شوی توپخانه او ټوپک لرونکی سپاهیان پر اخر خېدلی
ؤ دوی د جنګ په حال دفاعي وضعیت غوره کړی ؤ افغاني قواوې پخپل عنعنوي
طرز صف آرا شوی وی په دې جګړه کې د ویلیم کاکل په قول د شاه اشرف

عسکر ۳۰۰۰۰ ؤ چې زیات شمېر ایرانیان ؤ او د طهماسپ او نادر لښکر د هغه کتاب له مخې چې نوم یې د ایران و روستی پېښې دی او د فرانسې د خارجه وزارت له بائیګانی د ایران برخه ٤ جلد صفحی ۹۵ ب تر ۹۹ الف پورې وایي چې د طهماسپ او نادر له ۳۵۰۰۰ عسکر و څخه تر نیمایي زیات یې روسیان ؤ (انقراض صفوی صفحه ۳۸۲) افغاني قواؤ له خپل دود سره سم کښلی توری په دښمن حمله وکړه لومړی یې د ایراني او روسي په قلب حمله وروړه بیا څنګونه هم تر برید لاندې ونیول شول د ایراني او روسي لښکرو ټوله تکیه په ټوپکو او توپخانه وه د افغاني قواؤ د مخ سوتېری پر لار لا توپو او توپکو له پښو واچول خو بیا هم افغاني قواؤ خپل پر مختګ نه دوام ورکړ مګر ایراني او روسي عسکرې سره نښتی ؤ دوی فقط ځان خوندی کاوه د توری حمله یې نه کوله د دوی ټوله تکیه په توپچي قواؤ وه روسي توپچیانو دونه لیاقت ښکاره کړ چې په دا دېرش کاله کې هیڅ قدرت ولوکه د هر څونه قوي توپخانې خاوند و د افغانانو په مقابل کې له توپخانې داسې موثر کار نه وه اخستی روسي توپو افغاني کوچنی توپخانه چې زمبورک بلل کېده له کاره واچوله او سخت تلفات یې ورواړول په پای کې د شاه اشرف علم بردار هم په توپ وویشت سو شاه اشرف چې فکر وکړ چې دښمن لکه ځزګی سره ننوتلی دی د توری خوله نه ورته جوړېږي او زما ځلمي بې ځایه تلف کېږي له جنګه پرشا سو په دې جګړه کې افغاني قواؤ ته داسې بې ساری تلفات ورواوښتل چې بیا یې ملاسمه نکړای شوه پښتنو په خپلو نارو کې دا جګړه داسې ښودلی ده:

که خپه د مهمان میدانه خپه
په نادر دې پښتون سټ کې شاه اشرفه

که لوګی ده د مهمان په سر لوګی ده
سیدال کړې ناصرې خوارې په میدان کې پروت سل کسه عمرزی[1] ده
که جګړې د مهمان سختی جګړې
که هر سو پښتانه مات سو په پردو کې یې ښی توری کړلې غوړې

سره له دې چې د شاه اشرف قواؤ ملا ماتوونکی ضربه خوړلی وه مګر بیا هم د دښمن قواؤ داجرئت نه درلود چې دوی تعقیب کړي ایراني قواؤ چې دا لومړی وارؤ چې دوی ځان وافغانانو ته ټینګ کړی له خوښی په جاموکې نه - ځائېدل کاکل انګریز چې په ایران کې په هغه وخت کې موجود ؤ دافغانانو تلفات ۱۲۰۰۰ بللی دي او دایرانیانو او روسانو تلفات ۴۰۰۰ ښودل شوی دی په انقراض صفویه (۳۷۸ مخ) کې دایرانیانو له قوله لیکي چې شاه اشرف چې له میدانه ووت ایراني قواؤ غوښته چې حمله پرې وکړي مګر نادر منع کړل ځکه نادر دی د تجربې د میدان نو آموز ګاڼه سره له دې چې دښمن دافغانانو په عسکري لیاقت او تجربه هم قانع ؤ مګر سره له دې شاه اشرف چې دایران بادشاه او د خزانو مالک ؤ نه یې دنادر غوندې توپخانه درلوده نه یې دهغې داستعمال دپاره داسې لایق توپچیان. نادر چې د پرون ورځې غل ؤ نه یې خزانه درلوده نه له نورې نړۍ سره ارتباط. نو داتوپخانه یې څنګه، له کومه ځایه او په څه شی برابر کړه دوی لیکي چې داتوپخانه لس کسه فرانسویانو چلوله حال داده چې لارنس لیکارټ دانقراض صفویه په ۳۸۲ مخ کې لیکي: چې کلراک په ۳ جلد صفحه ۵۳ او ۵۵ اقتباس له فرانسوا دوګاردان څخه چې احتمال لري چې دی به شاهد عینی وي او بل اثر چې نوم یې ګذارش اخیر وقایع ایران دفرانسې د د باندنیو چارو د وزارت دایران د برخې ٤ جلد د ب ۹۵

---

(۱) عمرزی د ناصر ویوه طایفه ده.

پاڼې تر ۹۹ الف پورې چې په شرح واره توګه وايي چې د طهماسب د -
... ۳۵ عسکرو څخه تر نيمې زيات روسيان ؤله بلې خوا شاه اشرف چې له خپل
اصلي ټاټوبي کندهار سره رابطه نه درلوده چې د خپل تاوان جبران يې کړي
وای نو ځکه دا ناره ويل سوی:

شاه اشرف ويل ماته جوړله دغه غم سو
اوس به کله نادر مات سی ولی زما خپل پښتنی عسکر ډېر کم سو

پښتنو به ويل:

که زمری دی شاه اشرف د جنګ زمری دی
اشرف خان ته کام رانغی د نادر پر اشرف خان ځکه بری دی

له مهماندوست څخه شاه اشرف دورامين خواته پرشا سو او تهران ته
يې اسلام خان توخي ته سړی واستاوه او کومک يې ځنې وغوښت،
وروسته د اسلام خان له رارسېدو شاه اشرف دخوار دره چې دورامين په
مشرق کې واقع ده ورته ونيوله ځکه ايراني او روسي لښکرې به له دغه ځايه
تېرېدی نادر ته خپلو څرک بنو خبرور کړ چې دخوار دره يې درته نيولی ده.

دخوار په دره کې ايراني توپخانې افغاني مورچې تر سخت اورلاندې
ونيوې او سپرو عسکرو يې مخامخ جګړه شروع کړه پداسې حال کې چې
پدې جګړه کې دافغاني عسکرو شمير ډېر کم ؤ چې ټول په ښه توده جګړه مصروفه
شو نادر يو شمېر ټوپک لرونکی قواوې د شاله خوا پر غره راوخېژولی او افغاني
عسکر داوږه ميان کې راغلل د دې جګړې په لومړيو شېبو کې سيدال خان او
اسلام خان دښمن ته سخت ګوزارونه ورکړل دښمن بالکل دماتې په درشل کې
ؤ چې روسي توپخانه په جنګ کې ورګډه شوه له يوې خوا د توپو سخته ګوله باری
وه له بلې خوا هغه ټوپک لرونکی قواوې د شاله خوا پرې راوختې افغانان يې
دورامين خواته پرشا تګ ته اړ کړل افغاني قواؤ خپل اخيرنی لوی توپ

ورامین کې له کاره واچاؤ چې دښمن استفاده ځنی ونکړای شی له دغه ځایه
شاه اشرف اصفهان ته راستون شو او د لښکرو په برابرولو بوخت شو له —
احمد پاشا د بغداد له والي څخه یې مرسته وغوښته احمد پاشا یو شمېر سپاهیان
او څه توپونه ورته راواستول د ترکیې توپخانې له رارسېدو وروسته له خپل راټول
کړې فوځ سره د خورت د مورچې خواته چې د اصفهان د شمال غرب په ۳۵ میلی کې
واقع ده وخوځېدی نادرلا پرلارې ؤ چې شاه اشرف مورچه خورت ته ورسېدی
شاه اشرف تر وار پخوا هغه لوړی غونډی ونیوې او خپل عسکر یې هلته ځای پر ځای
کړل نادر پرلار ډېر وځنډېدی ځکه د قهرود لاره چې غرنی وه خوډېره لنډه
وه روسانو د قهرود پرلار له تګه انکار وکړ د دوی دلیل داؤ چې پردی لار موږ
دا سنګینه توپخانه نسو تېرولای نو د کاشان له لارې واصفهان ته روان شو
هغه وخت چې شاه اشرف له ورامین څخه اصفهان ته روان شو سیدال خان د قزوین
خواته وخوځېدی شاه اشرف له امان الله خان څخه وروسته سیدال خان ته د قزوین
حکومت ورکړ پدغه وخت د سیدال خان کورنۍ او یو زرکسه عسکر موجود ؤ
سیدال خان غوښته چې خپله کورنۍ او دا زرکسه عسکر اصفهان ته راولي له
ورامین څخه یو لږ شمېر سرتېری له ده سره د ده د حفاظت د پاره روان سول
د تهران او قزوین ترمنځ حسن قلیخان او آغورلوخان د ده مخه ونیوه دښمن ډېر
ؤ له ده سره مختصر څو نفره ؤ هغه ؤ چې سیدال خان بېرته راوګرزېدی او له
شاه اشرف سره یو ځای شو له ورامین څخه اسلام خان بېرته تهران ته ولاړی له
تهران څخه له خپلو کډو او سامانو سره د اصفهان خواته روان شو خپلې کډې
د قهرود له لارې چې لنډه غرنی لار وه اصفهان ته واستولې پخپله پداسې حال کې چې
نادر ترې مخکې د کاشان پر لار د اصفهان خواته روان ؤ اسلام خان توخي په
کاشان کې په نادر پسې راورسېدی او یو افغاني شبخون یې پرې وواهه
ندې یرغل کې چې اسلام خان توخي له خپل مختصر فوځ سره د نادر په ستر

اردو وواهه داسې بېدرېغه مرګ ژوبله ځنی وکړه خوماتی یې ورنکړای شوای
دا حمله پدا ډول پرنادر وشوه چې نادراو روسانو له توپخانې څخه هیڅ استفاده
ونکړای شوای له بلې خوا روسانو او ایرانیانو ته وښودل شول چې د
افغانانو روحیه لا دونه لوړه ده چې پرنځه دېرش زره فوځ ورځي په داسې
حال کې چې ستره توپخانه هم ورسره وه مګر بیا هم نه ځنې بېرېدی . پدې
حمله کې اسلام خان ته هیڅ ډول تلفات ونه رسېدل او صحیح سلامت په
مورچه خورت کې له شاه اشرف سره یو ځای شو هغه وخت چې افغانانو په
مورچه خورت کې ماتی وکړه او اصفهان یې د شیراز په نیت پرېښود د سیدال
زوی شیر محمد خان له خپلو ورسره لښکرو سلطانی ته ولاړو چې سلطانیه د
ترکو پلاس کې وه دغه زرکسه عسکر او د سیدال خان کورنی تر هغه وخته
په ترکو کې ؤ چې څو بیا اسحٰق سلطان ناصر له نادر څخه اجازه واخیسته او
دوی وطن ته راغلل .

شاه اشرف ستراتېژیک ځایونه نیولی او دفاعي وضعیت یې لکه په
مهاندوست کې چې نادر نیولی ؤ ده هم داسې وضعیت اختیار کړ نادر چې وضعیت
ولید له ډاره یې حمله نسوای پرې کولای له چل څخه یې کار واخیست له شاه
اشرف څخه یې ځان کوږ کړ داسې ښکارېده چې موږ اصفهان ته ځان رسوو
چې د نادر لښکر تر دوی تېر شو شاه اشرف خپلې موضع ګانې پرېښودې په دوی
پسې راولاړ سوله لږ تګه وروسته ایرانیانو هم مخ راوګرځوله او جګړه ونښته -
جګړه لاس په لاس شروع شوه افغانانو بېدرېغه توري وهلې خو د دوی ملګرو
ترکانو او کردانو وار په وار کمزوری ښکاره کوله دا فغاني توپخانې پرېوه برخه
ایرانیانو قبضه وکړه جګړه نوره هم توده شوه دا فغانانو د کومکي فوځونو وار
په وار پښې مړې کېدې څو متباقي توپخانه هم ایرانیانو قبضه کړه ترکي عسکر
ژوندی تسلیم شول ، کردانو او نورو ایراني عسکرو ماتې وکړه شاه اشرف چې د خپلو عسکرو

ګډ وډی ولیده واصفهان ته پرشا کېد وامر یې صادر کړ وایي په دې جګړه کې څلور زره مړی د شاه اشرف له لښکره څخه وسول افغاني عسکر فقط پوزر څوسوه کسه پاته وو شاه اشرف اصفهان ته ورسېدی اصفهان ته له رارسېدو سره وشیراز ته د تلو په بند وبست کې شو وروسته له هغه چې خپل ترتیبات یې وینول پر ۱۳ د نوامبر د شیراز خواته وخوځېد وایي چې شاه اشرف د افغانانو کډې هم تر زیاتې اندازې له ځانه سره بوتلی چې افغانان له اصفهانه ووتل د ښار او باشو په ښار لوټ شروع کړ تر هغو پورې چې پر ۱۶ د نومبر نادر ښار ته راننوووت او ټولې شاهي ماڼۍ یې په قبضه کې راوستې او د افغانانو په لټون یې پیل وکړ هر څونه افغانان چې یې پیدا کړل ویې وژل او د شاه محمود آرامګاه یې ونړوله او قبر یې هم ونړاوه بیا یې طهماسپ ته حال ولیږه چې راشه طهماسپ د اصفهان د نیولو د خبر په اورېدو فوراً راړهي سو او پر ۹ د دسامبر اصفهان ته راورسېدی دا یوه پښتو ناره ده:

که څاڅي ترشنه زړه مې وینې څاڅي
اصفهان پرون زموږ ؤ نن نادر ته نراوښځې پکې ناڅي

د اصفهان د خلکو د خوښی شپې ډېرې لنډې وې شاه اشرف له یوه کوچنی لښکر سره چې شمېر یې د درو زرو په شاوخوا کې ؤ له اصفهانه وووت نادر غوښتل چې په بیړه پده پسې ووزي مخکې تر دې چې شیراز ته ورسېږي خپل حساب ورسره تصفیه کړي مګر روسي لښکر وله اصفهان څخه له تېرېدو تر هغه وخته انکار وکړ چې د تزار نوی امر نه وي رارسېدلی ځکه روسانو ویل چې موږ ته داسې امر شویدی چې طهماسپ ته خپل تاج و تخت پلاس ورکړو اوس چې پایتخت قبضه او تخت د طهماسپ په تصرف کې دی موږ نور نسو کولای چې زیاته پرمخ ولاړ سو البته د پای تخت د حفاظت ذمه به واخلو اوستاسې ایراني لښکر به د اصفهان او شاوخوا له حفاظته بېغمه کړو خو بیا هم نادر نسوای کولای

چې په ایرانی لښکرو شاه اشرف تعقیب کړي که نوی له شاه اشرف سره جنګیالي مړونه تر یو زر څو سوه کسه زیات افغانان نه وُ خو ایرانیان له افغانانو څخه دونه بېرېدل چې پر دغه واړه لښکرې حمله نسوای کولای هغه وُ چې نادر د نور لښکر په ټولولو اخته سو دلته نو دلارنس لیکارټ په قول چې په انقراض صفوی کې (۳۸۳ مخ) لیکلی دی چې اصفهانیان پوه شول چې لکه د طهماسپ بد بخته غوندې نوره د دوی د خوښی دوره تېره شوه د نادر له را رسېدو لږ شپې نه وې تېرې شوی چې نادر امر وکړ چې له عام ولس څخه زما د لوڅو او وږیو عسکرو د پاره روپی راټولی کړئ دا روپی له اولس څخه پداسې ډول راټولېدې چې زیات شمېر خلک له وهلو څخه مړه شول د نادر د عسکرو ظلم او زیاتی انتها ته ورسېده حتیٰ د خلکو کورونه یې چور کړل او یو شمېر نر ښځی لکه د مریانو غوندې خوڅ کړل ایرانیان ډېر زر متوجه شول د افغانانو تر تسلط لاندې خو مو د عزت او آبرو خوشحاله ژوند درلود انسان دلته پدې فکر کې لوېږی چې د دې وحشي پوځ او قاید یې له خپل اولس سره داسې حال وی حال دا دی چې دې قوي شوی هم ندی او چې قوي شي او د فاتح په توګه په بل ملک کې داخل شي د هغو به څه حال وي.

نادر په څلوېښت شپې کې یو ستر لښکر او له زرو ډکه خزانه برابره کړه وروسته له څلوېښتو شپو د شېراز خواته وخوځېده شاه اشرف د شېراز په شمال شرق کې د زرقان په سیمه کې د نادر د راتلو انتظار کاوُ د ۱۷۳۰ کال د جنوری په اوایلو کې په زرقان کې د دواړو خواوُ تر میان جګړه ونښته د شاه اشرف لښکر زیاته برخه عرب وو په دوهمه درجه بلوڅان او د لارنس لیکارټ په قول شاه اشرف ډېرې ماهرانه نقشې جوړې کړې خوله بده مرغه د ده پوځ هغه نسوای تطبیق کولای جګړه ډېره خونړی وه خو ما زیګر ته شاه اشرف له جنګه لاس وکښو او شېراز ته پرشا سو.

وروسته له هغه د جوړې خبرې د سیدال خان غازي تر سرپرستی لاندې د ملا زعفران توخي او ملا محمد صدیق په کډون له نادر سره شروع شوې دا خبر باید په یاد ولرو چې شاه اشرف د سولې خبرې د سیدال د کورنۍ د راخلاصولو په غرض شروع کړې وې خو سیدال خان چې د نادر لښکر ته ورغی هلته خبر سو چې د ده کورنۍ او ورسره عسکري ترکیې ته د سلطانی ښار ته رسېدلی دی او اوس له خطره خلاص شوی دی شاید اسحٰق سلطان ته هم ده وظیفه ورکړی وی چې له نادر سره پاته سو.

شرایط داسې وُ چې د صفوی کورنۍ نراو ښځې چې له تاسې سره بندیان دی لومړی موږ ته وسپاری بیا ټول افغانان د سته دسته په ایران کې سره وویشل شي هر څوک چې هرې خواته ولاړ وُ هلته به په مستقله توګه اوسي او دا افغانانو مشران به د نادر په نوکری کې شامل کېږي لېږل شوی هیئت چې بېرته راغلو او دا شرایط د هر چا غوږ ته چې ورسېدل هغه قبول نه کړو شاه اشرف د دې د پاره چې د ښمن غافله کړي داسې ښکاره کړه چې ګواکی موږ ته ستاسې شرایط د منلو وړ دی یو شمېر صفوی نراو ښځې بندیان یې د ملا زعفران او ملا محمد صدیق او عمر سلطان او نور وسپین ږیرو په وسیله وزرقان ته چې د نادر لښکرګاه وه ورولېږل د نادر داخیال سو چې زما شرایط یا ومنل سول بېغمه سو دا بندیان چې نادر ته وسپارل سو ملا محمد صدیق او ملا زعفران او نور مشران د نادر په پوځ کې څه وځنډېدل دلته شاه اشرف په شپه حرکت وکړ او د فسا تر پله په تېر بدو بې ټول وکړ پر پله تعین افشار او کردان یې پسې واخستل د فسا د پله د ساتنې ذمه سنر عالم او روحانی پیشوا ملا پیر محمد میاجی په غاړه واخیسته افغانی کورنۍ او عسکر په بې غمی تر پله تېر سول او خپل منزله ته بې ادامه ورکړه دغه سر تېری چې دا پل ټینګ کړ نه یې پرېښودل چې ایرانی پوځ افغانی

پوځ اوکورنی تعقیب کړی د دی سرتېری پوځ ټول افراد هغه -
داوطلبه کسان وُ چې خپل مرګ یې حتمی بللی وُ دوی خپله وظیفه
په ډېره مړانه پرځای کړه چې نادر خبرېدی شاه اشرف او افغاني لښکر
اوکورنۍ ډېرلرې شوی وُ وروسته چې دنادر پوځ راورسېدی بیا
هم افغانی سرتېرو او روحاني شخصیت پرې نښود وچې افغانان تعقیب
کړی د فسا پرپله سختې جګړې وشوې په پای کې چې دنادر عسکری راډېر
شو جنګ نورنا ممکن شو د ملا پیر محمد میاجي په شمول ډېرو افغانانو
ځانونه له پله څخه ورود ته وغورزول داسارت تر ذلیل ژوندیې مرګ
غوره وګاڼه ملا زعفران او میا محمد صدیق او اسحٰق سلطان ناصر او
نور مشران چې صفوي بندیان نادر ته وسپارل پله ته لانه وُرسېدلی
چې بېرته د نادر عسکرو ونیول او نادر ته یې راوستل نادر خپلو عسکرو
ته وویل چې داخو هغه کسان دی چې پخپله خوښه ماته راغلی وُ او د فسا
د پله مؤظفو عسکرو مشران یې د غفلت او بې غیرتی په جرم د کردانو د
مشر یې سترګې وکښې او د افشارو د مشر یې غوږونه پرې کړل نور افغانی
مشران یې پرېښودل ملا زعفران او میا محمد صدیق او نور مشران قندهار
ته ولاړل یواځې اسحٰق سلطان ناصر د نادر په دربار کې پاته شو او اسحٰق
سلطان چې ډېر ډیپلومات سړی وُ ځان یې د ونه نادر ته نژدې کړ چې د نادر
له مشاورانو څخه وګڼل شو هغه وخت نادر د ترکو له جنګه قزوین ته ورغی
چې له ترکو سره د جنګ له پاره د ایران شمال ته تللی وُ هلته هغه زرکسه عسکر چې
اکثره ناصران وُ او شېر محمد خان د سیدال خان غازی زوی او کورنی د -
اسحٰق سلطان ناصر په سفارش اجازه ورکړه شوه چې د ایران له لارې افغانستان
ته راشي دی پخپله هم له دغو عسکرو سره افغانستان ته راغی او دی له نادر سره
پاته شوی هم د دې مقصد د پاره وُ بناغلی اسحٰق سلطان پخوا دیز د حاکم

وُ(خورشید جهان ۱۴۹ مخ) همدا اسحٰق سلطان ناصر د ملا زعفران په ملګري د شاهي کورنۍ غړي چې له تا درسره بندیان وُ شهزاده ابراهیم او شهزاده اسمٰعیل د شاه محمود زامن او دیارلس تنه ښځې او کوچنیان له شیرازه نادرد کرمان په لاره مشهد ته ولیږل څوله هغه ځایه بیا وروسته له هغه چې ملا زعفران او اسحٰق سلطان به منځګړیتوب دوی صفوي ښځې ورکړې او د شاهي کورنۍ بندیان یې قندهار ته راوستل اوله دې ناري څخه داسې برېښي چې له بندیانو سره سم یې د شاه محمود تابوت هم راوړېده چې وایي:

د زعفران احسان مې زړه ده ورورهوړي

یو مې راوستل وریرونه بل یې دی د شاه محمود تابوت راوړي

شاه اشرف چې له شیرازه حرکت وکړ د لاربندر ته ورسېدی نه ورځې په لارکې پاته شو هغه ذخیرې چې له ځان سره یې مخ په افغانستان نسوای وړای هغه یې د خپل ورور او خدایداد خان د لاربندر حاکم او سرورخان ناصر بارخیل له یوزیات شمیر افغانانو سره یې په کښتیو کې بصرې او عمان ته ولیږل چې خدایداد خان او سرورخان او د شاه اشرف یو وراره حزین نومی یو ایراني لیکوال دوی په عمان کې لیدلی و چې وروسته له هغه چې د شاه اشرف له مرګه خبر سو نور پښتانه ځنې راغلل خو د شاه اشرف د ورونو کورنۍ هلته پاته شوه په راغلیو پښتنو کې یو سرورخان ناصر بارخیل دی چې اولاده یې اوس سرورخیل بولی.

شاه اشرف او ملګري مخ په افغانستان روان شول د فروري په اواخرو کې وافغانستان ته ورسېدل هغه وخت چې ګرم سیل ته ورسېدل د لکی په کلی کې چې په ګرم سیل کې واقع ده. خپل ملګري لکه سیدال خان وغیره له پاتې فوج سره قندهار ته رخصت شو پخپله یې له دوی څخه رخصت واخیست غوښته یې چې د مستنګ له لارې هندوستان ته ولاړسی خو چې له

لکی او صفار څخه مخ په جنوب روان سو د زرد کوه په سیمه کې ابراهیم د عبدالله خان بلوڅ زوی چې د شاه حسین له خوا ماموریت ورکړی شوی ؤ پسې ورسېد او په قتل یې ورساوه چې دا ناره یې ثبوت ده:

که ناورین ده په هوتکو بیا ناورین دی
ابراهیم خو اشرف وژنی گرم سېل ته ورځي مخ ته آس یې زین دی
د ښالم په کورکې جوړ خدای څه فتور کړ
یوار لاړ محمود له منځه بیا یې مړ اشرف باتور کړ
که مرگی دی د ساکزو د میان مرگی دی
نه محمود د مرگی ؤ نه اشرف په پښتنو باندی هلکی دی
زینبې خورې په څه دې گریز زگېروی وی
که ما مړ شاه اشرف نکړ خورې بیا به زما په سر د تاټکری وی
حسین خانه خدای د روستی دور وروار دی
اشرف وځي له سیستانه د مستنگ په لور روان دی

داؤد یو افغان زلمی شاهنشاه سرگذشت چې د مرگ په وخت کې یې عمر له ۲۹ تر ۳۰ کلو پورې ؤ او څلور نیم کاله یې په ډېرو ناوړو شرایطو کې ټول ایران د توری په خوپ پخپله قبضه کې راوست او د ترکانو ستر امپراطور ته څه د سیاست په ډگر کې څه د توری په میدان کې لویې ماتې ورکړې همدا ډول یې د هغه دوهم ستر قدرت دوهم پیټر د روس امپراطور ته ماتې ورکړې او د خضر د بحیرې د څنډو پلورل شوی ولایتونه یې ځنی راوگرزول د شاه اشرف د دربار تصنیف شوی کتاب چې د ایران اداري نظام چې د صفویانو یا تر هغه پخوا په همداسې شفاهی توگه چلېدې شاه اشرف د ایران اداري نظام ته داسې مقررات وضع کړل چې هغه یې د یو واقعي نظام په توگه په وجود راوست لکه په هند کې د شېرشاه مالیاتي نظام نو د شاه اشرف د وخت تذکرة الملوک کتاب دده د علمي لیاقت شاهدی وایي.

شاه حسین هو تك

شاه اشرف هو تك

دریم څپرکی

د نادر یرغل

وروسته له هغه چې نادر د داغستان لکزائی وځپل او سرخائی خان یې په تېښته له داغستان څخه ویوست نو یې د رمغان په صحرا کې لوی دربار جوړ کړ چې په همدغه ځای کې یې د بادشاهی اعلان هم وکړ عبدالغنی الکوزائی چې د سرخائی خان الکزای په ځپلو کې ډېره راستي او سربښند نه ښکاره کړی وه ډېر یې ونازاوه او له ابدالي پوځوسره یې د افغانستان خواته د حرکت امر ورکړ او هدایت یې ورته وکړ چې د نیمروز په سیمه کې به له - طهماسپ قلي خان سره یو ځای شئ او مخ پر کندهار به درځئ د نادر لښکرو د طهماسپ قلی خان په سرداری مخ پر قندهار حرکت راوکړ نادر چې د رمغان په دښته کې د تاج پوشی له مراسمو څخه وزګار شو نو یې د کندهار د نیولو اراده ښکاره کړه خپلو پوځونو ته یې د کندهار پر لور د مارش امر ورکړ مخ په کندهار راروان شو چې سیستان ته راورسېدی نادر خپلې کډې په سیستان کې پرېښودې پخپله مخ په کندهار راروان سو د دلخک او دلارام حصو ته راورسېدی لومړی جګړه د ده او شاه حسین د پوځو په ګرشک کې وشوه په ګرشک کې د شاه حسین دونه پوځ نه وُ چې د نادر د دې ستر اردو مقابله یې کړی وای خو بیا یې هم خپله مېړانه ښکاره کړه د نادر له ستر فوځ او قوي توپخانې سره یې جګړه ونښلوله

له مختصرې او خونړۍ جګړې وروسته نادر په ګرشک قبضه وکړه دلته نو
نادر خپل پوځونه په دوو برخو وویشل یوه برخه یې د کلب علی خان افشار تر
مشرۍ لاندې د زمینداور او هزاره جات د اشغال په نیت مخ په زمینداور او هزاره جات
روانې شوې دوهمه برخه چې قوماندانی یې پخپله په نادر اړه درلوده مخ پر بست
را روانې شوې په بست کې له یوې خونړۍ جګړې وروسته نادر فکر وکړ چې د
بست نیول آسانه کار نه دی بست یې پر ځای پرېښود او مخ پر قندهار را روان شو
داوخت دژمی و وطن پخوا لا د اعلیحضرت شاه حسین له خوا سپېره شوی و ترتیبات
داسی نیول شوی وو چې هغه سیمې چې دیرغلګرو قواؤ په لارکې واقع شوی وی له
خلکو څخه د دوی تر احتیاج زیاتې غلې او پروړې پلورل شوی او کندهار
ته انتقال شوی وی او هم خلکو ته هدایت شوی و چې له آبادی څخه لرې لرې
د احتیاج وړ غلی پټی په څراګانو کې وساتي چې د غلیم په ګوتو ورنسی همداسې
یې د خپلو څارویو د خوړو د پاره پټې ذخیرې جوړې کړې نادر چې مخ
په وړاندې ملک سپېره ولید یوه میاشت په بست کې تم سو څو هغه
پوځونه چې د کلب علی په مشرۍ زمینداور او هزاره جات ته تللی دی د ده
د اړتیا پروړې او غلې راوړی اعلیحضرت شاه حسین یوه غلطي کړی وه
چې په هغو سیمو کې یې هم د هلمند او کندهار په څېر د غلې د پټولو ترتیبات
نیولی وای او اولس ته یې د پټولو هدایت کړی وای په هزاره جات زمینداور
کې د نادر قواؤ په هر ترتیب چې کېده له اولس څخه په زور غلې دانې برابرې
کړی حتیٰ دوی ته یې د خپلې اړتیا وړ غله هم نه ور پرېښوده سره له
دې چې تور یالیو هزارو څخپل ټول توان مقاومت ور سره کاوه مګر د نادر
دې کلب علی او کلبیانو د دوی د کور وغلې هم ځنې را ټولې کړی او په
شاه مقصود کې یې د نادر قواؤ ته را ورسولی څو نادر هم د میوند له لارې
ځان شاه مقصود ته ورساوه په شاه مقصود کې د نادر لښکرې سره یو ځای

شوې نو د کندهار پرخوا راوړاندې شوی او د ژړی پر دښته یې واړول
وخت د پسرلی وُ دارغنداب رودغاړې ترغاړې بهیدی دنادرقواوې
تر رود نسوای پورې وتای نود ژړی پردښته پراته وُ دا
چې د دوی او کندهار ترمیان رود وُ دافغانانو له حملې هم بېغمه
وُ هغه وُ چې شاه حسین پخپله له شپاړسو زرو عسکرو سره دشپې
تر رود پورې وتی او دنادر پردې ستر اردو یې د شپنی یرغل
ورور چې په نتیجه کې دنادر دی ستر اردو داسې ماتې وکړه او داسې
ګډوډی پکې جوړه شوی وه چې د منصبدارانو په خوله څوک له تېښتې
نه راګرزېدل په پای کې نادر پخپله تښتېدلی عسکر له تېښتې راګرزول
افغانانو یې په ورځ تعقیب په دې وجه ونکړ چې د دې ستر اردو
په منځ کې به راګیر شو په تلوار بیا تر رود هم نسو تېرېدای هغه وُ
چې شاه د یرغل ترکولو وروسته چې ډېر مرګ ژوبله یې ځنې وکړه
تر رود ځنې راپورې وت پدې اردو کې یو لک ایرانی عسکر اوټول -
ابدالیان چې تقریبا پنځلس زره کسه کېده ورسره وُ نادر چې خپل تښتېدلی
عسکر سره راتم کړل نو یې نور دلته ځنډ لازم ونه باله ځکه نادر ته
له پخوا د پښتنو شب خون معلوم وُ او د خپلو عسکرو ضعیفه روحیه هم
ورمعلومه شوه نو دې نتیجې ته ورسېد چې په هر قیمت چې وي تر
ارغنداب پورې وزم څو دارغنداب رود یې ترشا د محافظ په شان
وګرځوي څو نادري عسکر د پښتنو د یرغل په وخت کې تېښتې ته زړه
ښه نکړي یعنی درود له بېرې به تېښتې ته زړه نه ښه کوي هغه وُ چې
تصمیم یې ونیو چې په هر قیمت چې وی تر رود تېرسم د رود جنوبي
غاړې افغاني عسکرو ورته نیولی وې نادر خپله عظیمه توپخانه درود

پرغاړو تعبیه کړه او افغانی مورچې یې د توپچي قواؤ تر اور لاندې ونیوې د نادر د توپچي قواؤ گوله باری دونه شدیده وه چې په افغاني مورچو کې شی په سترگونه لیدل کېدی بیا یې نود سپرو رسالې پر ورهي کړې په هغه توره دربله کې پښتنو دوی د توپکو تر اور لاندې ونیوله سره له دې چې بې پایه مرگ ژوبله یې ځنی وکړه خو د نادر قواوې د خپل توپچي قواؤ په زور بریالی شوې چې تر رود پورې وزي او د کندهار د ښار لویدیځی خواته یې واړول وروسته تر هغه چې نادر خپل ټول اردو راتېر کړ او خپلې ماتې گوډې یې برابرې کړې نو یې د پیر پایمال د غره په لمنه کې خپلې یو شمېر قواوې د ښار ختیځی خواته تېرې کړې دا هم تقریباً یو عسکری نمایش وُ چې د خپلو قواؤ روحیه قوي او د افغاني قواؤ روحیه ضعیفه کړې په دې وخت کې چې د نادر قواوې تېرېدې افغاني توپچي قواؤ د خزی له غره او شاه برج څخه د توپونو تر سخت اور لاندې ونیوې چې دا ناره یې شاهدي وایي:

اورولی پښتنو مردک ډبرې
نادر باسی د دوو غرو ترمیان لښکرې

د نادر فوج نیم تیر او نیم لا پاته وُ چې د افغاني اردو ستر سپه سالار سیدال خان ناصر باندې ورووت او د ایراني قواؤ پر منځ یې حمله وکړه چې په دې ناره کې دا صحنه داسې ښیي:

چې نادر تر غره ایستلی رسالې دی
سیدال خان باندې ورووت د نادر پرور ستوبل باندې حملې دي

جگړه توده شوه سیدال خان له شاه حسین څخه کومک وغوښت شاه حسین پخپله له پاتو لښکرو سره جنگ ته ورغی او ټوله ورځ مضبوطې توري ووهلې شوې ایراني عسکر یې ځنې د ختیځ خواته، ځینی د لویدیځ

پرشاوتمبول چې دا یوه ناره یې ښیي؛
گرزوله سیدال اسپه لنډه لنډه
شاه حسین هم ورووت ایرانیان یې ترنادره کړه په منډه

دا فغاني لښکرو دې حملې دنادر هغه منصوبه چې غوښته یې د پښتنو ترمخ یو جنگي نمایش وکړی دا فغانانو روحیه ضعیفه او د خپل پوځ روحیه لوړه کړی دده خیال ؤ چې زما د دې دونه لوی پوځ په موجودگی کې هیڅ امکان نلري چې افغانان له ښاره راووزي خو افغانان له ښاره راووتل څه کوی داسې تندر یې دنادر پر پوځ پریوست چې د دوی ارتباط یې سره پرې کړاو داد جنگي نمایش منصوبې پر ځای دگټې تاوان ورورساوه دا فغانانو لږ مگر توریالی فوځ دنادر دا ستر پوځ داسې سره وزغلاوه چې یوه لویه اړه دوړه یې پکې جوړه کړه شپه راغله افغانان بیرته ښار ته ننوتل مگر لارې یې نیولی وې د شپې ایرانیانو کوشش وکړ چې ځان سره یو ځای کړی مگر پښتنو بیرته پرشاوتمبول سهار چې لمر څیره راووهله ایراني اردوگانو بیا په حرکت پیل وکړ افغاني پوځونه ورووتل افغاني پوځ لکه د سمندر په منځ کې دایراني لښکرو په منځ کې راگیره ؤ په دې ورځ ایرانیانو هم خپله توپخانه چې لا د ښار قبلې خواته پاته وه په کار واچوله له نیکه مرغه د جنگ میدان نزدې ؤ افغاني وړې توپخانې هم د خزی له غره اوله برج څخه پر ایراني پوځونو دندوکار جوړ کړ شاه حسین هم ورووت جگړه په بې ساری توګه په شدت روانه وه گران لوستونکی به د دې جنگ اندازه د دې دوو پوځونو له شمېر څخه پخپله لګولای سي له یوې خوا یو لک ایراني لښکرې پرته دا بدالیانو له لښکره چې دوولس زره منظم پوځ د عبدالغنی الکوزائی ترقومندانی لاندې ایلجاری لښکرې لکه د حاجی ډونگی

اسحاق زائی او نورو مشرانو ترقوماندې لاندې له بلې خوا تقریباً شل زره سرتیری خو په افغاني ننګ سمبال چې د دې جګړې صحنه پښتنو په خپلو نارو کې داسې ښکاره کړېده ؛

که جنګه د ورځې سخته جنګه
شاه حسین پر شا نه ځي کوي ویره د راتلونکی وخت له ننګه
له جګړې نادر بېرته په شا وزی
شاه حسین زمری دی شاه حسین په ښار کله ننوزي

تر پنځو شپو ورځو دا خونړی جګړه روانه وه او لاس په لاس توری وهلی کېدې نادر پر لوړه غونډی ولاړ ؤ او د جنګ صحنې ته یې کتل د افغاني لښکرو دا بې ساری له ځان تېرېد نه چې یې ولیده څرنګه چې پخپله یو بهادر سړی ؤ د بهادر وله ستاینې څخه پټه خوله پاته نسو او ملګرو ته یې وویل ؛

میندې باید د وطن خدمت ته داسې بچی وزیږوي او ویې روزي وطن حق لري چې په داسې سرتېرو بچو وویاړي دا هم یوه ناره ده ؛

نادر ویل ما ډېرې کلا وکښې
د غلجو پر کلا راغلم بکری یې بلېدی توری یې وکښې

خوشحال خان بابا هم د همداسې یوې صحنې تصویر کوي ؛

که د جنګ په کارکې ډېر دی حکمتونه
چې په سر پر وا ونکړي نو بری دی

شپږمه ورځ نادر لاربد له کړه خپل پاته عسکر یې د بابا ولی د مزار له خوا د غره ترشاد شپې له خواتېر کړاو لښکرې د کندهار د ښار ختیځې خوا ته سره یو ځای شوی دا ډېره پراخه ورشو وه او د افغاني توپو له زد څخه لری وه افغاني عسکر هم په ښار ننوتل په افغاني عسکرو کې له مړو ماسوا داسې څوک ډېر کم ؤ چې ټپ به یې نه درلود ، افغانانو خپل ټپیان و درمل څو ورځې یې تراوکړنا درهم په دې موده کې جنګ ته زړه ښه نه کړله څو ورځو

استراحت څخه وروسته شاه حسین دشپې له خواخپل سرغلونه پرنادرشروع
کړل . کران لوستونکی به دافکرکوي چې دجنګ میدان يې ولې پرلپښود باید په
سپینه ودځ پرمیدان جنګېدلی وای اول خو دبنمن د لښکرو شمېر په افغاني
لښکرو یوترشپږ لازیات وُ دویم دنادرپوځ دېرې لویه اوقوي توپخانه درلوده
چې دهغې مؤثریت دایران په جګړوکې لیدل شوی وُ درییم نادرپرهوار
میدان له ښارونه لرې وارول چې دافغاني توپخانې په زړکې نه راتلل نادرخپله
قوي توپخانه چې دفرانسې متخصصینو ترلارښوونې لاندې اداوکېده
پرمناسبو ځایونو په مضبوطو مورچوکې تعبیه کړه چې دنادرتوله اتکا همدې
دغه توپخانه وه افغاني قواوُ خپله ضعیفه توپخانه دنادرد توپو مقابلې
ته نسواې راایستای اګرچې پښتنو پرته له یوې جنګې چې دا صفهان سره
نزدې په ګلناباد کې وشو او امان الله سلطان دشاه محمود دښې لاس -
قوماندان له خپلې ضعیفې توپخانې څخه دهرسنه کار واخست بیا يې نه د
ترکانو په جنګ کې نه د روسانو په جنګ کې اونه له نادرسره په توله جګړو
کې هېڅ وخت له توپخانې داسې دذکر ورکارندی اخستی نو دلته همزادر
خپله قوی توپخانه په قوي مورچوکې نصب کړه پښتنوله هغو تجربو
څخه چې ورته حاصلې شوې وې دنادرله توپخانې سره پرسپین میدان
له مقابلې څخه دوه کوله ځکه توپونه دوځې له خواګاني تاثیر درلود
هغه ځې دشپې له خوا یرغلونه يې دنادرپرقواوُ شروع کړل دې یرغلو
دهر او کاني تاثیر درلود دې دشپې یرغلو پرنادر ځکه سره کړه
اوده هر تلفات ورواوښتل دنادرقواوُ د دې یرغلو هېڅ مقابله نشوای کولای
نوبمجبوره شو چې له ښارونه لرې دشیرسرخ په مقام دکلا په جوړولو پیل وکړي
څوخپل پوځ دپښتنو له یرغل څخه وساتي اوترهغو پورې چې قلعه جوړه نه کړي
ښارونه هم نسواې محاصره کولای د کلا په جوړولو کې هرڅوڼه خلک

چې اولس په لاس ورغلو په زور یې په کار واچول خپل پوځ یې هم
په ختواخته کړ څو په ډېره لږ موده کې چې یې د کلا دېوالونه لږ څه پورته
کړل پوځ یې ورګډ کړ او د پښتنو له برېښنا ډوله یرغل څخه یې
تر یوې اندازې خوندی کړ وروسته یې نو کندهار برای نام محاصره کړ دلته
په کندهار کې شاه حسین د هر ډول محاصرې سره د مقابلې ترتیبات نیولی
ؤ افغانی لوری داسې اټکل کړی ؤ چې تر دوو کلو موږ په دا موجوده
عسکرو او د خوراک پدا موجوده ذخیرو جنګېدلای سو هغه وخت چې
دښمن کافی ستومانه کړونو له دباندې څخه به لښکرې را وبولو او ګډ به
پر دښمن برید وکړو او لکه د خسرو خان غوندی به یې له تباهی سره مخامخ کړو
د کلا له تکمیل څخه وروسته نادر د قلات د کلا د نیولو د پاره د فتح علی خان ترمشری
لاندی اته زره پوځ کلات ته واستاوه د دې پوځ له تګه شاه حسین خبر سو فوراً
یې سیدال خان ناصر له څلورو زرو کسو سره په بیړه پسې واستاؤ د غیشی پر
سیمه سیدال خان په فتح علی خان پسې ورسېدی او فوراً یې حمله پرې وکړه -
ایرانیان یې وار خطا کړل ایرانی لښکرو د غره خواته هڅه وکړه چې غره ته یې
ځان ورساؤ نو یې غره ته شاکړه او مخ یې پښتنو ته سو خو بیا یې هم
دا وخت له درو څخه دوې برخې عسکر له منځه وړی ؤ یوه ناره ده چې وایي:

چې فتح پر سیدال خان باندې غوټی کړی
د تورو مشغولا سوه سیدال خان دستی د ډال تنی ورپرې کړې

نادر چې د سیدال خان له تګه خبر سو فوراً یې پنځوس زره پوځ پسې
وایستی هلته سیدال خان نو زیاتی د فتح علی خان چاره ورکړی وه چې نادر
ورورسېدی سیدال خان فتح علی خان پرېښود ځان یې وکلات ته ورساوه
هلته نادر قلعه بند کړ نادر څو شپې هلته تېرې کړې بیا یې یو شمېر پوځ
د کلات محاصرې ته پرېښود پخپله بېرته کندهار ته ولاړ په کندهار کې یې

هغه جاسوس چې دسیدال خان د تګ خبرې راوړې وې د پرون ازاوه که څه
هم خورشید جهان نومی تاریخ لیکلی دی چې دا اشرف خان تره ځې وې مګر
داخبره درواغ ده نادر چې د فراه حصرته راورسیدی دا اشرف خان په
بنهر کې نه وې دا سرې اصل دا اشرف ملګری وې چې دایرانی مورخینو
په قول " په بخشونو مورکړای شو " دوهمه پلا بیاله کتره ازغه یو
تازه دمه پوځ د ارغنداب په لاره کندهارته راتلی اشرف خان خبرسو
او هغه نادرته خبرورکړنا درپه ارغنداب کې دهغه پوځ غمه ونیوه خو
پښتنو څلمو د توری په زور خپله لاره خلاصه کړه اوایرانیان یې په شا
وزغلول دوی روغ رمټ د کندهار نبار ته ورسیدل له دې واقعې وتنوته
بیاترځو چې نادر خپل عسکر په قلاکې ندوخوندې کړې دنادر عسکر له کندهار
دباندې نه ولاړل البته د قندهاری اوایرانی عسکرو تر منځ به وړې
وړې پیښې کیدې کله به ایرانیانو کندهارته راتلونکی قافلې ووهلې
کله به کندهاریانو ایرانیانو ته راتلونکی قافلې ووهلې تر څو چې
نادر خپله کلا تکمیل کړه اونوم یې نادرآباد پرکښېښود وروسته یې نوبه
یرغلو پیل وکړد محرم پر ۱۳ کال ۱۱۵۰ د بست کلا دنادر له خوا اشغال
شوه د محرم پر ۱۴ مه کال ۱۱۵۰ د شهرصفا دنیولو د پاره عسکر دنادر
له خوا واستول شول چې تر یوې خونړۍ جګړې وروسته شهرصفا -
اشغال شو وروسته له هغه نادر بیولسوی لښکر دامام وبیردی بیګ په
مشرۍ اوردخان تره کی په لاړښوونه د قلات په نیولو مامور کړ په قلات کې
شهزاده محمد د شاه حسین زوی اوسپه سالار سیدال خان ناصر دافغانی
قواوقوماندانی په غاړه درلوده په دې وخت کې پښتنو هم له خپل پلان
سره سم دلښکر راټولو نه اوبیا پرنادر د حملې ترتیبات نیول شروع
کړی وو عبدالرسول خان چې په حاجي رسول خان مشهور وو حاجي انګو

زوی ته د پکتیا د لښکرو د ټولولو ماموریت ورکړ شوی ؤ پیر محمد او غنی جان د حاجي انګو لمسیانو ته د ډېرو، ږوب او ګوملی د لښکرو د راټولولو ماموریت ورکړ شوی ؤ بنګو خان تره کی ته د تره کیو اندړو د لښکرو راټولولو ماموریت ورکړ شوی ؤ نادر ته هم جاسوسانو خبر ورکړی ؤ چې غلجو د لښکرو په ټولولو لاس پورې کړی، دی نادر فکر وکاوه که دا تازه دمه لښکر راورسېږي مشکلات به تولید کړي نادر کوشش شروع کړ چې مخکې تر دې چې د غلجو لښکری راورسېږي باید د کلات او کندهار حساب تصفیه شي چې دا ناره د دې خبرې شاهدي وایي :

که باسی نادر پوځ کلات ته باسی
ډار کوی له دې خبرې سلیمان خېل اندړ سهاک به جنګ ته راسي

د نادر پوځ چې قلات ته ورسېد کوشش یې کاوه چې پښتانه جنګ ته راوباسی مګر د سیدال خان د جنګ پروګرام نه ؤ هغه د غلجو لښکرو ته کتل نو سیدال خان فقط دفاع کوله ځکه چې په کلات کې له سیدال خان سره صرف څلور زره عسکر ؤ او ایرانی عسکر د دېرشو زرو په شاوخوا کې ؤ ایرانیانو د سیدال خان او افغاني عسکرو د تحریک کولو د پاره له ډېره ناوړه چال چلند څخه کار واخیست او غیر انسانی رویه یې اختیار کړه هغه دا وه چې پښتني ښځې به یې راوستی او د قلاترمخ به یې د افغانی عسکرو د سترګو د وړاندې په تیو راوځړولی چې دا ناره یې شاهدی وایي :

په قلات نادر په توځړوي ښځې
سیدال خان باندې ورووت لوی لښکر یې د نادر کړی بزی بزی

دا ایرانیانو ستر لښکر چې د کلا پرختو بریالی نشو نو یې له دې بې غیرته

حربې څخه کار واخیست څو چې پښتانه مجبوره کړی چې جنګ ته راووزی
ځکه دوی فکر کاؤ چې دغلجو د کومکي لښکرو تر رارسېدو مخکې
قلات اشغال کړو بل د پښتنو ستر سپه سالار او ملي قهرمان سیدال خان
له ډېرو لږ وعسکرو سره د دوی په محاصره کې ؤ د سیدال خان ګرفتاری یا
وژنه دوی د کندهار د خلاصېدو کلی بلله په دې وخت کې ستر نابغه
جنرالان ټول له کندهاره د باندې له وړو وړو لښکرو سره محاصره ؤ
سیدال خان په کلات کې بهادرخان اندړ په زمینداور کې ، بابوجان
بابي په بست کې ، شاه حسین ته له سترو با تجربه جنرالانو څخه د تدبیر
او مشورې د پاره څوک نه وو ورپا ته ایرانیانو ته تر هر څه زیات د —
سیدال خان له منځه وړلو زیات اهمیت درلود د کلات کلا یوه وړه کلا د ه
په داسې حال کې چې له سیدال خان سره تر پچې قواهم نه وه نو کلا د
دې دونه لوی . پوځ په ډېره تنګه محاصره کې وه له دوو میاشتو چې
د کلات جګړه شروع شوی وه د دوی هر ډول ارتباط له خارج سره
قطع ؤ ایرانیانو علاوه پر دغه پوځ یو لوی پوځ بل هم پټ راوستی وو
کلات ته نزدې یې پټ ساتلی ؤ .

دوی چه به ښځې د کلا مخ ته په تیو راوځړولی پر پښتنو عسکرو به
سور اور بل سو که هر څو به د صبر توصیه کېده بیا یې هم
زغم نسوای کولای په آخر کې لښکرو رته وویل چې موږ نور زغم
نسو کولای که ته امر راکوی که یې نه راکوې موږ باندې
وروزو بیا هم یوه اندازه عسکر د کلا ساتنې ته پاته شول نور پرې
وروو تل د کلات د کلا شاته پر هوار ډاګ جګړه و نښته ایراني عسکر له هرې
خوا پر راتاو سو پښتنو چې به هرې خوا ته مخه کړه دوی یې لکه د مېږو
رمې پسې واخستل خو بیا د غلیم د لښکر د ډېروالی او د پښتنو د لښکرو

لږ والی دی په دې نسوای قادر ولای چې ځان یوې خواته وباسي په هر صورت بیا هم افغانانو داسې دخیال توری وهلی چې دا امید سړی ته پیدا کېدی چې په دې سرفروشی امکان لري چې دا ستر اردو دې د دې یوموټی زمرو له خواتس نس شي چې په دې وخت کې هغه بل پټ ساتل شوی لښکر راورسېدی او هغه هم پرې راتاوسو د پښتنو دا ملي قهرمان چې یو دېرش کاله یې په مړانه دافغانانو له حقوقو دفاع کړی وه اوس په یو انساني سمندر کې راګیر شو دافغاني مړو او ټپیانو ځایونه خالي پاته کېدل دایراني مړو او ټپیانو ځایونه به ډکېدل وار په وار دافغاني لښکر جنګي زور کمېدی او غلیم قوي کېدی پښتانه عسکر له هر ډول مرستې محرومه وُ حتی چې یو څاڅکی او به هم نه ورته رسېدې د مړیو شمېر وار په وار زیاتېدو ترڅو چې نور د مقابلې امکان بالکل ختم سو پښتانه ځلمي له ډېرې ستړیا نور د توری له وهلو پاتې سول دا یې یوه ناره چې وایي؛

سیدال خان ویل ما پدې ځای ارمان نسی

دناصر وزنمې نسته اوس به خود ما دنادر پوځونه نیسي

سیدال خان خپلو پاته ځلمو ته د جګړې د بس کولو امر وکړ هغه توره چې یو دېرش کاله یې دافغاني حقوقو څخه دفاع کړی او د افغان ولس ستر ویار باعث ګرزېدلی وه دښمن ته په لاس ورغله مګر د دې توری احترام به ترابده د پښتنو د زړه په موزیم کې محفوظ پاته وي. د سیدال خان له تسلیم کېدو وروسته سبا ته ایراني پوځ د کلات پر کلا حمله شروع کړه د لمر خاته له خوا پر کلا وختل د یوې مختصرې او خونړۍ جګړې وروسته یې اشغال کړه او شهزاده محمد هم په لاس ورغی.

نادر ته فوراً د سیدال خان د ګرفتاری زیری واستول شو او ورپسې

یې دوی بندیان کندهارته روان کړل په کندهار کې چې نادرته داخپل زوړ رقیب په کوتو ورغی نو یې ستر جشن جوړ کړ عام دربار یې آراسته کړ نو یې وویل « به بسیار زحمات این گرگ باران دیده را به چنگ آوردیم اگرچه نمی زیبد که این چنین سردار بزرگ و قهرمان کشته شود مگر من تحمل دو چشم این عقاب را ندارم فلهٰذا دو چشمت ببخش » نو یې امر وکړ چې دا قهرمان دستر ګوله نعمت څخه محروم کړي هغه سترګې چې ټول عمر یې دافغاني لوړ تیالپاره غړولی د دښمن په سیخانو وختی پښتنو په خپلو نارو کې داخپل ستر نابغه او قهرمان داسې ستایلی دی،

زینبی ویل با څوک نسته په هېواد کې
سیدال خان یو شین زمری و سیدال هم بندی نادر کی په کلات کې
که خیال سو د نادر دغسې خیال سو
اوس به زر کندهار خلاص شي چې په دواړو سترګو ړوند جنګي سیدال سو
له ژړا د پښتنو په مخ سر پاڼی
د سیدال سترګې نادر ایراني کاڼي
له زمریانو سوی خالي د هېواد درګې
نادر وکښی د سیدال مېړنی سترګې
پښتني لا د سیدال په سترګو زاړي
چې نادر له کامه نور سپین ږیری غواړي
که ځاله زړه می دی دغم ګی ځاله
ماویل را به سلمان خېل سی اوس خبر سوم له ړندوالی د سیداله

شهزاده محمد خان چې یې کندهارته راوستی زولنې یې ور په پښو کړې وې پښتنو په یوه ناره کې داسې ویلی دی:

لېونی له ډېره ګورمه پښتنی دی
محمد خان نادر نیولی په پښوکې یې بې ډوله زولنی دي

امدادي پوځونه وځنډېدل د کلات له نیولو وروسته نادر یوڅه مطمئن سو یو یې سیدال خان غوندې قهرمان پلاس ورغی بل یې د کلات غوندې مستحکمه کلا پلاس ورغله درېیم یې یو شمېر تر ربالي او سر تېری عسکر له منځه یوړل نو یې یوه اندازه لښکر په کلات کې پرېښود نور یې بېرته کندهار ته راواستاوه. ګرانو لوستونکو دا چې موږ دامدادی لښکرو ذکر کوو دا سرکاري تنخوا خواره پوځونه نه دي بلکه دا لښکر له هغه دا وطلبه زلمو څخه تشکیل کېږي چې پخپله خوښه د ملک او قوم د خدمت د پاره په انتها یي مشکل وخت کې حاضر یږي د دې لښکر اهمیت په دې کې دی چې دا ټول د ملک سر تیری پهلوانان وي چې پخپله خوښه بې تنخوا او طلبه خدمت ته حاضر شوی دا د جنګ په میدان کې بې انتها موثر ثابت شوی لکه د مثال په توګه له میرویس نیکه سره د خسرو خان په ځپلو کې د هغه لښکر یې له نابودی سره مخامخ کړ.

د قلات له نیولو وروسته د پیر محمد اسلم شاه خان او محمد علی بېګ په مشری یو لوی لښکر د شېرخان بلوڅ او برېڅیو د ځپلو د پاره ښوراوک ته واستول شو ښوراوک په هغه وخت کې د غربي بلوچستان دا داری مرکز ؤ یعنی د نوشکی دالبندین خاران سیمې له ښوراوک څخه اداره کېدې د نادر لښکرې ښوراوک ته ورسېدې په ښوراوک او د هغه په شاوخوا کې د نادر له لښکرو سره پرسپین میدان سختې جګړې وشوې په ښوراوک کې داسې مضبوطه قلانه وه چې بلوڅو او برېڅو ځانونه پکې خوندي کړی وای نو مجبور وو چې پرسپین میدان د نادر له قواوو سره د غرې ووهي پدې جګړو کې د نادر قواؤ پر له پسې ماتې وخوړې تر څو

چې محمدعلي بېګ مجبور شو بېرته کندهار ته راغی او له نادر څخه يې نور
لښکر وغوښت نادر يو شمېر پوځ نور سره له مير محراب خان او مير
امتياز خان چې د مير عبدالله خان بلوڅ زامن وو د محرمې پر ۳ مه سنه ۱۱۵۰
بې ټکه پوکه رالو او نادر ته يې داطاعت سر ټيټ کړی ؤ له محمدعلي بېګ
سره ښوراوک ته ولېږل او هم يې محراب سلطان بابي ورسره ملګری
کړی محمدعلی بېګ چې ښوراوک ته ورسېدی مير محراب خان او مير
امتياز خان يې بلوڅو ته ورواستول چې موږ رعيت شوی يو تاسې هم
رعيت سی يو څه بلوڅو د مير محراب خان په لمسونه له جنګه لاس وکېښ
خو پاته بلوڅ او بړېڅی د شېرخان بلوڅ ترمشری لاندې جګړې ته ودرېدل
پداسی حال کې چې د يو شمېر بلوڅو له جنګه پرشا کېدو د شېرخان لښکر
کمزوری کړ او د نادر د فوځو نور کومک راتلو دوی قوي کړل خو بيا هم
پر افغاني هوډ ولاړ بلوڅو او پښتنو پر سپين ميدان د نادر له فوځو
سره ډغرې وهلې ترڅو چې شيرخان د جنګ په ډګر کې ځان تر وطن
جار کړ په بلوڅو او بړېڅو زلمو کې ډېره مرګ ژوبله وشوه د نادر
لښکرو د شېرخان علاقه چې د نوشکی او دالبندين ترمنځ پرته وه
وځپله او کورونه يې وروسوځول او مالونه يې چور کړل پدې ډول
غربي بلوچستان نادر اشغال کړ او له دی فتحې وروسته مير محراب خان
د بلوچستان د حاکم په توګه مقرر شو او د ښوراوک حکومت -
محراب سلطان بابی ته ورکړ شو او هم محراب سلطان بابي له ايراني
لښکرو سره مخ پر پښين اوږوب وروخوځېدی چې په پښين کې د
دکاکړو او ترينانو له خوا سختې جګړې ورسره وشوې د دې سلسلې
آخری جګړه د ږوب په شمال او سنی قمردين ته نزدې د . وستی
په سيمه کې د مشهور توريالی علی داوي له خوا ورسره وشوه له بده مرغه

نادرپه خپلو ټولو جګړو کې له خپلې توپخانې څخه په زړه پورې کار
واخیست او د پښتنو دلښکرو اتکا هم په هغه عنعنوي ټرډ واونیزو
وه هغه چې به د دښمن صفوته راړسیدل د هرښباغلی به له نخښه والړل
په دې جګړه کې سنځر خپلو سنتیاؤ ، داویږ اولونو برخه درلوده د هرې
خونړۍ جګړې وشوې په پای کې پښتانه مات شویږه ناره ده چې وایي ،

که کلکی د وستی ځکې دی کلکې

دا دی خپل زمنی ولاړ دي سرې موزې له ویښو دکې

نادري قواؤ دعلي داوي کلی چوراو ودانی وسوځولی او نیځې اوکوچنیان
پي بندیان کندهار ته روان کړل چې بیا دشملزو دلوښکې په سیمه کې
اخترخان شملزی حمله پرې وکړه او د داویږ نیځې اوکوچنیان پي ځنې خلاص
کړل پدې جګړه کې دونه پښتانه نه تباه شوی چې اوس پي لاهم شامي ښکاره
دی په پښتنی علاقوکې نود په قطعی ټوکه مقاومت وځپل سو فقط زمیندارو
اوهزاره جات پاته ؤ نادرخپله توجه ټوله هزاره جات او زمیندارو رته وکړنوله
په هزاره جات کې توریالیو هزارؤ په لوښت لوښت ځکه له نادرسره دغړې
وهلې او دخپلې وینې آخرې څاڅکی پي هم تر وطن جارکړل خوله بده
مرغه افغاني تاریخ لیکه لټه روافغاني افتخاراتو سره پي چې دمیړی سلوک
غوره کړی دی همداسې پي د توریالیږ باشهامته قهرمانو هزاره وو په برخه
کې هم سپینې ستړکی اومنډه خوله نیولی ده . دافغانستان د دې مهم
بچیانو کارنامې د تاریخ په ټوده تیاره کې پاته دی دمازندران په جګړه کې چې
دسیدال خان په مشرۍ شوی وه اته زره هزاره دسید علی خان اوزبردست
خان ترقوماندې لاندې له دوهم پیښتر سره چې یوملک دبرش زره پوځ -
دیسره ؤ اوافغاني عسکرصرف اوولس زره کسه ؤ په هغوکې اته زره هزاره
غازیان ؤ چې د روس دې ستر لښکر ته پي شپنو مناکه ماتی ورکړی وه او

هم دا زبردست خان وُ چې شیراز یې له اته میاشتې جنګ وروسته
فتح کړ او د شیراز د فاتح لقب یې واخست له اصفهان سره نزدې ډکلنا با د
ترجګړې وروسته د جوړې خبرې هزاره وُ مسترد ې کړې او د ایران له
کاملې فتحې پرته یې په بل څه غاړه نه ایسته د روس دوهم پیټر ته صفوی
طهماسپ اطمینان ورکړې وُ چې په افغاني اردو کې یوه برخه هزاره دی دوی
زموږ هم مذهبه دی زه به دوی تشویق کړم چې ستاسې په مقابل کې
ونه جنګیږی خود جنګ په ډګر کې قهرمانو هزارو رستم هم وشرماوه او د
طهماسپ لافې یې درواغ ثابتې کړې همداسې ایراني قواؤ تمه درلوده چې د
مذهب تاثیر به دوی ترخپلو ملي مصالحو تېر کړی مګر د رښتیا پر میدان
یې د ځان په مقابل کې دغره په شان ولاړ ولیدل او همدا د دوی د واقعي
وطن دوستۍ جذبه وه چې د کندهار تر تسلیم کېدو وروسته چې د شیبار
آخري او فیصله کنه جګړه هم تېره شوه مګر د هېواد دې توریالو بچو خپل
همت ونه بایله او د وینې تر آخري قطرې یې د نادر په مقابل کې د ننګ توری
ووهلې دا د دوی د وطن دوستۍ تر ټولو لوی ثبوت دی چې پرته له کندهاره
نور په ټول افغانستان کې نادر دونه تباهي، ظلم او بربریت ندی کړی خورشیدِ
جهان نومی تاریخ چې د ایراني تاریخونو فوټو کاپي ده لیکي چې په دای کنډی
ده زنګی جاغوری مالستان ګزاو او اجرستان کې موڅنګه تباهي او بربا دي
جوړی کړی د دوی مینی مو وسوځولی او د دې یاغي او باغي اولس قتلِ
عام مو وکړ ځکه چې دوی د مریي توب رسۍ غاړې ته نه پرېښوده -
خورشیدِ جهان لیکي چې نادري پوځونو د یاغي او باغي هزارو کورونه وسوځول
او مېنې یې ورانې کړې او د دوی ښه مړي او روحانیون یې قتل عام کړل
او د دوی هلکان یې په کابل کې چې نادر کابل ته ورسېدی د غلامانو
پطور د نادر حضور ته پېش کړل او هغو پوځونو ته چې هزاره وُ ته یې ماتې

ورکړې وه ډېرانعامونه او اکرامونه ورکړل شو او ډېرې ونازول شول،
نازول کېږي خو هغه څوک چې د ډېرو سختو جګړو تر عهده وتلی وي
دا پخپله د هزارو د مړانې ثبوت دی نورو د نادر نوکري قبوله کړه
مګر د هزارو بچي د غلامانو په توګه نیول کېدل که دوی بې ننګي
کړې وای د دوی بچي به ولې غلامان کېدل دا چې له هزارو سره
جګړې روانې وي یوازنی کوټ چې له کندهار ماسوا پاته و هغه د
زمیندا ورکوټ و چې دولتي عسکرو د امیرالامراء بهادرخان اندړ
تر قیادت لاندې له دښمن سره ډغرې وهلې او مقابلې کولې. هغه څه
معلومات که لما سره دی هغه د دښمن له منابعو څخه دی زموږ د خپلو
منابعو څخه تر اوسه داسې معلومات لاس ته نه دی راغلی چې د دې زمرو
مېړو کارنامې ځنې ښکاره شي هغه وخت چې کلب علی خان له ګرشک
څخه نادر د زمینداور او هزاره جات په فتح مامور کړنو زمینداوریان او
هزاره د غره پشان د دوی مخې ته ودرېدل د زمینداور د زمرو
کارنامې هم لکه د هزارو او نورو پښتنو پشان د تاریخ
توري کندې ته لوېدلي دي خو یوه واقعه چې ایراني لیکوالو یاده کړیده
هغه داده چې کلب علی خان هغه پښتانه چې له دوی سره نوکران
و و دې ته وهڅول چې تاسې په کلا کې له افغانانو سره رابطې
پیدا کړی چې له موږ سره همکاري وکړی ډېرې روپۍ به
ورکړو دوی کوشش وکړ په قلا کې یې څوک پیدا کړل او هغو
ته یې وویل چې تاسې له موږ سره د جاسوسی له لارې مرسته
وکړی ډېرې روپۍ به درکړو د کلا پښتنو له یو څه پس وپېشه
وروسته هم ښه وکړل څه روپۍ یې ځنې واخیستی په عین حال کې
یې بهادرخان خبر کړ بهادرخان هم دوی ته اجازه ورکړه چې

چې تاسې لار ورسره ونیسی پښتنو عسکرو هم هم ښه تره له
دوی سره خپله رابطه ټینګه کړه او د کلا حال به یې ورکاوه
وروسته دوی ورته وویل چې تاسې موږ ته د کلا دروازه
پلاس راکړی هغوی هم ورته ښه وکړه په ډېر مهارت یې
پروګرام سره جوړ کړ په ټاکلی شپه یې دوی راوغوښتل دلته
بهادرخان هم خپل پټونی ورته کړی ؤ پر ټاکلی وخت چې دوی
ښه ترا د پښتنو په ګیره رادننه سول نوله یوې بلې خوا د ټوپکو په
اوربل د دوی استقبال وسوله هرې خوا د توپکو تر اورلاندې
سول که به چېرې یونیم په تېښته ځان وایست هلته به تورزن
ځلمی ورته ولاړ ؤ هغو به یې کار ورتمام کړ په هر صورت له
راغلیو یرغل ګرو څخه څوک ژوندی نه ولاړل پدې تباه شوی یرغلګرو
کې ډېر د فراه الکوزی او دایران د چربک له طایفو څخه ؤ نادر چې
پدې واقعه خبر سو نو یې کلب علی کندهار ته وغوښت او تر
لرګو لاندې یې واچاوه او سخت یې وواهه او له کاره یې برطرف کړ
پرځای یې دیوان قلی بېګ افشار او یار بېګ سلطان توپچی باشی مقرر
کړل او نور پوځونه یې ورسره راولېږل نو موړی چې هلته ورسېدل
له یو لړ سختو جګړو وروسته پدې بریالی شول چې کلا ته نقب
ورولی او په هغه نقب کې یې د بارود و چاودنه وکړه او د کلا دیوال
ونړېدې پښتنو بیا هم سخت مقاومت کاوه د شوال د میاشتی
پرلسم تاریخ کال ۱۱۵۰ بهادرخان تر یو لړ شرایطو وروسته تسلیم
شو له هغه وروسته چې د زمینداور کلا تسلیم شوه کندهار یوازې
پاته شو شاه حسین ته تر ټولو لویه او نه جبران کېدونکی کمی د هغو
سترو رجالو او مشاورینو او سترو جنګی سردارانو وه لکه سیدال خان

سپه سالار امیرالامرا بهادرخان اندړ زوړجنګي سردار بابوجان
بابي اوس له شاه حسین سره داسې با تجربه جنګي مشاورنه وُ حُلمی
شاه حسین ته چې کوم شی کم وُ هغه د داسې مشرانو کمی وه او بس
کندهار دغره پشان د دښمن مخ ته ولاړ وُ د ښار د ساتنې وړجنګي
پوځ موجود په کندهارکې تر دوو کلو پورې هر ډول لوازم موجود
وُ حتی دغوښې نیستی نه وه رمې به راغلې هغه وخت چې به یې مالونه
ښارته راوستل پوځ به ورووت په زور به یې راتیرې کړی د نادر
محاصرې د کندهار پر روحیه هیڅ تاثیر نه درلود نادرچې دافغانستان
په جګړوکې خپل ډیر عسکرله لاسه ورکړی وُ تریوې اندازه پښتانه د نادر د جنګ
پر تکتیک هم بلد شوی وو نو دوی دا اټکل کاوه چې که کومکي لښکرې راورسیږي موږ په اسانه نادرته
ماتې ورکولای سو نادر خپلې ټولې لښکرې په کندهار راټولې
کړې او محاصره یې سخته کړه پر ښار شاوخوا یې برجان جوړ
کړه د هغو په منځوکې یې دوه دوه برجه نور جوړ کړل او په
هغوکې یې هم عسکر واچول خو بیا هم نادر بیریدی چې که
دوی ته کومک راورسیږي ما ته به ستر مشکلات تولید کړي

اشرف خان توخی

اشرف خان توخی یو جاه طلبه سړی وُ او له شاه حسین
سره پر دې مخالف وُ چې ملا زعفران میران زی توخی باید وزیر
نه وي او اسلام خان جلالزی ته چې د شاه محمود او شاه اشرف له
خوا د تهران حاکم زبردسته جنرال وُ ولې په درنه سترګه ګوري یعنی د
دولت د رجالو په تعین کې یې ځان حقداره باله. شاه حسین دا نه ورسره
منله هغه وُ چې دی له شاه حسین څخه خوا بدی سو او له خپل ورور

لله یارخان سره د میزانی او تیری له لارې دهرات په چناران
هغه وخت نادرته ورغی چې نادر له ابدالیانو سره اخته وُ نادر
اشرف خان له خانه سره وساته او ده وروریې اصفهان ته
واستاوه ظاهره یې وظیفه ورکړه او په باطن کې یې غمل واشرف خان
ترهغو پورې له نادر سره وُ ترڅوچې نادر کندهارته راغی کندهار
ته چې نادر راورسیدی اشرف خان ته یې وظیفه ورکړه چې ته
په غلجو کې خوک پیدا کړه چې له مونږ سره همکاري وکړي اشرف خان
پدایوه کال کې یوخان ترکی چې اصلاً ترکی اسمعیل خیل او دلوناوی
وُ اویو مهراب سلطان بابي دادوه کسه پیدا کړل نادرته یې دخپلو
ملکرو په جمله کې وروپیژندل مګر له دروسره قومي ملاتړ
نه وُ فقط څپله یې هم دجاسوس همراه بلد وظیفه اجراکوله
ترهغو پورې چې کلات تسلیم شو نو اشرف خان په آزادانه
ترڅه کورته ولاړ او هلته یې ترڅنګ سره راوغوښتل او دنادرد
همکاری دعوت یې ورکړ توخیږ ورته وویل چې زمونږ وروسره
زامن ټول له شاه حسین سره دی مونږ څنګه ستا اودنادر ملګري
کولای سو اشرف خان توخي په مرګ اونابودی تهدید کړل دلته یو
کم شمیر خلکوده ته دهمکاری وعده ورکړه هغه وچې دغو خلکو چې د
همکاری وعده ورکړه په کندهار کې له خپلو قریبانو سره رابطه
قایمه کړه او هغه یې له اشرف خان سره همکاری ته تشویق
کړل هغوی هم د خپلې کورنۍ اومشرانو له توصیې سره سم
له اشرف خان سره ارتباط ونیو دلته چې نور توخي پدې خیانت
اودسیسه خبر سول هرڅوڼه کوښش چې یې وکړ د محاصرې
کړې دوړه سخته شوې وه چې هیڅ دوول خبر امکان نه درلود چې

کندهار ته تېرېدي اشرف خان خپلوار تباطیانو ته خبر ورکړ چې په هرقیمت چې وي له مونږ سره د شاه برج په نیولو کې مرسته وکړي هغو ورته وویل چې د شاه برج پیره کوونکې څه وخت مونږ ته پلاس راسي دغه اوسنی برج چې زمونږ پلاس کې دی دا پلاس درکولای سوله شاه برج څخه ماسوا په نبل ځای نادر قناعت نه کاوه نادر په دې ارتباط او وعدو چندانی اعتماد هم نه درلود هلته خبرونه ورته راتلل چې د غلجو لښکري د تولبدو په حال کې دی نادر له خپلو مشاورینو سره مشوره وکړه چې زمونږ وخت دلته د پرتېږو سره دا کلا پدې موجوده توپخانه نه فتح کېږي مونږ به ولاړ سو لوی تازه دمه لښکر به برابر کړو اولوی توپونه به راوړو بیا به ننوځو دې ښار چاره وکړو اشرف خان چې د نادر له تصمیم څخه خبر سو د هېر خوابدی سو او ملا آدینه ته ورغی هغه ته یې خپله قصه وکړه چې ما کار کړیدی ته په هرقیمت چې وي نادر له خپله تصمیمه راوګرځوه ملا آدینه د نادر د پر ګران مشاور و ملا آدینه له اشرف خان سره نادر ته ورغی او ورته وې ویل چې په دا یو نیم کال کې فقط اوس مونږ په دې بریالی سوو چې په کلا کې د اشرف خان په مرسته څوک پیدا کړو اوس نه باید چې مونږ دا طلایي چانس له لاسه ورکړو خوله د پرو خبرو ورو سته ملا آدینه نادر په دې قانع کړ چې یوه هفته نور هم اشرف خان ته وخت ورکړه اشرف خان بیاله خپلو ارتباطیانو سره په تماس کې سو او هغه یې د نادر له تصمیم او د دوی په ارتباط د خلکو خبر پدلو څخه خبر کړو او د دې له بدو عواقبو څخه یې وبېرول بله ورځ هغو خبر ورکړ چې پخلسمه ورځ د شاه برج د پیرې وار مونږ ته رسېږي د ښار لښکر به سره بدلېدل یوه ټولی عسکر چې به ننوتلو

ؤ پنځه ورځې وروسته به په بل برج کې ؤ دا خوشخبرۍ اشرف خان نادرته ورووړه د نادر اعتبار نکېدی خو ملا آدینه ورته ټینګ ؤ اخر فیصله پردې وشوه چې ملا آدینه ذمه ووهله چې لومړی سړی به زه یم چې پر کلا به ورخېژم د ټاکلی ورځې د پاره نادر هر ډول ترتیبات یول ارتباطي عسکر واشرف خان ته ویلی ؤ چې زموږ ستاسی ټاکلی ورځ د جمعې ورځ ده د جمعې په ورځ چې خلک ښار ته لمانځه ته ولاړسي تاسې به راځی او موږ به زینې درو ځړوو نادر د دې حملې د پاره له هرې طایفې څخه درې درې سوه کسه سرتیری داوطلب وغوښتل د غو طایفو درې درې سوه کسه غښتلی سرتیری د دوی په اصطلاح جان فدا کړل چې هغه حمله کې دغه طایفې وی، افشار، جمشیرک، کردان، ابدالیان بختیار وغیره د جمعې په ورځ د نادر سرتیری دلته منتظر او پر کلا ولاړ عسکر هلته منتظر ؤ چې خلک د جمعې لمانځه ته سره ولاړل د شاه برج له خوا اشاره ورته وشوه ایرانیانو له ملا آدینه او اشرف خان سره فوراً ځان ورورساوه څه زینې دوی ورسره وړې وې څه هغو ورته راوځړولی خوله وعدې سره سم لومړی سړی ملا آدینه ؤ چې پر کلا وروختی ایرانیان چې څنګه کلا ته وختل فوراً یې د دروازې د — خلاصولو کوشش وکړ دروازه یې خلاصه کړه نادر فوراً نور لښکر پسې ورواستاوه.

خوشحال خان خټک ښه ویلی دي:

د بل چا توری ټوپک ویشتلی نه یم
که ویشتلی یم زه بیا په خپل ټوپک یم

د نادر پوځ فوراً دغره ډډې ته هڅه وکړه او توپونه یې دغره ډډې ته پورته کړل،

که بکی پښتنې نجونی دي بکی
نادر لوړې تر شاه برج کړې زنبورکې
دنادر پوځ دغره ډډې ته زغلی
لوړځایونه دغره نیسی بیا نارنج له دغه ځای په توپوولي

دنادر پوځ چې دغره ډډې ته توپونه پورته کړل فوراً یې ښار تر اورلاندې ونیو، وایي:

که ګډې په غلجو بدبختي ګډې
ځکه ولي نادر ښار دغره له ډډې

نادر چې دښار دروازه او شاه برج ونیو فوراً یې خپل ټول اردو ته له هرې خوا دیرغل امر وکړ او له هرې خوا حمله شروع شوه دا ددې دپاره چې افغانان هرچیرې مصروفه کړي:

که ډبرې دخزې دسر ډبرې
نادر راوستې له درولورو لښکرې

جګړه له هرې خوا په خپل ټول توان شروع شوه خواصل د مطلب ځای د شاه برج سیمه او دروازه چې د سرپوزی بازار ته راخلاصیږي نادر دخپل توان عمده برخه و دغه ځای ته متوجه کړه چې پښتانه عسکر رارسیدل دوی دغره ډډ نیولی ؤ په لومړی کلاکې یې هم نفوذ کړی ؤ افغانی عسکر له رارسیدو سره سم په ایرانیانو راپریوا ته جګړه انتهایي شدت ته ورسیده پښتنو په غبرګو لاسو توری وهلې دنادر ستر اردو پر ښار له هرې خوا یرغل شروع کړې پښتنو نرو ښځو توری وهلی د قلا له ختیزې خوا څخه ښځو دفاع کوله یوه ناوه وایي:

که اړه پښتون نر ښځه وه اړه
نادر کړه شروع کړه له درولورو جګړه

دکندهار کلا مثلث شکل درلود شمالي خوا يې دکابل هرات لوی سړک
ته راخرمه ده شرقي خوا يې د نوی بنار خواته خرمه ده جنوبي خوا تقریباً
په نهښتی حساب ده اوغربي خوا يې دخزی دغره د سرکلا ده داچې
وايي نادرله درلودوجګړه شروع کړه. جګړې په شپه کې هم دوام
وکړ دا یوه خبره دیادولوړه ده چې په هغه وخت کې بوه مدرسه
د بنځو دروزنې دپاره جوړه شوی وه علاوه پر لیک لوست بنځو ته
ته عسکری زده کړه هم ورزده کیده پښتنو بنځو میرمنو به علاوه
پرلیک لوست حربی تعلیمات حاصل کول نو دغه ځای روزل شوی
پېغلو میرمنو هم له خلمو سره تورو ته لاس کړ وله خلمو سره يې
سمې توری وهلې دا ناره د دې خبرې شاهدي وايي :

که حوری د هوتکو بنځې حوری
په منځ میدان ولاړې له د بنمن سره په کلکه وهي توری

پېغلې له یوه ځه جنګ ته ولاړې وې خو میرمنې چې به دکورله کار
خلاصی شوی بیا به يې توره واخسته دوطن اوقوم په ویاندې به يې
خپله فریضه پرځای کوله.

ځینو پېغلو به دولونه غاړې ته اچولې د جنګ په لومړنیو صفونو
کې به کرځېدې او بدلې به يې ویلې او ځلمی به يې جنګ ته تشویق کول
په دې پېغلو کې دېرې نومیالی او مشهورې دادی، فیروزه هوتکه،
رنها ناصره، رنګه هوتکه، پاینده هوتکه دالاندې سندرې يې
ویلې او ځلمي به يې ننګ ته تشویق کول، بدلې دادي،

مه خوری مروندونه پرمخ دولغلی دمرانې قدمونه
مه خوری مروندونه

بری دې نه وی ځلمی تل په جنګ کې مرینه
مه خوری مړوندونه

ټوټې ټوټې په تورو راسې
دبې ننګی آواز دې مه راځه مینه
مه خوری مړوندونه

پرمخ درواخلی دمړانی قدمونه
بری دې نه وی ځلمي تل په جنګ کې مرینه
ټوټې ټوټې په تورو راشې
مه خوری مړوندونه

چې پرهارونه دې ګنډم خوله درکومه
داسندرې به چې ښاغلیو ځلمو اوریدې بېذریغه توری یې وهلې
بله بدله یې داده :
تړئ توري ډالونه * پرځلمو تل وی دګولیو بارانونه
تړئ توري ډالونه
که دی داصف ورپرشانکړ * بیادې نوولې زه ستایم کاږه بریتونه
تړئ توري ډالونه * په زنیو تل وي دګولیو بارانونه
ښاغلی وینم پکې توسول * دنامردانو خالق مات کړی وزرونه
تړئ توري ډالونه * په زنیو تل وي دګولیو بارانونه
زمریان پرمخ موزیان پرشاځي * ملا دې سي ماتې بدوي دکام نومونه
تړئ توري ډالونه * په زنیو تل وي دګولیو بارانونه
ولې دشا پرلورې کورې * پلار دې په قبرکې چیچي درته غاښونه
تړئ توري ډالونه
که نوم ژوندی دقوم غوارې * په ټټریوسی دخنجرو پرهارونه

تړی توری ډالونه

که له دشمنه په شارالې * نر به مو وژنی بیا بم بیا یې ناوی نجونه
ماتې دې کور پرلوری کېږي * دښمن مو مست نن مو په کور ولي توپونه

تړئ توری ډالونه

علاوتاً ښځو د مړو او ټپیانو د جنګ له میدانه پورته کول او د باندې ایستل چې د مېرمنو وظیفه وه د ټپیانو درمل د هغو پېغلو او مېرمنو وظیفه وه چې پخوا په دولتي مدرسه کې روزل شوی وی دا وبو او ډوډی رسول د جنګ صفوته د مېرمنو وظیفه وه غرض دا دی چې د جنګ په میدان کې نارینه او ښځو په ګډه جګړه پرمخ بیوه او یو شان یې د وطن دفاع د ځان وظیفه ګڼله ښاغلیو ځلمو به د دښمن صفونه رېبل خود بې پایه غلیم تازه دمه عسکرو به بېرته د مړو او ټپیانو ځایونه ډکول له بده مرغه د پښتنو مړو او ټپیانو ځایونه به نه ډکېدل جنګ هم همداسې روان وو کله کله به توری پاته لاس په لاس به جنګ شو، یوه ناره ده:

که لاسونه دملو اوږده لاسونه
چې د څڼیو جنګ شروع سو په هر لاس باندې نیول دوه دوه سرونه

جنګ له هرې خوا روان ؤ خو غلیم غره ته ډېر زور کاوه حتی د غره پر سر هم جنګ ؤ چې یوه ناره کې وایي:

پښتنو د غره پر سر وهلی توری
احمد خان اندړ کړې ناري ورونو مه ګورئ هم توری دي هم حوری
که اور دی د زینو په غره کې اور دی
پښتانه په غره کې تیت دی شاه حسین له نارنجه جنګ ته سپور دی
که چټی شاه حسین توری چټي
ایرانیان ځنې په شا سول د سورکی په حد یې جوړې د مړو کوټې

دغلجو امدادي لښکرې نه راغلی وځنډ ېدې دلته نوچا تهمت وایه چاارمان کاوه دا ناری د دې صحنې حال بیانوي :

زینو بې وې وروره ستا بخت بیده سو
احمدزي خوشنه زمریان ؤ اوس پدې احمدزو څه ناورین سیده سو
د ټغرو با دغیرت اورده مړ سوی
بلوخان خوتوریالی ؤ بلوخان ته ده پکورکې ورجوړ سوی
زینو بې ویل وروره ستا تاله بیده ده
آدم خان خوتوریالی ؤ په آدم سلمانخېل څه ټکه سیده ده
گل سمې ویل حسین خا نه ځان کړه څنګ ته
احمدزی سهاک اوس نه درځي دې جنګ ته
زینو بې ویل ستا د قوم وسواس ډېر ده
غلجي نه راځي بیا جنګ ته غلجي یودی دنادر زور باندې تېر ده
خدایه څه شوه زرملی سپاره اوپلی
شاه برج نادر کوره کی اوس له غره څه د نارنج سرونه ولي
شاه حسین ویل دنادر بېړی ده شکه
سلیمانخېل اندړ رانغله په بنګو تره کی ولویده څه ټکه

جنګ په شدت دښار په ړومبی کلاکې روان ؤ پښتنو نرو ښځو د ننګ توری وهلې خورشیدِ جهان دایراني مؤرخ له خولی لیکی : « افغانان مثل شیران ژیان و فیلان دمان صفوف افواج نادري رامیگسستن میشکستن و می مردند جان شیرین خود را فدای ننګ و ناموس میکردند مگر افواج نادری دم به دم افراد تازه نفس را وارد میدان ساختند وجای کشته شدگان را پر میکردند » پښتنو نارینه او ښځو د ننګ توري وهلی د ملک او ملت په وړاندې یې د خپل پور پریکړه کوله چې دښمن یې لاهم بې تعریفه پاته نسو له ښار څخه دباندې په دوهمه کلاکې د ټپیانو د زمل ځای ؤ پښتنو

مېرمنو به ټپیان درمل کول ښار د نادر د توپو تر مسلسل اورلاندې
ؤ خو د ښار نر، ښځې کم لویې هېچا بې له دې چې د مرګ پروا وکړي
خپلې وظیفې اجرا کولې بې بي زینبه د شاه حسین مشره خور چې
د ټپیانو د درمل ځې سرپرستي یې په غاړه درلوده له نارنج څخه به تر
ښار د باندې په دوهمه کلا کې درمل ځي ته راتله نو د دې له دې
ستړیا او محنته څخه ېښتنو ته افسوس درېږي وایي:

که زوره د خالق له لویه زوره

چالید لی زینو به وه اوس تر ښار وزی ټپیانو ته سر توره

ایراني مؤرخ لیکي د شوال پر نهمه نادر قصد وکړ په هر ترتیب
چې وي باید د لومړی کلا د باندې برجان ونیول شي هغه ؤ چې خپلو
پوځونو ته یې امر وکړ چې یو یو برج ونیسي ایراني لښکرو پر ټولو
برجانو جګړه شروع کړه ګل خان سهاک چې د بدی د مشهور برج قوماندان
ؤ او دری سوه کسه د ده تر قوماندې لاندې ؤ د ډېرو زیاتو
ایراني لښکرو تر هجوم لاندې واقع شو شاه حسین چې په هره
ساحه کې د جنګ څارنه کوله ګل خان یې په ډېره تنګسه
کې ولید فوراً له خپلې شاهي محافظې رسالې سره کومک ته
ورورسېدی خو چې هر څه زیار یې ویاستو ګل خان یې
خلاص نکړای سو دا ناره دا صحنه ښیي:

که زوره د بدي په برج ډېر زوره

شاه حسین هم ورسپور سو خو ګل خان یې نکی خلاص له دغه اوره

پدې برج کې درې سوه کسه د ګل خان تر قوماندې لاندې -
ننګیالو ټولو د شهادت جام نوش کړ یو هم په بې ننګی دشمن ته تسلیم
نشو پدې ډول په څو شپو کې څوارلس برجه یو یو د نادر بلاس
ورغلل او دغره سر ته یې توپونه پورته کړل او د ډې مشهور

برج یې چې د کلا په لویدیځه برخه کې واقع دی د توپوتر مسلسل
اور لاندې ونیو او یو خونړی هجوم یې هم پر ورور خو د
برج مدافع شاه ځلمو پر شا وتمبول بله ورځ چې د پنجشنبې ورځ
او د ذیقعدې ۲۲ وه نادر درې درې سوه کسه له کردانو جمشیرکو
افشارو او ابدالیانو او بختیارو څخه داوطلبه ځلمی وغوښتل او د -
سهار له لمانځه وروسته یې یرغل شروع کړ پښتنو هم ځان
ورته هوسا کړی ؤ مهاجمین یې له رارسېد وسره سم پوه پناه
کړل ایراني مؤرخ وایي : څرنګه چې افغانان له دې حملی څخه خبر
شوی وځکه یې دا زلمی دنابودی کندې ته ورسول چې لږ شمېر
ژوندی ځنې راغلل دجمعې په ورځ د ذیقعدې پر ۲۳ نادر دکندهار
بترښار دباندې یولوی دربار جوړ کړ افسرانو او عسکرو ته یې
لوی لوی انعامونه ورکړل او ډبر یې ونازول او د ذیحجې پر
دوهمه یې له ایراني اردو څخه غښتلی امیران انتخاب کړل او د
حملې ټول اسبابونه یې برابر کړل لکه څنګه چې په تېره حمله کې
بختیارو ښه کارکردګی نه وه ښکاره کړی نو بیا یې بختیار مخې
ته کړل او په شپه یې عسکر وروستول او په شیلوکی یې پټ
وساتل سهار وختی نادر پخپله دچهل زینو خواته ورغی او هلته پټ
ځای ودرېدی چې د کلا دخلکو له دید څخه محفوظ ؤ د سهار
دلمرله ختو سره سم یې حمله شروع کړه دنادر دادستور ؤ چې مقصد
به یې یو ځای مګر حمله به یې پر ټول ښار شروع کړه دلته د
نادر اصلي مقصد د ډډی برج او دروازه وه چې د دوهمې کلا ډېر مهم
ځایونه ؤ خو حمله پر ټول ښار شروع شوه مطلب یې دا ؤ چې دافغاني
عسکرو زور سره وویشل سی هغه ؤ چې اصلي مقصد د ډډی برج او

دروازه وه چې درې واره يې ايراني ښکر تمبولی وُ خو تازه دمه هوسا ايرانيانو به دمړو او ټپيانو ځايونه ډکول خو د پښتنو مړو او ټپيانو ځای خالي پاته کېدی ايراني مؤرخ وايي:

«اگرچه افاغنه سه مرتبه بهمت مجموعي چون شيران ژيان و فيلان دمان به جانب برج متهاجم گشته لازمه تهور وجلادت به تقديم رسانيد اما چون اقبال برگشته بود آن جلادت وجان فشاني بکار نمي آيد جز دادن جان حاصلی پيدا نکرد»

هغه وُ چې دنادر دم په دم هوسا او تازه دمه عسکر وسترې کنډ کپرکړل پداسې حال چې نيمگړتيا يې نسوای پوره کېدای پرشا کېدو ته مجبور شول برج او دروازه يې ځني ونيوه پدې کلا کې دمهماتو او خوراکی موادو زېرمې او رنځورګر وُ ددې ځای له لاسه تګ داکثرو پښتنو وار پار خطا کړ دنادر لښکرې لکه سيلاب په کلا ورتنوتلې دلته نو جګړه انتهايي خطرناک حال ته ورسېده دجنګيالو زلمو اکثره برخه تباه شوه او يو شمېر په اسارت کښېوتل دلته نو نور دلاس پلاس جګړې توان زياته چا نه دربوده درېيمه کلا يې چې دښار کلا بلله کېده ورته ټينګه کړه او دتوپکو جنګ يې شروع کړ چې دا يوه ناره ده وايي:

که خلاصي کړې نادر خلاصي کړې لارې

تر هوتک او ناصر جارسم دتوپکو لا مضبوطې کوی وارې

دلته نو دښار ټولې برخې دنادر دتوپچي قواو تراورلاندې شوې اکثره برجان او دروازې نادر اشغال کړې يوه آخري دروازه چې دبرګی په دروازه مشهوره وه لا پاته وه چې محافظين سترې او هر ډول مهمات ورتمام شوی وُ، داسې وايي:

که لوړې د برګی دروازې لوړې
اوس به خود تارا څخه نیسی موږ تمامې کړې د دې سرو ډبرې

شاه حسین پخپله د قیتول کلاته پورته سو اوله هغه ځایه یې ټولو توریالو پښتنو ته د مقاومت امر وکړ نادر هم ټول ښار د قیتول په شمول د توپو تر اور لاندې ونیو چې وایي:

که لوړی د قیتول دروازې لوړې
دنادر توپونه مات کړی هلته هم خېزی دشنو توپولو خړې

ایرانیانو یوازې دنارنج په کلا کې چې د ښار اصلي کلاده نفوذ وکړ مګر پښتنو په بې ساری توګه مقاومت وکړ او سخت ډېر تلفات یې ورورسول او په بې ساری توګه یې پرشا ووهل چې داسې وایي:

که دوړې دنارنج په کلا دوړې
ایرانیان باندې ګډېږي پښتنو یې تر لښکر ایستلی سوړې

هغه ؤ چې ایرانیان یې له کلا پتاخته وایستل بل وارته بیا دوی ودې کلا ته دراتلو جرئت ونکړ او ښار یې تر ګوله باری لاندې ونیو چې وایي:

په توپو ولي لوی کم دغره له سره
که توپونه د دوی نه رای پښتنونه کاوډار له دې لښکره
که بده دنادر بده لښکره
نه ځلمی پر ځای بیده سو نه یې ونښت لاس د پېغلو له ځګره
په شاه برج کې زینبه ګرندی ښوری
له خپل قوم باندې له هر خوا ګولی پرې اوري
که غورزي په قیتول کې ګولی غورزي
شاه ګل پروت کاږه بریتونه زینبه یې له پښو تر سره ګرځي

شاه ګل د عبدالغفور خان زوی د حاجي انګولمسی ؤ چې د توپ په

کولی ولګېدی او شهید شو .

که تنګ دی نادرخان په ژوند کې تنګ دی
په زور راغی د ښار منځ ته پر برجانو د پنا باندې جنګ دی
له جګړې د پردو لښکر فاني ؤ
خو نادر چې دلته راغی د نادر راتګ یو کاڼی آسمانی و

نادر چې د ښار منځنی کلا ترخپل کنټرول لاندې راوسته او حربي ذخیری او د خوراکي مواد و ټولې ذخیرې چې په ډېر زیار سره ټولی شوی او سائل شوی وې د دښمن په ګوتو کښېوتې دلته نو د پوځ او اولس زیاتې برخې د فتح او بری تمه وخته د ښار په برجانو او کونجانو کې محاصرو عسکرو وسلې کښېښودې او تسلیم شول خو هوتکو او ناصرو په یوه انتحاری یا په اصطلاح ترو روستی سلګی پوری جنګ او مقابله شروع کړه ولو که د دوی تعداد لږ پاته شوی خو تو ریالیو پېغلو او مېرمنو د دوی مرسته کوله شاوخوا یې پر ښار د توپکو جګړه شروع کړه د مقاومت طرف دارو دا ناري ویلی دي :

که کافر دی غلجی ټول په زړه کافر دی
شاه حسین ته څوک رانغلو په وژلو یو هوتک او بل ناصر دی

شاه حسین چې ترو روستی سلګی پورې د جنګ تصمیم نیولی ؤ او ناامیدی د ده ماغزو ته لار نه لرله :

شاه حسین ویل زما ربه جلیله
ته له دا وار کومک راکړې توری زما ته ده دلو ړ پښتانه هیله

د مقاومت طرف دارو د شاه حسین د تصمیم به کلکه طرفداری کوله او دی یې ستایه :

که زمری دی شاه حسین د جنګ زمری دی
له میدانه پرشا نه ځي وایي یا به دلته مرم یا مې بری دی

شاه حسین چې دغلجو دځند څخه خوابدی کېږي او دناصر وله بېدریغه ملاتړ او سرښندنې څخه خوښی ښکاره کوي نو وايي :

ماخپل نه پېزانده له سره
دی جګړی را معلوم کړ بل خپل نلرم بې قومه د ناصره

د اولس له خوا مرکې باندې شروع شوی چې سوله وکړه ځان دې په تکلیف کې اچولی دی له هرې خوا دتوپو دندوکار دی دی په ځواب کې ورته وايي :

شاه حسین ویل ځان نه ژغورم له درده
بیا به دغه افشار وايي پښتون کام دی په جګړه کې نامرده
شاه حسین ویل کوم جنګ څومې وس وسي
ولې زه پدې بېرېږم چې د پلار ګټلی نوم په ما بد نسي

د ښار او سېدونکو خپلو مرکو او ننواتو ته دوام ورکړ ورته ویل به یې چې له هرې خوا ډېرې اوګولی پر را اوری پدې حال کې تر څو جګړه وکړو ده په ځواب کې ورته وویل :

شاه حسین ویل که هر لوری ډېرې
اما دا جنګ به پرېږدم ښتنې دکټواز به شي خبرې

دکندهار ښاریانو د پښتنو ستري دیپلوماتي او سیاست مدارې بې بي زینبې ته مراجعه وکړه او له هغې څخه یې مرسته وغوښته هغې هم د ښار د سپین ږیرو رایه ومنله او د مرکې له خلکو سره ملګری شوه او شاه حسین ته یې وویل چې نور جنګ فایده نکه بې ځایه قوم مه باندې وزنه دا چې ته لا دغلجو د لښکر تمه لرې درې میاشتې د ښار په منځ کې جګړه وشوه که راتلای اوس خو به راغلی ؤ دا ناره ده چې وايي :

که بده شاه حسینه و روره بده
په یو کال نادر مات نسو ولی وژنی باندې قوم ترا بده

هغه ؤ چې داتوریالي بادشاه داولس رائې دې ته اړکړچې دسولې
پېشنهاد ومنې اویوه جرګه یې د بی بی زینبې ترمشرۍ لاندې دخبرو
اترو دپاره ونادرته ولېږله نادرهم جرګې ته مهرکړې قرآن شریف ورکړې
ؤ او په کې لیکلی ؤ چې هېڅوک به په تاسې غرض نکوي هرچېرې چې ځئ
اوکه دلته اوسئ نو محترمانه وضعیت به درسره کېږي جرګه بېرته ښار
ته راغله او د نادر مهرکړې قرآن شریف یې اعلیحضرت شاه حسین ته
راوړ او د نادر منلی شرایط یې ورته بیان کړل شاه حسین صباسها
امروکړچې نغارې ووهئ چې اولس سره راټول سی صباسها روختي
نغارې ووهلې شوی داولس زاړه واړه سره راټول شول اعلیحضرت -
شاه حسین دجرګې حال او د نادر شرایط ورته بیان کړل او ورته وی ویل
چې زه په دې پوهېږم چې غلیم نه قرآن مني او نه دقول پابند دی ده به
لامنلی وه خو په څنګ کې داسې بېغیرته دښمنان سته چې دهغو
زړه زموږ له کاملې تباهی ماسوا په بل ډول نه په کرارکېږي نو په
هرقیمت چې وي زموږ وتباهی ته نادرهڅوي زه خو دا وایم چې غلیمان
مولکه مېږې حلالوی ترهغه دابهتره ده چې د زمرو په څېر تر
خپل مرګ مخکې دښمن هم روغ نسي پاته زمارایه داده چې باید تر
وروستی سلګی پورې دمېړو په څېرو جنګېږو که څه هم اوس د کامل
بریالیتوب امید لږ دی مګرما اوس له سپین ږیرو سره منلی ده چې د
اولس رایوته مراجعه کوو هرڅنګه چې داولس خوښه وه هغه به کړو
توریالو ځلمو تورې پورته کړې چې ترمرګه پورې جنګ مګر داولس
سپین ږیرو چیغې کړې د دې کونډو رنډو د دې زړو وړو په

خاطر دلوی خدای (ج) روی ته وګورئ نور له خپله هوډه لاس
واخلئ هغه ؤ چې له ډېره شر و شوره وروسته اولس په اکثریت
فیصله وکړه چې سوله کوو وروسته څوکسه سپین ږیری ولاړل
نادر ته یې خبر ورو ړ چې موږ سوله منو نادر هم خپلو
لښکرو ته د اوربند امر ورکړ شاه حسین هم خپل لښکر ته
د اوربند امر وکړ مګر د لښکر ځلمی په روغه سخت ناخوښه
ؤ ځکه دښمن ته تر تسلیم یې مرګ غوره باله درې ورځې داسې تېرې
شوې څلورمه ورځ نادر وغوښته چې تاسې د جوړې له شرایطو
سره سم خپلې وسلې تسلیم کړئ هغه ؤ چې وسله وال ځلمی
د ښار دوهمې کلا ته راووتل او خپلې وسلې یې پر ځکه کښېښودې
هغه وخت چې ټولې وسلې تسلیم شوی نادر هغه جنګیالي ځلمي -
بندیخانې ته بوتلل او بندیان یې کړل زیاته نو هر ډول مقاومت
تمام سو یوه ناره ده :

د قیتول پر سرې د ړابیا ولاړه
یوه لو ناره یې وکړه حاجي میرخان ګټلی هولکه ولاړه
دا په ویاړ شروع شوی له ویاړه ډکه دوره په ویر تمامه شوه .
پدې جګړو کې داسې کورنۍ نه وه چې یو یا څو غړی به یې
له لاسه نه وو ورکړی مګر دا ورځ تر هغه ټول ویرویر جنه
وه ، پنځه ورځې وروسته نادر دربار جوړ کړ شاه حسین د ښار له
سپین ږیرو او مشرانو سره ورغی خو نادر لکه څنګه چې له بادشاهانو
سره وړ وی هغسې رویه ورسره و نه کړه فقط یو سر سرې ستړی.
مشی سره وکړل هغه هم په ولاړی نادر ورته وویل چې ته به له خپلې
کورنۍ سره ځې مازندران ته هلته به ستا درناوي کېږي نور سپین ږیری

مشران اوافسران يې جلادانو ته وسپارل اوستركې ځنې وكښې چې
دا ناره يې شاهدي وايي :

پښتني لا د سيدال په سترګو ژاړي
چې نادرله كامه نور سپين بن يرې غواړي

خورشيدِ جهان نومی تاريخ چې دايراني تاريخ وفوتو كاپی ده وايي:

« چند روز بعد شاه حسين با اولدان شاه محمود و قوم و اتباع خود و تمامی
رؤسای غلجائی دربارگاه زرين قباب نادری كه درخارج دروازه بابا ولی
استاده بود به سلام نادرشاه آمدند و نادرشاه تمامی اسباب و اموال و
امتعهٔ افاغنه را بسپاه بخشيده و شاه حسين را با اولاد و اقربا و بنی اعمام
روانه مازندران و سكونت ايشان را درآن ولايت مقرر ساختند طايفهٔ
غلجائی كه مشتمل بر دو گروه بوده می آمدند يكی موسومه به هوتكی
متعلق به شاه حسين و ديگر معروف توخی منسوب به اشرف سلطان چون
اشرف سلطان درابتداء ورود فوج نادری مشرف ملازمت نادرشاه
مانده بود حكومت ايل توخی بعلاوه حكومت قلات تفويض او شده و قلعهٔ
قندهار را كه سمت غربی آن به فراز كوهكی واقع بود بحكم نادری ويران و
منهدم و با خاکِ تيره برابر ساخت همان نادرآباد را دارالملکِ و مقر حكام
فرموده چون عهد كرده بودند كه منبعد از اهل اسلام احدی را گرفتار قيد
اسارت نسازند حكم به كشتن تمامی اسيران قلعه اصدار يافت و ايالت آن
ولايت به عبدالغنی خان الكوزايی حاكم ابدالیان كه سالکِ طريق اخلاص بود مرحمت
فرمود بگرشکِ و بست و زمينداور از روسای ابدالی حكام تعيين نموده و جمعی
از جوانان كارآمد غلجائی را ملازم ركاب گردانيده و نادرآباد و توابع آنرا سكنای
ابدالی كه درنشاپور و باقی محل خراسان توطن داشتند اختصاص داده مقرر
داشتند كه ابداليان از خراسان كوچيده آيند و درآن امكنه سكونت نمايند

وغلزایان وهوتکی مع قبایل بخراسان رفته درنشاپور سکونت ورزند بنا بر آن جماعه را در بیست چارم ماه مزبور از رود ارغنداب گزرانیده روانهٔ خراسان ومکان مقرر ساختند»

پدې ډله ایزو وژلو کې هغه پېغلې اومېرمنې هم شاملې وې کومو چې د ملک د دفاع په خاطر د ننګ توری وهلې وې دا پېغلې اومېرمنې له جنګیالو ځلمو سره سمې جلا دانو ته وسپارلې شوې چې تور پیکی اوتور اوربلونه یې د وطن د دفاع پلاره کې قربان کړل په کندهار کې د مېشته غلجولو یه برخه هوتک اوتوخي ؤ نورلږ لږ ؤ د توخیو جنګیالو چې دا ډله ایزه وژنه ولیده څه د ځان د موګ له وام څه د اشرف خان له لمسونی د نادر نوکري قبوله کړه او یو زیات شمېر نه نادر نه اشرف ته د بېننګی غاړه نه کېښوده بلکه د جلا د توره یې غوره وبلله له نورو همسنګرو سره یې د شهادت جام نوش کړ هغه ؤ چې پرته له هغو خلکو چې د نادر په پوځ کې شامل شو د نورو کډې د ایران پرلور وایستلې شوې او یو مختصر سامان یې د ابتدائی ژوند د پاره ورکړ شو نور یې د ټولو کورونه چور کړل او کډې یې د ایران پرلور وایستې پدې کډو کې په لومړی درجه هوتک دوهم توخي دریم ناصر او نور غلجی ؤ دا یې یوه ناره چې وایي:

که وکی نادرخان وکی لوی غدر
زینبې ته یې قرآن واخست اوس کوی نه د خالق د قرآن قدر
نادره بادشاه وادې وړه بېړیه
که ته هر څو زورور یې د لوی اختر په ورځ څوک بیایي بندیه؟

هغه توخي چې د نادر عسکري یې قبوله کړه بیا هم د نادر د اعتبار وړ نه سوه د الله یار خان د اشرف خان د ورور تر قوماندانی لاندې ایران ته واستول شول حتی بیا تر هغه وخته په ایران کې ؤ چې د نادر له مرګه لا هم

څوکاله تېرشول داکډې د هرات دغوریان له لارې ایران ته بوتلی شوی
چې دا ناره یې تصویروي:

که نریه دغوریان لارې نریه
پښتنو مغولو بوتلی سپینې خولې توري کرڅیه

کډې چې له کندهار وایستل شوی نو د هېواد له ګوټ ګوټ څخه سرتېرو
ځلمو پرغلځی ډلې جوړې کړی کډې چې تر هلمند تېرې شوې دی سرتېرو
ځلمو پر هغه ایراني عسکرو چې د فراریانو محافظین وُ حملې شروع کړی
او فراریان به یې ځنې راوګوزول او د هېواد لرې سیمو ته به یې لېږ دول
پدې برخه کې یوه قصه د یوې سپین سرې ښځه وه یوه یې پېغله لور وه
سپین سرې چې به هر وخت لمونځ وکړ نو په دوعا کې به یې ویل چې
خدایه ملک له ګړندو سپرو مه خالی کوی یوه ورځ یې لور ورته وویل چې ته
پرڅه شی دوعا کوې موږ دا فشار په بند زوانی یو ته ګړندو سپرو ته
دوعاوې کوې مور یې ورته وویل چې که په ملک کې ګړندی سپاره
وُ زموږ پوښتنه به وکړي خو یوه ورځ چې ما سپښین کډو واړول له لرې
یوه دوړه پیدا شوه دوړه رانږدې کېده خو چې کډو ته راورسېده دا
دافغانستان د سرتېرو شاه زلمو ډله وه چې له یرغل کړو څخه یې پښتانه -
سپین ږیری او پښتنې راخلاصولې د دې ډلې مشر او قوماندان
شېرمحمد تاجک وُ شېرمحمد له رارسېدو سره سم بندر سواو په
ایراني تیپ باندې راپرېوت چې لږ شېبه وروسته یې ایراني تیپ
تارومار کړ او دغه کډې یې ځنې خلاصې کړې یوه ناږده چې وایي:

سانګه سره وټی یې تورده
چې له کښې په تیپ راګډ سو شېرمحمد تاجک ډکې وراری وروردہ

یعنی شېرمحمد او دده ملګری خولږ دی حمه به مړه سي خوزمري

شېر محمد کډې خلاصې کړې او دغره خواته يې بوتلی پدې ډول ډېرو
شاه زلمو پښتنې بندی راخلاصې کړې او داخلک ډېر په هرات -
بادغيس کې پاته شول او يو شمېر دنادرله مرګه وروسته له ايرانه
راوتښتېدل او په افغانستان کې خواره واره شول او خپل ځانونه يې
د کوچنيو طايفو په نومونو خلکو ته معرفي کړل . خو يوه زيا ته
برخه يې ايران ته ورسول شوه چې له مشهده بيا ترمازندرانو
پورې ځای پر ځای واچول شول ډېر يې کله ناکله له ايران
څخه راتښتېدل او افغانستان ته راتلو خو خپل ټاټوبی ته له ډاره
نسوای راتلای ځکه دابدالياتو دولت دنادر ميراث خورورته
ښکاره کېدو دامير عبدالرحمن په زمانه کې يو شمېر خلک راغلو خود
حکومت له خوا په نيمروز کې تم کړای سو داخلک هوتک، توخي او
ناصر دی هلته يې په چخانسور کې ځکې ورکړې چې اوس لاهم هلته
آباد دی نور يې دهرات په اوبه ، ميران زی توخي دهرات په کرخ
طاهر او ساګزی هوتک په بادغيس کې توخي هوتک او ناصر د
کوچنيو طايفو په نامه لکه رميزي پروزی جلال زی بابيان ساوت
خېل اکازی ميران زی موسی زايي وغيره په دا وروستو کلو کې يو
څه خلک له مشهده څخه راغلو چې اوس په مشهدي موسی زو سره
مشهور دي. يوې طايفې دهوتکو دروزګان په ديراوت کې ځان په نورزو
پورې وتاړو چې په بابوزو نورزو سره مشهور دی ناصر ډېر دکابل
خواته له سيدال خان سره ولاړو چې په شکر دره د کودامن کې او
لغمان او سرخرود دننګرهار کې آباد شول او څه په قندوز کې آباد
شول هوتک او توخي هم دکابل خواته تللی دی چې هوتک په ميدان
کې دچين زو پنامه دکابل ختيځ ته دحوت خېل په ده سبز کې پيروزي

توخي همداسې په کو دا مان کې هم چين زی هوتک شته چې اصلی تون زی هوتک دی د هوتکو يوه برخه پېښورته چې تندزی هوتک دی تللی دی چې په امب او دربند کې يو رياست جوړ کړيدی اوس هلته په تناوليانو مشهور دی او يوه برخه د پېښور په ورسک کې بابيان ميشته دي همداسې د هندوستان د بهوپال نواب توخی ميران زی دی او د جوناګړ نواب بابي هوتک دی خو د دغو خلکو د تګ وخت ښه نده راته معلوم د بابيانو يوه برخه د کويټې په ښار کې په بلوچستان کې ميشته دي.

د اولس خلک له خپلو کورو را ايستل

هغه وخت چې خلک نادرته تسليم شونو نادر خلک له خپلو کورو څخه، د ښار څخه د اطرافه څخه راوايستل دارغنداب د رود په غاړو يې سره ټولول نارينه يې د بېګار په توګه د ښار په نړولو مامور کړل په چا يې د کندهار ښار نړاوه په چا باندې د - نادرآباد نومی کلا پرشاوخوا خندق کېښ په دې وخت کې يو سړی چې حاجي مشکی نومېدی په کام هوتک ساګرايي ؤ له د باندې غالباً د قلات له خوا کندهار ته رارسېږي او ځان په دا بېګاري خلکو کې شاملوي دلته دوه قوله دی څوک وايي چې دی په هغو خلکو کې ؤ چې ښار يې نړاؤ څوک وايي په هغو خلکو کې ؤ چې د نادرآباد په قلعه يې خندق کېښ نادر به شخصاً پر دا دواړو کارو ګرځېدی او د کار څارنه به يې کوله حاجي مشکي يوه توره په هره توګه چې وه له ځانه سره تېره کړی وه هغه وخت چې نادر د دوی د کار د کتلو د پاره د ده حد ته راورسېدی زمری حاجي مشکی حمله پر وکړه او په

توره یې وواهه خو نادر زغره اغوستی وه معمولی تپی سو چې له یوې مختصرې جګړې وروسته حاجي مشکي شهید کړای شو چې داڅو ناري په حاجي مشکي پورې جوړې شوي وايي:

حاجي مشکي ویل ابلکې وچې کلکې
یو وار پښې رالاندې واخله په اوردوکې پښتنې ماته ګیله کي

مطلب یې هغه پښتنې دی چې دارغنداب درود پر غاړه نادر له خپلو کوروسره را ایستلی او یو ځای کړې بیا وايي:

حاجي مشکي ویل سمندي له پښو لنډې
یو ار پښې رالاندې واخله چې نادر په پښتنو وهي ملنډې

بیا وايي:

حاجي مشکي ویل چې خدای نکړي زه بڅه کړم
په نادر مې واری وکړ پولادي توره مې زنګ خوراک یې نکړ

یوه بله ناره ده وايي:

شاه نادر ویل زما له دغه ریګه ډارسي
یو غلجی مې پکې مرکړ لویه خدایه سر پریکړې به ولاړ سي

په دې ډول د دې تورزن ننګیالی قرباني بې ځا یه ولاړه نادر کم تپې شوی ؤ زر جوړ سو د حاجي مشکی یا دونه عبد الغفار هوتک هم پخپل دیوان کې کړی ده چې وايي:

چې ګرجیان یې قتل کړی — حاجي میرخان غلجیي ده
لکه زمری هسې ګډېږي — حاجي انګو هوتک غازي ده
چې در افضیانو بېخ یې وکېښ — شاه محمود هوتک غازي ده
چې د ننګ توري وهینه — جنګی هوتک رستم ثاني ده
چې په نادر یې ګوزار وکړ — حاجي مشکی اسحق زايي ده

د مرهټیانو بیخ یې وکېښ احمد شاه سدوزایي ده
درست پښتون یې په آرام کړ د تیمور ښه بادشاهي ده

نادر چې د کندهار د ښار له نړولو او د نوي کلا د خندق کار پای ته ورساؤ ټول غلجي بندیان یې نراو ښځې تورو ته وسپارل او مړه یې کړو بیا یې نو د کابل خوا ته حرکت وکړ نادر چې شاه جوی ته رسېدې د غلجو لښکر چې له ډېرهٔ اسمعیل خان څخه نیولی بیا تر ګردېز کابله ننګرهاره سره راټولی شوی وی وګیلان ته راورسېدو د البښکرې په ډېره بیړه له خپلو ټاټو بیو څخه راروان شوی ؤ د البښکرې د احمدزو لښکر د بلوخان ټغر تر قوماندې لاندې د سلیمان خېلو لښکر د آدم خان او رحیم ګل تر مشرۍ لاندې د سهاکو لښکر د مدت خان سهاک تر مشرۍ لاندې خو د ناصرو د لښکر مشر نسو معلوم چې څوک ؤ خو دا یوه ناره ده چې وایي:

نادر ځي خوا د کابل ته یې تعجیله
د ګوملې ناصر راغلو سلیمان خېل، اندړ، ترکی وکړه سیله
په شیبارکې پر دښمن کړې سخت وارده
ډېر سړي یې ځنې مړه کړو نادر وویل واخه د غم شیبار ده

د واړه قواوې د شیبار په سپین او هوار میدان سره رانزدې شوې - نادر چې خپل بری له اوله سره د توپخانې به برکت ګټلی ؤ بیا یې هم خپله توپخانه د پخوا په ډول عیاره کړه مګر پښتنو له بده مرغه خپل تاکتیک بدل نکړ آدم خان اندړ چې د سپرو قواؤ قوماندان ؤ پر سپین میدان یې د دښمن پر بې شمېره پوځ او عظیمې توپخانې یرغل وروړ او د نادر توپچي قواؤ په خپل ټول توان او ظرفیت له موقع څخه استفاده وکړه غلجي چې د انتقام جذبې تقریباً لېونې کړې ؤ په داسې جوش پر دښمن ورغلو خو افسوس چې ډېر

شاه زلمی مخکې تردې چې دښمن ته ورورسي دتورو توپو دګولیو قربانی شو چې یوه ناره وایي :

آدم خان اندړه ودې خېزه ولی
دغه ځای دجګړې نه ؤباندې خوارې دې کړې ډېرې نازولی

غلجي دخوني زمرو غوندې دنادر په پوځ ګډ سو داسې په خرب توري یې ووهلې خوله بده مرغه دمخې وتلی شاه زلمي چې سپاره هم په اول سرکې ډېر تباه شو یوه بله ناره ده چې وایي :

په مدت سهاک دتورو پلوشې دي
ډال یې هم اوتاک کې پاته خو په لاس یې دفولادو دستکلی دی

بل ځای وایي:

رحیم ګل سلمان خېل وکړې ببکۍ
که زوندی ولاړم ترکوره راپسرکی ده رابیا توره څونۍ

خو ترټولو انتحاری جګړه دناصرو وه ناصرو یو ډول کمیسان چې لکه دتن زمانې د دریشی کمیس لمن به یې ترپایه چاک واغوستل کوم وخت چې به په جنګ کې هوډ راغلو نو به یې دکمیسانو دلمنو څاکو نه یوله بله سره وتړل معنیٰ یې داوه چې نه به سره تښتو پدې ورځ ناصرو همدا هوډ سره کړی ؤ دوی دسیدال دابدله اروېدلی وه چې ویلی یې ؤ :

سیدال خان ویل زما سترګې یې وکښې
ګړندی ناصر به نسی راله کښې

یعنی که ګړندی ناصر راورسېدو زما دسترګو غچ به واخلي ناصرو داسې دخرپ توری وهلې چې نورنو د تنقید ځای نه ؤ پرپاته اودا ناره داصحنه راښیي:

سیدال خانه دواړه ناصر ملکه
له سرویږده سر راجګ کړه چې ناصر له سپینو تورو سره څکه

یعنی ته خو مریض یې یوازې له بالښته سر راپورته کړه او وګوره چې موږ دخپل پور غاړه ایستلی ده که نه جګړه دماښام تر ترغونی روانه وه خو دشپې تیارې غلجي له حملو پاته راواستو دواړه لښکرې سره جلا شوی دشپې حاجي رسول خان جنګي جرګه جوړه کړه او جرګې ته یې وویل چې زموږ دمخې شاه زلمی اکثره له منځه ولاړو په دې پاته مړو موږ نشو کولای چې دنادر و دې ستر اردو ته ماتې ورکړو سهار چې بیا موږ پر نادر حمله کوو دده توپونه بیا موږ ته بې پایه زیانونه رارسوي موږ به له دې میدانه څه شا ته سوکه نادر پر موږ د حملې هڅه وکړه دا به زموږ په ډېره ګټه وي چې دی له توپخانې راجلا سي او که نسو راجلا موږ به بیا په داسې ډول پرده حمله نه کوو لکه دنن ورځې غوندې جرګې دا تجویز خوښ کړاو افغاني لښکرې دترنګ درود جنوبي خواته پورې وتې سهار چې لمر راوخوت نادر ولیده چې غلجو دترنګ دراده پر جنوبي غاړه سنګر نیولی دی نادر نور جرئت ونکړای شو چې دخپلې توپخانې تر سیوري دباندې پر غلجو حمله وکړي غلجو هم دخپلو غلطیو تکرار لازم نه باله پدې وخت کې نادر پر میدان باندې پرتو دغلجو شاه زلمو دسرو په پرېکړه پیل وکړ چې بیا وروسته یې مناره ځنې جوړه کړه او دا ناره یې شاهدی وایي :

پښتنو کړی نادر ته لویه غوره
نادر هم ډېرو رته ټینګ سو مناره یې کړه له سرو دزنیو جوړه

سبا ته نادر له دغه ځایه حرکت وکړ دکابل خواته غلجی څو ورځې په صلاح او مشوره دلته پراته وُ خپل مړی یې پټ کړو وروسته دبیا تجدید

د قوا د پاره خپلو خپلو سیمو ته سره خپاره سول پدې جګړه کې د نادر د قواؤ لارښوونه حاجي ډونګی د مدت خان اسحق زایي پلار او خان تره کی کوله له شیباره یې خان تره کی له څلور زره فوځ سره د قلات د کلا قوماندان وټاکو او کلات ته ولاړې پدې جګړه کې دغو قومو برخه درلوده سلمان خېل احمدزی سهاک ترکی اندړ ناصر توخیو چندانی نفر نه درلودو د دوی هغه دکار خلک نادر په خپل پوځ کې شامل کړو او له کندهاره څخه یې ایران ته ولیږل هوتک تقریباً ټول په قندهار کې سټ سوی په شیبار کې داسې برای نام کسان له حاجي رسول خان سره ؤ د شاهي کورنۍ څلور تنه په دې جګړه کې چې ژوندی پاته ؤ له ټولې کورنۍ دغه څلور تنه ؤ چې په دې کې هم غني جان پدغه جنګ کې شهید سو دانور درې حاجي رسول خان نور الله خان او پیر محمد ژوندی پاته سول دا جنګ یوه شاعر داسې ستایلی دی:

د شیبار توره سلیمان خېل اندړ په دواړو وکړه
تره کی ښه سوله ګدو سره یې جوړه وکړه
..... هندو سو په میدان کې یې ویجاړه وکړه
ناصر د ننګ توري وهلې څو یې ملاوخته

نادر چې قره باغ ته ورسېدی دغلجو له احتمالي حملې څخه بېغمه سو نو یې یو شمېر نور عسکر د نصر الله میرزا په مشري بیا هزارؤ ته واستول یوه ډله عسکر یې له پخواله هزارؤ سره په جګړه لګیا ؤ په داسې حال کې چې زمرو هزارؤ د لوېشت لوېشت مځکې دفاع کوله نادر له قره باغه دغزني پرخوا تېر سو غزني بې ټکه پوکه تسلیم شو او استقبال ته یې راووتو نادر له دغه ځای د کابل خواته ورو راندی شو په کابل شیر خان او رحیمداد خان یوڅه مقاومت وکړ پر بالاحصار یې یوڅه

مقابله وکړه خو زرله پښو وغورزېدل نادر څه موده په کابل کې تم سو
بیا مخ په جلال آباد ورروان سو څو د بتخاک په حصه کې سعد الله خان
دامان الله سلطان زوی او ملا محمد د پیر محمد میاجی زامن یو څه
لښکرې سره ټولې کړې او په نادر یې حمله وکړه دې حملې او جګړې
نادرو دې ته وهڅاوه چې دی دلته تم سو د تګاو نجراو او چاریکارو د خلکو
د تر ټلو په مقصد یې لښکرې دغو سیمو ته واستولی د دې دوه جې وې
یو خو دایران په اشغال کې د دغو سیمو خلک د ملا پیر محمد میاجي
او امان الله سلطان برخه اخیستی وه بله دغه او سنی حملې چې دا نو د
غلجو اخري ګواښ وُ چې د نادر په مقابل کې ښکاره کړنا در په نوموړیو
سیمو کې ډېرې جګړې وکړې خلک یې وژل کورونه یې سو ځول
په همدغه مقام د نادر هغه قواوې چې څوک له پخوا څخه هلته له
هزارو سره اخته څه دا نوی قوا وې چې له قرباغه نادر ولېږلې
میرزا مهدي د نادر وقایع نګار په ډېر فخروایي چې د هزاره
روحانیون، مشایخ او مشران حتی به زن ومرد آن ابقا نشد همه
را از تیغ گذرانید وخانه وکاشانه شانرا خراب وسوزانید. او همدلته یې
د هزارو ځوانان د غلامانو په توګه راوستل د نادر حضورته یې پیش کړل،
نادر دا پوځونه ډېر ونازول، ډېر انعامونه یې ورکړل او افغاني مقاومت
یې سرته ورساوه.

دهوتکي دورې مشاهير

بهادرخان اندړ :

بهادرخان اندړ د حاجي ميرخان له لومړنيو ملګرو څخه دی چې د خپلواکۍ داخستلو په ټولو جرګو کې يې برخه درلوده پټه خزانه د ده رسمي القاب صدر اکابر دوران امير الامرا کاږي چې د اوس وخت صدراعظم به ورته ووايو شاه حسين به دی ورور بالوده د شال او ږوب سيمې فتحه کړې او د افغاني سرحداتو حدود يې تر ډېره جاتو او بنو پورې ورسول او د ملتان ځنې سيمې يې هم تر تصرف لاندې راوستی. بهادرخان اندړ د زمينداور د کلا قوماندان ؤ د نادر د حملې په وخت کې چې تر يوه کال زياته موده يې له نادر سره ډغرې ووهلې او درانه تلفات يې نادري لښکرو ته ورواړول په پای کې دوه مياشتې - مخکې د قندهار تر سقوط د زمينداور قلعې سقوط وکړ خو وروسته د قندهار له سقوط څخه د کابل خواته ولېږ دېدې او د کابل په - چاردهی کې ميشته شو او هلته يې يوه کلا جوړه کړه چې اوس هم په قلعه بهادرخان سره مشهوره او د دې زاړه قهرمان سردار ابدي آرامګاه هم هلته ده .

سیدال خان :

سیدال خان دابدال خان زوی په قوم بارخیل ناصر دملي قایدله
لومړي جرګې څخه نیولی بیا په هر ډګر کې دملي قاید شاه محمود
شاه اشرف او شاه حسین سپه سالار پاته شوی دی او ټولو په
بې ساری توګه په درنه سترګه ورته کتل په شاهي کورنۍ کې
که هر څو کورنۍ شخړې پېښې شوی سیدال خان نه دی پکې
متهم شوی سیدال په ۳۱ کلنه زمامداری کې څه په خارج څه په
داخل کې نه دخپل نه دپردی هیڅ ډول تهمت پر ده نه ده ویل
شوی په ټولو ایراني کتابو کې په نورو افغانانو پورې قسم قسم
تهمتونه ویل شوی دی مګر پر سیدال خان باندې هیڅ ډول-
تهمت نه دظلم نه دشوکې نه دیوې بلې بدی شوی دی
که سړی ورته ځیرشي فکر نه کوم چې داسې شخصیت په دې دوو
بادشاهیو لکه افغانستان او ایران ټولو اکه پاته شوی وي او
هیڅ تورداغ دې دده پرلمن نه وي لګېدلی . په هر صورت زموږ
داستر قهرمان په کوچي توب کې زوکړې اولوی شوی دی د
ژمي مینه یې زاوه وه چې په اوسنی وزیرستان کې ده ددوبی مینه
یې داتغر علاقه وه د سیدال خان پلار ابدال خان د ناصر وخان
دسلطان ملخي معاصر او دسلطان ملخي په ټولو جګړو کې ګډون
درلود سیدال خان ناصر علاوه دافغانستان او ایران له فتحې او
دفاع له روسي قواؤ سره دایران په مازندرانو کې ډغرې ووهلې او د
دوهم پیټر قواؤ ته یې سخته ماتې ورکړه چې په نتیجه کې یې په هغه تړون
کې چې دده او دروسانو ترمنځ لاس لیک شو درې ولایته لکه مازندران ،
استرآباد او ګیلان له روسانو څخه بېرته راوګرزول دملک په دفاع کې تر

اخیری سلګی وجنګېدی چې دده له سقوط سره دهوتکو شاهنشاهی هم سقوط وکړ سیدال خان ناصر د قلات په کلا کې له دوو میاشتو لاس پلاس جګړو وروسته د نادر د جګړنو پلاس کښېووت ددې نامزده دښمن له خوا دسترګو له نعمت څخه محروم شو وروسته له هغه چې نادر غوښته چې غلجی سره وشیندي نو یوزیات شمېر یې دایران خواته ولېږ دول سیدال خان او ناصران یې د کابل خواته ولېږ دول چې سیدال خان پخپله دکودامن په شکردره کې میشته سواو هلته د سیاسنګ په هدیره کې په ابدي خوب بیده سو ناصر څوک په شکردره کې پاته شول څوک د سرخرود او لغمان خواته ولېږ دېدل او یو شمېر یې د قندوز په شاوخوا کې آباد شوی ځنې د پېښور خواته هم راخپاره سو دا یو څو ناري د سیدال خان غمجنه پېښه داسې تمثیلوي:

پقلات نادر په توځړ وي ښخې
سیدال خان باندې راووت لوی لښکر یې د نادر کړ بزی بزی

چې د سیدال قواوې د دښمن له ناپایه قواؤ سره په مقابله کې مخ په ختمېدو سوې نو وایي:

سیدال خان ویل ما پدې ځای ارمان نیسي
د ناصر وزنمې نسته اوس به خود ما د نادر پوځونه نیسي

نادر چې سیدال خان ونیو نو ویې ویل: « نه می زیبد که با چنین سردار بزرگ رفتار نازیبا شود مگر من طاقت دیدن چشم های این گرگ باران دیده را ندارم » وروسته له هغه د سیدال خان سترګې نادر وکښی او بیا د شیبار میدان ته د ناصر ولښکرې راورسېدې نو ناصر ودا ناره ویلی ده:

سیدال خانه د واړه ناصر ملکه
له سرویږده سر راجګ کړه چې ناصر له سپینو تورو سره څه که
له زمریانو سوې خالي دهېواد درګې
نادر وکښې د سیدال مېړنی سترګې
له ژړا د پښتنو په مخ سر پاږی
د سیدال سترګې نادر ایراني کاږي

بابوجان بابي:

بابوجان بابي د کرم خان زوی چې کرم خان د هوتکو له مخور وڅخه ؤ او د اتغر د علاقې او سېدونکی ؤ او په ټولو جرګو او جنګوکې د ملي قاید ملګری ؤ هغه وخت چې ګرګین ووژل سو بابوجان بابي له ډېرو جنګي مېړو سره د ماسور له خوا ښار ته راننوت او پرښار یې قبضه وکړه ډېر ګرجي محافظین یې له منځه یوړل وروسته د حاجي میرخان نیکه له خوا د قلات حاکم وټاکل سو هغه وخت چې شاه محمود ایران ته تلی بابوجان بابی درې زره کسه هوتک توخي ترکی اکاخیل راواستول او له شاه محمود سره ملګری شو د پټې خزانې د مؤلف په قول په جګړو کې یې داسې مړانې ښکاره کړې چې رستم ورته حیران ؤ د شاه محمود او شاه اشرف په وختو کې د لارو بندر حاکم ؤ وروسته چې نادر په قندهار د حملې اراده وکړه نو یې امام وردی بیګ د کرمان حاکم ته د بست او ګرشک د نیولو امر ورکړ شاه حسین هم د دوی مقابلې ته بابوجان بابي ورولېږه چې په نتیجه کې یې امام وردی بیګ ته سخته ماتې ورکړه او تر ډېرو پورې یې وزغلاوه علاوه پردې ښه عالم او

شاعر ؤ چې تفصیل یې پټې خزانې ورکړې دی شاه حسین دی
د بست حاکم وټاکه چې ډېره موده یې د نادر د قواؤ په
مقابل کې د بست د کلا دفاع وکړه څو په پای کې نادر ته تسلیم شو
بیا یې سرنوشت نه سو معلوم.

ملا پیر محمد میاجي:

ملا پیر محمد میاجي د ملا محمد سرور زوی د هوتکو د دورې
له سترو عالمانو او روحانیونو څخه ؤ چې په ټولو مجاهدو او مبارزو
کې د ملي قاید ملګری ؤ دی اصلاً د کابل د شاوخوا او سېدونکی ؤ
او د مشهور جنګي سردار امان الله سلطان د خور زوی ؤ دی په
لومړی جرګه کې د ملي قاید ملګری ؤ وروسته د اصفهان له
نیولو شاه محمود اصفهان ته وغوښت او هلته د بادشاه مرشد او
مشاور شو هلته یې له روافضو سره ډېرې مباحثې وکړې او دوی
ته یې قناعت ورکاؤ د روم علماؤ د پیر افغان خطاب ورکړی ؤ
د شاه اشرف په زمانه کې هم د شاه اشرف پیر مرشد ؤ هغه وخت
چې امان الله خان له شاه اشرف څخه مرور او افغانستان ته راغی
شاه اشرف دی په امان الله پسې مرکه راولېږی خوده امان الله خان
بېرته رانه وستای شوای، ګرونسکی پتاریخ سیاح صفحه ٦٦ کې
لیکي: هغه وخت چې شاه اشرف له شیرازه راووت نو د فسا پل چې
د افغاني عسکرو د تېرېدو لاروه ده د پله ذمه واخیسته او د پله
حفاظت ته ودرېدی او افغاني عسکر یې تر پله راتېر کړل او د خپلو
وطنوالو د په حفاظت راتېرولو په لاره کې یې د نادر له لښکرو سره په اخ
ډب کې ځان تر وطن جارکړ د فسا تر پله یې ځان واچاؤ پیر افغان

شاعر او مؤلف ؤ دوه کتابونه یې په پښتو ژبه لیکلی ؤ چې یو افضل الطرایق علم اخلاق بل یې الفرائض فی رد روافض ؤ د ده زوی ملا محمد هغه وخت چې نادر ترکابل تېر سو لښکرې سره برابرې او سختې جګړې له نادر سره وکړې.

میر عبدالله خان بلوڅ:

میر عبدالله خان بلوڅ د قلات خان او د موجوده قلات د خانانو نیکه دی ډېر غښتلی مېړه ؤ د ملي قائد له کلکو ملګریو څخه ؤ د افغانستان د آزادی د لومړی صف له مجاهدینو څخه ؤ ځکه لومړی ځل هم په دې مرام کې ده قدم اوچت کړ او ګرګین ته یې د مالیې له ورکړې ډډه وکړه او هم یې د ګرګین له وژلو وروسته د میرویس نیکه وراره یار محمد ته پناه ورکړه او خوندی یې قندهار ته راورساؤ همدا نامتو مېړه بیا وروسته د سند له عباسیانو سره په جګړه کې مړ شو چې بیا یې زوی میر محبت خان پر ځای کښېناست مګر د پلار همت یې نه درلود.

نصرو خان الکوزایي:

نصرو خان الکوزایي د جلدک او سېدونکی او په لومړی لویه جرګه کې یې د خپل قوم نمایندګي کوله وروسته د قندهار له فتحې چې خبر ورورسېدی له خپلو ځلمو سره راغی او د قندهار په ملي قواؤ کې شامل شو.

عزیز خان نورزایي:

عزیز خان نورزایي چې د پټې خزانې مؤلف یې د دلارام پهلوان بولي له

میرویس نیکه سره په لومړی جرګه کې شامل ؤ.

ګل خان بابړ:

ګل خان په قندهار کې د بابړو د طایفې مشر او په لویه جرګه کې یې د خپل قام نمایندګي کوله د ملي قاید له سترو ملګریو څخه ؤ.

نور خان بړیڅی:

نور خان د بړیڅو مشر او د ښوراوک او سېدونکی او په ملي قیام کې د ملي قاید ملګری او په جرګو کې شامل ؤ.

یحییٰ خان د ملي قاید ورور:

په ټولو جرګو کې شامل ؤ هغه وخت چې د ملي قیام د پاره لښکرې ټولېدې د مرغی لښکرې ده سره راټولی کړې او میدان ته یې راوستی.

حاجي نور محمد خان:

حاجي نور محمد خان مشهور په حاجي انګو د یحیی خان زوی د میرویس نیکه وراره حاجي نور محمد خان فقط د میرویس نیکه سیوری ؤ په هر ځای په هر مقام په هر حالت کې ورسره ؤ د ایران په بند کې ورسره ؤ د حج په سفر کې ورسره ؤ په ټولو جرګو کې ورسره و د ګرګین د وژلو په جګړه کې زخمي شو دوی ګولی ویشت سوی ؤ وروسته د قندهار له فتحې او د ګرجي عسکرو له متواترو ماتیو لومړی افغان ؤ چې د سفیر په توګه د ډیلي دربار ته ولاړی او د ډیلي دربار دلس - هزاری جهانګیر ورته ورکړ په جاګیر کې یې دیره اسمعیل خان، دیره غازي خان

بنو او د ملتان ځنې برخې ودکړې له تولې شاهي کورنۍ څخه یوازې
دده او ددده دیوه زوی نورالله خان قبرونه په سیوري کې دښه برلاسن
په هدیره کې موجوددی دا نده معلوم چې دی څه وخت اوځنګه
وفات سو.

یارمحمد دیحیی خان زوی:

هغه وخت چې کرجي لښکرې د بلوڅو اوکاکړ د تر تلو دپاره د
شال کوټ خواته ولاړې یارمحمدخان دملي قاید له خوا له یوڅو
کسانو سره د مرستې په توګه له کرجي لښکروسره ولیږل شو په
حقیقت کې یې دملي قاید پروګرام ملګروته ورساوه: یارمحمد
خان دهغې د لې ایراني عسکرو ملګري وُ چې دشال مستنګ لوري ته
ولاړې او دملي قاید پیغام یې میرعبدالله خان ته ورساؤ دی
دخپل اکا عبدالعزیز له خوا دهغه احتجاج له کبله چې ده پر
کروورو یې کړې وُ وویل شو

عبدالغفورخان دحاجي انکومشر زوی:

عبدالغفور دقلات حاکم و اودنا در په جګړو کې ووژل سو.

یوسف خان هوتک:

یوسف خان هوتک د سیوري دسیمې له خانانو څخه دلومړې او
دوهمې جګې غړي وُ د خپلواکی د جنګ لومړۍ حملې ته یې د سیوري
لښکر راتول کړ.

نصرالله خان:

نصرالله خان ګبر چې په ایران کې په کور سلطان سره مشهور ؤ ځکه ده به تل یوه سترګه چڼه نیرله نصرالله اصلاً سیستانی ؤ په لږه موده کې یې د شاه محمود په دربار کې ستر مقام پیدا کړ په ایران کې یې ډېر ځایونه فتح کړل او ستر خدمتونه یې شاه محمود ته ترسره کړل بد نفسه سړی نه ؤ ایرانیان هم چندانی شکایت نه ځنی لري ګرونسکی د خپل کتاب په ۵۵ مخ کې لیکي: چې د ډېرې بهادری له کبله به افغانانو ایلدرم باله دی د شیراز په جګړه کې لکه شاه محمود د خپل لښکر په مخ کې ولاړ ؤ چې یوه ګولی پرولګېده او مړ شو شاه محمود ډېر په خوابدی سو پخپله جنازې ته ورغی یوه ښه ګمبته یې باندې جوړه کړه او دوه کسه آتش پرستان یې مقرر کړل چې د ده له قبر سره اوربلوي.

زبردست خان د شیراز فاتح:

چې اصلي افغاني نوم یې محمد جان خان دی دی په قوم هزاره او د دولت یارو څخه دی ده ته زبردست خان نوم شاه محمود ورکړ وروسته یو مخ په زبردست خان مشهور شو د شاه محمود له سترو جنرالانو څخه ؤ ډېر ځایونه یې فتحه کړل ایرانیان چې په بدې واخیستو ده ته به یې پناه راوړه د اصفهانک د کلا خلکو چې د شاه محمود خپلوان یې وژلی ؤ ده پناه ورته ورکړه شاه محمود ډېر په خوابدی سو خوڅه یې بیا نه ورته ویل د نصرالله له مرګه وروسته د شیراز د فتح وظیفه وزبردست خان ته ورکړه شو ده شیراز محاصره کړله اتو میاشتو وروسته یې فتحه کړنو یې د شیراز د فاتح لقب وګاټه.

سید علی خان هزاره :

دی د هزارجات له سیدانو څخه ؤ پر شاه محمود ډېر گران ؤ او دلښکرو دیوې برخې قوماندانی یې په غاړه درلوده چې له قزوینه بېرته راقلی یو جاسوس یې ونیر چې د اصفهان د خلکو دوه مخې ځنې ښکاره شوه شاه اشرف دی پخپل ځای کې وساته.

الماس خان :

الماس خان هم د شاه محمود ډېر معتمد، دلښکرو دیوی برخې قوماندان ؤ د شاه محمود د شخصي محافظینو د ټولګیو قوماندان ؤ بیا وروسته شاه اشرف له دې کبله چې شاه اشرف بادشاه سو دی وتښتېدی ونیو او تحقیق یې ترې وکړ وروسته له تحقیقه یې خوشی کړ خو ده دا نیول د ځان توهین وباله، زهر یې وخوړل او ځان یې مړ کړ مګر معلومه نشوه چې دی څوک او د کوم ځای ؤ.

یونس خان کاکړ :

دلومړي او دوهمې جرګې غړی او د خپلواکی د ګټلو د ډګر د لومړی سنګر سرلوړی قوماندان ؤ چې لومړی ځل یې ګرجی جګړن تار مار کړل او د خپلواکی بیرغ یې جګ کړ.

علي داوي :

د نادر افشار له خرا د کاکړستان د اشغال د پاره مشهور ایرانی قوماندان پیر محمد واستول شو خو کاکړو زمرو داسې سره وځپل او وی زغلول چې نادر پیر محمد خان ځان ته راوغوښت او ترلر کولاندې یې واچاوه له -

سختو وهلو څخه وروسته يې له کاره برطرف کړ ځکه دی متهم وُ چې د بېر عسکر بې په کاکړو وځپل علي داوي په شمالي کاکړستان کې د علي داوی دوستی په سیمه کې د نادرله دوهم لښکر سره په سپین میدان ډغرې ووهلې او تر آخري سرې پورې شهیدان شول.

میرسمندرخان بلوڅ :

مخکې د ګرګین تر راتګ میرسمندرخان بلوڅ قندهار اشغال کړ خو خپله قبضه یې ټینګه نه وساتله له یوڅه وخت قبضې وروسته یې چې ایراني پوځونه راتلو ده بېرته کندهار خوشی کړ خو ایراني باچا د انتقام او خپلې قبضې د ټینګولو په مقصد ګرګین کندهار ته راولېږه.

شهدادخان بلوڅ :

شهداد خان بلوڅ هغه څوک وُ چې د ده په بلنه شاه محمود کرمان ته ولاړی.

عبدالعزیزخان بلوڅ :

د شاه اشرف د ترکیې دربار ته استول شوی لومړی افغاني سفیر دی چې په عبدالعزیز استرباني سره هم یاد شوی دی.

محمدخان بلوڅ :

محمدخان بلوڅ د پوځ د یوې برخې قوماندان او د شیراز حاکم وُ چې بیا وروسته لومړی افغاني رسمي سفیر سو چې استنبول ته ورغی او د ده هرکلی ته د استنبول ښار سپین کړای شو او په دې سبب ورده ته د خان سواس یعنی سپین خان لقب ورکړ سو.

شېرخان بلوڅ :

شېرخان بلوڅ دنادرافشار له لښکروسره دنوشکی پسیمه کې سختې جګړې وکړې چې وروسته له ډېرو جګړو چې دوه وارې نادري قواوې بېرته ځنې راپرشا شوی څو په پای کې دمیرعبدالله خان بلوڅ زامن میرمحبت خان او میرامتیاز خان چې نادرته بې له ټکه ټوکه تسلیم شوی ؤ نادر دوی دواړه له خپل پوځ سره ښوراوک ته راواستول دوی په بلوڅو کې بې اتفاقی واچوله څه بلوڅ یې له شېرخانه جلاکړل خوشېرخان دښمن ته غاړه نه کښېښوده څو یې خپل سرد ملک په دفاع کې فداکړه روح یې دې ښادوي.

خدایدادخان سلمان خېل :

خدایدادخان دشاه اشرف له خوا دلاروبندرحاکم ؤ هغه وخت چې شاه اشرف له ایران څخه راووتی خدایدادخان ته یې وظیفه ورکړه چې دشاه اشرف له ورور چې نوم یې نه دی معلوم اوسرورخان ناصرسره په کښتیوکې بصرې ته له ډېروعسکروسره ولاړسي بیا وروسته ایراني مؤرخ محمدعلی حزین په اومان کې لیدلی ؤ سرورخان خوبېرته ځنی راغلی خودخدایداد. او دشاه اشرف دورور په هکله نور معلومات نسته.

ملازعفران توخی :

ملازعفران توخی میران زی دی دی دهوتکو د دورې ډېرلوی سیاسي ډیپلومات دی چې ترکي سرعسکر احمد پاچا ته دافغاني علماؤ دهیئت مشرؤ په شېرازکې له نادرسره دسیدال خان ملګری ؤ وروسته

بیا د شاه حسین له خوا ایران ته واستول شو څو د شاه محمود او شاه اشرف کډې چې هلته پاتې وې را خلاصې او ضمناً له دې ناري څخه برېښي چې د شاه محمود تابوت یې هم راوړی دی:

د زعفران احسان مې زړه دی وروره وړی
یو یې راوستل وریرونه بل یې دی د شاه محمود تابوت راوړی

اسلام خان توخی:

اسلام خان توخی جلال زیي دی، دی د شاه اشرف په وخت کې د تهران حاکم ؤ هغه ؤ چې د شاه اشرف لښکر د مهمان دوست په جنګ کې سخت زیان ولید اسلام خان له تهران څخه له خپل پنځه زره عسکر وسره د شاه اشرف مرستې ته راورسېدا و په مورچه خورت کې له نادر سره وجنګېدی.

اخترخان توخی:

اخترخان توخی شملزایي هغه وخت چې د نادر افشار لښکر و علي داوی او د ده لښکرې د وستی په سیمه کې له منځه یوړې نو یې د داویو ښځې له ځانه سره کندهار ته رهي کړی دی د شینکی د ولسوالی مرکز ته نزدې د لوړګی په سیمه کې اخترخان پسې راورسېدی له یوې خونړۍ جګړې وروسته یې د داویو کډې له دښمن څخه خلاصې کړې.

اشرف سلطان او الله یارخان:

اشرف سلطان د ښالم خان زوی او د علی خان لمسی دی علي خان د سلطان ملخي ورور ؤ اشرف خان او الله یارخان سره ورونه دی اشرف خان

له شاه حسین سره مخالف او نادرته ورغی او له نادر سره ملګری سو چې کندهار محاصره شو او ایراني لښکر د فتح علي افشار ترمشري لاندې قلات ته وخوځېدل سیدال خان پټ له څلور زره لښکر سره له کندهاره پسې ووت د ښهر صفا او قلات ترمنځ یې پر ایرانیانو نا ببره حمله وکړه دا لښکر یې ومحوې ته نزدې کړی ؤ چې نادر له یو ستر لښکر سره - راورسېدی سیدال خان ایرانیان پرېښودو او قلات ته ولاړ په هغه شپه چې سیدال خان پټ په ایرانیانو پسې ووت الله یار خان چې په ښار کې ود شپې له ښاره ووت او نادرته یې اطلاع ورکړه د ده د اطلاع له کبله نادر خپل پوځ له محوې وساته دا واقعه خورشید جهان او نادر نامې لیکلی ده خورشید جهان په ۲۱۷ مخ کې وایي چې هغه جاسوس ته ډېر انعامونه ورکړل شول وروسته له یو نیم کال جنګ او محاصرې وروسته اشرف خان د نادر د غوښتنې له مخې په دې موفق سو چې په کلا کې یو کنډک توخي ملګری او له لارې یې واړوي وتوخیو ته یې وویل چې تاسې موږ ته د - چل زینو برج او د ښار شمالي دروازه په لاس راکړی هغو هم قول ورسره وکړ پنځلس شپې وروسته دغو عسکرو ته د دغه برج او دروازې د پیرې وار راورسېدی نادر هم خپل ترتیبات نیولی ؤ د جمعې ورځ نور خلک ښار ته لمانځه ته تللی ؤ چې دغه کنډک ایرانیانو ته اول د برج له لارې لارو رکړه چې په تناور او خا ته بیا یې دروازه خلاصه او فوراً توپونه دغره ډډ ته وخېزول چې دا ناره شاهدی وایي :

که ګډې په غلجو بد بختي ګډې
ځکه ولی نادر ښار دغره له ډډې

یعنی دا خو د غلجو بد بختي او بې اتفاقي ده چې نادر ته یې موقع ورکړه چې نادر ښار دغره له ډډې ولي :

که بکې پښتنې نجونی دی د بکې
نادر لوړې تر شاه برج کړې زمبورکې

یعنی خلک حیران، ؤ چې څنګه نادر توپونه پرښار راوخېزول نووایي،

که وران د کندهار ښهر نن وران سو
د اشرف توخي له لاسه نن غلجی واړه خواران سو
که بندؤ په نادر بندؤ ټول روخي
خو زما قوم ناپوؤ نادر ماته کړه زما ملا پخپل توخي

وروسته د قندهار له نیولو نادر اشرف خان د قلات بیګلربیګي مقرر کړاو الله یار خان یې له هغو څلورو زرو توخیو سره چې د ځان له وامه نادر په پوځ کې شامل شوی ؤ ایران ته واستول د ابدالی احمد شاه ، وخت کې هم څه موده اشرف خان د قلات حاکم ؤ خو وروسته ی او د ده زوی حلیم خان او وروریې الله یار خان احمد شاه ابدالي ندیان کړل او هلته د احمد شاه ابدالی په بند کې مړه شول.

خان تره کی:

خان تره کی له نادر سره ملګری ؤ د قلات د محاصرې په وخت کې د نادر د قواؤ لارښوونکی ؤ د شیبار له جنګه وروسته د قلات د کلا د عسکرو قوماندان مقرر شو.

مهراب سلطان بابي:

مهراب سلطان بابي د نادر ملګری او د بلوچستان او کاکړستان په ټولو جګړو کې د نادر د عسکرو لارښود ؤ بیا نادر د ښوراوک حاکم مقرر کړ. (خورشید جهان ۲۱۷ مخ).

آزادخان سلیمانخیل:

آزادخان سلیمانخیل دلښکرو دیوې برخې قوماندان سخت توریالی او په هر میدان کې بریالی ؤ په یوه ځای کې چې دی نه ؤ او په سیدال خان ناصر ډېره سخته وه نوداسې ناره ویله شوی ده:

سیدال خان ویل سولښکرې بزی بزی
آزادخان مې توري شپې وخوړکه ورځې

بل ځای وایي:

آزادخان سلمانخیل بیا منګولې سرې کړې
په منځ میدان ورګډ سومرادعلي غاړې بیخ ته ورته پریکړې

دافغاني حکومت له سقوطه وروسته هم آزادخان دایران په شمال کې پاته ؤ دا نه ده معلومه چې څنګه پاته ؤ خوخورشید جهان په ۲۱۷ مخ کې لیکي چې آزادخان نامدار مېړه ؤ او د ډېر لوړ عزم خاوند ؤ او د کریم زند سخت مخالف ؤ خو وروسته یې په جګړو کې له کریم خان سره دوستي پیدا کړه وروسته چې کریم دایران بادشاهي ونیوله آزادخان تر ډېرو کلو د کریم خان په دربار کې باعزته او سلامته پاته سو بیا یې وروسته زوی افغانستان ته راغی او په لغمان کې مېشته سو اوس یې هم اولاده په لغمان کې ده.

ملا زعفران تره کی:

ملا زعفران ستر عالم او شاعر او د شاه حسین د دربار له سترو رجالو څخه ؤ او د شاه حسین د زوی محمد استاد ؤ هغه وخت چې بهادرخان اندړ دشال او ږوب علاقه فتح کړی دا زېری پداسې وخت چې هفته ایز علمي مجلس د بادشاه په مشرۍ روان ؤ دی د باندې راوتلی ؤ چې

استازی راغی او داحال یې راوړنو ده دازېری په شعر داسې ووایه:

د حسین بادشاه د بخت ننداره ګوره
چې یې فتحه په پوځونو ږوب او شال که
چې دازېری یې راوړی دی دربار ته
وزعفران ته ورپه سر زعفرانی شال که

شاه حسین دستي وده او د مجلس ټولو غړیو ته شالونه تقسیم کړل.

بنګوخان تره کی:

بنګو یو جنګي او حربي قوماندان ؤ او د شېبار د جګړې له قهرمانانو څخه ؤ هغه وخت چې قندهار محاصره ؤ ده ته انتظار کېده چې دانا ره یې شاهدي وایي:

شاه حسین ویل دنادر بیړۍ شوه شکه
سلیمانخېل، اندړ رانغلو په بنګو تره کی ولوېده څه ټکه

ملا محمد صدیق تره کی:

ملا محمد صدیق یو له لویو علماؤ او سیاسي پوهانو څخه دی د هغه هیئت غړی ؤ چې احمد پاشا ته د شاه اشرف له خوا ورغلو او بیا د ملا زعفران او سیدال خان او عمر سلطان په ملګرتیا له شېرازه نادر ته ورغلو او مرکه یې ورسره شروع کړه نادر یې په خبرو کړ، شاه اشرف او سیدال خان له شېرازه راووا ته، ملا محمد صدیق د ملا پیر محمد میاجي په ملګرتیا د فسا دېله ساتنه کوله چې افغاني عسکر ځنې راتېر سي له ایراني عسکر وسره په اخ ډب کې ژوندی ګرفتاره شو چې

بیا وروسته یې ملا محمد صدیق او ملا زعفران تورخي د شاهي کورنۍ له نرو ښځو بندیانو سره مشهد ته واستول.

داؤد خان هوتک:

داود خان د قادر خان زوی د محمد هوتک د پټې خزانې د مؤلف پلار دی د ملي قاید له جنګي سالارانو څخه ؤ دی د کندهار په کوکران کې زوکړی، متداوله علوم یې په ښوب او ډېره جاتو او پېښور کې ویلی ؤ د وخت په علماؤ کې شمېرل کېدي د خپلواکۍ د ګټلو په مجاهدو کې د حاجي میرخان نیکه ملګری ؤ د خسرو خان د حملې په وخت کې د سپرو عسکرو قوماندان ؤ.

رېدي خان مومند:

رېدي خان مومند د غیاث خان زوی او د کندهار د مومند ودکلی او سېدونکی ؤ او له سترو شعرا و څخه ؤ چې د محمود نامې پنامه یې یو کتاب لیکلی ؤ چې څلور زره بیتونه یې درلودل او نمونې یې له پټې خزانې څخه ما هم رانقل کړی دی.

عبدالغفور خان:

عبدالغفور خان د حاجي انګو مشر زوی چې د قلات حاکم ؤ هغه وخت چې پر قلات باندې له نادر سره جنګ ؤ په هغه جنګ کې ووژل شو.

عبدالرسول خان:

چې په حاجي رسول خان مشهور و، د حاجي انګو زوی د کندهار

دمحاصرې په وخت کې د لښکرو د راټولولو ماموریت ورکړشوی ؤ دی
دغزني په سر روضه کې د خروټیو له مشرانو سره په خبرو کې ؤ
چې د کندهار له سقوط څخه خبر سو په ډېره بیړه یې دغلجو لښکر
راټول کړ په شیبار کې یې له نادر سره سختې جګړې وکړې چې دا
نارې د هغې جګړې یادګار دی:

نادر ځي خوا د کابل ته یې تعجیله
د ګوملې ناصر راغلو سلیمانخېل اندړ، تره کی وکړه سیله
په شیبار کې پر دښمن کړی سخت وار ده
ډېر سړي یې ځنې مړه کړو نادر وویل داڅه دغم شیبار ده

د حاجي رسول خان قبر د کابل په شهدای صالحین کې دی د جانباز
د زیارت ختیځې خواته دغره په اخیری ډډ کې دوې ګمبتې دي چې یوه یې
د سر له خوا نړېدلی ده بله یې روغه ده په روغه ګمبته کې د حاجي رسول
خان قبر دی خو د ده د سر ډېره نسته او د ښځمنیو ډېرې یې روغې
دي چې په هغو کې یوه د ده د لور بی بی زلیخا بنت حاجی رسول خان
ښالم خېل په دوهمه ګمبته کې د شاه محمود افغاني ملکې بی بی صاحبې
قبر دی چې د قبر لوحې یې پارسي ابیات لري چې اوس زما په یاد نه دی.

نورالله خان:

نورالله خان د حاجي انګوبل زوی دی د شاه محمود په حمله کې چې د
بم ښار د نیولو وروسته یې دی د بم په کلا کې چه حربي مهمات او دغلو
وغیره ذخیری پکې ساتل شوې وې قوماندان وټاکل شو د کندهار
د سقوط په وخت کې د ډېره جاتو حاکم ؤ بیا وروسته د تیمور شاه
په وخت خپل پدري جایګیر د ډېره جاتو بنو او ورګون مالیه ورکړه

اود اخلاص قلي خطاب يې ورکړ اوپه خپل ملک کې ببرتۀ ځای پر ځای شو اوس يې قبر دسيوری د ښه بولان په هدیره کې دی.

محمّد هوتک :

دهغه وخت زبردسته لیکوال چې پته خزانه نومی کتاب يې تصنیف کړاوتول افغانان يې ممنون وګرزول محمد هوتک د داؤد خان زوی دی اوقبر يې پدې نزدې کلي کې دمحترم حبیب الله رفیع اوځلمي هېواد مل له خواد کلات په ممکلی کې کشف شو.

حاجي اسمٰعیل خان هوتک :

حاجي اسمٰعیل خان په قوم هوتک معروف زی دی اودپیړۀ جاتر دحاکم په توګه پاتې شویدی چې اوس يې قبر دښه بولان په هدیره کې دی اودپرې ښایسته دبرې لري.

مدت خان سهاک :

مدت خان سهاک د شپبار د جګړې له قهرمانانو څخه دی چې په یوه نارې کې وایي:

په مدت سهاک د توډو پلوشې دي
دال يې هم اوتاک کې پاته خوپلاس يې دغولا دوديستکلی دي

ګل خان سهاک :

ګل خان سهاک دکندهار په ښار کې چې جګړه لاس په لاس روانه وه دی دیوې سیمې اوبرج قوماندان وا یرانیانو له هرې خوا محاصره

کړی ؤ ده په ډېره مېړانه دفاع کوله دلوېشت لوېشت مځکې دفاع
یې کوله ډېره سخته وربانديې راغله نور عسکر هر څوک په خپلو سیمو
کې په جګړه بوخت ؤ شاه حسین چې دده سخته لیده پخپله ورسپور
سواومرستې ته یې ورغی خو وسه یې ونه رسېده دښمن بې حده
ډېر ؤ دا یوه ناره دا صحنه داسې ښیي :

که زوره د بډی پر برج ډېر زوره
شاه حسین هم ورسپور سو خو ګل خان یې نکی خلاص له دغه اوره
ګل خان له خپلو درې سوه نفر وسره تر آخری سړي پورې شهیدان شول.

سدو خان ناصر :

سدو خان په قوم ناصر بارخېل دی دخپلواکی له لومړنیو سالارانو
څخه دی له حاجي میرخان نیکه سره چې دناصر وکوم لښکر راروان سو دهغه
لښکر له مشرانو څخه یو سدو خان ؤ یوه ناره ده چې وایي:

که له تانه د سدو پر توګ له تانه
چې له کښې په ګومل راغی سدو بله لنګه نه وینې بې ځانه

وروسته د قندهار له فتح بیا د کرمان تر اشغال سدو خان دافغاني
لښکرو د یوې برخې مشري په غاړه لري د کرمان دجګړې په هکله داسې ناره ده:

سره ور چې کړو سدو سیدال لاسونه
په هوا سو د کرمان د کلا ورونه

احمد خان میاني :

احمد خان میاني هم د کرمان دجګړې له قهرمانانو څخه دی چې یوه
ناره ده :

احمد خان میانې ښاغلی دی حُلموکې
دکرمان کلاته خېزي دتوپوګرلی یې اوري په زینوکې

میرعالم خان ناصر:

میرعالم خان په قوم ناصر زنګی خېل دی دی دلومړی پاڅون له سالارانو څخه دی دملي قاید دژوند په ټولو جګړوکې دلښکرو دیوې برخې مشرتوب یې په غاړه درلود له اعلیحضرت شاه محمود سره دکرمان دکلا په نیولوکې برخه درلوده چې بیا وروسته د سیدال خان ترقوماندې لاندې یې تهران فتح کړیوه ناره وایي:

میرعالم له پښوجګ په تن وشېږي
دکرمان کلایې چورکړه نغاره یې په تهران وهله کېږي

اسحق سلطان:

اسحق سلطان ناصر په ناصروکې داؤد خېل ستر سیاست مدار او دیپلومات ؤ دیزد حاکم ؤ له نادر سره په شیرازکې دافغاني هیئت غړي بیا له نادر افشار سره یارانه واچوله هغه زرکسه افغاني عسکر چې د سیدال خان له کډې سره ترکیې ته اوښتی ؤ له نادر څخه وهغوته بېرته کندهار ته دراتګ اجازه اخیستله هغه زرکسه عسکر سره د سیدال خان له کډو کندهار ته راواستول بیاله ملا زعفران سره د شاه محمود او شاه اشرف د کډو راخلاصولو دپاره ونادر افشار ته ورتګ او د بندیانو راوستل او د شاه محمود تابوت راوړل.

سرورخان ناصر:

سرورخان ناصر بارخیل دی دی دشاه اشرف په امر له شیرازه په کښتیو کې له یو شمیر افغانانو سره بصرې ته ولاړ له هغه ځایه اومان ته تلی دی بیا بېرته وطن ته راغلی.

بلوخان ټغر احمدزی:

بلوخان ټغر احمدزی دی او د شیبار د جګړې له قهرمانانو څخه دی دی دشاه حسین له خوا کندهار ته د محاصرې په وخت کې غوښت شوی ؤ خو دلته په کورکې بدي ورپېښه شوی د ټالېدو سبب یې شوی دی چې دا ناره شاهدی وایي:

د ټغر و باد غیرت اورده مړ شوی
بلوخان خو توریالی ؤ بلوخان ته دی پکورکې ورجوړ سوی

دکندهار د سقوط د خبر په اورېدو بلوخان هر څه ته شاکړی او له خپلو لښکرو سره د شیبار میدان ته راورسېدی.

رحیم ګل سلمانخیل:

رحیم ګل د سلمان خیلو خان او یو توریالی ؤ چې دکندهار له فاجعې خبر سود انتقام اورپر بل سو او له خپلو توریالیو لښکرو سره د شیبار میدان ته راغی او دا ناره یې د سربښندنې شاهدي وایي:

رحیم ګل سلمان خیل وکړې ببکې
که زوندی ولاړم ترکوره را پسرکی درابیا توره څونی

وروسته نده معلومه چې رحیم ګل څنګه سو.

عمرسلطان سلیمان خیل:

عمرسلطان په قوم سلیمان خیل دسیاسي پوهې خاوند اوسیاسي دیپلومات دی له روسانو سره دجوړې په خبروکې دسیدال خان په مشرۍ دافغاني هیئت غړی دی بیا په شیرازکې دسیدال خان ملا زعفران په ملګرتیا له نادرسره په خبروکې دافغاني هیئت غړی پاته شوی دی.

ابراهیم او اسمعیل:

ابراهیم او اسمعیل دشاه محمود زامن چې له شاه حسین سره تبعید او هلته نادر په زهرو مړ کړل. شهزاده محمد له سیدال خان سره دقلات دکلا په مدافعې جګړوکې ونیول شو او له پلار سره تبعید او هلته نادر په زهرو مړ کړ.

اسمعیل:

دا اسمعیل دروسانو سره دجوړې په خبروکې دافغاني هیئت غړی وُ مګر معلوم ندی چې څوک وُ څه سو؟

عبدالله ایشک اقاسي:

دا سړی دشاه محمود ایشک اقاسی وُ خو معلوم نده چې څوک وُ.

بیجن سلطان:

بیجن سلطان اصلاً دفراه الکوزیي وُ هغه وخت چې شاه محمود ایران ته تلی بیجن سلطان یې خپل نایب او وکیل وټاکو خو بیجن سلطان چې ښار خالي ولید دیوه تن بندي جعفرخان سیستاني او د ښار

د پارسي بانانو په مرسته يې کودتا وکړه او څه پښتانه يې مړه کړه او پر ښار يې تقريباً قبضه وکړه خوله اطرافو خلک راورسېدل د شاه محمود کشرور ور شاه حسين له ده سره مقابله وکړه بيجن سلطان او جعفرخان او پارسي بانان يې ونيول او مړه يې کړل شاه محمود ته چې د دې واقعې خبر ورسېدې فوراً يې له کرمانه حرکت راوکړخو چې دلته راغی فتنه دفع وه دايره ناره ده چې وايي:

له کرمانه چې لګزي ته شاه راغبرګ سو
حسين خان توري ته لاس کړ د لګزي د حسين خان له لاسه مرګ سو

عبدالله خان ابدالي:

هغه وخت چې حاجي ميرخان نيکه خپلواکی حاصله کړه نو د ايران ستر لښکر د خسروخان ترقوماندانی لاندې د کندهار د ځپلو د پاره راروان سو نو خسروخان وايراني حاکم شرات ته احوال لېږلی ؤ چې ابداليان وهڅوه چې عبدالله خان راوغواړي او د غلجو پر خلافه زموږ ملا تړسي هغه ؤ چې ابداليانو عبدالله خان ته ملتان ته حال ولېږه عبدالله له خپلې کورنۍ او قبيلې سره په ملتان کې د مغولي حکومت د پنځه سوه کسېز جای گير خوړ عبدالله خان د دې پيغام په اورېدو په بيړه ځان هرات ته ورساوه خسروخان دی د ابداليانو د رئيس په توګه مقرر کړ او زمان خان پوپل زی يې چې په کرمان کې تبعيد ؤ له خانه سره راوست او د عبدالله خان د معاون په توګه يې مقرر کړ نو يې له دوی څخه د ميرويس نيکه پر خلاف پوځي مرسته وغوښته دوی هم فوراً قبوله او د لښکر په ټولېدو پسې شول. پخوا ابداليان د هرات اوسېدونکی ؤ خسروخان له هراته راتېرسو فراه ته راغی ملي قايد

له خپل لښکر سره مخې ته ورغی خو چې خسرو خان ته نږدې شو د لښکر
د سپرو برخه یې داود خان ته پرېښوده چې د خسرو خان مخه ونیسي
پخپله مخ د ګلستان خوا ته ورتېر سو هلته یې نورزی او ساګزی پر
ابدالیانو مرکه کړل چې تاسې ولې له موږ سره جنګېږئ څه غواړئ
هر څه پیشکشونه چې یې ورته وکړل عبدالله خان او زمان خان قبول
نکړل داسې نه معلومېږي چې د دوی په منځ کې دلته جنګ وسو
که نه میرویس خان نیکه ځنی راغی کندهار ته، چې ملي قاید کندهار
ته راتلی ښار محاصره ؤ ښار ته لار نه وه نو ملي قاید تر ښار د باندې
پاته سو یو کال ښار محاصره ؤ ابدالیانو له ایرانیانو سره سمې تورې
وهلې څو په پای کې خسرو خان او دده لښکر له منځه ولاړو هغه
اخری خلک چې یو څه ژوندی خلاص شو د ګرجستان د تاریخ په قول
هغه ابدالیان او ګرجیان وو بیا د عبدالله خان او ایرانیانو تر منځ مخالفت
پېښ سو که څه هم د مخالفت وجه ظفر کاکاخېل پخپل تاریخ پښتانه د تاریخ
په رڼا کې یوه ناوړه پېښه لیکلی ده خو په هر صورت دا اختلاف د دې باعث
شو چې عبدالله خان هرات او د هغه شا وخوا سیمې اشغال کړی او یو
ابدالي ریاست یې جوړ کړ څو په پای کې د عبدالله خان زوی اسدالله خان
فراه چې د شاه محمود قلمرو وه ونیوه شا محمود هم له کندهاره ورغی
او په دلارام کې دواړه لښکرې سره مخامخ شوې چې په نتیجه کې ابدالیان
مات سو او اسدالله د جنګ په میدان کې ووژل سو زمان خان او
عبدالغنی الکوزیي د جګړې ګناه پر عبدالله واچوله او دی له کاره برطرف
کړ څو په پای کې د زمان خان له خوا ووژل سو شاه محمود فراه بېرته
ونیوله نور یې په ابدالیانو غرض ونکړ.

ذوالفقارخان:

دزمان خان ابدالی زوی د پلارترمرګ وروسته دابدالي رياست مشروټا کل سو دخپل منځي شخړو له کبلهٔ يې چندانی حکومت ونکړای شو نادرچې هرات ونيو دی کندهارته راغی دلته شاه حسين بندي کړ چې تفصيل يې پدې کتاب کې ليکل شويدی هغه وخت چې کندهار نادرونيو دی يې له بندي خانې راوايست اوله شاه حسين سره ګډ يې مازندرانوته تبعيد کړخودده کشرورور احمدخان يې له ځانه سره وساته چې وروسته بيا دنادر داعتماد وړوګرزيدې او پخپل مخصوص ګاردکې يې شامل کړ اوله ډېرووفادارو افسرانو څخه يې وشمېرل سوخو ذوالفقارخان نادرله شاه حسين سره سم په مازندرانوکې په زهرومړکړ.

احمدخان دنادرله اعتباري خلکو څخه شوڅوپه پای کې يې دڅلوروزرو ابداليانو په قوماندانی وټاکو اوپخپل خاص ګاردکې شامل کړچې د نادرتروژلو وروسته يې دنادرکورکډې دياغيانوله تعرضه څخه وساتلی اومشهدته يې راوستی وروسته له خپلوسړوبسره کندهار ته راغی دلته يې دچاروواګی پلاس کې واخستی بيا يې خپله بادشاهي اعلان کړه.

عبدالغني خان الکوزايي:

دی دالکوزومشراوسخت جاه طلبه سړی وُهمدا دی وُچې د هرات دابداليانو دولت يې پرکرارنه پرېښود ترڅوچې يې په نادرله منځه يووړاوپخپله دنادرپه فدايانوکې وشمېرل سواوسخت خدمتونه يې نادرته وکړل ترڅوچې دقندهارله سقوطه وروسته خپل معراج

ته ورسېدې دی د نادر له خوا د کندهار بېګلربېګي سوا وپه کندهار کې له غلجو څخه کرزولی ځمکې اول الکوزو ته توزیع کړې څو وروسته د نادر له مرګه احمد خان ابدالي غافلګیر کړ او د چارو واګی په داسې توګه له لاسه ځنې واخستی چې ګواکی زه نادر مقرر کړې یم چې دی د نادر له مرګه خبرېدی دلته احمد خان ډېر تقویه شوی ؤ (خورشید جهان ۱۷۲ مخ) .

آدم خان سلیمان خېل :

آدم خان سلیمانخیل د کټواز له خانانو څخه ؤ په کندهار کې د محاصرې په دوران کې د ده ډېر انتظار کېده دا ناره یې شاهدي وایي :

زینبې ویل وروره ستا تاله بیده ده
آدم خان خوتوریالی ؤ په آدم سلمانخېل څه ټکه سیده ده

آدم خان د غلجو له لښکر وسره شېبار ته راورسېد او د ملک او ملت په وړاندې د خپل پور غاړه وویسته .

ابراهیم بلوڅ :

ابراهیم د عبدالله بلوڅ زوی د شاه حسین له خاصو خلکو څخه ؤ هغه چې اعلیحضرت شاه اشرف له ایرانه راووت شاه حسین ابراهیم ته ماموریت ورکړ چې مخ ته ورسه او ویې وژنه دا ناره دا موضوع داسی تمثیلوی :

که ناورین دی په هوتکو یا ناورین دی
ابراهیم خو اشرف وزني ګرم سېل ته ورځي مخ ته آس یې زین دی

هغه ؤ چې د ښوراوک د زرد کوه په سیمه کې ابراهیم پسې ورسېدی او شاه اشرف یې مړکړ .

حاجي مشکي :

حاجي مشکي په کام هوتک اسحق زايي يا ساګزايي وُد مرغی دعلاقې اوسېدونکی وُ په افشارنادريې ګوزار وکړچې تېپي شو

محمد نشان خان :

محمد نشان خان شاه محمود دلښکرود يوې برخې قوماندان ټاکلی وُ، دګلناباد په جګړه کې يې ګرجي او ايراني لښکرې تر ډېره حده تعقيب کړی، ګرونسکي وايي چې محمد نشان خان افغان همه ګرجيان وايرانيان رابی نشان ساخت .

شېر محمد تاجک :

شېر محمد تاجک وايي د پکتياله تاجکو څخه دی علاوه پردې چې يو توريالی او پهلوان زلمی وُد شاه حسين دار دويو نظامي افسرو هغه وخت چې قندهار سقوط وکړ او د غلجو کډې له کندهاره دايران لورته بيولی کېدې شېر محمد تاجک يوه دسرتېرو مجاهدينو ډله جوړکړه او د هلمند له رود چې بنديان يا ذراريان تېر سو شېر محمد خپلی حملې پر شروع کړې هره ورځ به يې يو پرکی بنديان ځنی خلاصول چې وروسته به يې د ملک نوروسيمولکه بادغيس او نوروسيموته استول دالنډی اوناره د شېر محمد تاجک د مجاهدو او مبارزو شاهدی وايي :

شېر محمده پسې سپورشه
بی بی زينبه د بندو په مخ کې ځينه
سانګه سره وټی تور ده
چې له کښې په تيپ راګډ سو شېر محمد تاجک دکومې وراري وروردە
يعنې شېر محمد او د ده ملګری خولږ دی حتماً به مړسی .
که نريه دغوريان لاره نريه
پښتنې مغولو بوتلی سپينې خولی توری کوڅيه

احمدخان اندړ:

احمدخان اندړ د ابراهیم خان زوی د زرملې د هیبت خېلو اوسېدونکی؛ دی علاوه پردې چې یو ستر قومي خان ؤ یو زبردسته جنګي سردار ؤ په ډېرو جګړو کې یې برخه اخستې وه څو وروسته د قندهار په دفاعي جګړه کې د کندهار د کلا دلویدیځې خوا د لکی دغره یا د خزی دغره د سر د دفاع قوماندانی د ده په غاړه وه چې تر یوه نیم کاله پورې د نادر ستر وقواؤ سره ډغرې ووهلې چې دا دوې نارې یې شاهدي وایي:

که ډبرې د خزې د سر ډبرې
نادر راوستی له درولو رولښکرې
پښتنو دغره په سر وهلې تورې
احمدخان اندړ کړې نارې ورونومه ګورئ هم تورې دی هم حورې

ضمیمه

له جمیل بېګ سره د میرویس نیکه ملاقات

شمس الدین کاکاخیل په مناقب جمیل بېګ کې د خدای (ج) له دې نازولي فقیر سره د بېلابېلو خلکو راشې درشې څېړي په دې برخه کې د یوه منقبت په ترڅ کې د کندهار له یوه غلجی تاجر سره د فقیر صاحب په راشو درشو غږېږي که څه هم دی د دې غلجي نوم نه اخلي خود کیسې له مطالبو څخه برېښي چې د امیرویس نیکه دی چې د وطن د آزادۍ د مهم په برخه کې یې د فقیر صاحب دعا هم له ځانه سره مله کړې او د کتاب د افصل د میرویس نیکه په ژوند پېژندنه کې یوه نوی پاڼه زیاتوي چې دلته یې را اخلو:

اللهم ستا صلوة مدام — په حضرت نبي اکرام
ورنده کړه تر قیامته — هره ورځ په زرکرته
منقبت واوره له مانه — په داشان ته مسلمانه
دی دا نقل مشهور — له ثقاتو دی مذکور
یو غلجی د قندهارو — سوداکړونی دنیا دارو
و داسو سوداګردی — د جمله و تجار سردی
د فقیر صاحب په وخت — یو ګوزار هغه نېکبخت
هندوستان ته په ځان — ډېر اسونه کړه روان
قافله ورسره ډېره — وه ملګری تر حد ډېره
سل اسونه د ده خپل — ورسره وو په منزل
هغه وخت اټک و دان — لاروه داد هندوستان
دی چې راغی تر نوښاره — چا نېکخواه ورته هوښیاره
هسی ووې سوداګره — ته سوداکوی ظاهره

د سوونو د زرګونو — د اسونو په ملګونو
په دا لارکې یو فقیر دی — مصفا روشن ضمیر دی
وهغه وته روان شه — له هغه دعاجویان شه
کړه دعا د رسره مله ته — د ده ، هله کړه حمله ته
سوداګر په زړه شوه دره — دا صلاح ته بوا دره
هغه وخت شه په اس سوور — مخ یې کړ د ده په لور
نور کاروان یې وروسته پرېښو — ده په وړاندې قدم کېښو
واخیسته هغه رهبر — دی یې راوست برابر
چې فقیر ته شه حضور — په دیدن (یې) شه مسرور
په وړومبی نظیر صادق — سوداګر شه پرې عاشق
چې پرې سوورؤ هغه آس — کړ یې نظر حق شناس
وې یې واخله دا فقیره — دا دستا شه بې نظیره
فقیر ووې مال زما شه — چې وما ته مهیا شه
ولې ما دی بیا وتا ته — در بښلی نېک صفا ته
چې په ده شوله شپه تېره — حب شه هسې وربرسېره
چې تر سر و تر مال تېر شه — په بخشش هسې دلېر شه
چې یې ورغی کاروان — نهال پوری ته په ځان
هغه سل واړه اسونه — چې یې ډېر وو قیمتونه
همګی یې کړه پیشکش — وفقیر ته په زړه خوښ
ویې وې فقیر صاحبه — واړه ستا شو عجایبه
هر چې ته یې کړې په سر — زه فقیریم ستا د در
له دې سوده مې زړه خلاص شو — راته غوره دا افلاس شو
چې د ده محبت ډېر — شه فقیر و ته برسېر

نور هله فقیر صاحب — ورته ووې مصاحب
دا اسونه واړه ما — چې تا ما ته کړه عطا
ما قبول کړه نېکه یاره — خاص مې بیا د خدائ دپاره
دوباره تا ته ښلی — ما دی لاس ځنی وښکلی
کړه پرې ته سوداګیری — چې دې کار شي په بري
شي حاصل دستا مقصود — د آسونو په دا سود
بل زما دا نصیحت — واوره دا په مصلحت
خبردار شه وپوهېږه — نور دا هسې رنګ مه غولېږه
د دې دور په فقیرانو — چېری نشي له خوارانو
یو ټټو یې ترې حلال کا — نور رخصت (یې) دم درحال کا
الغرض لاړ شه ترهنده — ولې هسې رنګ خورسنده
په محصول په هېڅ مکان — دی زهیر نشه په ځان
نه یې زیان، نه یې زوال — په څه وشه د څه مال
کل اسونه یې په سود — واړه خرڅ شوه په بهبود
یکې نفعه د ده ډېره — وشوه ډېره ترحد تېره
مال (یې) واخیسته پرې نور — بیا عازم شه د دې لور
په منزل منزل خوشنود — راغی دی مکان ته زود
دوه رخه یې په محصول — په هېڅ ځای نشه ملول
چې دې بیا راغی فقیر ته — مصفا روشن ضمیر ته
په دیدن (یې) چې مسرور شه — بیا تاثیر په ده ظهور شه
چې راوړی یې ؤ مال — واړې نذر کړ فی الحال
د فقیر صاحب دوړاندې — واړه کېښو لاندې باندې
بیا فقیر عالی جناب — ورته ووې فیض مآب

تاچې ماوته عطا کا — ماوتاته عطا بیا کا
په دا مال به سبا مقصود — خدای ج حاصل کا د بهبود
په خپل ځای په خپل وطن — په خپل کور په خپل مسکن
چې مقصود لرې په زړه ته — به حاصل کړې په کړه وړه ته
په خدمت کې د صاحب — وو څو ورځې مصاحب
په دعا سره رخصت — کړ فقیر په مصلحت
چې دې ورسید ترکوره — امانت سلامت وروره
هغه مال (یې) کل په سود — خدای ج بدل کا په بهبود
نوکران (یې) ونیول ډېر — لور په لور یې زغلول ډېر
په دښمن یې پیروزي شوه — بادشاهي د ده روزي شوه
د فقیر صاحب په داد — دې بادشاه شه بامراد

شه په حمد و په درود
خدای ج، د خدای رسول ﷺ خوشنود[1]

---

(۱) مناقب جمیل بیګ، ۱۸۹ - ۱۹۳ مخونه.

دهوتکي دورې ځيني منابع او مأخذ

اروپايي مأخذونه :

د پل رينال په هغه شرح کې چې په شرح وقايع اخير جنګ ايران بين سالهای ۲۲ تا ۱۷۲۵ چې په ۱۷۲۷ کې نشر شو خو د پرژوروم په کتاب چې په دې هکله يې ليکلی دی د ډېر مزيت لری انقراض صفوي صفحه ۵۷۸ پرژوم د کرملی فرقی يو راهب چې خپل کتاب يې په ايټاليايي ژبه ليکلی دی او د اصفحان د محاصرې په دوران کې په اصفهان کې ؤ.

هغه کتابونه چې په اروپا کې د حاجي ميرويس نيکه او شاه محمود او شاه اشرف په هکله په مختلفو اروپايي ژبو ليکل شوی دی او د افغانانو او د هغوی د مشرانو په ستر اهميت يې د يوړپ خلکو ته معلومات ورکړی دی دا اهميت بيا هغه وخت يو مخ ډېر شو چې افغاني ځلمی امپراطور شاه اشرف و روسانو او ترکانو ته څه په سياسی څه په نظامي ډګرونو کې لويې ماتې ورکړی نو يې په ټوله اروپا کې يو شور او هيجان راپيدا کړ او د دوی نومونه او کارنامې په هر مجلس کې يا ديدی. لومړی کتاب د کرومول ايران په نامه يوه سويډی صاحب منصب چې له ميرويس نيکه سره

یوه موده اوسبدلی د اوزمونږ دملي قاید په هکله یې کافي معلومات
راټول کړی دی اوپه ۱۷۲٤ کې د شاه محمود سلطنت په درېیم کال په
اروپا کې نشر شو.

الیور کرومول دانګلستان د پارلیمانی نهضت قاید اورهبر وځو
یې د انګلستان له بادشاه له داخلي جګړو وروسته پارلیمانی خپلواکی حاصله
کړه په دې وجه الیور کرومول دانګلستان د دیموکراسۍ پلار بلل کېږي دې
سویدی صاحب منصب چې نوم یې نده ښودل شوی د اکسفورډ پوهنتون لیکوال
دانقراض صفوی په ۵۹۳ مخ کې لیکي: چون د ۱۷۲۳ په شروع کې د —
شاه محمود دایران دفتحې خبر اروپا ته راورسېدی په خلکو کې یو هیجان
راپیدا سوچې په ټوله اروپا کې د شاه محمود او ده د پلار میرویس نیکه نوم
د خلکو خولو ته ولوېدې یوه سویدی صاحب منصب چې نوم یې نده ښودل
شوی اوده پخپله څوکاله د میرویس نیکه په خدمت کې تېر کړی وُ په ۱۷۲٤
کې یو کتاب د کرومول ایران پنامه نشر کړچې په هغه کې د غلجو د مشر
سرګذشت یې بیان کړی وُ او هم یې په دې بې نظیره کتاب کې چې معتبره او صحیح
اقوال یې پکې راغونډ کړی وُ د میرویس نیکه داصل او نسب او تعلیم تربیې
په هکله معلومات پکې لیکل شوی مؤلف لیکي چې حاجي میرویس نیکه سخت
پرکتاب مین وُ هماوُ چې له انګلستان څخه ده د دې اک په وسیله کتابونه
راغونښتو کېدای شي چې زمونږ ملي قاید دایران دبند په زمانه کې دېر
وخت په مطالعه تېر کړی وي مؤلف لیکي کوم کتابونه چې د ده لاس ته
ورغلی وُ هېڅ یو دونه نه وُ متأثر کړی لکه دالیور کرومول د څوند شرح
د سویدنی د دې کتاب په هکله په ۱۹۲۷ د جیمیز کاسیدی په قلم په
کلکته کې د کلکتې په مجله کې یوه مفصله مقاله لیکلی وه خو کاسیدی فقط
دهغه د محتویاتو خلاصه ذکر کړی د مولف په هکله یې نریات معلومات

نه ؤ درج کړی.

یوبل اثر چې د میرویس نیکه په هکله یې بحث اولیکنې کړی دی محمد اکرم پچپل کتاب کې چې در فهرست اثار تحلیلی افغانستان تر عنوان لاندې لیکلی ده زموږ د ملي قاید په هکله ددغه لیکلی کتاب عنوان داسې دی:

میرویس شاهزادهٔ قندهار و برجسته ترین رهبر طغیان کنونی در ایران.

محمد اکرام داکتاب له جملې د نوادرو بللی دی.

درېیم کتاب دهالنډ د لاهی ډریجکسی په پاڼوکې خوندی پاتې دی دراهب الګزانډر په لاس چې د مالابار اوسېدونکی ده لیکل شوی ده دا کتاب داصفهان د محاصرې مفصله شرح او د شاه محمود د سلطنت په هکله معلومات لري.

څلورم د هالنډ د هند شرقي د شراکت سوابق چې دایران په هکله چې دافغانانو د تسلط ټوله دوره پر ایران باندې د روزانه یادداشتونو په توګه لیکل شوی ده، دګلنا باد له جنګه نیولی بیا هره واقعه تفصیل وار، هره واقعه دهغه د وقوع په ورځ لیکلی شوی ده او د لاهی دریجکس په پاڼوکې خوندی شوی ده چې ټولې ۱۷۲ پاڼې دي په دې دفترکې ډېر قیمتي معلومات په بې طرفانه توګه درج دی لارنس لیکارټ وایي چې دا دګاردان تر یادداشتو هم ډېر او صحیح معلومات لري چې داسې صحیح معلومات له بلې منبعې څخه امکان نه لري چې دی له هغو څخه په استفادې نه ده مؤفق شوی یعنې لارنس لیکارټ له دغو معلوماتو څخه استفاده نه ده کړی او دغسې تر اوسه پاته دی.

پنځم هغه رسمي اسناد چې دانګریزانو په رسمي اوراقوکې محفوظ دی.

انګریزانو په هغه زمانه کې په ایران کې سیاسي نماینده نه درلود نو دا

سندونه د روسیې په ۹۱ دوسیه او د ترکیې په ۹۷ دوسیه کې خوندی شوی دي نور انګریزي سوابق دهند شرقی د شراکت چې انګریزی شراکت وُ تاریخ واره په څلورو جلدو کې خوندي دی علاوه پر دې ۱٤ جلد یې له - جالب ترینو لیکونو څخه تشکیل شوی دی چې د محاصرې په دوران کې له اصفهانه رالیږلی شوی دی په دیارلسم او دوه دېرشم جلدو کې ودی مراسلو ته اشاره شوی دی او هم یو شمېر یې نقل شوی دی علاوه پر دې هغه درې میاشتنی آسیایي مجله ۲ جلده له ۱۵٦ څخه تر ۲۱۰ پاڼې پورې د "فتوحات افاغنه در ایران" تر عنوان لاندې او هم هغه لیکونه په ۱۷ جنوری او ۳۱ داکتوبر کال ۱۷۲۲، ۹ جنوری کال ۱۷۲٤ له اصفهان څخه او یا له بصرې څخه لیکلی لیک ۲۸ جنوری کال ۱۷۲٤ له انقراض صفویه ۵۸۹ مخ څخه.

هغه اسناد چې د فرانسې په ملي کتابخانه او د فرانسې د خارجه وزارت په خوندی پاڼو ځای کې او د فرانسې په ملي پاڼو کې خوندی دی په دې جمله کې دانژو ګاردان یادداشتونه په ایران پورې مربوط په شپږم جلد کې خوندی دی.

په شپږ څلویښتم جلد کې د هغه قرارداد یا تړون چې د ترکیې او روسیې تر منځ د ایران د تقسیم په هکله شوی د ترکي متن او ایټالیایي ترجمه د هغه وخت د فرانسې د سفیر مارکی دوبنناک په امضا پراته دي او هم د مارکي دوبنناک د فرانسې د سفیر یادداشتونه چې دی د روسانو او ترکانو تر منځ منځګړی وُ او نوموړی دولتونه د ده په کوششونو د ایران پر تقسیم موافقې ته ورسېدل.

سیمون اوراموف: د اسړی په ۱۷۲۰ کې د پیټر کبیر له خوا ایران ته په رشت کې د روسي کنسول جنرل په توګه وټاکل شو بیا تر ۱۷۲۹ پورې په ایران کې وُ دې سړي ته که روسي لارنس وو ایو بې ځایه به نه

وي. دسيمون اوراموف يادداشتونه چې بيا وروسته ده خپله روزانه کارکردګی پکې ليکلی ده او بيا وروسته دنورو ليکوالو لکه سوی مونف او ميکلوخو مکلای له خواسره له توضيحاتو نشر کړو همدغه اوراموف ؤ چې نادر يې پيدا او تقويه کړاو دايران داشغال توفيق يې ورکړ داوراموف يادداشتونه ډېر قيمتي معلومات لري خوتراوسه کوم افغان استفاده نه ده ځنی کړی.

آنژوګاردان دفرانسې د دولت. دقونسل په توګه په ۱۷۱۸ کې ايران ته راورسېدی بياتر ۱۷۳۲ پورې يې په ايران کې وظيفه اجرا کوله. ده خپل يادداشتونه د فرانسې خارجه وزارت ته سپارلی او د فرانسې په آرشيف کې خوندی دی.

ژوزف آپی سالميان: ژوزف آپی سالميان يو ارمني ؤ او د فرانسې په قونسلګری کې منشي او مترجم ؤ دی د سلطان حسين صفوي د تاج د تسليمی په مراسمو کې عيني شاهد ؤ. ژوزف يوه رساله په فرانسوي ژبه د ۱۷۲۳ کال په اواخرو کې وليکله پرهغه يې نوم «خاطرات راجع به جنګ داخلي ايران» کښېښود دا رساله دغلجو او ابداليانو په هکله له مفصلو معلوماتو وروسته دميرويس نيکه د نهضت توصيف او د ده دپاڅون په هکله معلومات لري وروسته د شاه محمود دلومړی او دوهم هجوم مفصل معلومات ارايه کوي دګلنا باد دجګړې مفصل معلومات پکې ليکل شوی دی درسالې په پای کې هغه عبارات درج شوی دی چې شاه محمود پخپلو سکو کې ضرب کړی ؤ ژوزف خپل خاطرات په ترکي ژبه هم ديوې رسالې په شکل نشر کړی دی ژوزف په رشت کې له يوبل ارمني ليکوال چې پطرس دی سارجيس ګيلانتز نومېږي همدې ژوزف له ګيلان تز سره دده دکتاب په هکله زياته مرسته کړی ده د ګيلان تز يادداشتونه چې په ارمني ژبه ليکل شوی دی د روسي قواؤ

وسترقوماندان ته په ګیلان کې په روسي ژبه ترجمه شوی دی ارمني متن یې د درنا په نامه په هغه میاشتنی مجله کې د ۱۸۶۳ کال په مارچ کې په تفلس کې نشر شوه او وه کاله وروسته پروفیسور پاتکانیف په روسي ژبه ترجمه او د روس دعلومو اکاډیمی له سن پیټر بورګ څخه نشر کړه لارنس لیکارټ د «انقراض صفویه» په ۵۶۴ مخ کې لیکي:

بې له شکه دګیلانتز یادداشتونه د دې دورې له قیمت ترینو تاریخي آثارو څخه دی د ژوزف آپی سالمیان یادداشتونه په ایټالیایي ژبه هم ترجمه شوی او نشر شوی دی ژوزف خپله دا رساله دلویي- آندره دولامامی په واک کې ورکړه چې هغه په دې نامه چې د ایران د انقلاب په هکله دفرانسې د سفارت دګرجي منشي خاطرات په ایټالوی ژبه نشر کړه همدې ژوزف له یوه بل اروپایي لیکوال چې په دی هکله یې یو کتاب لیکلی ده ښه مرسته کړیده دالیکوال کلراک نومېږي ده - پخپل کتاب کې د ژوزف ستاینه کړیده او مننه یې ځنې کړیده.

آخرنی کتاب: آخرنی کتاب چې په لندن کې د ۱۹۶۵ کال په شاوخوا کې نشر شو د ډاکټر لارنس لیکارټ له خوا لیکل شوی د چې بیا وروسته د دوو متعصبو ایرانیانو د مصطفی قلی عماد او دولت شاهی له خوا ترجمه شوی دی لومړی پلا په ۱۳۴۴ کال کې دا کتاب کابل ته

د مطبوعاتو وزارت ته راوړ سیدی بیا ما له جناب احمد حاتم قادري څخه له ایران څخه راوغوښت چې راته رایې وورې ډاکټر لارنس لیکارټ تر یوې اندازې زیات معلومات راغونډ کړیدی مګر متعصبو ایرانیانو تحریف کړی دی افغانان باید له اصلی انګریزي متن څخه پخپله ترجمه وکړي زما د معلوماتو زیاته برخه له همدې انقراض صفویه څخه را اخیسته شویده دګرونسکی کتاب د مسیحي سیاح پنامه هم ایرانیانو ترجمه کړی دی.

فادر گرونسکی:

فادر تادیوز یوداگرونسکی په ٦ می ١٦٧٥ کال په برزیک د پولنډ کې پیدا شوی دی او په اتلس کلنی کې د عیسوي ورونو په انجمن کې شامل شو یدی ده چې د شرقي ژبو په زده کړه کې ښه استعداد درلود په ١٧٠٧ کال کې وایران ته واستول شو هغه کفایت چې ده پخپله ورسپارل شوی وظیفه کې ښکاره کړ په ١٧٢٠ کال کې د دغو مبلغینو د مالي چارو مسوولیت ده ته وسپارل شو د شاه محمود د دوهمې حملې په وخت کې دی په اصفهان کې ؤ څو وروسته د محاصرې تر پای ته رسیدو شاه محمود په فوق العاده توګه اجازه ورکړه چې جلفا ته ولاړ سي دا اجازه یې له دې کبله ورکړه چې د یوه افغاني سردار معالجه د جلفا د عیسوی طبیبانو له خوا وشوه چې نور طبیبان یې له علاجه عاجزه شوی ؤ دې طبیبانو وافغاني سردار ته وویل چې گرونسکي تر موږ زیات پوه دی د دې حق شناسه رنځور په سفارش شاه محمود گرونسکی ته اجازه ورکړه چې جلفا ته ولاړ سي او هم شاه محمود دی ډیر په درناوی ومانو لکه څنګه چې په دوو وروستنیو کلو کې یې له شاه حسین سره رابطه درلوده له - شاه محمود سره یې هم رابطه برقراره کړه همدا فادر گرونسکی د شاه محمود معالج ؤ هغه چې شاه محمود ناروغ شو همدې گرونسکي یې علاج کاؤ چې د ده له علاج سره یو څه موده یې صحت هم پیدا کړ گرونسکی د شاه اشرف د سلطنت په اوایلو کې چې عبدالعزیز استرباني د لومړی افغاني سفیر په توګه د ترکیې دربار ته تلی دی دافغاني سفیر په ملګرتیا اروپا ته ولاړ گرونسکی تر دې وخته اتلس کاله په ایران کې تېر کړی ؤ د دې اتلسو کلو په دوره کې دایران له هر ډول حالاتو څخه خبر ؤ -

گرونسکي په دې هکله يوکتاب وليکی چې په دري يې ترجمه دخيرخواه صاحب لخوا شويده دغه کتاب دمسيحی سياح په نامه ليکل شوی او په ايټالوی، انګريزی، فرانسوی، پولنډي، ترکي او فارسي ژبو ترجمه شوی دی ما پدې خپل کتاب کې ډېره استفاده ځنې کړيده.

ACKU

334

داخلي قلمي آثار

د عبدالغفار هوتک قلمي ديوان
د خدی په نامه قلمي رساله د حافظ نورمحمد سره پرېکړې لیکنه
د میا عبدالحکیم کاکړ شجرهٔ نسب غلجی نومی قلمي رساله
نهاکورنی شجرهٔ نسب
د هوتکو ناری د حبیب الله رفیع
له ادبی ستوری څخه د جمیل بیګ له کراماتو یو منقبت
نور داخلي آثار

افغانستان در مسیر تاریخ	غلام محمد غبار
میرویس نیکه	عبدالرؤف بینوا
هوتکی ها	عبدالرؤف بینوا
پته خزانه	محمد هوتک
خورشید جهان	شیرمحمد کندا پور
نادرنامه	میرزا مهدي

تاریخ نعمت الله هروي
څو لنډ لنډ شفاهي حکایتونه چې سینه په سینه له یوه څخه بل ته راپاته شوی دی.

PROPERTY OF ACKU 7808

یادونه

نن چې د ۱۳۶۸ لمریز کال دوری د میاشتې ۸ نېټه ده او زه د دې کتاب له لیکلو - خلاص شوم دا کتاب ما د هجرت پحال کې د بلوچستان د لورالایي د علاقې د غزګی مناره په کمپ کې بشپړ کړ زموږ د اولس دا د له اییز هجرت د روسانو د یرغل له کبله منځ ته راغلی ده خو دا خبر هم د یاد ولو وړ ده چې د افغانستان بدنصیب ملت په هره پېړۍ کې یو واری د پردو لنډغرو له لاسه له مرګ ، ورکې او کړاو سره مخامخ کېږي په نونسمه پېړۍ کې د انګریزانو د یرغلونو له کبله تقریباً یوه پېړۍ زموږ اولس له مرګ، ورکې او د بدری سره مخامخ وُ زما چې اوس عمر تقریباً شپېته کاله ده زه په هجرت کې زوکړی یم ۱۸۸۳ کې چې انګریزانو امیر عبدالرحمٰن د کابل پر تخت کښېناوه نو ملایانو د کفر فتوا پر وکړه د ایوب خان له تېښتې وروسته اولس زما پر مرحوم نیکه محمد شاه خان هوتک راټول او دی یې د خپل آمر پحیث ومانو او له امیر عبدالرحمٰن سره یې جګړه شروع کړه د امیر عبدالرحمن تاریخ صفحه (۲۳۱) په جګړو له شکست څخه وروسته همدغې علاقې ته چې ژوب او لورالایي ورته وایي او په هغه وخت آزاده علاقه وه موږ هجرت راوکړ تقریبا ۴۵ کاله مو په دغه لورالایي کې په هجرت کې تېر کړو څو په ۱۹۳۰ کال د نادر خان له پاچا کېدو وروسته خپل ملک ته د راتګ اجازه راکړی شوه چې نیمه پېړۍ لا نه وه تېره چې د پردو روسي لنډغرو له یرغل سره مخامخ او بېرته مو خپل پخوانی هجرت ځای ته هجرت راوکړ له دې ایسته خدای (ج) خبر ده چې د دې غم ځپلی اولس په قسمت کې به لا څه وي؟

الحاج امان‌الله خان هوتک

PROPERTY OF ARIC Established 1989



دمورویس نیکه مزار